
صلی اللہ علیہ وسلم

# عربی جانان

د نعتونو یوه ښائسته او ښکلې ګلدسته



تصنیف


ابوالقاسم احمد علی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامية بنوری ټاؤن کراچی)


Ketabton.com


خورونکے

اسلامی ادبی تولنه

یونیورسټی روډ مردان 0312-9818511



عربی جانان

صلی اللہ علیہ وسلم

تصنیف

ابوالقاسم احمد علی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

د نعتونو يوه ښائسته او ښکلي ګلدسته

# عربي جانان ﷺ

## (يعنی محمد رسول الله ﷺ)

ليکونکے


## ابو القاسم احمد علی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامية بنوري ټاؤن کراچی)

(وايم اے عربي عبدالولی خان يونيورستی مردان)

يونيورستی روډ خوره بانډه مردان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما خبر مے رښتیا خبر مے

حمد ونعت وئیل دا دنیکانو او ښۀ خلقو صفت دے . د ښۀ خلقو د روح خوراك( غذا) دغه حمد باري تعالیٰ او نعتِ مصطفیٰ ﷺ وي . هر هغه انسان چې روحاني بیمار نۀ وي هغه ته په دغې حمد ونعت باندې سکون او اطمینان ملاویږي . د دنیا هر انسان د سکون او اطمینان طلبگار دے . او د دغې په طلب کښې هغه مختلف تدبیرونه اختیاروي . ددغې سکون اولنې کامله ذریعه د قرآن کریم تلاوت دے . د قرآن کریم په تلاوت سره انسان ته ذهني سکون ملاویږي .قرآن کښې د اللّٰه تعالیٰ د حمد سره سره د نبی کریم ﷺ صفت هم بیان شوے دے . په دغې وجه دا خبره وئیلے کیدے شي . چې د اللّٰه د حمد او د نبی ﷺ د نعت وئیلو د پاره بنیاد قرآن کریم ﷺ دے . بیا د دنیا ټول مخلوق د اللّٰه حمد وثنا بیانوي. او اللّٰه تعالیٰ دخپل حبیب مدح وصفت بیانوي . د حضور ﷺ دغه مدح وصفت د قرآني آیتونو په شکل کښې زمونږ په وړاندې دے . سورتِ کوثر او دغه شان نورو سورتونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښې د حضور ﷺ ښه واضحه مدح وصفت بيان شوې دې .په دې وجه دا عمل په لويو لويو عبادتونو کښې شميرلې شي . دغه عبادت د هرې زمانې نيکانو صالحانو عالمانو کړې دې . او ترقيامته پورې به دا عمل جاري وی . ما هم دا ووړوکې کتاب د عبادت په نيت ليکلې دې .مولیٰ کريم دې دا عمل زمونږ د ټولو دآخر د نجات ذريعه وګرځوی . ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم وتب علينا انك انت التواب الرحيم . وصلی اللّٰه تعالیٰ علیٰ خير خلقه محمد واٰله واصحابه اجمعين و من تبعهم باحسان الیٰ يوم الدين .

د دعاګانو طالب

ابو القاسم احمد علی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامية بنوری ټاؤن کراچی )

(وايم اے عربی عبدالولی خان يونيورسټی مردان )

يونيورسټی روډ خوره بانډه مردان

0312-9818511 / 03219818511

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمٰن الرحيم

## ( 1 ) حمد باری تعالیٰ

مـولـیٰ پـه هـره سـختـه کښې زۀ تـل یادومـه تا
هر ځائے کښې هر ساعت په هر محفل یادومه تا
ډکـور پـه هـره سـختـه کښې یـادیـږے راتـه تـۀ
ډګـور پـه هـره سـختـه کښې یـادیـږے راتـه تـۀ
دنیـا کښـې د دنیـا پـه هـر مـحل یـادومـه تـا
مـولـیٰ پـه هـره سـختـه کښې زۀ تـل یادومـه تا
شـاهـان درنـه تـول غـواړي هرطرف تـه پـه جهان
مـحتـاج دے ستـا ډ در هـریـو کـافـر او مسلمـان
سـکـون ډزړۀ تـکـور دلتـه کښې خپـل یادومـه تا
مـولـیٰ پـه هـره سـختـه کښې زۀ تـل یادومـه تا
قسـم دے هـر افسـر دلتـه دے ستـا ډ در مـحتـاج
قسـم دے پیـغـمبر ﷺ دلتـه دے ستـا ډ در مـحتـاج
دُنیـا کښـې ځـکـه دلتـه پـه اول یـادومـه تـا
مـولـیٰ پـه هـره سـختـه کښې زۀ تـل یادومـه تا
مـحتـاج دے ستـا ډ در دلتـه احـمد پـه هـرقـدم
مـحتـاج دے ستـا ډ در دلتـه عـرب دلتـه عـجم

(c) ketabton.com: The Digital Library



عـلاج دَ مسـئـلـو دلتـــه کښـي حل يـادومــه تـا

مـولـىٰ پــه هـره سـختـه کښي زهٔ تـل يادومـه تا

## ( 2 ) حمد باری تعالىٰ

الـلّـٰـه محتـاج پـه کـائنـات دَ انسـانـانـو نـهٔ دے

مـحتـاج دُنيـا کښـي دَ مشيـر او وزيـرانـو نـهٔ دے

يو پـه جهـان دے څـوك شـريك پـه کائنـات نـهٔ لري

هـغــه مـحتـاج دي دُنيـا دَ مـالدارانـو نـهٔ دے

تـل پـه يـو کُـن سـره ئـي هـرڅـهٔ پيدا کړي دلتـه

مـحتـاج دُنيـا کښـي د اسبـابو، مزدورانـو نـهٔ دے

تـول صـفتـو نــه دَمـولـىٰ پـه دي جهـان منمـه

غنـى هغـه دے محتـاج هغـه دَ پيـريانو نـهٔ دے

بــس زهٔ احـمـد ئـي بـنـدګـي پـه دغـه وجـه کـوم

مـحتـاج دُنيـا کښـي دَ دُنيـا دَ بـادشـاهانو نـهٔ دے

## ( 3 ) حمد باری تعالىٰ

لانـدي دا زمـکـه پـاس اسـمـان زمونـږه ربَ جوړ کړے

پـه دغـي زمـکـه هـر مـکـان زمونـږه ربَ جوړ کړے

زمـکـه او زمـکـه کښـي هرڅـهٔ تول پيدا کړي ربَ دی

زمـکـه بيـا ځـائـے دَ امتحـان زمونـږه ربَ جوړ کړے

دغــه يـخـنـى دغــه ګـرمـى بيـا دَ سپـرلـى مـوسـم

وريـســي وروسـتـو بيــا خـزان زمونـږه ربَ جوړ کـړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هـريـو ځيـز ښـائستـه صورت زمونـږه ربَ جوړوی
ښائستـه صـورت ګل دَ ريحان زمونږه ربَ جوړ کړے
ياقـوت مـرجان دی پيـدا کړی زمونږ ربَ دلتـه کښي
غـرونـه هـرخـوا تــه هـر ميدان زمونږه ربَ جوړ کړے
دغـه بـاغـونـه بيـا ښـائستـه ښـائستـه ګلونـه ټول
بيـا تـريـنـه ښـکلے ګلستـان زمونـږه ربَ جوړ کړے
پـه هريـو ځيـز کښي دَ مولیٰ دلتـه حکمت څۀ پټ وی
هـر يـو ځـنـګـل او بيابـان زمـونـږه ربَ جـوړ کـړے
دا رنګ پـه رنګ ټول مـخـلـوقـات دی پيدا کړی هغه
دغــه وجــود د هــرانســان زمـونــږه ربَ جـوړ کـړے
څـوك دی خـوشـحـاله څوك په غم کښي دَ جهان پراتۀ دی
دا خـوشـحـالی دغــه خـفـګان زمونږه ربَ جوړ کړے
تـقسيـم دَ ربَ دے احـمـد وائـی مـونږ راضی په دي يو
دلتـه غـريـب دلتـه کښي خان زمونږه ربَ جوړ کړے

## ( 4 ) حمد باری تعالیٰ

د زړۀ نـه زنګ صـفـا کـړه ، هرځائے کښي ياد اللّٰه کړه
پــه ميـنــه ميـنــه وايــه ، شورو کړه بسم اللّٰــه کړه
هــرزړۀ لــه اطـمينان دے ، عـالـی دے عـاليشـان دے
يــو نــور د دي جهــان دے ، خيـر تـري مسـلـمـان دے
هــر ځــائے کښي راشـه راشــه د دي نــه ابـتـدا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دزړۀ نه زنګ صفا کړه، هرځائے کښې ياد الله کړه

ثواب دَ آخرت دے، عزت دے برکت دے

بدله ئي په دُنيا کښې عالي شکلے جنت دے

دا ذکر د الله دے، دا دلته کښې بيا بيا کړه

دزړۀ نه زنګ صفا کړه، هرځائے کښې ياد الله کړه

دا ذکر دَ هوښيار دے، دا ذکر تل پکار دے

دا ذکر د غفار دے د يو پروديګار دے

راشه په دي جهان د دغي حق ادا کړه

دزړۀ نه زنګ صفا کړه، هرځائے کښې ياد الله کړه

دا خوښ زما اوستاد دے، دا خوښ دَ هر دانا دے

دا خوښ دَ علماء دے، دا خوښ داولياء دے

احمد وائی په جار، تل ذکر په دُنيا کړه

دزړۀ نه زنګ صفا کړه، هرځائے کښې ياد الله کړه

## ( 5 ) حمد باري تعالیٰ

نۀ ساتمه ستا نه په بل چا نظر

دلته چې کوومه په هر خوا نظر

تابانديې زما ده بهروسه دلته

ځکه دلته تا ته دے زما نظر

تاته اولياء او انبياء ګوری

تاته دلته کړے هر دانا نظر

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا ته ټول شاهان ګوري دُنيا کښې تل
خوند کوي تل تا ته اے مولیٰ نظر
هغه به محرومه هيڅ کله نشي
تا ته چې کوي څوك په رښتيا نظر
تا باندې احمد هم توکل کړے
هر چا ته دے دلته ستا جُدا نظر

## (6) حمد باري تعالیٰ

يو الله نه سوال کوه
هر ځائے په هر حال کوه
غواړي تري نه ټول شاهان
غواړي تري نه مسلمان
کار دَ هر کمال کوه
يو الله نه سوال کوه
ورته مُرسلان محتاج
ورته ټول نبيان محتاج
کار تل د بلالؓ کوه
يو الله نه سوال کوه
هر طبيب تري غواړي تل
هر اديب تري غواړي تل
کار دَ نور جمال کوه
يو الله نه سوال کوه
هر څوك تري نه غواړي نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر څوك ورته ژاړي نن
اے احمده! خيال كوه
يو الله نه سوال كوه

## (7) حمد باري تعالیٰ

ذكر دَ رحمٰن كوه
دا په هر مكان كوه
ذكر ئي سيندونه كښي
ياد دے په مونځونو كښي
ذكر كړهٔ ، اذان كوه
ذكر دَ رحمٰن كوه
ذكر لوئي دولت دَ رب
ذكر لوئي نعمت دَ رب
هر ځائے دا بيان كوه
ذكر دَ رحمٰن كوه
مهٔ منه دَ يو شيطان
وكړهٔ، وكړهٔ دا اعلان
فكر دَ ايمان كوه
ذكر دَ رحمٰن كوه
داده دَ احمد وينا
دا دَ نيك او بد وينا
كار دَ قدردان كوه
ذكر دَ رحمٰن كوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 8 ) حمد باري تعالیٰ

ذکر د الله کوه
هر ځائے په هر خوا کوه
غواړه ترینه تل مدام
غواړه ترینه لوئي مقام
غواړه دا دُعا کوه
هر ځائے په هر خوا کوه
تا ته هغه ګوری تل
ستا دے په هر ځائے کښې مل
خیال کوه وفا کوه
هر ځائے په هر خوا کوه
هر ځائے حق بیان کوه
کار د نور ایمان کوه
ښه ښائسته وینا کوه
هر ځائے په هر خوا کوه
مه کړه معصیت د رب
وائی احمد په ادب
هر بیان صفا کوه
هر ځائے په هر خوا کوه

## ( 9 ) حمد باري تعالیٰ

مانه په دُنیا دے یو الله خبر
نشه بل د رب نه خوك په ما خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه دے خبیر په هر خبر باندي
تل لری دُنیا کښې دَ هر چا خبر
حال دَ هر اسمان ورته معلوم دے ښهٔ
ښهٔ دے په هر څیز د دي دُنیا خبر
هر یو ذرّه ئي ده په علم کښي
داسي دے په مونږ باندي مولیٰ خبر
پټ تر ینه څهٔ نهٔ دی دَجهان ددر
وائی احمد وائي دے په تا خبر

## ( 10 ) حمد باری تعالیٰ

ښکلي گفتار دے سُبْحَانَ اللّٰه
ذکر پکار دے سُبْحَانَ اللّٰه
داد مولیٰ د رب منان ذکر
دادے زمونږه دَ رحمان ذکر
ډیر مزیدار دے سُبْحَانَ اللّٰه
ذکر پکار دے سُبْحَانَ اللّٰه
دغه رضا زمونږ دَ پاك اللّٰه ده
دغه رڼا دَ هر یو رهنما ده
ډیر مزیدار دے سُبْحَانَ اللّٰه
ذکر پکار دے سُبْحَانَ اللّٰه
داسي نیکان تهول صالحان وائی
داسي مؤمن او مسلمان وائی
نور دَ هردار دے سُبْحَانَ اللّٰه
ذکر پکار دے سُبْحَانَ اللّٰه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکـــــر دا هـــر ځـــــائـــــے کښـــي مـــدام کـــوی خـــونـــد

ذکـــــر دا هـــر ســـحـــر مـــاښـــام کـــوی خـــونـــد

ســپـــــرلـــــی بهـــــاردے سُبْـــحَـــانَ الـــلّٰـــــه

ذکـــــر پـــکـــــاردے سُبْـــحَـــانَ الـــلّٰـــــه

احـــمـــــده! دغـــــه دمـــولـــــیٰ کـــــرم دے

عـــــلاج دُنیـــــا کښـــــي د دُنیـــــا دَغـــم دے

ذکـــــر د کـــــاردے سُبْـــحَـــانَ الـــلّٰـــــه

ذکـــــر پـــکـــــاردے سُبْـــحَـــانَ الـــلّٰـــــه

## (11) حمد باري تعالیٰ

پـــــه حـــق بیـــــان بـــــانـــدي اَلْـــحَـــمْـــدُ لِـــلّٰـــــه

د ربّ قـــــران بـــــانـــدي اَلْـــحَـــمْـــدُ لِـــلّٰـــــه

دغـــــــه کـــــرم دغـــــــه احســـــان دَربّ

دغـــــه احســـــان پـــــه ټـــول جهـــــان دَربّ

پـــــه دي احســـــان بـــــانـــدي اَلْـــحَـــمْـــدُ لِـــلّٰـــــه

د ربّ قـــــران بـــــانـــدي اَلْـــحَـــمْـــدُ لِـــلّٰـــــه

ښـــکـــلـــي سیـــرت دَ مـــحـــمـــد عـــربـــی ﷺ

ښـــکـــلـــي صـــفـــت دَ مـــحـــمـــد عـــربـــی ﷺ

پـــــه خـــوږ جـــانـــان بـــانـــدي اَلْـــحَـــمْـــدُ لِـــلّٰـــــه

د ربّ قـــــران بـــــانـــدي اَلْـــحَـــمْـــدُ لِـــلّٰـــــه

دغـــــــه کـتـــــاب دغـــــــه کـــلام دَربّ

ګـــــل د ګـــــلاب دلتـــــــه تـــمـــــام دَربّ

پـــــه دي فـــرقـــان بـــانـــدي اَلْـــحَـــمْـــدُ لِـــلّٰـــــه

د ربّ قـــــران بـــــانـــدي اَلْـــحَـــمْـــدُ لِـــلّٰـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه کښيـــــي ثــواب د هــــــر بشـــــر دَ پــــاره
پـــــه کښيـــــي رڼـــــا دَ هـــــريـــــو در دَ پــــاره
دَ نُــور ســــامـــان بـــانــدي اَلْــحَـمْــدُلِـلّـــه
درب قـــــران بــــانــــدي اَلْــحَـمْــدُلِـلّـــه
پـــــه هــــر نـــعــمـــت بـــانـــدي دَرب شـــکـــر
پـــــه نـــور ســـنـــت بــــانـــدي دَرب شـــکـــر
پـــه نــور ايــمـــان بــانــدي اَلْــحَـمْــدُلِـلّـــه
درب قـــــران بــــانــــدي اَلْــحَـمْــدُلِـلّـــه
وائـــــی احـــمـــد دغـــــه پـــــه جــــار ســــره نــــن
وائـــــی احـــمــــد دا پـــــه تــکــــرار ســــره نــــن
پـــــه دي اعـــلان بـــانــدي اَلْــحَـمْــدُلِـلّـــه
درب قـــــران بــــانــــدي اَلْــحَـمْــدُلِـلّـــه

## ( 12 ) حمد باري تعالیٰ

رَبّــــه! ستـــا دے ستـــا دے پـــه جهـــان نـظـــر
هـــر ځـــائـــے هـــر طـــرف تـــه پـــه مـکـــان نظـــر
پـــټ درنـــه څـــه نـــهٔ دي پـــه جهـــان ربّـــه!
ستـــا دے ربّـــه بـــره پـــه آســمـــان نـظـــر
هـــريــــوه ذرّه درتــــه ښـکـــاريـــږي تـــل
داســـي ستـــا دے ربّـــه! عـــاليشـــان نـظـــر
ښـکـــاري درتـــه پـــټ دغـــه پـــه زمـکـــه کښـــي
داســـي ربّـــه! ستـــا دے هـــريـــو آن نـظـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړونـــو کښــي هـــرځـــۀ نـــه ښـــۀ خبـرئـي تـــه
ستـــــا دے ذَ احـــمـــد پـــــه هـــر بيـــان نـــظـــر

## ( 13 ) حمد باري تعالیٰ

نـــوم وظيـــفـــه کـــړئ پـــه دُنيـــا سحـر ماښام د اللّٰـــه
داسـي دا نــوم لـري دُنيــا کښي لوئي مقام د اللّٰـــه
ورســـره هــريـــو غــم دُنيـــا کښــي د دنيـــا ختـمـيـــږی
ورســره هـــرځـــائـــے کښــي رنځـوره د دنيــا رغيـــږی
وظيــفـــه کـــړے دغـــه نـــوم هـــريـــو امـــام د اللّٰـــه
نـــوم وظيـــفـــه کـــړئ پـــه دُنيـــا سحـر ماښام د اللّٰـــه
ورســـره زړونـــو تـــه ســـکـــون او اطـمـيـنـــان رسيـــږی
ورســـره زړونـــو تـــه ســـکـــون د مســـلـمـــان رسيـــږی
قسـم دے خـونـد کـوی دا ذکـــر تـــل مـدام د اللّٰـــه
نـــوم وظيـــفـــه کـــړئ پـــه دُنيـــا سحـر ماښام د اللّٰـــه
پـکښـي شتـــه خـونـد د دي جهـان او بل جهـان د پـاره
پـکښي شتـــه خـونـد مزه دُنيـا کښي هر انسان د پاره
نـــوم پــــه ادب ســـره تـــل اخــلـــه ښـــۀ تـمـام د اللّٰـــه
نـــوم وظيـــفـــه کـــړئ پـــه دُنيـــا سحـر ماښام د اللّٰـــه
ورســـره دلتـــه د احـــمــد زړۀ نـــه هــر غـم ختـم شـو
ورســره دلتـــه کښـي تـورتـم دَ ټـول عـالـم ختـم شـو
اغـستـــي نـــوم دے مســـلـمـــان پـــه احتـرام د اللّٰـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نوم وظيفه کړئ په دُنيا سحر ماښام د اللّٰه

## (14) حمد باری تعالیٰ

حــق ده حــق ده حــق ويــنا
لَا اِلٰــه اِلَّا الــلّٰــه
خــونــد کــوی ســحــر مــاښــام
خــونــد کــوی دغــه مــدام
ذکــر دے د اولــيــاء
لَا اِلٰــه اِلَّا الــلّٰــه
وايــه وايــه دا پــه جــار
پــټ د زړۀ کــړه هــر گــفــتــار
تــل ذکــر د عــلــمــاء
لَا اِلٰــه اِلَّا الــلّٰــه
نــور دے هــر انــســان لــره
نــور دے مــســلــمــان لــره
د آخــر تــوښــه ده دا
لَا اِلٰــه اِلَّا الــلّٰــه
ذکــر لامــثــال دغــه
زړنــو لــه جــمــال دغــه
زړۀ پــه دي کــړه خپــل صــفــا
لَا اِلٰــه اِلَّا الــلّٰــه
ډيــر لــری فــضــل و کــمــال
حســن دے ښــائــســت د حــال

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایه وایه په دنیا
لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

شته په کښې توحید درب
شته په کښې نوید درب

ده وینا د هر دانا
لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

شته په دے اجروثواب
وائی دا غریب نواب

د هر و چمن ښُکلا
لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

د اسلام بنیاد دغه
وایم زنده باد دغه

تل سکون زما او ستا
لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

دا د هر بشر آواز
دا د هر و در آواز

وائی احمد تا ته یا
لَا اِلٰهَ اِلَّا الله

## (15) حمد باری تعالیٰ

خوك دے خوك دے رب صمد
قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد

نة محتاج دیو وزیر
نه محتاج دیو مُشیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



مُصوّر د هر تصویر
هر خبر نه دے خبیر
لَمْ یَلِدْ او لَمْ یُولَدْ
قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد

ښة کامله په خپل ذات
ښة کامله په صفات
خالق دے د جمادات
خالق دے د حیوانات
غواړي تَرینه نیك او بد
قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد

د اسمان هغه مالك
د جهان هغه مالك
د انسان هغه مالك
د بیان هغه مالك
زمونږ هر ځائے کړي مدد
قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد

زۀ کوومه تَرینه سوال
وکړۀ رحم مي په حال
کړۀ ښائسته مي استقبال
درنه غواړم نور جمال
سوال چي نۀ کړے زما رد
قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد

★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 16 ) حمد باری تعالیٰ

پـــــرورش د ټــول جهـــــان دا کـــــار د ربّ دے
جـــوړول د هـــــر مـــکـــــان دا کـــــار د ربّ دے
اَزمـــائـــــش کښـــي هـــر مـؤمـن لــره ســاتـل
راوسـتـــــل هـــــر امتـــحـــــان دا کـــــار د ربّ دے
پـــــه هـــرځـــــۀ کښـــي تـــل رڼـــا پيـــدا کـــول
جـــوړول امـــن وامـــــان دا کـــــار د ربّ دے
هـــر بشـــر لـــــه پـــه دنيـــا ســـکــون ورکــول
تـــقسيـــمـــول د اطـــميـــنـــان دا کـــار د ربّ دے
رنګ پـــه رنګ دغـــه ګـــلـــونـــه پـــه جهـــان
زرغـــونـــول ګـــل د ريـــحـــان دا کـــار د ربّ دے
پـــه دنيـــا کښـــي د رحـــمـت بشـــکـلـي تـقسيـم
نـــــرمـــــه ول زړۀ د انســـــان دا کـــار د ربّ دے
زۀ احـــمـد ئـــي نـعـــمتـــونـــه بـــه شـميـــر نـــۀ کـرم
پـــه هـــر چـــابـــانـدي احســـان دا کـار د ربّ دے

## ( 17 ) حمد باری تعالیٰ

زمـــا الـلّــه زمـــا هـــرځـــائـــے کښـــي حقيقی محافظ
تـــل د اول نـــــه زمـــــا ربّ دے ابـــدی مـحـــافـــظ
مـــونـږ پـــه مـحـراب کښـــي مـصـلـي بانـدي هغـه يادوو
هـغـــه مـــولـیٰ د انبيـــاء د هـــاشـمـی ﷺ مـحـــافـظ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه مالك د هر جنت د هر دوزخ دلته کښې
د هر دوزخ نه په محشر د هر ولی محافظ
هر ځۀ دنیا کښې پیدا کړی دی زمونږه ربّ
څکه یادیږی په دنیا کښې ازلی محافظ
قرآن د هغه ربّ کلام دے چې ثانی نۀ لری
تل جسمانی دے په دنیا کښې روحانی محافظ
احمده ! ذکر د خپل ربّ هر ځائے په جار سره کړه
د امامانو محافظ د مقتدی محافظ

## ( 18 ) حمد باری تعالیٰ

کله چې غم ژنه ئې مولیٰ یادوه تل
ذکر د اللّٰه کوه ، اللّٰه یادوه تل
غم او مصیبت کښې زمونږ هر ځائے مددګار دے
ذکر هر ساعت مونږ له د پاك اللّٰه پکار دے
پاك اللّٰه هر ځائے کښې په هر خوا یادوه تل
ذکر د اللّٰه کوه ، اللّٰه یادوه تل
زړونه صفا کیږی د مولیٰ په یاد سره
زړونه رڼا کیږی د مولیٰ په یاد سره
هغه محفلونو کښې تنها یادوه تل
ذکر د اللّٰه کوه ، اللّٰه یادوه تل
کار دے د ثواب په دې دنیا کښې برابر

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دے د آفتاب په دې دنیا کښې برابر
وايه وايه په دنيا يادوه تل
ذکر د الله کوه ، الله يادوه تل
ذکر دے احمده ! د مؤمن او مسلمان
ذکر هر طرف ته په دنيا دے د جهان
وايه ښه واضحه ښه صفا يادوه تل
ذکر د الله کوه ، الله يادوه تل

## ( 19 ) حمد باری تعالیٰ

دا هر څه په دنيا ، هر نعمت د الله
هر لمحه د جهان ، هر ساعت د الله
هر يو در د هغه . هر بشر د هغه
په دنيا کښې هر خوا عبادت د الله
دا چمن د هغه ، دا وطن د هغه
دلته سيورے په مونږ د رحمت د الله
دا هر ګل د هغه ، هر محفل د هغه
نور اسلام د هغه شريعت د الله
پاس آسمان د هغه ، لامکان د هغه
د قرآن په دنيا هر آيت د الله
هر کتاب د هغه ، نور آفتاب د هغه
پاس قمر د هغه پاس په چهت د الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



انبيــــــاء د هـــغــــــــه، اوليــــــاء د هــغـــــه
هــر عـــظـــمــت پـــه جهــان، هـر عـزت د اللّـــه
زۀ احـــمـــد د هــغـــــه، مــحــمــد ﷺ د هغــه
دا مـــخــلــوق د هــغـــــه، تـــول امـــت د اللّـــه

## (20) حمد باري تعالىٰ

ذكــــر د الــــلّــــــه كـــوه ســـحـــر مـــابنـــام
ذكــــر پـــــه هــرخــوا كـــوه ســحـــر مـــابنـــام
ذكــــر د الــــلّــــــه كـــوه پـــــه جـــار ســــره
ذكــــر پـــــــه مـــزه ګـــفتــــار ســــره
زړۀ پــــه دي صـــفـــا كـــوه ســحـــر مـــابنـــام
ذكــــر د الــــلّــــــه كـــوه ســـحـــر مـــابنـــام
ذكــر لــوئــي عــمــل دے عــمــلــونــو كښــي
ذكــر نـــوررنـــا ده مـــحـــفـــلـــونـــو كښـــي
راشــــه راشـــــه دا كـــوه ســـحـــر مـــابنـــام
ذكــــر د الــــلّــــــه كـــوه ســـحـــر مـــابنـــام
كــــــار د اوليـــــــاء او دنيـــكــــــانـــو دے
كـــــار د عـــلـــمــــــاء او امـــــامـــانـــو دے
راشـــــه دغـــــه بيـــا كـــوه ســحـــر مـــابنـــام
ذكــــر د الــــلّــــــه كـــوه ســـحـــر مـــابنـــام
زړۀ لــــه اطـــمــيـــنــــان د هـــر بشـــر دے دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړهٔ له اطمینان د بحر ویر دے دا
خوند سره وینا کوه سحر ماښام
ذکر د الله کوه سحر ماښام
دغه د احمد دے نصیحت تا ته
دغه د احمد دے وصیت تا ته
عمل د عقبیٰ کوه سحر ماښام
ذکر د الله کوه سحر ماښام

## حمد باری تعالیٰ ﴿21﴾

یو دے په دنیا الله
تل زما او ستا الله
هر یو تر ینه سوال کوی
خپل مخلوق ته خیال کوی
ختموی بلا، الله
تل زما او ستا الله
هغه دے رازق زمونږ
هغه دے خالق دے زمونږ
نهٔ لری فنا، الله
تل زما او ستا الله
هغه تل باقی دلته
هغه تل ساقی دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بادشاه ، ګدا ، الله

تل زما او ستا اَلله

هغه د هر چا طبیب

د هر یو امیر غریب

اوري هر صدا ، اَلله

تل زما او ستا اَلله

هریوه صدا زمونږ

اَوري تل مولیٰ زمونږ

د احمد وینا ، اَلله

تل زما او ستا اَلله

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 22 ﴾

راشه یاد کړه یاد ، الله

اوري هر فریاد الله

ښه خبر د هر چا نه

هم زما او هم ستانه

رهبر د اُستاد ، الله

راشه یاد کړه یاد ، الله

هم قَیُّوم صفت لري

حَیٌّ هر ساعت لري

ځکه زنده باد ، اَلله

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه یاد کړه یاد، اللّٰه
غواړي تر ینه هر بشر
هر غریب او هر افسر
تل کوي امداد، اَللّٰه
راشه یاد کړه یاد، اللّٰه
ما احمد تري سوال کړے
سوال مي د ښهٔ حال کړے
مونږ کړے مونږه ښاد، اَللّٰه
راشه یاد کړه یاد، اللّٰه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 23 ﴾

غواړهٔ مسلمانه ! د اللّٰه نه تل
هر ځائے په دنیا کښي هغه ستا دے مل
هر ځائے د هر چانه ښهٔ خبر هغه
هر ځائے په هر چا لري نظر هغه
هغهٔ پیدا کړے دلته هر محل
غواړهٔ مسلمانه ! د اللّٰه نه تل
هر ځهٔ د جهان ئي غلامي کوي
هغه په بادشاه هم بادشاهي کوي
تل هٔ ئي ساتلے د انصاف عدل
غواړهٔ مسلمانه ! د اللّٰه نه تل

(c) ketabton.com: The Digital Library


هغه مهربانه په هر چا دلته
هغه مهربانه دے په ما دلته
هغه د پردونه دی جوړ کړی خپل
غواړۀ مسلمانه! د الله نه تل
هغه د یتیم غریب ملګرے دے
هغه ښۀ ډیر زیات قریب ملګرے دے
حق ئې د دنیا دی په دنیا وئیل
غواړۀ مسلمانه! د الله نه تل
زۀ احمد د هغې دربنده یمه
زۀ ئې همیشه په یاد زنده یمه
کار لری دُنیا کښې د نیکے ښودل
غواړۀ مسلمانه! د الله نه تل

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 24 ﴾

مۀ منه بل څوك، مۀ د بل چا منه
صرف د الله منه، صرف یو الله منه
صرف د مولیٰ منه دغه عقیده لره
صرف د الله منه کلکه عقیده لره
ښۀ واضحه دغه عقیده دلته کښې دا منه
صرف د الله منه، صرف یو الله منه
هغه دے مالك زمونږه، هغه دے خالق زمونږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه هر طرف ته بنۀ واضحه دے رازق زمونږ
واوره زما واوره دا وینا حقه صفا منه
صرف د الله منه، صرف یو الله منه

هغه مهربان په مونږه، هر ځائے په هر خوا کښې دے
مونږ باندې نظر ساتی حق هغه دنیا کښې دے
هغه د هر چا د پاره دلته رهنما منه
صرف د الله منه، صرف یو الله منه

هر ځائے مصیبت کښې مدد ګار زمونږ د ټولو دے
هر ځائے کښې ملګرے په هر دار زمونږ د ټولو دے
یو د ټول جهان د پاره حق مشکل کشا منه
صرف د الله منه، صرف یو الله منه

هیر درنه چې نۀ شی دا بیان نن دا احمدعلی
هیر درنه چې نۀ شی دا اعلان نن دا احمدعلی
د نجات سامان ئې دلته کښې حقه رضا منه
صرف د الله منه، صرف یو الله منه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 25 ﴾

ذکر د الله کوه، لاإله إلا الله
ذکر په هر خوا کوه، لاإله إلا الله
وایه داسې دا په جار
وایه داسې بار بار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکــــر په دنیـــا کـــوه، لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
ذکـــر د الــلّـــه کـــوه ،لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
ذکــــر کښــــي ســــکــــون دے پـــــټ
ښــــهٔ اعــلـــیٰ مـــضـــمـــون دے پـــټ
ذکـــر راشــــه دا کـــوه، لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
ذکـــر د الــلّـــه کـــوه ،لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
دغـــــــــــه دے د زړهٔ عـــــــلاج
هـــــریــــــو ورتـــــــه دے مـــحتـــــاج
ذکـــر ښـــهٔ صـــفـــا کـــوه، لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
ذکـــر د الــلّـــه کـــوه ،لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
نُـــورلـــــه ښـــــهٔ تـــمـــام لازم
هــــر ســــحــــر مــــاښـــام لازم
ښـــهٔ پـــه جـــارویـــنـــا کـــوه، لا اِلــهٔ اِلا الـلّـه
ذکـــر د الــلّـــه کـــوه ،لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
ژبــــــه کـــــړه لـــــمـــــده پـــــــه دے
تیــــر کـــــړه ژونـــد بـــنـــده پـــــه دے
ذکـــر د مـــولـــیٰ کـــوه، لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
ذکـــر د الــلّـــه کـــوه ،لا اِلــــهٔ اِلا الـــلّـــه
کـــــــار د انبیــــــــــاء تـــــولـــــــو
کـــــــار د اولیــــــــــاء تـــــولـــــــو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کــــار د عــــلـــمــــاء کـــوه ، لا اِلــــهٔ اِلا الــلّــــه

ذکـــــر د الــــلّــــــه کـــوه ، لا اِلـــــهٔ اِلا الــلّــــه

دغــــــــــه د احـــــمـــــــد بيـــــــان

د غــــــــــه د هـــــــر چـــــــا اعــــــلان

هــر ځـــائـــے کــار صـدا کــوه ، لا اِلـــهٔ اِلا الــلّــه

ذکـــــر د الــــلّــــــه کـــوه ، لا اِلـــــهٔ اِلا الــلّــــه

## حمد باري تعالى ﴿ 26 ﴾

تــــــــهٔ خــــالـــــق د مـــخـــلـــوقــــات

تــــــــهٔ خــــالـــــق د مـــــوجــــودات

اے دَ بـــــحــــــرو بـــــر مـــــالـــکـــــه !

اے د لــــــــــراو بــــــــر مـــــــالـــــــه

ځـــوك دے نشتـــــــه دے هـــمـــســـر

عـــــالـيشـــــانـــــه پــــــه هــــر در

لا شــــــريــــــکـــــه پـــــه خپـــل ذات

لاشـــــريـــــکـــــه پـــــه صــفـــــات

ســلــطـــانــــان دي ستــــا مــحـتـــاج

د هـــــــر چــــــا کـــــوے عــــلاج

نــــــــهٔ والـــــــدئـــــي نــــــــهٔ ولــــــد

دَ مـــــظـــــلـــــوم کــــــوے مـــــدد

مـــرګ او ژونـــد دے ستـــا پــــه لاس کښـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نـــــــــهٔ دي دا د بــــل چـــــا لاس کښــــــي
تــــــــهٔ مـــــــالك د خــــــزانـــو ئـــــي
د هــــــــــــر درد تـــــــــرانـــــو ئـــــــــي
د خـــــوشبـــو د ګـــل مـــــالـــکــــــه
د هــــــريــــو مـــحـــل مـــــالــــکـــــــه
درنـــــــــــه ســــوال کـــــوي احــــــمـــــــد
رَبـــــــــــــه! وکـــــــړې ئــــــي مــــــدد

## حمد باري تعالیٰ ﴿27﴾

چــي خـــالــق پــرورديـګـــار زمـــا اوستـــا دے
يـــو الـــلّـــــه دے يـــو الـــلّـــــه دي دنيـــا دے
هـــر افســـــورتـــــه مـحـتـاجـــه پـــه هـــر در دے
د افســـــر د پــــاســـــه هـغـــه لـوئـے افســـر دے
بـــادشــــاهـــانـــو لـره دلتـــه کښـي بـــادشــاه دے
يـــو الـــلّـــــه دے يـــو الـــلّـــــه دي دنيـــا دے
کـــائـنـــات ئـــي تـــول پـــه کُـن ســـره چلـيـــږي
کـــارخـــانـــه د پـــاك الـــلّـــه ده نـــهٔ اُودريـــږي
د تـــورتـــم ســــره مـــالك هـــم د صبـــا دے
يـــو الـــلّـــــه دے يـــو الـــلّـــــه دي دنيـــا دے
دغـــه غـــرونـــه ،دريـــابـــونـــه د هـغـــه دي
د هـغـــه دي پـــه دنيـــا کښـي چـــي دا څـــهٔ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو يو ائحائے د جهان مالك زما دے
يو الله دے يو الله د دې دنيا دے

ښهٔ خبر دے خبردار د ټولو زړونو
اطمينان د زړهٔ قرار د ټولو زړونو

هر صفت ئې د مخلوق نه ډير جدا دے
يو الله دے يو الله د دې دنيا دے

د موسیٰ اودعيسیٰ هغه ملګرے
دلته هر ځائے د هر چا هغه ملګرے

هر يو ئې د جهان دلته رښتيا دے
يو الله دے يو الله د دې دنيا دے

ما احمد ترينه غوښتلے هر دُعا ده
ما دعا دغه غوښتلے ښهٔ صفا ده

مل ملګرے په دُنيا مشکل کشا دے
يو الله دے يو الله د دې دنيا دے

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 28 ﴾

دا جهان ربه! ټول ستا دے
پاس آسمان ربّه! ټول ستا دے

هر يو ستوري د جهان
نمر دے ستا د پاس آسمان

حق بيان ربه! ټول ستا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا جهـــــان ربـــــــه! تـــول ستـــــا دے
هــــــريـــــو ګــــــل د هـــــــر چـــــمــــن
هــــــر بشـــــــر د هـــــــــر وطــــــن
هـــــر ميـــــدان ربَـــــه! تـــول ستـــــا دے
دا جهـــــان ربـــــــه! تـــول ستـــــا دے
هــــــر آيـــــــت دے حـــــقيــــقــــت
هــــــر آيـــــــت دے نــــصيــــحـــــت
دا قـــــــرآن ربَـــــــه! تـــول ستـــــا دے
دا جهـــــان ربـــــــه! تـــول ستـــــا دے
زۀ مــــخـــلــــوق يــــمــــــه هــم ستــــا
عــــــابـــــد نـــــــه يـــــم د بـــــل چــــا
عــــالـــــی شـــــان ربَـــــه! تـــول ستـــــا دے
دا جهـــــان ربـــــــه! تـــول ستـــــا دے
پــــــاك لـــــــه عيبـــــــه پــــــه جهـــــان
احـــــــمـــــــد وائــــــــی د مــــــــردان
وخـــــــت دروان ربَـــــــه! تـــول ستـــــا دے
دا جهـــــان ربـــــــه! تـــول ستـــــا دے

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 29 ﴾

بـغيـر لتـانــه ســوال زۀ وكـړمـه لـه چـانـه ربَـه!
غـوارم لتـانــه اے د دوجهـان سـلـطـانـه ربَـه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـانـه غـوښتلـې تـانـه سوال هـريـو بشـر کړے دے

پـه تـا هـر سـختـه کښې هـريـو بشـر نظر کړے دے

مشــکـل کشــا د دوجهــان ، غـنـی سبـحـانـه ربّـه !

بـغيـر لتــانــه سـوال زهٔ وکـړمـه لـه چـانـه ربّـه !

تـا نـه سلـطـان ، تـانـه وزيـر د دې جهـان کوی سوال

تــانــه افسـر هـريـو مُشيـر د دې جهـان کـوی سـوال

غــوارمـــه زهٔ ، غــواړی هـرڅـوك دلتــه لتـانـه ربّـه !

بـغيـر لتــانــه سـوال زهٔ وکـړمـه لـه چـانـه ربّـه !

هـريـو غـريـب هـريـو طبيـب ستـانـه دُعـا غوښتلـې

د دې جهــان هـريــو اديـب ستـانــه دُعـا غـوښتـلـې

ستـانـه چې غـواړی ، هـغـوی نـهٔ غـواړی دُنيانه ربّه !

بـغيـر لتــانــه سـوال زهٔ وکـړمـه لـه چـانـه ربّـه !

ستـا نـــه ټـول غـواړي د دې زمکـې او آسـمـان خـلق

ستــانــه ټـول غـواړي احـمـد وائـی د مـردان خـلق

غــواړي لتــانــه هـريـوڅيـز اے مهـربـانـه ربّـه !

بـغيـر لتــانــه سـوال زهٔ وکـړمـه لـه چـانـه ربّـه !

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 30 ﴾

اے د ازل نـــــه د آســـمــــان مــــالــکـــــه

غــــوارم لتــــانـــه پـــه جهـــان مـــالـکـــه

ستــــانــــه ســـوالـــونـــه انبيـــاء کــړی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا نه سوالونه اولياء کړي دي
اے د حيوان او د انسان مالکه

هر يو انسان دے ستا بنده دلته کښي
مړے هم ستا دے او زنده دلته کښي
د هر يو حکم او فرمان مالکه

بادشاه وزير درنه سوالونه کوي
غريب امير درنه سوالونه کوي
اے مهربانه عاليشان مالکه

ستا نه پټ نۀ دي د جهان څيزونه
ستا نه پټ نۀ دي د اسمان څيزونه
د هر لارے د مکان مالکه

تا ته فرياد کوي مظلوم خلق
تا ته فرياد کوي محکوم خلق
اے د هر ګل د ګلستان مالکه

ستا په اختيار کښي بارانونه ټول دي
ستا په اختيار کښي دا څيزونه ټول دي
د ونو بوټو د ميدان مالکه

ستا په اختيار کښي دا هر څۀ زما دي
ماسره هر څۀ د جهان ټول ستا دي
اے د احمد اے د مردان مالکه

(c) ketabton.com: The Digital Library


## حمد باري تعالیٰ ﴿ 31 ﴾

یــــو دے یــــو زمــــا اَلــــلّــــه
دا دے هــــر چــــا اَلــــلّــــه
هــغــه یــو مــعــبــود زمــونــږ
هــغــه یــو مــســجــود زمــونــږ
حــق دے پــه دنیــا اَلــلّــه
هــر ځــائــے کښــي مــوجــود هــغــه
میــنــه کــړی، ودود هــغــه
دا د انبیــاء اَلــلّــه
هــر چــا نــه هــغــه خبــر
هــر چــا تــه ئــي ښــهٔ نــظــر
دا د اولیــاء اَلــلّــه
خــونــد ئــي کــړی تــعــریف صــفــت
هــر ځــائــے کښــي هــر یــو ســاعــت
ښــهٔ ښــکــاره دے دا اَلــلّــه
دا احــمــد تــمــام مــالك
یــو د خــاص او عــام مــالك
وایــه وایــه بیــا اَلــلّــه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 32 ﴾

حــق الــلّــه د دي جهــان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو دے یو ډیر عالیشان دے

ورته تول مخلوق محتاج دے

پاك له عيبه، له نقصان دے

لَمْ يَلِدْ د هغۀ ذات دے

لَمْ يُولَدْ هغه رحمٰن دے

هر يو څيز ورته ښۀ ښكاري

ښۀ خبر د پټ عيان دے

د هر چا نه ښۀ خبر دے

ښۀ خبر په هر بيان دے

هر مشكل كښې مددګار دے

هر يو كار دۀ ته آسان دے

د هر چا هغه خالق دے

د هر چا روزي رسان دے

معالج د هر بشر دے

هر يو زړۀ له اطمينان دے

ښۀ كامله دے احمده!

دامي دلته كښې ايمان دے

## حمد باري تعالىٰ ﴿33﴾

رَبه! ستا په حمد زما ژبه ګويا کړے

ستا د در زما نصيب هره ښكلا كړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



عبـــادت مـــي مشــغـلـــه د دې جهـــان کـــړے
هـــر عـــمـــل مـــي د ريـــا نـــه بـــۀ صـــفـــا کـــړے
پـــه تـــولـــه د شـــاکـــرانـــو کښـــې زمـــا شـــمـــيـــر شـــم
ربَـــه! د غـــه شـــان تـــولـــه دلتـــه کښـــې راکـــړے
امتـــحـــان او مـــصـــيبـــت نـــه مـــي کـــړے لـــرے
لـــرے لـــرے مـــا د هـــريـــو نـــاروا کـــړے
د مشـــرك کـــافـــر نـــه لـــرے لـــرے زۀ يـــم
د بـــدعـــت د بـــدعتـــى نـــه مـــا جُـــدا کـــړے
د مـــظـــلـــوم ســـره شـــريك شـــمـــه پـــه غـــم کښـــې
د رنـــځـــور د زړۀ د زخـــم مـــا دواکـــړے
پـــه تـــيـــرو کښـــې د ډيـــوے پـــه ځـــائـــے پـــکـــار شـــم
ربَـــه! داســـې دا ژونـــدون زمـــا رڼـــا کـــړے
عـــاجـــزى زمـــا صـــفـــت کـــړے لـــويـــه خدايـــه!
زمـــا ويـــنـــه کښـــې شـــامـــلـــه حـــق وفـــا کـــړے
د غـــفـــلـــت د خـــوب نـــه مـــا دلتـــه بيـــدار کـــړے
مـــلـــګـــرتيـــا زمـــا نـــصـــيـــب د اوليـــاء کـــړے
طـــالـــب نـــۀ يـــم چـــې مـــخـــلـــوق راتـــه راضـــى شـــى
پـــه دُنيـــا کښـــې مـــې نـــصـــيـــب خپـــلـــه رضـــا کـــړے
د احـــمـــد عـــلـــى د پـــاره دا کـــافـــى دى
چـــې قبـــولـــه د دنيـــائـــې دا دُعـــا کـــړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمد باري تعالیٰ ﴿ 34 ﴾

ټول جهان چې ستا تعريف کړي هغه کم دے
کوم بيان چې دعرب او دعجم دے
مخلوقات داسمانونو ستا مدّاح دی
په مارغانو کښې ستا امرمُسلَم دے
زمکې بوټې ستا تعريف کوی مدُام
هريو څيز دے ثناخوان په هر قدم دے
پتې چې څومره مخلوقات د سمندردی
ثناخوان دے هر مخلوق د هرعالَم دے
په صحرا کښې د ذرّے ذرّے بيان دے
ثناخوان دی هم پيريان دی هم أدم دے
هر قلم د دې جهان وائى احمده !
د کرسي سره ګواه بره قلم دے

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 35 ﴾

درد مند هميشه دلته په دې درژړلی دی
مولیٰ تاته دُنيا کښې هر افسر ژړلی دی
ستا در ته حاضر شوے د دنيا دے هر سلطان
ستا در ته حاضر شوے دے دانا او هر نادان
هريو بشر مولیٰ تاته سحر ژړلی دی
درد مند هميشه دلته په دې درژړلی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



آقـا دے ستـا مـحتـاجـه هـر غلام دے ستا محتـاج
دُنيـا کښـې د دنيـا دغـه نظام دے ستا مـحتـاج
ولـــې درتـــه زړلـــې پيـــغـمبــر زړلـــې دی
درد مـنـد هـميشـه دلتـه پـه دې در زړلـې دی
ستـا حـکـم نـه انـکار دغـه شاهان کولے نشي
ستـا حکم نـه انکـار دغـه بره آسمان کولے نشي
دُنيـا کښـې اے مـولـیٰ درتـه هـر سـر زړلـې دی
درد مـنـد هـميشـه دلتـه پـه دې در زړلـې دی
بـادشـاه د بـادشـانـو ستـا ويـنـا حـقـه صـفـا ده
ستـا حـکـم تـه مـحتـاجـه د دنيـا هـره خـندا ده
احـمـدعـلـی ستـا در تـه ټـول عـمـر زړلـې دی
درد مـنـد هـميشـه دلتـه پـه دې در زړلـې دی

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 36 ﴾

مـخـلـوق درتـه مـولـیٰ د ټـول جهـان زړلـې دی
مـحتـاجـه تـاتـه دلتـه هـر انسـان زړلـې دی
مـحتـاج سـړے چـې غـواړی نـو ژړا ورلـه ورځـې
دنيـا کښـې طـريـقـه بيـا د دُعـا ورلـه ورځـې
هـوښيـار درتـه زړلـې هـر نـادان زړلـې دی
مـحتـاجـه تـاتـه دلتـه هـر انسـان زړلـې دی
نبيـانـو رسـولانـو ستـا پـه در کـړے ژړا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نیکانو صالحانو ستا په در کړے ژړا

وزیر درته دنیا کښې هر سلطان ژړلی دی

محتاجه تا ته دلته هر انسان ژړلی دی

بیمار درته دنیا کښې په هر در کړے ژړا

اغیار درته دنیا کښې په هر در کړے ژړا

بنکاره درته په پټه مسلمان ژړلی دی

محتاجه تا ته دلته هر انسان ژړلی دی

مولیٰ دا ارمانونه به مې کله شی پوره

ژړا چې ورسره شی نو به هله شی پوه

له دې وجې احمد نن په مردان ژړلی دی

محتاجه تا ته دلته هر انسان ژړلی دی

## حمد باری تعالیٰ ﴿37﴾

ربه! ستا دا ټول جهان دے

مونږ نه پټ دے که عیان دے

ته مالك د هر موسم ئې

ستا سپرلے دے ستا خزان دے

ستا دی دلته کښې ټول غرونه

ستا ځنګل دے ستا میدان دے

ستا قبضه کښې هر دریاب دے

ستا په لاس کښې هر انسان دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول لعلونه دلته ستا دي
که ياقوت دے که مرجان دے
د ګلونو خوشبو ستا ده
دلته ستا هر ګلستان دے
بره ستوري په اسمان کښي
مولیٰ! بره ستا اسمان دے
امے د لوح قلم مالکه!
ستا کرسي او لامکان دے
د هر څيز دلته مالك ئي
د هر چا دغه بيان دے
يو مالك زمونږ د تولو
د احمد په دې ايمان دے

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 38 ﴾

هر يو څيز د دي جهان
لاندي زمکه پاس اسمان
دغه غرونه، دريابونه
تول ګلونه، چمنونه
د سپرلي سره خزان
هر ځنګل او بيابان
د دنيا هر يو سحر

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ماښام او مازیګر

په دنیا کښې هر انسان

که غریب دے او که خان

دا ښائسته بوره فضا

دا ورو وره هوا

هر یو غم او مصیبت

د هر چا دزړۀ راحت

هر کم عقل او هوښیار

تول بې دینه او دیندار

پیدا کړی یو الله دی

پټ ښکاره چې په دُنیا دی

دا احمد علی دے ربّ

د عجم او د عرب

## حمد باری تعالیٰ ﴿ 39 ﴾

اے زما خالق معبوده!

اے د هر بشر مسجوده!

ستا نه غواړم تا ته ژاړم

اے په هر ځائے کښې موجوده!

تا ته مونږ تول محتاج یُو

مهربانه اے ودوده!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا نه پټ نۀ دے يو څيز
اے قاصده! اے مقصوده!
نمر قمر تا پيدا کړے
نور دے راکړۀ له دروده!
د احمد علی يو سوال دے
بچ کړے ما له هر مردوده

## حمد باری تعالیٰ ﴿ 40 ﴾

ربّ زما زمونږ د ټولو
رهنما زمونږ د ټولو
بښۀ خبر له هر خبر نه
خبردار د بحرو بر نه
مقتدا زمونږ د ټولو
رهنما زمونږ د ټولو
يو مالك مشکل کشا دے
په دُنيا کښې په هر خوا دے
درد، دوا زمونږ د ټولو
رهنما زمونږ د ټولو
ورته وائی مهربانه
ورته وائی عاليشانه
حق اشنا زمونږ د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رهـــنـــمـــا زمـــونـــږ د تـــولـــو
د سپـــرلـــی ، خـــزان مـــالك دے
د هـــريـــو جهـــان مـــالك دے
مُـــدّعـــا زمـــونـــږ د تـــولـــو
رهـــنـــمـــا زمـــونـــږ د تـــولـــو
د احـــمـــد هـــغـــه مـــولـــیٰ دے
حـــق مـــولـــیٰ زمـــا اوستـــا دے
حـــق مـــولـــیٰ زمـــونـــږ د تـــولـــو
رهـــنـــمـــا زمـــونـــږ د تـــولـــو

حمد باري تعالیٰ ﴿ 41 ﴾

څـــوك بـــادشـــاه دے څـــوك مـــلـــنگ
ډيـــر روان دي څـــنگ پـــه څـــنگ
څـــوك گـــنـــده دے څـــوك دے پـــاك
څـــوك ښـــائستـــه دے څـــوك بـــدرنگ
څـــوك د امـــن طـــلـــبـــگـــار
چـــا ســـره دے لاس كښـــي ســـنگ
څـــوك حيـــا نـــه خبـــر نـــهٔ دی
چـــا وهـــلـــے ښـــائستـــهٔ لـــنگ
د چـــا زړهٔ دلتـــه صـــفـــا
د چـــا زړهٔ نيـــولـــے زنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څـــوك د صُـــلـــح پَـــه طـــلـــب
څـــوك خـــوشـــحـــالـــه دي پـــه جـــنګ
څـــوك خـــوشـــحـــالـــه دي پـــه ژونـــد
څـــوك دي دلتـــه پـــه ژونـــد تـــنګ
پيـــدا كـــړي ربّ مـــولـــىٰ دي
اے احـــمـــده ! رنګ پـــه رنګ

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 42 ﴾

تـانـه هره سختـه كښي غوښتلے دے هرچا مدد
يـا اللّـه مـولـىٰ مـدد ، يـا اللّـه مولىٰ مدد
تـانـه سـلـطـانـانو د جهـان سـوالـونـه كړي دي
تـانـه عـالـمـانو دغـه شان سـوالـونـه كړي دي
تـا دلتـه كښـي كـړے پـه هر ځائـے د اولياء مدد
يـا اللّـه مـولـىٰ مـدد ، يـا اللّـه مولىٰ مدد
نـوحؑ او د آدمؑ پـه شـان د هـرشـا مـددګـار ئـي تـهٔ
ښـهٔ راتـه معلومـه ده زمونږ نـه خبردار ئـي تـهٔ
ستا نـه چي څـوك غـواړي د هغـهٔ كوے بيا بيا مدد
يـا اللّـه مـولـىٰ مـدد ، يـا اللّـه مولىٰ مدد
ستـا نـه پـه بدركښي مصطفىٰ كړي سوالونه دي
تـاتـه پـه هـر درئـي دلتـه كـړي فـريـادونـه دي
ربّ دلتـه كښـي كـړے هر ميدان كښي د اشنا مدد

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــا اللّٰــه مــولـىٰ مـدد ، يــا اللّٰــه مولـىٰ مدد

تـــهٔ د وزيــرانــو مَــل ئــي تـــهٔ د اميــرانــو مَــل

تـــهٔ د اديــانــو مَــل ئـــي تـــهٔ د طبيبــانــو مَــل

دا مــي عـقيـده ده ربــه! تــهٔ كړے پـه رښتيـا مـدد

يــا اللّٰــه مــولـىٰ مـدد ، يــا اللّٰــه مولـىٰ مدد

څـكــه هـر بشـر درتــه ولاړ دے او سـجدے كـوى

ستـا تـعبدار خلق پـه دُنيـا كښـي تول مـزے كوى

ستـانـه مـولـىٰ غـواړى پـه دُنيـا كښي دا دُنيا مدد

يــا اللّٰــه مــولـىٰ مـدد ، يــا اللّٰــه مولـىٰ مدد

دغـــه حـقيـقــت دے مـنـكـرانـو تــه هم پتـه ده

وائـــى احـمــد وائـى كـافـرانـو تـــه هـم پتـــه ده

هـر ځـائــے مصيبت كښي ئي دے كړے تل زما مدد

يــا اللّٰــه مــولـىٰ مـدد ، يــا اللّٰــه مولـىٰ مدد

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 43 ﴾

مــولــىٰ ! پـــه زمـكـــه آسـمــانـونـو تــهٔ ئـي

زمـــونـــږ مـــلـــگـــري د كـــورونـــو تـــهٔ ئـــي

كـــلـــه چــي دوه وى دريــم بـــه ستـــا وى ذات

داســـي مـــوجـــود پـــه آيـــاتـــونـــو تـــهٔ ئـــي

ستـــا بـــادشـــاهــي كښـــي لامـكـــان بـــره دے

مـــالك د ټـــولـــو جهـــانـــونـــو تـــهٔ ئـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــي نيـــازه تـــهٔ ئـي پـــه دنيـــا کښـــي رَبّـــه!
زمـــونــــږ مـــلــــګـــرې درازونـــو تـــــهٔ ئـــي
ستـا وجـود هـر ځـائـے هـر ځنګل کښـي شتـه دے
مـــالك زمـــونـــږه ددې غـــرونـــو تـــــهٔ ئـــي
بـــره قـــمـــر او نـــمـــر هـــم ستـــا دي رَبّـــه!
مـــالك د ستـــورو ، بـــارانـــو تـــــهٔ ئـــي
پـــه خپـل قـدرت سـره هـرځـائـے کښـي اُوسـي
هـريـو رحـمـت دے ستـا قبـضـه کښـي رَبّـه!
مـــالك د ټـــولـــو نـــعـــمتـــونـــو تـــــهٔ ئـــي
تـــا تـــه مـــحـتـــاجـــه دا دُنيـــا ټـولـــه ده
مـــالك زمـــونـــږه د وختـــونـــو تـــــهٔ ئـــي
تـــا تـــه ولاړتـــا نـــه احـــمـــد کـوي سـوال
مـوجـود هـرځـائـے پـه قـدرتـونـو تـهٔ ئـي

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 44 ﴾

دا چـــي زهٔ هـــر څـــهٔ ددنيـــا ويـــنـــمـــه
دا چـــي هـــر څـــهٔ پـــه هـــر خـــوا ويـــنـــمـــه
څـــومـــره چـــي غـــرونـــه ميـــدانـــونـــه دا دي
څـــومـــره چـــي دلتـــه مـــوسـمـــونـــه دا دي
دا رنګ پـــه رنګ ددې جهـــان ګـــلـــونـــه
دلتـــه ښـــائستـــه د هـــر مـــکـــان ګـــلـــونـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتــــه لــعــلــونـــه مــلــغـلــرے دغــــه
بيـــــا د قــــرآن ښـــائستـــــه خبـــرے دغــــه
پـــــه هـــر طـــرف بيـــا بـــارانـــونــــه تـول
دلتـــــه دُنيـــــا كښـــي داوختـــونـــــه تــول
دغـــــه هـــرځــــــهٔ چـــي د عــجـم عـــرب دي
څــومــره چــي څـــهٔ دي دا زمــونـــږ د ربّ دي
دغـــــه ويــنــــا د هــــرانســــان پـــه ژبـــه
احـــمـــده ! دا د تــول جهـــان پـــه ژبـــه

حمد باري تعالىٰ ﴿ 45 ﴾

مـــــالك مـــونـــږه د مــحــفـل ئــي رَبّـــه !
عــقيـــده دا مـــي ده چـــي تــل ئـــي رَبّـــه !
تـــــا تـــــه ژړا تـــــا تــــه فـــريــــاد كـــومـــه
ښـــهٔ يــم خبــر چـــا تــــه فــريـــاد كـــومــه
تـــــــــهٔ د اول نـــــــه د ازل ئـــــــي رَبّـــــه !
عــقيـــده دا مـــي ده چـــي تــل ئـــي رَبّـــه !
ستـــا د نـظــر نـــه هيـڅ څــوك پـټ بـــه نـــهٔ شي
ستـــا د اثــر نـــه هيـڅ څــوك پـټ بـــه نـــهٔ شي
مـــــالك د تـــلــــے د عـــدل ئــــي رَبّـــــه !
عــقيـــده دا مـــي ده چـــي تــل ئـــي رَبّـــه !
د هـــرچـــمـــن تـــا تـــــه مـولـــىٰ پتـــــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هـــــر وطـــــن تــــاتــــــه مــــولـــــیٰ پتــــــه ده
خبـــــــر د ګــــل او د بُـــــلبــــل ئـــــي ريَــــــــه !
عـــــقيــــده دا مـــــي ده چـــــي تــــل ئـــــي ريَــــــه !

زمـــــونــــــږ د زړونـــو حــــال د ے تــــاتــــــه پتــــــه
وائــــــی احــــمــــد نشتــــــه بــــل چـــاتــــــه پتــــــه
زمــــونــــږه هـــرځــــائــــے کښـــي تــــهٔ مَــل ئـي ريَــه !
عـــــقيــــده دا مـــــي ده چـــــي تــــل ئـــــي ريَــــــه !

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 46 ﴾

ارمــانونـه پوره کيــږی خو چي کله مي ربّ غواړی
قسمتونـه بيداريــږی خـو چي کلـه مي ربّ غواړی
ګــنـاه ګــار بــه تري بيچ نشــی ، ګـناه ګـار لـره سزا ده
جهنـم تـه بـه غـرځيـږی خـو چي کله مي ربّ غواړی

د دنيــــا خـــلــق دی وږی ، مــــاړه نــهٔ شــو پــه دُنيــا دوی
پـه دنيا بانـدي مـريــږی خـو چي کله مي ربّ غواړی
د دنيـــــا خـــلــق اُودهٔ دی ، بيـــداريـــږی بـــه دوی کـلـــه
د غـفـلـت نـه بيـداريـږی خـو چي کله مي ربّ غواړی

د دنيــــا خـــلــق کــــاږه دی ، نيـــغيـــدلـو تــه سَـم نـهٔ دی
کـاږه خـلـق تـول سـميـږی خـو چي کله مي ربّ غواړی
د آخــــر طــــالبــان نشتــــه ، دا مـنــزل د هــــر بشـــر د ے
دا مـنـزل بــه مـلاويــږی خـو چي کلـه مي ربّ غواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك كوشش چي كوی دلته، اے احمده! په دنيا كښې
بره بره اُوچتيږی خو چي كلمه مي ربَ غواړی

حمد باري تعالیٰ ﴿ 47 ﴾

بره نمر سره أسمان دجهان ښكلے
پيدا كړے ربَه! تا دے هريو كلے
د هرچا دلوړے تندے نه خبرئي
هريو څيز ته تا خوراك دے رسولے
د هر نيك سړی تا مرسته دلته كړے
هر شيطان تا د جهان دلته رټلے
ستا دستور او طريقه د حق د مرسته
ما دنيا كښي ستا هريو حكم منلے
ربَه! شر نه د شرير نه مي نفرت دے
حقه لاره طريقه مي ده نيولے
بل څۀ ذكر د جهان زما خوښ نۀ دے
ربَه! نوم مي هر ساعت ستا يادولے
گناه گار خلق خبر نه دی دُنيا كښي
ستا په لاره باندي هويو ولی تلے
په ما شكر دے لازم د هر نعمت
زۀ احمد به ولے كينم دلته غلے

★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حمد باري تعالیٰ ﴿ 48 ﴾

زۀ وینم مالك ئي د جهان د هر صفت ربّه !
نشته په جهان د بل چا ستا په شان طاقت ربّه !
تا دا ورځے شپے دغه وختونه پیدا کړی دی
تا دے نازل کړے د آسمان نه هر نعمت ربّه !
تا ته بادشاهان محتاجه، تاته وزیران محتاج
غواړی تول لتانه په دنیا کښي خپل حاجت ربّه !
تا هریو بشر لره جدا مقام ورکړے دے
تا سره عزت شته دے او تاسره ذلت ربّه !
نشته دے معبود بغیر له تانه په دنیاکښي څوك
مونږ باندي لازم دے چي ستا اوکړو عبادت ربّه !
شته دے عذابونه په دوزخ کښي هر کافر لره
تا هر مسلمان له پیدا کړے دے جنت ربّه !
مونږ له دے راکړے د اسلام رڼا ښائسته ښکلے
مونږ ته ښکاره کړے د دنیا تا حقیقت ربّه !
ربّه ! پیدا کړی تا ګلونه د ازغو سره
تا دے پیدا کړے محبت او عداوت ربّه !
ورځ دے دحساب د پاره مونږ له جوړه کړے ده
تا دے پیدا کړے د انصاف یو عدالت ربّه !
فضل درنه غواړمه، زۀ دغه اُمید ساتم

(c) ketabton.com: The Digital Library


زۀ احمد خوشحاله يمه ستا په هر نعمت ربّه !

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 49 ﴾

علاج د هر بشر دے د ربّ نوم
سکون د هر يو درد دے د ربّ نوم
تکور د زړۀ د پاره هر ساعت
بهتر په لر او بر دے د ربّ نوم
نن چا چي په دنيا کښي دے اخستے
هر در لره اختر دے د ربّ نوم
شيطان نه په کښي پروت دے حفاظت
امان د هر ضرر دے د ربّ نوم
په سخته مصيبت کښي هر ساعت
يو سيورے پاس د سر دے د ربّ نوم
احمد علی غلام ئي د اثر دے
اوچت په بحر و بر دے د ربّ نوم

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 50 ﴾

تۀ خالق د ټول جهان ئي ربّنا
تۀ مالك روزي رسان ئي ربّنا
بادشاهی کښي شريك نۀ لرے خدايه
د سلطان په سر سلطان ئي ربّنا
د وزير او د مُشير نه ئي بي نيازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسـي ډيـر زيـات عـالیشـان ئـي رټـنـا
پـه هـر ځـائـے کښي دجهـان دلتـه کښي تـهٔ ئي
مـوجـود بـره پـه أسـمـان ئـي رټـنـا
ستـا تـقسيـم دے د دنيـا پـه دي دنيـا
يـو مـالك د ټـول سـامـان ئـي رټـنـا
هـر عـالـی صـفـت دنيـا کښي رټـه! ستـا دے
پـاك د هـريـو عيـب نـقـصـان ئـي رټـنـا
دا ښـکـاره درتـه حـاضـر پـه هـر مـکـان دی
خبـردار د هـر پـنهـان ئـي رټـنـا
د غـمـونـو عـلاج تـاسـره مـولـیٰ دے
د دي زړونـو اطـمـيـنـان ئـي رټـنـا
ستـا ثـنـا صـفـت کوو مونـږه پـه مونځ کښي
مـوجـود هـر ځـائـے پـه أذان ئـي رټـنـا
زهٔ احـمـد درتـه د رحـم طـلبـګـاريـم
د رحيـم سـره رحـمٰـن ئـي رټـنـا

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 51 ﴾

مُـصـوَر د هـر تـصـويـر دے
يـو اللّـه دے بـے نـظيـر دے
ټـول جهـان د هغـه رب دے
لامـکـان د هغـه رب دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــــۀ خبـــــر ځــــکــــــه خبيـــــر دے
يــــو الــــلــــــه دے بـــے نـــظيــــــر دے
شـــــريك نشتـــــــه ئـــي پــــــه ذات كښـــــي
يـــو دے يـــو پـــــه كـــائـنـــات كښـــي
پـــــــه صـــــفـــــت ســـــره بـــصيــــــر دے
يــــو الــــلــــــه دے بـــے نـــظيــــــر دے
مهـــــريـــــانــــــه پـــــه هــــرچـــــا دے
د هـــــرچـــــا مشـــــكـــــل كشــــــا دے
پيـــــدا كــــــړے ئــــي تـــــقـــديـــــر دے
يــــو الــــلــــــه دے بـــے نـــظيــــــر دے
د هـــــرچـــــا هـــــغـــــه خـــــالـــق دے
د هـــــرچـــــا هـــــغـــــــه رازق دے
حـــــق بيـــــان او حـــــق تـــــفسيــــــر دے
يــــو الــــلــــــه دے بـــے نـــظيــــــر دے
هـــــر بشــــــر ئــــــي ثــــنـــــا خـــــوان دے
لـــــــر او بــــــر ئـــــي ثــــنـــــا خـــــوان دے
يـــــو مـــــالك د هـــــر تـــــدبيـــــر دے
يــــو الــــلــــــه دے بـــے نـــظيــــــر دے
هيــــڅ تـــــري پـــــټ پـــــه جهـــــان نشتــــــه
پـــــټ تـــــري څـــــه پـــــه اسـمـــــان نشتــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــــــــــهٔ خبــــــــر د هــــــــــر اسيـــــــــر دے

يـــــــو الــــــلّـــــــــه دے بـــــے نـــــظيــــــر دے

زهٔ احــــــــمـــــــــد ئــــــــي هـــــم بــــــنـــــده يـــــم

زهٔ پـــــــــــــه ذکــــــــــر ئــــــــي زنــــــــده يــــــم

ښــــهٔ ښـــائستــــــهٔ ښـــکـــلـــے تـــحـــريــــر دے

يـــــــو الــــــلّـــــــــه دے بـــــے نـــــظيــــــر دے

حمد باري تعالیٰ ﴿ 52 ﴾

څيــــزونــــــه تــول پيـــدا دي جهــان کـــړهٔ اَلـلّـــه

بيــا غـــوره پــه دوى تـولـو کښـې انســان کړهٔ اَللّـه

مـخلوق ئي پيدا کړے رنګ پـه رنګ د اسمانونو

مــخــلــوق ئـي پيــدا کــړے د دنيـــا د جهـــانـــانـــو

ښـائستــه بـره پــه ستــورو پاس اسمان کړهٔ اَللّـه

څيــــزونــــــه تــول پيـــدا دي جهــان کـــړهٔ اَلـلّـــه

پيــدا ئـي هـريـو غـر کړهٔ هريو سنګ د دي جهـان

پيـدا ئـي هـر مـوسـم کړهٔ هريو رنګ د دي جهـان

بهـــار دلتـــه کښـي ختـم پـــه خـــزان کـــړهٔ اَللّــه

څيــــزونــــــه تــول پيـــدا دي جهــان کـــړهٔ اَلـلّـــه

پيــدا ئـي پــه دنيـــا کښـي هـر سـحـر کړهٔ د جهـان

پيـــدا زمـــونـــږه ربّ دا الـــر اوبـــر کـــړهٔ د جهـــان

پيـــدا دغـــه ځـــنـــګـــل او بيــــابـــان کـــړهٔ الـلّـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



څيـــزونـــه تـول پيـــدا دي جهـــان كـــړۀ اَلـــلّٰـــه
دا حـــمـــدوثـــنـــا كـــړے ده احـــمـــدعـلـــى د ربّ
دا حـــمـــدوثـــنـــا كـــړے ده عـجـم سـره عـــرب
پيـــدا د دغـــې ژبـــې هـــر بيـــان كـــړۀ اَلـــلّٰـــه
څيـــزونـــه تـول پيـــدا دي جهـــان كـــړۀ اَلـــلّٰـــه

## حمد باري تعالىٰ ﴿ 53 ﴾

نـــوم د الـــلّٰـــه ډيـر پـــه ادب او احتـــرام ليـــكـمـــه
پـــه عـــاجـــزے سـره دا نـوم سحـر مـاښام ليـكـمـه
پـه كښـې زړنـا ، پـه كښې ښُكلا د هـر آسمان د پاره
نـوم رهـنـمـــا دے د مـولـىٰ د هـر انـســان د پـــاره
ښـكـلـے ښـائستـۀ بـه دغـه نوم دلتـه مُدام ليكمه
پـــه عـــاجـــزے سـره دا نـوم سحـر مـاښام ليـكـمـه
پـه دې سـره سحـر مـاښام د زړۀ نـه زنـګ لـرے كړۀ
د زړۀ نـــه دلتـــه د شيـطـان اثـر او رنګ لـرے كـړۀ
يـــوه نسـخـــه درتـــه آسـانـــه د عـوام ليـــكـمـــه
پـــه عـــاجـــزے سـره دا نـوم سحـر مـاښام ليـكـمـه
د رنـځـورانـو پـــه دنيـا كښـې بهتـريـن عـلاج دے
د عـــاشـقـــانـو پـــه دنيـا كښـې بهتـريـن عـلاج دے
دغـــه عـلاج زۀ هـر بشـر لـــه ګام پـه ګام ليـكـمـه
پـــه عـــاجـــزے سـره دا نـوم سحـر مـاښام ليـكـمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتــــه پـــه مــونـــږه ئـي ادب او احتـــرام فـــرض دے
صـحيـح خبـر بـل تــه رسوول پــه هر امام فرض دے
ښـائسـتـــۀ دنيــا کښـي د دنيـا شيـــريـن کـلام ليکمـه
پــه عـــاجـزے ســره دا نــوم سـحـر مـاښـام ليـکمــه
وائـــی احـــمــد دغـــه ســـحـــر دغـــه مـاښـام پـه جـار
اخـلـــی دا نــوم پـــه ډيــر عـزت او احتــرام پـــه جـار
د مــولـــیٰ فـــضـــل وکـــرم دي ســـره تــمـام ليـکـمـــه
پــه عـــاجـزے ســره دا نــوم سـحـر مـاښـام ليـکمــه

حمد باري تعالیٰ ( ذکر) ﴿ 54 ﴾

ذکـــر پـــه ذکـــرونـو کښـي د ټـولـو نـــه اعـلـیٰ دے
ذکـــــر زمـــــا خـــوښ د لَااِلٰـــــهَ اِلَّا الــلّٰـــــه دے
غـوره او بهـتـر دے بهتـريـن پـه ټول جهـان کښي دے
ذکـر پـه ذکر ونـو کښي دا ښکلے هر مکان کښي دے
دغـي کښـي لـذت د روح دنيـا کښـي پـه هرخوا دے
ذکـــــر زمـــــا خـــوښ د لَااِلٰـــــهَ اِلَّا الــلّٰـــــه دے
زۀ مـنـم لائـق د عبـــادت تـــريـنـــه بـل نشتـــه دے
زۀ مـنـم لائـق د اطـــاعـــت تـريـنـــه بـل نشتـــه دے
ربَ زمـــونـــږ د ټـولـــو د هـــرچـا مشـکـل کشـا دے
ذکـــــر زمـــــا خـــوښ د لَااِلٰـــــهَ اِلَّا الــلّٰـــــه دے
خــونـد مزه تـوحيـد کښـي ده نعـره دغــه اوچتــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يوه جهنده دشيطان لاندے ده او خکته ده
ذکر دغه خوښ د محمد رسول الله ﷺ دے
ذکر زما خوښ د لَاإِلٰـهَ إِلَّا اللّٰه دے
دغه د توحيد خبره هر ځائے زما خوښه ده
دغه په دنيا کښي د هريو مسلمان نخه ده
دغه نُور دنيا کښي د ماښام او د صبا دے
ذکر زما خوښ د لَاإِلٰـهَ إِلَّا اللّٰه دے
خوښ دے دغه ذکر د صديقؓ عمرؓ عثمانؓ عليؓ
خوښ دے دغه ذکر په دنيا کښي د هريو ولي
دغي کښي سکون دلته دے، زړونو له دوا دے
ذکر زما خوښ د لَاإِلٰـهَ إِلَّا اللّٰه دے
زنګ لرے کوی دغه د زړونو نه د هر بشر
زنګ لرے کوی دغه د زړونو نه د هريو در
اے احمده! دا ذکر په ټولو کښي بالا دے
ذکر زما خوښ د لَاإِلٰـهَ إِلَّا اللّٰه دے

## حمد باري تعالیٰ (دعا) ﴿ 55 ﴾

ستا محتاج يُو لويه خدايه! ربه! ځان ته مونږ نزدے کړۀ
دښمنے زمونږ کړه ختمے، زمونږ ختمے فاصلے کړۀ
ستا د در نه بل در نشته، ځکه در ته ستا ولاړ يم
رڼا دلته په جهان مي د ژوندون دا ورځے شپے کړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستانه غوارم تاته ژارم بل مې نشته دے آسرا څوك
حل مولیٰ زمونږ د ټولو د دنيا دا مسئلے کړۀ
هريان زما ښائستۀ کړه ، ټول جهان زما ښائستۀ کړۀ
رڼا دلته کښې مې شپے کړۀ ، ورځے جوړے مې ډیوے کړه
بچ مې هرځائے کړه د شر نه ، بچ مې هرځائے کړه ضرر نه
د ژوندون نه مې د خیر دلته کښې جاري چینے کړه
د احمد په زړۀ ارمان دے ، ستا بنده د دې جهان دے
جنتونه ئې نصيب کړۀ ، نصيب هلته ئې بنګلے کړۀ

د مولیٰ ياد (ذکر) ﴿ 56 ﴾

حق ، حقيقت د دې دُنيا ياد کړه
خوبونه پريږده خپل مولیٰ ياد کړه
دلته غفلت په يو مقام ښۀ نۀ دے
مونږه له غفلت هرځائے تمام ښۀ نۀ دے
سبق دُنيا کښې د رښتيا ياد کړه
حق ، حقيقت د دې دُنيا ياد کړه
مونږ نه سحر مونږ نه ماښام تيريږي
ژوند رانه هسے ټول تمام تيريږي
درس او سبق د اولياء ياد کړه
حق ، حقيقت د دې دُنيا ياد کړه
مونږه دُنيا کښې يُو قيديان په جمع

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــونـــږ يُـــو ددلتـــــه نـــه روان پـــه جـمـع
دا نــــصــــحيــــت كــــامــل زمـــا يـــاد كـــړه
حـــق ، حـــقيــقـــت د دې دُنيـــا يـــاد كـــړه
دا ديـــو څـــو ورځـــو ژونــدون دلتــــــه دے
حـــق د دنيـــا نـــه بيـــا بيــلتـــون دلتـــه دے
دا دَ احــــمـــد بيــــان صـــفـــا يـــاد كـــړه
حـــق ، حـــقيــقـــت د دې دُنيـــا يـــاد كـــړه

## حمد باري تعالیٰ ﴿ 57 ﴾

څـــوك دے څـــوك دے رهـــنـــمـــا ؟
حـــق الـــلّــــه دے حـــق الـــلّــــه
هـــغـــه پهـــردار زمـــونـــږ
هـــغـــه دے غـــمـــخـــوار زمـــونـــږ
څـــوك دے مهـــربـــان پـــه مـــا ؟
حـــق الـــلّــــه دے حـــق الـــلّــــه
هـــغـــه د هـــرچـــا دے ربَ
هـــغـــه زمـــاستـــا دے ربَ
هـــرځـــۀ دی پـــه دې ګـــواه
حـــق الـــلّــــه دے حـــق الـــلّــــه
هـــغـــه هـــرطبيـــب ســـره
هـــريـــو خـــان غـــريـــب ســـره

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَل د هر نادان، دانا
حق الله دے حق الله
هر چا نه هغه خبر
هر چا ته ئي دے نظر
يو مالك زما او ستا
حق الله دے حق الله
هغه مددګار زمونږ
هرځائے کښي پکار زمونږ
څوك دى څوك مشكل كشا ؟
حق الله دے حق الله
هغه يو خالق زمونږ
هغه دے رازق زمونږ
داسي وائي علماء
حق الله دے حق الله
نۀ محتاج د يو وزير
نۀ محتاج د يو مُشير
څوك دے څوك دے دا بادشاه ؟
حق الله دے حق الله
زړۀ لره دوا هغه
داحمد وينا هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــــــــرخـــــــــــــــۀ دی پـــــــــــــه دي ګـــــــواه
حـــــــق الـــــــلّـــــــــــــه دے حـــــق الـــــلّـــــــــــه

تمت بحمد اللّٰه تعالیٰ وبتوفيقه
( دکتاب اولني برخه په حمد باری تعالیٰ باندي
مشتمله سرته ورسيدله)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دويمه برخه (نعتونه)

## بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

## (1) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تــــا خـــو ليـــدلـــي درد سيـــد البشـــــر ﷺ وۀ
وايـــــه څـــنـــګــــه ښـکـلـــي ، هـغـــــه دروۀ ؟

تــــابــــــه ديــدن ســحـــر مـــاښـــام کـــړي وي
تــــابــــــه ديــدن هــلـتــــــه تـمــــام کـــړي وي
تــــابــــــه رکـــوع هــلـتـــــه قيـــام کـــړي وي
راتـــه ووايـــه هـلـتـــه کښـــي څـنـګـــه ســحـــروۀ؟
وايـــه څـــنـــګــــه ښـکـلـــي ، هـغـــــه دروۀ؟

تــــــــامــــــديـــــنـــــــه مــــنــــوره ولُيـــــده
تــــــاد رســـول الـــلّٰـــــه ﷺ کـــوخــــه وليـــده
قســـم دے تـــــاښـــکـــلـــــي روضـــــه وليـــده
تـــاخـــو ليـــدلـــي در پـــه در دغـــــه اختـــر وۀ
وايـــه څـــنـــګــــه ښـکـلـــي ، هـغـــــه دروۀ ؟

تــــا هــم جــمـــات د مــصـــطـــفـــیٰ ﷺ وليــده
تـــاښـــکــلـــي کــور د مــجتبــیٰ ﷺ وليــده
هــــلـتــــــــه تـــــــا نُـــور ددي دُنيـــــا وليـــده
هـلـتـــه تيـــر کــړي مـــاسپـخين تـــا مـــازيګـــروۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايــه څـنـګــه ښـکـلـي ، هـغــه دروۀ ؟

تــا مــقــدس تـول مــقــامــات وليــدل

تــا هـلتــه هــر ځــائــے بــرکــات وليــدل

تــا رحــمتــونــه انــوارات وليــدل

هـلتــه هـر ځـائــے کـښي برکت دَ پيغمبر ﷺ وۀ

وايــه څـنـګــه ښـکـلـي ، هـغــه دروۀ ؟

عــاشــقــان تــا دَ پيــغبــر ﷺ وليــدل

تــا اُمتيــان ئــي هــر ســحــر وليــدل

وائــي احــمــد تــا پــه نــظــر وليــدل

دَ پـاك رسـول ﷺ پــه نسبت هر ځـائـے معطّـروۀ

وايــه څـنـګــه ښـکـلـي ، هـغــه دروۀ

## (2) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

جــامـع دَ صـفـتـونـو پــه لـقـب عـربـي ﷺ دے

دا هـغـه نبي ﷺ هغـه نبي ﷺ هغه نبي ﷺ دے

احـمـد دے مـحـمـد دے دَ نبيــانـو دے امــام

ښـائسـت دَ کـائـنـات دے راشــه دُوي بانـدي تـمام

لـقــب ســره يــاد شـوي پــه مـکـي مدنـي دے

دا هـغـه نبي ﷺ هغـه نبي ﷺ هغه نبي ﷺ دے

يــاديــږي مـزمـل سره هرځـائـے کښـي پـه لـقـب

يــاديــږي مـدثــر ســره عــجـم کـښـي پــه عــرب

(c) ketabton.com: The Digital Library



سخـرﺩَ عثمـانؓ، سخـرﺩَ علیؓ، سخرﺩَ علیؓ ﺩے
دا هغـه نبی ﷺ هغـه نبی ﷺ هغه نبی ﷺ دے
وَالشَّمْــس، وَالضُّحــیٰ کښــې ئــې ښُکلا ده دَ بدن
قسـم دے ذکـر شتــه ئې پــه قـراٰن کښې دچمن
بُــنیـاد پــه کـائـنـات کښـې دَ هرځائے دَ ولـی دے
دا هغـه نبی ﷺ هغـه نبی ﷺ هغه نبی ﷺ دے
احــمـده! ذکـر کـړے ئـې هـر چـا دے پـه عـزت
رحـمـت دے لـوئـې نعـمـت دے دَ اللّٰه ربُّ العزت
مــوصـوف هـم پـه طٰـهٰ سـره یٰسین متـقـی دے
دا هغـه نبی ﷺ هغـه نبی ﷺ هغه نبی ﷺ دے

## (3) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حـــال دَ مــدیـــنـــې بــــه تــــهٔ راوړې کـلــــه
اے بــــادِ صبـــا! چـــې هــلتـــه ځـــې کـلــــه
ډیـــر راتـــــه یـــادیــــږی هــغـــــه در ښــکــلـې
ډیـــر راتــــه یـــادیــــږی پیــغــمبــر ښــکــلـې
ځــــے بــــه پــــه طـــرف دَ مــدیــنــې کـلــــه
اے بــــادِ صبـــا! چـــې هــلتـــه ځـــې کـلــــه
ځـــــان ســـره چـــې یـــوســـے دا ســلام زمــــا
ځـــــان ســـره چـــې یـــوســـے دا پیــغـــام زمــــا
ستـــــا بــــه شـــې نـــصیـــب دا نـــظـــارې کـلــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



اے بــاد صبــا ! چــې هــلتـــه ځــې کـلــه

ستـــا وی قـــدمـــونـــه پـــه ادب ســـره

ستـــا وی بیـــانـــونـــه پـــه ادب ســـره

ستـــا بـــه شـــی نـصیـــب دغـــه مـزې کـلـه

اے بــاد صبــا ! چــې هــلتـــه ځــې کـلــه

دغـــه یـــو ارمـــان دے دَ هـــر چـــا دلتـــه

دا الـــری احـــمـــد پـــه دې دُنیـــا دلتـــه

کیـــږی بـــه ددغـــې فیـــصـلـــې کـلـــه

اے بــاد صبــا ! چــې هــلتـــه ځــې کـلــه

## ( 4 ) نعت مصطفیٰ ﷺ

ډیر خـوند کوی ډیر خوند چې وے روضې ته مخامخ

سـحـر سـره مـابنـام دغـې کـوځې تـه مـخـامـخ

ادب او احتـــرام ســـره ولاړ وے هـــر ســـاعـــت

درود ســـره سـلام ســـره ولاړ وے هـــر ســـاعـــت

هـروختـې دَ روضې وے زهٔ جنګلې تـه مخامخ

سـحـر سـره مـابنـام دغـې کـوځې تـه مـخـامـخ

سـلام زمـا پـــه ژبـــه بـانـدې وے سحـر مـابنـام

سـلام زمـا پـــه ژبـــه بـانـدې وے هلتـــه تـمـام

ادب ســـره تـــرلـــې هـــر حـصـــې تـــه مـخـامـخ

سـحـر سـره مـابنـام دغـې کـوځې تـه مـخـامـخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



درود زمـــا وے دلتـــه وظیــفــه د دي جهـــان
ښائستــهٔ وے پـه دُنیا کښې تل ښائسته زما ایمان
ارمـان دے چې وے زهٔ دي باغیچې تـه مخامخ
سـحـر سـره مـاښـام دغـي کـوڅې تـه مخامخ
احـمد عـلـی پـه دغې کښې دا ژوند شـی ستا تمام
هـر ځـائـے وی ستــا وجـود سـره ادب او احتـرام
مـولـی کـلـه بـه لا رشم دي چینې تـه مخامخ
سـحـر سـره مـاښـام دغـي کـوڅې تـه مخامخ

## ( 5 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ځکه غـمژن ئې ستـانه ورستـو ستا جانان پاتې شو
پــه مـدینـه کښې درنـه ګـل دَ ګلستان پاتې شو
هغـه رحـمـت هغـه نعـمـت هغه برکت دَ جهان
ټول شفـاعـت ، هم مـحبـت ، هم سخاوت دَ جهان
تـــا نـــه رهبـر دَ رهبـرانو عـالیشـان پـاتـی شـو
ځکه غـمژن ئې ستـانه ورستـو ستا جانان پاتې شو
هـغـه یٰسیــن هـغـه امیـن هـم اوّلیـن دَ جهـان
هم اٰخـریـن هم بهتـریـن ډیـر زیات حسین دَ جهان
تـانـه مـحبوب دَ مـخلوقاتو دَ رحمان پاتی شو
ځکه غـمژن ئې ستـانه ورستـو ستا جانان پاتې شو
هـغـه قـمـر ، هـغـه هـم نمر دَ هریو در دَ جهـان

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـادپــه لـقـب هـم مـزمـل او مـدثـر دَ جهــان
تـا نـه خـاتـم شـائسـتـه نبـي آخـرزمـان ﷺ پـاتـي شو
څـکه غـمـژن ئـي سـتـانـه ورسـتـو ستا جانان پاتي شو

هـغـــه مـلـگـــري دصـــديـق ؓ او د عـــمـــر ؓ يـاديــږي
هـغـــه مـلـگـري دَ عـثـمـانؓ ، عـلـي حيـدرؓ يـاديــږي
تــانــه جــانــان هـم دَ بـلال ؓ او دَ سـلـمـانؓ پـاتـي شـو
څـکه غـمـژن ئـي سـتـانـه ورسـتـو ستا جانان پاتي شو

هـغـــه ســـردار هـغـــه امــام دَ امــامــانـو نـبـــي ﷺ
هغـه غـمـخـوار پـه هـر مـقـام دَ يـتـيـمـانو نبـي ﷺ
درنــه احــمــده ! داســي ګــل د دي جهــان پــاتــي شــو
څـکه غـمـژن ئـي سـتـانـه ورسـتـو ستا جانان پاتي شو

## ( 6 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هــر يــوه نــامــه دي پـاك رسـولــه ! ﷺ بهـتـريـنـه ده
تــا ســره مــي مـيـنــه ده ، تـل تــا ســره مـي مـيـنـه ده

تـاتــه پـاك الـلّـه پـه مـدثـر سره خـطـاب كـوي
دغــه شــان قـرآن دے ذكـر نـور هـم دَ الـقـاب كـوي
دا خبــره كــړي مــا واضــحـــه دلـتـــه سـپـيـنـــه ده
تــا ســره مــي مـيـنــه ده ، تـل تــا ســره مـي مـيـنـه ده

هـريـو نـامـه كـښـي ستـا رحـمـت او بـركـت شتـه دے
هريو نامه كښي پاك رسوله ! ﷺ ستا صفت شته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يوه نامه دې ښۀ خوږه له هرګبينه ده
تا سره مې مينه ده، تل تا سره مې مينه ده
کله مزمل ﷺ سره او کله په طٰهٰ ﷺ سره
ياد ئې پاك رسوله! محمد رسول الله ﷺ سره
هر يوه صفحه دې دَ سيرت ښائسته حسينه ده
تا سره مې مينه ده، تل تا سره مې مينه ده
زۀ احمد علي په دغه مينه باندې پايمه
زه په دې دُنيا کښې شاګردانو ته دا ښائمه
مينه په وجود کښې دغه مينه زما وينه ده
تا سره مې مينه ده، تل تا سره مې مينه ده

## ( 7 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چا چې دې ليدلې دَ جانان کلې
ډير دې ښائستۀ ښکلې دَ جانان کلې
راشه ديدنو له ئې راشه تۀ
راشه برکتونو له ئې راشه تۀ
نمر دې ځليدلې دَ جانان کلې
ډير دې ښائستۀ ښکلې دَ جانان کلې
راشه په ديدن باندې به مور نشې
بې له دغې درنه به تۀ جوړ نشې
کلې او چت کلې دَ جانان کلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر دے ښائستهٔ ښکلے دَ جانان کلے
دلته به وسیږمه بې غمه زهٔ
خلاص به دَ هر غم یم دَ عجمه زهٔ
ما زړهٔ کښي ساتلے دَ جانان کلے
ډیر دے ښائستهٔ ښکلے دَ جانان کلے
دلته خوشبوئي دَ هر چمن پرته
دلته خوشبوئي دَ هر وطن پرته
ما احمد ښودلے دَ جانان کلے
ډیر دے ښائستهٔ ښکلے دَ جانان کلے

## ( 8 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلے ښائستهٔ کلے دَ جانان کلے
دا دے دَ نبي آخر زمان ﷺ کلے
هر ځائي دارو ددي جهان دي تول
هر ځائي دارو په هر مکان دي تول
ځکه دا دے ډیر زیات عالیشان کلے
دا دے دَ نبي آخر زمان ﷺ کلے
هر ځائي دي ښکلي دَ دُنیا در
هر ځائي دي ښکلي په هر خوا در
راشه دا اعلیٰ دے قدردان کلے
دا دے دَ نبي آخر زمان ﷺ کلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـر ځـائـے کښـي خـوشبـو پـه دغـه درپـرتـه
هـر ځـائـے کښـي خـوشبـو دَ پيـغـمبر ﷺ پـرتـه
دا رنګ دَ نـــزول دے دَ قـــرآن کـــلـــے
دا دے دَ نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ کـــلـــے
هـر يـوه لـمـحـه پـه کښـي ښـائستـهٔ ښـائستـهٔ
هـريـوه حـصـه پـه کښـي ښـائستـهٔ ښـائستـهٔ
وائـــی احـــمـــد وائـــی دَ درمـــان کـــلـــے
دا دے دَ نبـــی آخـــرزمـــان ﷺ کـــلـــے

## ( 9 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـکـلـي پـه دُنيـا کښـي پاك رسوله ! ﷺ هر بيان لرے
ګـل دَ ګـلـسـتـان ئـي ځـکـه حسـن دَ جهـان لـرے
هـــريـــوه ادا دے لاثـــانـــی ده دَ جهـــان نبـــی ﷺ
دلتـــه دا دُنيـــا دے لاثـــانـــی ده دَ جهـــان نبـــی ﷺ
هـر ځـائـے هـر بشـر لـره بُنيـادَ پوخ ايـمـان لـرے
ښـکـلـي پـه دُنيـا کښـي پاك رسوله ! ﷺ هر بيان لرے
سـترِولـه تسکين ئـي پـه دُنيا کښـي پاك رسوله ! ﷺ تـهٔ
صـادقـه امـيـن ئـي پـه دُنيـا کښـي پاك رسوله ! ﷺ تـهٔ
ښـکـلـي د دُنيا دَ در هـرځـائـے کښـي هـر مکان لرے
ښـکـلـي پـه دُنيـا کښـي پاك رسوله ! ﷺ هر بيان لرے
سـتـا دے مـزمـل سـره دُنيـا کښـي مدثـر لـقـب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دے دَ هرچا نه دلته کښې ډیر زیات عالي نسب
ټولو مخلوقاتو کښې قسم دے اوچت شان لرے
ښکلي په دُنیا کښې پاك رسوله! ﷺ هر بیان لرے
زهٔ احمد ستا مدح وثنا دلته هر ساعت کوم
تاسره قسم دے زهٔ دَ زړهٔ نه محبت کوم
څکه چې محبوب دلته دُنیا کښې تهٔ رحمان لرے
ښکلي په دُنیا کښې پاك رسوله! ﷺ هر بیان لرے

## (10) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

صفت چې وکړو دَ نبي ﷺ ټول ایماندرو
دغه په نثر کښې هم، هم په اشعارو
کار دَ ثواب دے دَ جهان
دا دے زما دلته ایمان
دغه بیان کوو به هر ځائے کښې په لارو
دغه په نثر کښې هم، هم په اشعارو
په خپله ربَ ئې کړي صفت
راشه دے دغه حقیقت
دَ مهاجرو لاړ ده، لاړ ده دَ انصارو
دغه په نثر کښې هم، هم په اشعارو
دا طریقه دَ اولیاء ده
په دې دُنیا دَ علماء ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم نقل كړے دَ نبي ﷺ تعريف اغيارو
دغه په نثر كښې هم ، هم په اشعارو
دا دې تسكين دَ هر بشر
احمده ! هر ځائے په هر در
ما اوريدلے دا بيان تل دَ ديندارو
دغه په نثر كښې هم ، هم په اشعارو

## ( 11 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ښكلي هاشمي جانان ﷺ، مياشت كښې دَ سپرلى راغے
زارئې دَ نامې نه شم ، مكى مدنى ﷺ راغے
كور دَ عبدالله شولو نور رڼا رڼا تول
لاړے دَ جهان تيرے ، هر ځائے شو صفا تول
هر چا ته معلومه شوه آخرى نبى ﷺ راغے
زارئې دَ نامې نه شم ، مكى مدنى ﷺ راغے
كور كښې خوشحالي شولے آمنه بى بى كره
كور كښې خوشحالي شولے راشه پاك نبى ﷺ كره
ياد په اوّلين سره راغے آخرى راغے
زارئې دَ نامې نه شم ، مكى مدنى ﷺ راغے
وخت وو دَ سحر ښائسته ښكلے برابر ښائسته
نور لكه دَ نمر ښائسته يا بره قمر ښائسته
راغے مرسلانو كښې راشه قريشى راغے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زارئي دَنامي نه شم، مکی مدنی ﷺ راغے

بيا په پاك نبی ﷺ سره ورغ دَګل بنائسته شوله

جوړه په نبی ﷺ سره ترینه ګلدسته شوله

رهنما دَتول جهان، دَهریو ولی راغے

زارئي دَنامي نه شم، مکی مدنی ﷺ راغے

تول عرب بنائسته شولو، تول عجم بنائسته شولو

وائی احمد مختصر، هر قدم بنائسته شولو

کله چي افسر زمونږ بشکلي عربی ﷺ راغے

زارئي دَنامي نه شم، مکی مدنی ﷺ راغے

## (12) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَمديني خلقو وئيل راشے بهار راغلے

زمونږ وطن ته دَنبيانو تاجدار ﷺ راغلے

ورسره هر څه معطر په هر طرف شو هلته

ورسره هر څه منوّر په هر طرف شو هلته

دوست مديني ته دالله غنی غفار راغلے

زمونږ وطن ته دَنبيانو تاجدار ﷺ راغلے

ستوری آسمان کښي ورته تول په تماشه ووره

هر څه جهان کښي ورته تول په تماشه وو بره

راشے مکي نه مديني ته چي غمخوار ﷺ راغلے

زمونږ وطن ته دَنبيانو تاجدار ﷺ راغلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هـر چـمـن ګـلـونـه ټول پـه تمـاشـه وو ورتـه
دَ هـر وطـن ګـلـونـه ټول پـه تمـاشـه وو ورتـه
هـر چـا وئيـل چې بهتـريـنـه حسندار ﷺ راغلـے
زمـونـږ وطـن تـه دَ نبيـانـو تـاجدار ﷺ راغلـے
ټـولـو وئيـل چې اٰخـريـن او اولـين نبـي ﷺ دے
ټـولـو وئيـل چې دا صـادقـه او امـين نبي ﷺ دے
زمـونـږ وطـن تـه محـمـد خيـر الابـرار ﷺ راغلـے
زمـونـږ وطـن تـه دَ نبيـانـو تـاجدار ﷺ راغلـے
دلبـر دَ ټـولـو مـخـلـوقـاتـو محـمـد عـربـي ﷺ
افسـر دَ ټـولـو مـخـلـوقـاتـو دے احـمـد عـربـي ﷺ
داسـي افسـر وائـي احـمـد داسـي دلدار راغلـے
زمـونـږ وطـن تـه دَ نبيـانـو تـاجدار ﷺ راغلـے

## (13) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وايـه درود وايـه کـۀ تـۀ فـضـل دَ مولیٰ غـواړے
مينـه محبت کـۀ دَ حـضرت رسول اللّٰه ﷺ غواړے
هـر بشـر دَ پـاره دا سـکـون دے رالیـږلے ربّ
دا سـکـون عـجـم دَ پـاره دا سـکـون دَ ټول عـرب
زړۀ کـۀ د دنيـا دَ ظـلـمـتـونـو نـه صـفـا غـواړے
وايـه درود وايـه کـۀ تـۀ فـضـل دَ مولیٰ غـواړے
دا دَ عـقـلـمـنـد سـړي ده نـخـه چې درود لـولـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ عــزتــمــنــد ســړی ده نــخــه چــې درود لــولــی
تــهٔ بــه قـدرمـنـد ئـي چـې دَربَ نـه دلـتـه دا غـواړے
وایــه درود وایــه کـهٔ تــهٔ فـضـل دَ مـولیٰ غـواړے
تــل دَ هــر دعــا دَ پــاره مهــر پــه دُنیــا کنبــې دے
هــریــو الــتــجــا دَ پــاره مهــر پــه دنیــا کنبــې دے
وایــه د دعــا ســره دُنیــا کنبــې چــې دُعــا غـواړے
وایــه درود وایــه کـهٔ تــهٔ فـضـل دَ مـولیٰ غـواړے
وایـــه درود وایـــه دَ احــمــد عــلــی ویــنــا ده دا
وایـــه درود وایـــه هــر بشــر لــره بُــکـلا ده دا
لـویـه مـرتبـه کـهٔ پـه محشر کنبـې عقبیٰ غواړے
وایــه درود وایــه کـهٔ تــهٔ فـضـل دَ مـولیٰ غـواړے

## ( 14 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

وایــه درود وایــه کــه رڼــا دَ هــر مــکــان غــواړے
ربَ نــه کــهٔ دیـدن تـهٔ دَنبی آخـرزمان ﷺ غـواړے
دغـــه وسیـــلـــه ده دَنبـــی ﷺ دَ قُــرب دَ پــاره تـل
دغـــه ذریـــعـــه ده دَنبـــی ﷺ دَ قُــرب دَ پــاره تـل
وایـه درود وایـه کـهٔ تـه نـور دَ خپـل جـانـان غواړے
وایــه درود وایــه کــه رڼــا دَ هــر مــکــان غــواړے
وائــی درود وائــی تــول نیــکــان اوصــالــحــان خلــق
وائــی درود وائــی دَ نبــی ﷺ تــول عــاشــقــان خلــق

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــهٔ دَ رحمتـونو كـهٔ پـه خپـل وجود باران غوارړے
وايــه درود وايــه كــه رڼـا دَ هـر مـكـان غـوارړے
دا ده طـريـقــه دَ امــامــانو پــه دُنيـا كښـي تـل
دا ده طـريـقــه دَ صــادقــانو پــه دنيـا كښـي تـل
راشــه كـهٔ تـهٔ فـضـل دَ مـولٰى غـنـي سبحان غوارړے
وايــه درود وايــه كــه رڼـا دَ هـر مـكـان غـوارړے
دا ده عــقـيــده دَ مـسـلـمــان پــه دے دُنيــا رڼـا
دا ده عــقـيــده دَ بنــهٔ انســان پــه دے دُنيــا رڼـا
اے احمده ! نور كهٔ په محشر كښي دَ ميدان غوارړے
وايــه درود وايــه كــه رڼـا دَ هـر مـكـان غـوارړے

## (15) نعتِ مصطفٰى ﷺ

پــه مـديـنــه كښــي هـاشـمـى جـانـان وسيــږى
ځـكـه دَ نـمـر پـه شان ځليږى ، دغه مسكن دَ نبى ﷺ
دا پــــه نسبـــــت دَ پـــــاك رســـول ﷺ
عـــــالــــى دا كـــور دے بنـــــهٔ مــقبـــول
دا رحـمـتــونــه پــه عــالـم كښـي تـري خـوريـږى
ځـكـه دَ نـمـر پـه شان ځليږى ، دغه مسكن دَ نبى ﷺ
دلتــــــه صـــديـــقؓ دے هـــم عـــمـــرؓ
دلتـــــه عثـــمـــانؓ شتــــــه دے حيــدرؓ
دلتــه كښــي آل دَ پــاك رسـول الـلّــه ﷺ وسيــږى

(c) ketabton.com: The Digital Library



څکه دَ نمر په شان ځلیږي ، دغه مسکن دَ نبی ﷺ
ده مدینه لکه جنت
دلته هر ځائے دے محبت
مینه د دلته نه دُنیا کښې تقسیږي
څکه دَ نمر په شان ځلیږي ، دغه مسکن دَ نبی ﷺ
دلته خوشبو شته دَ جهان
دلته نه شور دے حق بیان
وائی احمدعلی دا زړۀ تري نۀ صبریږي
څکه دَ نمر په شان ځلیږي ، دغه مسکن دَ نبی ﷺ

## ( 16 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلي مدینه ده دَ رسول اللّٰه ﷺ دا کور دے
نُور ترې په عالم کښې هر طرف ته څکه ښور دے
ښکلي هر منظر دَ مدینې منورې دے تل
ښکلي هر بشر دَ مدینې منورې دے تل
دلته دَ نیکانو خلقو راشه زور دے زور دے
نُور ترې په عالم کښې هر طرف ته څکه ښور دے
هر ځائې هر طرف ته هلته ښکلی چمنونه دی
هر ځائې هر طرف ته هلته ښکلی محفلونه دی
څوك هلته پیاده ګرځی او څوك په سورلې سور دے
نُور ترې په عالم کښې هر طرف ته څکه ښور دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ځائے هر طرف ته په حضور ﷺ وائی سلام خلق
هر ځائے هر طرف ته دا کلام وائی تمام خلق
هلته خوشبوداره هر محل او هر یو کور دے
نُور تري په عالم کښې هر طرف ته ځکه شور دے
هلته جمع شوی عاشقان دَ مصطفیٰ ﷺ دی ټول
هلته جمع شوی قدرمنده او اعلیٰ دی ټول
زړهٔ هلته سپین شوي دَ دُنیا دَ بشر تور دے
نُور تري په عالم کښې هر طرف ته ځکه شور دے
هرطرف ته هلته کښې ښکلا ده ټول عالم لره
ده ښکلا عرب لره او ده ښُکلا عجم لره
دا رنګ حفاظت احمده! تا لره دَاور دے
نُور تري په عالم کښې هر طرف ته ځکه شور دے

## (17) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ رحمت یوه چینه ده
مدینه ده مدینه ده
یو چمن د دي جهان
ګل دے ګل دے دَ ریحان
سکینه ده سکینه ده
مدینه ده مدینه ده
تاج دے حسن دَ جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــــدیــــنـــــه ده عـــــالیشـــــان
ښـــــهٔ ښـــائستــــه ده نــگیـــنــــه ده
مــــدیـــنـــــه ده مـــدیـــنـــــه ده

دا مســــکـــن دے دَ اصـــحـــابـــوؓ
دا مـــدفـــن دے دا صـــحـــابـــوؓ
نـــورانـــی ئــي هـــر حـــصــــه ده
مــــدیـــنـــــه ده مـــدیـــنـــــه ده

دا دے درد نـــــــــــورزنـــــــــا
دا احـــمـــد عـــلـــی ویــــنـــــا
دَ جــــنـــت یـــوه ټـــکـــړه ده
مــــدیـــنـــــه ده مـــدیـــنـــــه ده

## ( 18 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ نبـــی ﷺ دَ ښــار مــقـــام دے ډیـــر اوچـــت
لــکــه نـــور مـــاهِ تـمـــام دے ډیـــراوچـــت
دَ ګـــلـــونـــو یـــو چـــمــن د دي جهـــان دے
یـــو ســـحـــر دَ هـــر مـــاښـــام دے ډیـــر اوچـــت
مـــرتبـــه ئــي دَ هـــر ښـــار نـــه ده اوچتـــه
دغـــه قـــول دَ خـــاص وعـــام دے ډیـــر اوچـــت
هـــر حـــجـــر پــکښـــي دَ لـعـــلـــو بـــرابـــر دے
تــــل لائـــق دَ احتـــــرام دے ډیــــر اوچـــت

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــــر بشـــــر ئـــي مـــحتــــرم د دي جهـــــان دے
د دي در هـــــريـــــو امـــــام دے ډيـــــر اوچـــــت
رنـــــا ګـــــانـــي د ســـنـــت تـــريـــنـــه بـشــوري دي
د دي در مـــــذهـــــب اســـلام دے ډيـــــر اوچـــــت
زۀ احـــمـــد پـــه دي ويـــنـــا کـبـنـي يـم صـــادقـــه
دَ رســـول الـــلّـــه ﷺ پيـــغـــام دے ډيـــر اوچـــت

## ( 19 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کار دَ سنت پـه کائنات کبنـي هر ساعت غوره دے
د هسـي نـاسـتـي نـه دُنيا کبنـي عبادت غـوره دے
دَ نـفـرتـونـو نـه دُنيا کبنـي څـه جوړيږي نـه نـن
کـــار هـمیشـــه ددي جهـــان دَ مـحبـت غـوره دے
چـــي پـــــه کـــــږه لاره روان دے دَ دُنيـــــا دَ در
داســـي انســـان دَ پـــاره دلتـــه نـصيـحـت غـوره دے
بـي لـه حـکـمـتـه پـه دُنيـا کـارونـه خـوند نـۀ کوي
کـار همیشـه دلتـه دَ دين بـه پـه حکمت غوره دے
احـمـده ! کـلـه چـي دَ خـلـقـو سره شر فسـاد وي
پـه دغـه وخـت کبنـي بيا دَ پاره تل خلوت غوره دے

## ( 20 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څـوك چي اوچت مقـام دَ ربّ نـه دلتـه خپل غواړي
دۀ لـــه پـکـــار دي چـي دے خيـر دلتـه دَ بـل غـواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


په هر سنت کښې هر بشر دَ پاره خير پروت دے
سنت هغوی له دی چې دلته کښې څوك ګل غواړی
ورلـــه هـــر کـــار پـــه کائنات کښې دَ سنت کوُل دی
ناسته محشر کښې دَ رسول ﷺ چې په محفل غواړی
ورلـه کـارونـه پـه هـر ځـائے کښې دی دَ خير پکار
بدلـه محشر کښې چې جنت دَ خپل عمل غواړی
ورلـــه احمده ! پـه قـراٰن سنت عـمـل پـکـار دے
مقام چې غوره دَ مولٰی نه څوك افضل غواړی

## ( 21 ) نعتِ مصطفٰی ﷺ

دَ مدينې خلقو وئيل چې مصطفٰی ﷺ راځی
لار تـــه راووځـے مـحـمـد رسول اللّٰـه ﷺ راځـی
راووځـے ټـول پـه جـمـع راشـے استقبال دَ پاره
راووځـے ټـول ديـدن لـره دَ نـور جـمـال دَ پـاره
مـونـږ لـه مـکـې نـه دُنيا خير الورٰی ﷺ راځی
لار تـــه راووځـے مـحـمـد رسول اللّٰـه ﷺ راځـی
ورتـــه صـادقـه او امـين پـه ټول جهان کښې وائی
ورتـــه طٰـه سـره يٰسين دغـه قـراٰن کښې وائـی
مـحـبـوب مـکـې نـه مدينې تـه دَ مولٰی راځی
لار تـــه راووځـے مـحـمـد رسول اللّٰـه ﷺ راځـی
ځکـه احمد وائـی خوشـحـالـه هـر بشر وو هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه هر ځائے په مدینه کښې جوړ اختروو هلته
دَ زړهٔ علاج ، دَ زړهٔ سکون زما او ستا راځي
لار ته راووځے محمد رسول اللّٰه ﷺ راځي

## ( 22 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

شپه د معراج وه اسمانونو ته طٰهٰ ﷺ راځي
میلمه اسمان ته له دُنیا نه دَ اللّٰه راځي
بره په تلو دَ مصطفیٰ ﷺ وو هر اسمان خوشحاله
بره په تلو وو دَ نبي ﷺ هر يو مكان خوشحاله
اسمان ته بره یو میلمه د دي دُنیا راځي
میلمه اسمان ته له دُنیا نه دَ اللّٰه راځي
بیا انبیاء ئې استقبال په هر اسمان کښې کوي
ربّ استقبال ته ورته بره فرښتے ودروي
ځکه دُنیا نه دَ دُنیا خیر الوریٰ ﷺ راځي
میلمه اسمان ته له دُنیا نه دَ اللّٰه راځي
لوح او قلم ئې تماشه هلته دَ حُسن کوي
بره عالم ئې تماشه هلته دَ حُسن کوي
د دُنیا دارو پاس اسمان ته رهنما راځي
میلمه اسمان ته له دُنیا نه دَ اللّٰه راځي
ډیر مبارك دغه سفر دے اے احمده بره
جوړ شوے هلته کښې اختر دے اے احمده بره

(c) ketabton.com: The Digital Library



بره أسمان ته له دُنیا نه نور رڼا راځي

میلمه اسمان ته له دُنیا نه دَ اللّٰه راځي

## (23) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عالیشان دے تـول سیرت دَ نبي پاك ﷺ

حق بیان دے تـول سیرت دَ نبي پاك ﷺ

هر قدم ئـي دَ رحمت او برکت دے

دا قرأن دے تـول سیرت دَ نبي پاك ﷺ

هر نظر ئي نمر سحر دے دَ جهان

نور ایمان دے تـول سیرت دَ نبي پاك ﷺ

هر یو قول ئي ملغره دَ جهان ده

گل ریحان دے تـول سیرت دَ نبي پاك ﷺ

هر یو خیال ئي دَ جهان دے ډیر اوچت

حق اعلان دے تـول سیرت دَ نبي پاك ﷺ

حق باطل نه هم په دغي جُدا کیږي

یاد فرقان دے تـول سیرت دَ نبي پاك ﷺ

خوشبو داره معطره دے احمده!

گلستان دے تـول سیرت دَ نبي پاك ﷺ

## (24) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ هر بدعت نه هر بشر له نفرت پکار دے

دَ هر سنت سره دُنیا کښي محبت پکار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر دے نادانه په دُنیا کښې چې خویونه کوي
دَ نادانانو په دُنیا چې څوك خویونه کوي
تیارے دلته په دُنیا دَ آخرت پکار دے
دَ هر سنت سره دُنیا کښې محبت پکار دے
ښۀ نه ده ښۀ نه ده هیڅ کله دَ ابلیس ملګرتیا
ښۀ نه ده ښۀ نه ده هیڅ کله دَ خسیس ملګرتیا
کار همیشه په هر مقام تل دَ عزت پکار دے
دَ هر سنت سره دُنیا کښې محبت پکار دے
دَ بدعتي سره دوستي په یو مقام ښۀ نه ده
دَ لعنتي سره دوستي په یو مقام ښۀ نه ده
طلب هر خواته په هر ځائے کښې دَ رحمت پکار دے
دَ هر سنت سره دُنیا کښې محبت پکار دے
ګند دَ جهان دے هر بدعت کۀ څوك پو هیږي په دي
نقصان تاوان دے هر بدعت کۀ څوك پو هیږي په دي
نفرت دُنیا کښې له دي کار نه هر ساعت پکار دے
دَ هر سنت سره دُنیا کښې محبت پکار دے
بدعت ذلت دے دَ محشر په لوئي میدان پو هه شۀ
ذلت ذلت دے دَ بشر په لوئي میدان پو هه شۀ
قدر احمد وائي دُنیا کښې د سنت پکار دے
دَ هر سنت سره دُنیا کښې محبت پکار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (25) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عـــالیشـــان دے هـــر فـــرمـــان دَ پـــاك نبـــی ﷺ
قـــدرمـــنـــد دے قـــدردان دَ پـــاك نبـــی ﷺ
لـــکـــه ستـــوری د جهـــان ئـــي تـــول یـــاران دی
هـــر یـــو یـــار دے عـــالیشـــان دَ پـــاك نبـــی ﷺ
دَ ګبیـــن پـــه شـــان ډیـــر خـــوږ دے پـــه جهـــان
ډیـــر شیـــریـــن دے هـــر بیـــان دَ پـــاك نبـــی ﷺ
هـــر یـــو قـــول دَ مـــصـــطـــفـــیٰ ﷺ د در دے وحـــی
هـــر بیـــان دے دَ رحـــمٰـــن دَ پـــاك نبـــی ﷺ
اُمَتـــونـــو کښـــي اوچـــت لـــه هـــر اُمَـــت نـــه
اُمَتیـــان دی د جهـــان دَ پـــاك نبـــی ﷺ
کـــلامـــونـــو کښـــي اوچـــت ئـــي هـــر کـــلام دے
اے احـــمـــده! هـــر اعـــلان دَ پـــاك نبـــی ﷺ

## (26) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه هر مقام بانـدي نبی ﷺ دے پـوخ بنیاد زمونږه
خـوږ دے حسیـن دے قدردانـه دے اُستـاد زمـونـږه
هریـو فـرمان ئي حق بیان دَ خپـل رحمان منو مونږ
پـه دوی بـانـدي دے پـه دُنیـا کښـي اعتمـاد زمونـږه
بـي لـه درود نـه یـو دعـا قبـولیـت نـه مومـی
ربَ قبـلـوی د دوی لـه مـخـه هر فـریـاد زمـونـږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ هر نعمت په کائنات کښې محمد ﷺ سبب دے
تل پوره کیږي دوی سره هریو مراد زمونږه
احمده ! کله چې محشر کښې وی حساب دَ خلقو
دغه وخت هلته به رسول اللّٰه ﷺ وی یاد زمونږه

## (27) د بدعت مذمت

څوك دَ بدعت سره دُنیا کښې چې په لار ګرځی
همیشه دلته په دُنیا کښې به دې خوار ګرځی
اشنائی ښهٔ نهٔ ده دُنیا کښې دَ بدعت سره تل
بدعتیان هرځائے هر طرف ته ګناه ګار ګرځی
دا بیماری د هلاکت ده هر وجود د پاره
بې له توبے نه لاعلاجه دا بیمار ګرځی
رسوائی شته دے په محشر کښې دې بشر دَ پاره
هم په دُنیا کښې به تل دلته شرمسار ګرځی
دَ خیر به طمع په دُنیا کښې دَ هغهٔ ونکړے
چې په دُنیا کښې دَ ابلیس سره بار بار ګرځی
دَ بدعتی مثال دُنیا کښې هر بشر له دا دے
لکه په کور کښې د دُنیا چې یو ښامار ګرځی
تول نړولے عمارت ئې دَ مولٰی د دین
راشه ظاهر باندې کهٔ هر څو مره دیندار ګرځی
احمده ! ستا ورسره ښهٔ نهٔ دے قُربت په جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـــرلتـــوی پـــه شـــر پســي دلتـــه تيـــار گـــرځـــي

## ( 28 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ مــولــیٰ نـــه ښــکــلي ښـارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ

دغـــه درتـــريـنـــه بـــاربـــارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ

لـــکـــه گـــل د گـــلستـــان گـــنـــه دُنيـــا کښـــي

لـــکـــه نـــمـــر دغـــه جهـــان گـــنـــه دُنيـــا کښـــي

دغـــه نـــورد َ دغـــي دار د مـــحبـــوب ﷺ غـــوارۀ

دَ مــولــیٰ نـــه ښــکــلي ښـارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ

دغـــــه حســـــن او ښــــکـــــلا دَ بـــحـــــر ويـــــر ده

دغـــــه حســـــن او ښــــکـــــلا دَ پيــــغــمبـــر ﷺ ده

ښــکــلي گــل دغــه گــلزار د محبوب ﷺ غـوارۀ

دَ مــولــیٰ نـــه ښــکــلي ښـارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ

هـــــر بشـــــرئـــي د ديـــدن دلتـــــه طـــالـــب دے

دغـــه نـــورپـــه هـــريـــو نـــوربـــانـدي غـــالـــب دے

دا عـــالـــی صـــفـــت دريـــار د محبوب ﷺ غـوارۀ

دَ مــولــیٰ نـــه ښــکــلي ښـارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ

عـــاشـــقـــان ورتـــه دَ پـــاك نبـــی ﷺ ســـفـــر کـــړي

امتيـــان ورتـــه دَ پـــاك نبـــی ﷺ ســـفـــر کـــړي

دا ښـــائستـــه ښــکــلي بهـارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ

دَ مــولــیٰ نـــه ښــکــلي ښـارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قـــــافـــلـــــې ورتـــــــه روانـــــې دَ عـــجـــم دي
قـــــافـــلـــــې ورتـــــــه روانـــــې د عـــــالـــــم دي
د الــــلّـــــه نــــــه دا ديــدارد َ مــحبــوب ﷺ غــوارۀ
دَ مــولــىٰ نـــه ښـکـلي ښـارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ
نـــن احـــمـــد ورتـــــــه پـــــه دي وجـــــه کـــرېـــږي
نيك او بـــد ورتـــــــه پـــــه دي وجـــــه کـــرېـــږي
تــل پـــه پتـهـــه هــم پــه جـار دَ مـحبوب ﷺ غـوارۀ
دَ مــولــىٰ نـــه ښـکـلي ښـارد َ محبوب ﷺ غـوارۀ

## (29) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

قيـــمتـــي دي هــــر خبـــر د پـــاك نبـــي ﷺ
هـــر خبـــر دي لـعــل گـوهــر دَ پـــاك نبـــي ﷺ
هـــر کـــلام گــنـهـــه يـــاقـــوت ئـــي دَ جـهـــان
لاثــــانـــــي دي پــــه هــــر در دَ پـــاك نبــي ﷺ
هـــر خبـــر ئـــي دي مـــرجـــان د دي دُنيــــا
قيـــمتــــي دَ بـــحــــرو بـــر د پـــاك نبــي ﷺ
تـــول وجـــود لـــــري رنــــــا د هــــريـــو در
هـــر خبـــر دي بـــره نـــمـــر دَ پـــاك نبـــي ﷺ
هـــريـــو حســــن د جـهـــان پـــکـښـي ښـکـاريـــږي
هـــر خبـــر دي پـــاس قـــمـــر دَ پـــاك نبـــي ﷺ
پـــکـښـــي هـــريـوه خـوشبـو دَ جـهـــان شتـــه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــر خبـــر کښــي د ے اثـــر دَ پـــاك نبــي ﷺ

زۀ احـــمــــد ئــــي اقتــدا کـــوُمـــــه دلتـــــه

عـــالـــي هـــريــو دے نـظـــر دَ پـــاك نبـــي ﷺ

## ( 30 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

شـکـلـي حسيـن د مـصـطـفـیٰ ﷺ کـلـے دے

د هـــر يـــو کـــلـــي نـــه اعـلـــیٰ کـلـــے دے

دلتـــــه کښـــي نـــور دَ هـدايـــت پـــروت دے

دلتـــــه رحـــمــــــت او بـــركـــت پـــروت دے

د هـــر يـــو ګــنـــد نـــه ښـــۀ صـفـــا کـلـے دے

د هـــر يـــو کـــلـــي نـــه اعـلـــیٰ کـلـــے دے

ورتـــــه عـــــزت زمـــونـــــړه رَبّ ورکـــړے

اعـــلـــیٰ نسبـــت زمـــونـــړه رَبّ ورکـــړے

پـــــه هـــرصـــفــــت ســـره جـــدا کـلـــے دے

د هـــريـــو کـــلـــي نـــه اعـلـــیٰ کـلـــے دے

پـکښـــي صـديـقؓ عـمـــرؓ عثـمـــانؓ وسيـــږي

دلتـــــه دَ پـــــاك نبـــي ﷺ يـــاران وسيـــږي

دا د نيــــکــــانـــــو اوليـــــاء کـــلـــے دے

د هـــريـــو کـــلـــي نـــه اعـلـــیٰ کـلـــے دے

ورســـــره ميـــنــــــه مـــحبـــت کـــوه تـــل

ذکـــر ئـــي دلتـــــه د نسبـــت کـــوه تـــل

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا دَ امام الانبیاء ﷺ کلي دے
د هریو کلي نه اعلیٰ کلي دے
دا په مدفن دَ محمد ﷺ یادیږي
تل په چمن دَ محمد ﷺ یادیږي
لکه دَ نمر پشان رڼا کلي دے
د هریو کلي نه اعلیٰ کلي دے
ځکه احمد ئي نن صفت کړے دے
ذکر ئي نن دَ فضیلت کړے دے
دا د حضرت رسول الله ﷺ کلي دے
د هریو کلي نه اعلیٰ کلي دے

## (31) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په نور دَ پاك نبي ﷺ جهان ښکلے دے
لکه یو ګل دَ ګلستان ښکلے دے
ښکلا هر څهٔ کښي ددې نور پرته ده
ښُکلا هر څهٔ کښي دَ حضور ﷺ پرته ده
په دغه نور هر مسلمان ښکلے دے
لکه یو ګل دَ ګلستان ښکلے دے
دغه رڼا ده په تورتم کښي دلته
دغه رڼا ده تول عالم کښي دلته
په نور هریو مکان ښکلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



لــکـــــه يــو ګــل دَګــلستـــان ښــکــلــے دے

رڼــــا دغــــــه زمـــــا او ستـــــا پــــکــــــاره

تــل پـــه دنيـــا کښـــي د هـــر چـــا پـــکــــاره

بـــره پـــه دغـــي نــور اسـمــــان ښکــلے دے

لــکـــــه يــو ګــل دَګــلستـــان ښــکــلــے دے

رڼــــا مــــحشــــر کښـــي هـــر بشـــر دَ پــــاره

احـــمــــده ! تــــالـــــه دغــــه در دَ پــــاره

پـــه دغــــه نــور زمـــا ايـمـــان ښـکـلـے دے

لــکـــــه يــو ګــل دَګــلستـــان ښــکــلــے دے

## ( 32 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

عــمــل پـــه ســنـــت کــوه ده ستـــا ګـټـــه

نشتـــــه پـــــه دُنيـــا داســـي اعــلـــىٰ ګټـــه

څــوك چـــي ورتـــه سپك ګـوري نــادانــه دے

دلتـــه کښـــي کــوي هـــريـــو دانـــا ګټـــه

دغــــه طــريــقــــه دَ مــحـمــد ﷺ ښـکــلـے

دغـــه ده هـــرچـــا لـــه پـــه هـــرخـــوا ګټـــه

شتـــه دے صـــالـــحـــان چـي خـوښـوي دغـــه

دلتــــه کښـــي ده کــــړے اوليــــاء ګټـــه

دغـــي نـــه خبــــر دي عـــالـــمـــان خـلـق

څــکـــه نــــه پــريـدي دا عــلــمـــاء ګټــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ احـــمـــد پـــه دغـــه طـــريـــقـــه يـــمـــه
مـــــالـــــه دآخــــرده داويـــنـــاكـتـــه

## ( 33 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څــوك چــې مــولـىٰ نــه نـور رحــمــت غــواړي
مـــديــنـــه تـــل دے هـــر ســـاعـــت غـــواړي
دلتـــــه رحـــمـــت دلتـــه بـــركـــت پـــروت دے
دلتـــــه عـــالـــى هـــريـــو نـــعـــمـــت پـــروت دے
څــوك چــې دُنيــا كښــې نــن جـنـت غــواړي
مـــديــنـــه تـــل دے هـــر ســـاعـــت غـــواړي
دلتــــــه هـــــر لار بـــــانـــدې انـــوار وريــــږي
دغــــه انـــوار پـــــه هــــر دريــــار وريــــږي
څــوك چــې مــولــىٰ نــه خپـل قُـربـت غــواړي
مـــديــنـــه تـــل دے هـــر ســـاعـــت غـــواړي
دلتـــــه كښـــې ميـــنـــه مـــحـبـــت پـــروت دے
دلتـــــه دَ دوجهـــــان عــــزت پـــــروت دے
څــوك پــــه دنيـــا كښــې چـــې عـــزت غـــواړي
مـــديــنـــه تـــل دے هـــر ســـاعـــت غـــواړي
دلتـــــه ســـكـــون دَ تـــول جهـــان پـــروت دے
دلتـــــه ســـكـــون د هـــرانســـان پـــروت دے
څـــوك چـــې ســـكـــون دَ آخـــرت غـــواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مــــديــنـــــه تـــل دے هـــر ســـاعـــت غـــواړي
احـــمـــده ! څـــكـــه پـــه دي‌ در مـــئـيـــن ئـــي
تـــــهٔ دَ نبيــــانـــو پـــــه افـســـر مـــئـيــن ئـــي
ښـــهٔ خـــلـــق دلتـــــه ســـكـــونـــت غـــواړي
مــــديــنـــــه تـــل دے هـــر ســـاعـــت غـــواړي

## ( 34 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

څـــوك ئـــي آفتـــاب څـــوك ئـــي مهتـــاب يـــادوي
څـــوك ئـــي ښـــائسته ښـــكـــلـي ګـــلاب يـــادوي
ورتــــــه اميــــن ورتــــــه يٰسيـــــن وائــــــى
ورتـــــه حسيـــــن هـــــم بهتـــريـــن وائـــــى
مـــخـــلـــوق ئـــي دلتـــــه لاجـــواب يـــــادوي
څـــوك ئـــي آفتـــاب څـــوك ئـــي مهتـــاب يـــادوي
ورتـــــه صـــــادق هـــم دَ جهـــــان وائـــــى
ورتـــــه عـــــالـــــى صـــفـــت انســـان وائـــــى
نُـــور دَ جهـــان ئـــي دَ هـــر بـــاب يـــــادوي
څـــوك ئـــي آفتـــاب څـــوك ئـــي مهتـــاب يـــادوي
ورتـــــه امـــــام دَ انبيــــــاء وائــــــى
ورتـــــه امـــــام دَ اوليــــــاء وائــــــى
د رحـــم خـــلـــق ئـــي ســـحـــاب يـــــادوي
څـــوك ئـــي آفتـــاب څـــوك ئـــي مهتـــاب يـــادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتـــــــه خـــــــاتــــم دَ انبيـــــــاء وائـــــــى
داســـــي دُنيـــــا كښــــي عـــلــمــــاء وائــــى
احـــمــــدئــــي حُســــن دَ كتــــاب يــــادوی
څــوك ئــي اَفتــاب څــوك ئــي مهتــاب يــادوی

## ( 35 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عمل دے ښهٔ عمل ، صلوة و سلام تل
لــری نعم البدل ، صلوة و سلام تل
عــــــمـــــــل دے دَ جــــــنــــــت
عــــــمـــــــل دے دَ راحــــــت
ښُکلا دَ هر محل ، صلوة و سلام تل
لــری نعم البدل ، صلوة و سلام تل
عــــــمـــــــل دے تــــول دَ خيــــــر
داستـــــانــــه نــــهٔ شـــــی هيــــر
اصل دے ښهٔ اصل ، صلوة و سلام تل
لــری نعم البدل ، صلوة و سلام تل
تــــــوښــــــه دَ اَخـــــــرت
تــــوښـــــه دَ هــــر ســــاعــــت
تل خوند کوی وئيل ، صلوة وسلام تل
لــری نعم البدل ، صلوة و سلام تل
د هــــــرچـــــادے پـــــکـــــار

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــــــر ځــــــــائـــــے کنبـــــــي پـــــــه هـــــر لار
ښُکلا دَ هر محفل ، صلوة و سلام تل
لـرى نعم البدل ، صلوة و سلام تل
دا تـــــــــل وائـــــــــــى احـــــــــمـــــــد
يـــــــــو نـــــــــــور دے دَ لـــــــــــحـــــــد
تـل وُرد کـړه هـرځـائـے خپـل ، صلوة وسلام تل
لـرى نعم البدل ، صلوة و سلام تل

## ( 36 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عمل دے بهترين ، صلوة و سلام تل
رښا ده د دي دين ، صلوة و سلام تل
رښـــــــا ده هــــــــر ســــــــاعـــــــت
ښــــــائستـــــــــــه دے عبــــــــــادت
ايمان دے نور يقين ، صلوة و سلام تل
عمل دے بهترين ، صلوة و سلام تل
رښـــــــا د هــــــــر مـــــــکـــــــــان
رښـــــــا دَ ټـــــــول جهـــــــــــان
حُسن دے دَ حسين ، صلوة و سلام تل
عمل دے بهترين ، صلوة و سلام تل
رښـــــــا د هـــــــر تـــــــورتـــــــم
عـــــــرب لـــــــــه دعـــــــجـــــــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر زړۀ لره تسکين ، صلوة و سلام تل
عمل دے بهترين ، صلوة و سلام تل
هـــــــــرزړۀ پـــــــــــه دي رڼـــــــــا
احـــــــمـــــــدکــــــوی ويـــــــنـــــــا
عمل دَ مؤمنين ، صلوة و سلام تل
عمل دے بهترين ، صلوة و سلام تل

## (37) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

داستا په پاك صورت، صلوة و سلام تل
هرځائے کښي هر ساعت، صلوة و سلام تل
غـــــذادَ هـــــربشـــــر ، دوادَ هـــــربشـــــر
توښه دَ اخرت ، صلوة و سلام تل
ثـــواب پــــه دغـــي ډيـــر ، داستــــانــــه نشـــی هيـــر
سبب دے دَ جنت ، صلوة و سلام تل
انـــوار پــــه کښـــي دی پـــټ ، اســـرار پــــه کښـــي دی پـــټ
بدله لری رحمت ، صلوة و سلام تل
ســـکـــون دے اطـــمـــيـــنـــان ، دُنيـــا کښـــي دَ انســـان
باعث دَ برکت ، صلوة و سلام تل
نيـــکـــان دی پـــري مـــئـــين ، هرځائے کښي د دي دين
راحـــت دے تـــول راحـــت ، صلوة و سلام تل
يـــخ والـــے دَ نـــظـــر ، هـــر ځـــائـــے کښـــي د بشـــر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیغام دَ محبت ، صلوة و سلام تل
باعث دے دَ کوثر ، توښه ده دَ محشر
سبب د شفاعت ، صلوة و سلام تل
احمد وائی په جار ، هرځائے کښې په هر لار
هر له چاله دے عزت صلوة و سلام تل

## (38) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې رښا په دې جهان غواړی
هغه نبی اخر زمان ﷺ غواړی
رښا ښُکلا سره یادیږی هغه
سیرت صفا سره یادیږی هغه
څوك چې ښائسته ګل دَ ریحان غواړی
هغه نبی اخر زمان ﷺ غواړی
ورته وفا ورته حیا وائی
ورته امام الانبیاء ﷺ وائی
څوك چې اخلاق ښهٔ عالیشان غواړی
هغه نبی اخر زمان ﷺ غواړی
هغه دلبر دَ دلبرانو تولو
هغه افسر د افسرانو تولو
څوك چې عالی صفت انسان غواړی
هغه نبی اخر زمان ﷺ غواړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمد ئي ذكر بار يار كړے دے
احمد ئي ذكر دَ انوار كړے دے
څوك چي كامله خپل ايمان غواړي
هغه نبي آخر زمان ﷺ غواړي

## ( 39 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

زۀ محمدی ﷺ يمه، زۀ محمدی ﷺ يمه
زۀ دَ محمد رسول الله ﷺ يو امتی يمه
زۀ دَ محمد ﷺ په اقتدا باندې خوشحاله يم
زۀ دَ محمد ﷺ په نور رنا باندې خوشحاله يم
زۀ روان په لاره دَ مكی ﷺ او مدنی ﷺ يمه
زۀ دَ محمد رسول الله ﷺ يو امتی يمه
خوش راته دے هر خبر دَ سيدالوریٰ ﷺ نبی ﷺ
خوش راته دے هر يو در دَ احسن الوریٰ ﷺ نبی ﷺ
زۀ د عربی ﷺ عاشق دنيا كښې عجمی يمه
زۀ دَ محمد رسول الله ﷺ يو امتی يمه
خوش راته ياران دَ محمد رسول الله ﷺ دی تول
هر ځائے هر صفت سره قسم دے بنۀ اعلیٰ دی تول
هر ځائے قدردان زۀ د عثمان ؓ او دَ علیؓ يمه
زۀ دَ محمد رسول الله ﷺ يو امتی يمه
خوش زما مكان دَ مصطفیٰ ﷺ خيرالوریٰ ﷺ دے ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه خورم قسم په ټول جهان کښې ښۀ اعلیٰ دے ډیر
زۀ احمد غلام یمه عاشق دَ پاك نبی ﷺ یمه
زۀ دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ یو امتی یمه

## (40) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رێـه! مـا بـوځـے دَ طـهٰ ﷺ کـلـی تـه
دَ مـحـمـد رسـول الـلّٰـه ﷺ کـلـی تـه
درنـه دادر د مـصـطـفـیٰ ﷺ غـواړمـه
درنـه دا درزۀ د رێـا غـواړمـه
بـوځـے مـا بـوځـے دَ حیـا کـلـی تـه
دَ مـحـمـد رسـول الـلّٰـه ﷺ کـلـی تـه
چـې پـکښـې وُسـی هـر یـو یـار دَ نبـی ﷺ
خـونـد کـوی خـونـد هـغـه دربـار د نبـی ﷺ
بـوځـے مـا بـوځـے د دانـا کـلـی تـه
دَ مـحـمـد رسـول الـلّٰـه ﷺ کـلـی تـه
هـر یـو قـدم پـکښـې ښـائستـۀ ښـکـلـے دے
ځـکـه چـې دغـه دَ نبـی ﷺ کـلـے دے
بـوځـے مـا دغـه شـان اعـلـیٰ کـلـی تـه
دَ مـحـمـد رسـول الـلّٰـه ﷺ کـلـی تـه
ډیـر صـفـتـونـه پـه دُنیـا کښـې لـری
ځـۀ د احـمـد پـه دې ویـنـا کښـې لـری

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدايه! ما بوځې د پېشوا کلی ته

دَ محمد رسول الله ﷺ کلی ته

## (41) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خدايه! ما بوځې دَ تاجدار ﷺ کلی ته

دَ محمد خير الابرار ﷺ کلی ته

هغه منظر راته يادېږي ډېر ډېر

نوراني در راته يادېږي ډېر ډېر

مولیٰ! ما بوځې دَ غمخوار ﷺ کلی ته

دَ محمد خير الابرار ﷺ کلی ته

راته يادېږي چمنونه هغه

راته يادېږي محفلونه هغه

ربّه! ما بوځې دَ سردار ﷺ کلی ته

دَ محمد خير الابرار ﷺ کلی ته

راته يادېږي هغه لارې کوڅې

تړلې ځليږي هغه لارې کوڅې

بوځې ما دغه ښکلی ښار کلی ته

دَ محمد خير الابرار ﷺ کلی ته

دا د احمد يو تمنا ده دلته

ستانه مولیٰ دغه دعا ده دلته

بوځې نبي ﷺ له مې بار بار کلی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ محمد خیر الابرار ﷺ کلی ته

## ( 42 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ربَه ! ما بوځې دَ جانان ﷺ کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

ربَه ! دا سوال او التجا ده زما
تا نه مولیٰ دغه دعا ده زما
بوځې ما دغه عالیشان کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

تا نه مولیٰ دا هر ساعت غوارمه
تا نه دا نور رڼا عزت غوارمه
بوځې مولیٰ ما دَ سلطان ﷺ کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

دغه دعا سحر ماښام کوومه
دغه دُعا په هر مقام کوومه
ربَه ما بوځې ښځۀ روښان کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

دُعا په زړه دَا احمد علی ده
داسې دُعا دلته دَ هر ولی ده
نبی ﷺ له زۀ شمه روان کلی ته
دَ پاك نبی اخرزمان ﷺ کلی ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 43 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راځــــے چــي لاړ شــو دَ جــانــان ﷺ کــلــی تــه
مــونــږ دَ نبــی اخــرزمــان ﷺ کــلــی تــه
هــغــه مــحبــوب ، هــغــه مــطــلــوب دَ ربَ
هــغــه قســم دے بنــۂ عــالــی نســب
لاړ شــو راځــے چــي مــونــږ روښــان کــلــی تــه
راځــــے چــي لاړ شــو دَ جــانــان ﷺ کــلــی تــه
پــکښــي صــديــق ؓ عــمــر ؓ عثــمــان ؓ وسيــږی
تــول دَ نبــی ﷺ دلتــه يــاران وسيــږی
دَ حيــدر ؓ کــلــی ، دَ ســلــمــان ؓ کــلــی تــه
راځــــے چــي لاړ شــو دَ جــانــان ﷺ کــلــی تــه
پــه نــور رنــا ســره يــاديــږی هــغــه
حســن ښــکــلا ســره يــاديــږی هــغــه
داســي دُنيــا کښــي عــاليشــان کــلــی تــه
راځــــے چــي لاړ شــو دَ جــانــان ﷺ کــلــی تــه
احــمــد مــئيــن پــه دغــه در ځــکــه دے
ښــکــلــے دے ، خــوش دَ هــر بشــر ځــکــه دے
داســي حسيــن د دي جهــان کــلــی تــه
راځــــے چــي لاړ شــو دَ جــانــان ﷺ کــلــی تــه

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (44) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دیـدن لـه ځـو بـه د جـانـان ﷺ د کـلـی
چـمـن لـه ځـو بـه دَ جـانـان ﷺ د کـلـی

داسـي دا نیـت او اراده لـرو مـونـږ
زړونـو کښـي هـر وخـت مـدینـه لـرو مـونـږ
وطـن لـه ځـو بـه دَ جـانـان ﷺ د کـلـی
دیـدن لـه ځـو بـه د جـانـان ﷺ د کـلـی

دا اراده لـرو او وخـت تیـریـږی
وخـت دغـه دلتـه پـه مـونـږ سخـت تیـریـږی
لـمـن لـه ځـو بـه دَ جـانـان ﷺ د کـلـی
دیـدن لـه ځـو بـه د جـانـان ﷺ د کـلـی

دغـه پـه زړه یـو تـمـنـا لـرو مـونـږ
داسـي پـه زړونـو کښـي دُعـا لـرو مـونـږ
مـدفـن لـه ځـو بـه دَ جـانـان ﷺ د کـلـی
دیـدن لـه ځـو بـه د جـانـان ﷺ د کـلـی

پـه دي طـلـب کښـي تـل احـمـد وسیـږی
زړهٔ کښـي قسـم دے ورپسـے کـریـږی
مسـکـن لـه ځـو بـه دَ جـانـان ﷺ د کـلـی
دیـدن لـه ځـو بـه د جـانـان ﷺ د کـلـی

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## (45) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تـــول قـــدردان دي دَ جـــانـــان ﷺ د کـــلـــي
ستـــوري روښـــان دي د جـــانـــان ﷺ دکـــلـــي

حسيـــنؓ حســـنؓ ســـره دے آل دَ نبـــي ﷺ
تـــول مـــعـــززه دے عيـــال د نبـــي ﷺ
تـــول عـــاليشـــان دي د جـــانـــان ﷺ دَ کـــلـــي
ستـــوري روښـــان دي د جـــانـــان ﷺ دکـــلـــي

پـــکښـــې اصـــحـــابؓ پـــکښـــې بـــلالؓ وسيـــږي
هـــلتـــه کښـــې خـــلـــق دَ کـــمـــال وسيـــږي
ښـــهٔ مـــؤمـــنـــان دي د جـــانـــان ﷺ دکـــلـــي
ستـــوري روښـــان دي د جـــانـــان ﷺ دکـــلـــي

هـــلتـــه عثـــمـــانؓ ســـحـــرمـــاښـــام ليـــدلـــے
هـــلتـــه عـــلـــيؓ اوچـــت مـــقـــام ليـــدلـــے
داســـي ځـــوانـــان دي دَ جـــانـــان ﷺ د کـــلـــي
ستـــوري روښـــان دي د جـــانـــان ﷺ دکـــلـــي

احـــمـــد تـــه دغـــه د روطـــن يـــاديـــږي
ورتـــه دَ پـــاك نبـــي ﷺ چـــمـــن يـــاديـــږي
ښـــهٔ مهـــربـــان دي دَ جـــانـــان ﷺ د کـــلـــي
ستـــوري روښـــان دي د جـــانـــان ﷺ دکـــلـــي

★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ( 46 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدینه ښار عالی مقام کلے دے
دا دَ نبی خیر الانام ﷺ کلے دے
صدیق ؓ عمر ؓ دلته آرام کړے دے
هر یو ولی ئې احترام کړے دے
ښکلے ښائسته ماهِ تمام کلے دے
دا دَ نبی خیر الانام ﷺ کلے دے
دلته عثمان ؓ دلته سلمان ؓ پاتے دے
دلته علی ؓ عالی انسان پاتے دے
دا د حسن ؓ حسین ؓ امام کلے دے
دا دَ نبی خیر الانام ﷺ کلے دے
دلته زینب ؓ او رُقَیه پاتے ده
کلثوم ؓ سره هم فاطمه ؓ پاتے ده
دَ پاك الله د نُور کلام کلے دے
دا دَ نبی خیر الانام ﷺ کلے دے
وائی احمد ډیر احترام لری دا
ښکلے سحر ښکلے ماښام لری دا
دنُور د حُسن دَ اسلام کلے دے
دا دَ نبی خیر الانام ﷺ کلے دے

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (47) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے ښۀ ښائستۀ د مدينې لارې کوڅې دی
دَ نـــــور پـــــکښـــــې چيـــــنـــــې دی
نصيب خوش نصيب خلقو تـه د دغې در مزې دی
دَ نـــــور پـــــکښـــــې چيـــــنـــــې دی
دا ځـــائـــے دے د رحـــمـــت، د نـــور او بـــرکـــت
مسکن پـه دې جهـان دے، دَ پـاك نبی حضرت ﷺ
هر ځائے کښې د دې دردلته کښې ځکه تذکرې دی
دَ نـــــور پـــــکښـــــې چيـــــنـــــې دی
نصيب خوش نصيب خلقو تـه د دغې در مزې دی
دَ نـــــور پـــــکښـــــې چيـــــنـــــې دی
دا در دے عـــاليشـــانـــه، دَ نمـر پشـان روښـانـه
قسم دے تپوس وکړۀ، تـۀ دلتـه کښې دَ چـانـه
پراتـۀ پـه ټول جهان کښې برکات د مدينې دی
دَ نـــــور پـــــکښـــــې چيـــــنـــــې دی
نصيب خوش نصيب خلقو تـه د دغې در مزې دی
دَ نـــــور پـــــکښـــــې چيـــــنـــــې دی
عـــالـــی لـــری گـفـتـــار، عـــالـــی لـــری دربـــار
قسم دے داسې نشتـه دے، دُنيـا کښې بل گلزار
قسم دے عـــاليشـــانـــه د دې در دا نـظـــارې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دَ نـــور پـــــکښـــــي چيـــــنـــــي دی

نصيب خوش نصيب خلقو ته د دغي در مزې دی

دَ نـــور پـــــکښـــــي چيـــــنـــــي دی

احـمـد تـه نـن يـاديږي، دا زړۀ ئي نـۀ صبريږي

ديـدن دَ مـديـنـي بـه ورتـه کـلـه مـلاويـږي

دَ پـاك نبـي ﷺ د کلـي پـه صفـت دغـه جملي دی

دَ نـــور پـــــکښـــــي چيـــــنـــــي دی

نصيب خوش نصيب خلقو ته د دغي در مزې دی

دَ نـــور پـــــکښـــــي چيـــــنـــــي دی

## (48) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـه ښـار کښـي دَ نبـي ﷺ هـريـو قدم پـه ادب اخلـه

کـلـه ليـکـي چي نـعـت دغـه قلـم پـه ادب اخلـه

کـوم وخـت چـي يـادوے دَ مُـرسـلانـو تـاجدار ﷺ

کـوم وخـت چي يادوے دَ مديني ښکلي غمخوار ﷺ

دا تـاتـه نـصيـحـت دے چي هـر دم پـه ادب اخلـه

کـلـه ليـکـي چي نـعـت دغـه قلـم پـه ادب اخلـه

کـوم وخـت چي کـوے ذکـر دَ محبوب ﷺ دَ ښکلی در

کـوم وخـت چي کـوے ذکـر دَ محبوب خير البشر ﷺ

دا ذکـر هـرسـاعـت دلـتـه کښي سم پـه ادب اخلـه

کـلـه ليـکـي چي نـعـت دغـه قلـم پـه ادب اخلـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب دَ هر نعمت نه لوئې نعمت دے په جهان

ادب سره دُنیا کښې معززه وی انسان

نوم هر ځائے هر ساعت دَ محترم په ادب اخله

کله لیکې چې نعت دغه قلم په ادب اخله

ناصح درته احمد دے امتی دَ محمد ﷺ

بیان ئې ده رښا د دې جهان د هر لحد

نوم هر ځائے کښې دَ زړونو دَ ملهم په ادب اخله

کله لیکې چې نعت دغه قلم په ادب اخله

## (49) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نسیمه ځان سره انوار راوړه

انوار دَ سیّد الابرار ﷺ راوړه

ورشه ایسار نشے چې دلته کښې نور

راته یادیږی دَ نبی ﷺ ښکلے کور

خیر برکت دَ هریو لار راوړه

انوار دَ سیّد الابرار ﷺ راوړه

شا به روان شه درنه وخت تیریږی

په ما دا وخت دلته کښې سخت تیریږی

ماله خوشبو ماله بهار راوړه

انوار دَ سیّد الابرار ﷺ راوړه

ورځے اوشپے نه ایساریږی چاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه دغه دلته کښې ودرېږي چا ته
زر کړه ملهم دَ هر بیمار راوړۀ
انوار دَ سیَد الابرار ﷺ راوړۀ

داسې بل در په دې دُنیا کښې نشته
مثال ئې دلته په رڼا کښې نشته
وائي احمد راله قرار راوړۀ
انوار دَ سیَد الابرار ﷺ راوړۀ

## (50) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ خوشحاله ځکه یم، زۀ ښکلي جانان ﷺ لرم
زۀ په دې خوشحاله یم، نور دَ دین عرفان لرم

ما سره سنت شته دے
ما سره رحمت شته دے
نور دَ شریعت شته دے
ښکلي په نبیانو کښې، پاك نبی سلطان ﷺ لرم
زۀ په دې خوشحاله یم، نور دَ دین عرفان لرم

ما سره قرآن دَ رب
حق دغه بیان دَ رب
پاك نبی سلطان ﷺ دَ رب
ښکلي انسانانو کښې، زۀ ښائسته انسان لرم
زۀ په دې خوشحاله یم، نور دَ دین عرفان لرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



میــــنــــــــــه ده وفـــــــــا حیـــــــــا

مـــــاســـــره شـــمـــــــس الـــضـــحـــیٰ ﷺ

مـــــــاســـــــره بـــــدرالـــــدجـــــــیٰ ﷺ

ځـکـــه زهٔ خـوشـحــالــه یـم ، داسـيِ مهـریـان لـرم

زهٔ پـــه دي خــوشــحــالــه یم ، نور دَ دین عـرفـان لـرم

هــــــر چــــــاتــــــه مـــحبـــوب دلتـــــــه

هـــــرچــــــاتـــــــه مـــطـــلـــوب دلتـــــــه

شـــــکـــــلـــــي پـــــه اُســـلـــوب دلتـــــــه

زهٔ احــمــد رهبــر شـکـلـي ، داسـيِ عـالیشـان لـرم

زهٔ پـــه دي خــوشــحــالــه یم ، نور دَ دین عـرفـان لـرم

## ( 51 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

خـوش نـصیبي ده چـي نـصیـب چاته ایمان شی دلته

د کـلـی کـور نــه مدینـي تـه چـي روان شـی دلتـه

دغـــه سـفـــر د دي جهـان عــالیشــان خـلق کوی

دغـــه سـفـــر د دي جهـــان عـــاشـقـان خلق کوی

کــلــه روان چـي مـدیـنـي تـه یـو انســان شی دلتـه

خـوش نـصیبي ده چـي نـصیـب چاته ایمان شی دلته

دا پـــه قسـمـت بـانـدي انسـان تـه مـلاویـږی دلتـه

دا پـــه قسـمـت بـانـدي جهـان تـه مـلاویـږی دلتـه

قسـمـت پـه چا بانـدي مـئیـن شی مهربان شی دلتـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوش نصيبي ده چي نصيب چاته ايمان شی دلته

دغـه عـزت دَ هـر بشـر د پـاره دلتـه كښي دے

دغـه عـزت دَ هـر افسـر د پـاره دلتـه كښـي دے

پـه چـا بـاندي چي دَ اللّٰـه كرم احسان شی دلتـه

خوش نصيبي ده چي نصيب چاته ايمان شی دلته

ځـكـه احـمـد دغـه سفـر هـريـو سحـر غـواړی

ديـدن د درِ دَ مـحـمـد خيـر البشـر ﷺ غـواړی

پـه انتـظـار دے چي بـه كلـه ور روان شـی دلتـه

خوش نصيبي ده چي نصيب چاته ايمان شی دلته

## ( 52 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

كاميـاب دے هلـه چي انسـان پـه نيـغـه لار شی كله

تـابـع دُنيـا كښـي چي د سيَـدالابـرار ﷺ شی كلـه

كاميـاب دے هلـه چي قرآن باندي عمل كوی ځوك

كارونـه ښـۀ چي پـه دنيا كښي دلتـه تل كوی ځوك

بيـا مـكـمـل چي دا سلام تل پيـروكار شـی كلـه

كاميـاب دے هلـه چي انسـان پـه نيـغـه لار شی كله

كاميـاب دے هلـه چي سنـت تـه سپك نظر نۀ كوی

كـار پـه دُنيـا كښـي هميشـه چي د ضرر نـۀ كوی

ښـۀ مكـمـل چـي دَ خپـل ديـن نـه خبردار شـی كلـه

كاميـاب دے هلـه چي انسـان پـه نيـغـه لار شی كله

(c) ketabton.com: The Digital Library


کامیاب دے هغه چې د خیر نه ځان خبر ساتي تل
کامیاب دے هغه چې دَ خیر ځان له رهبر ساتي تل
کامیاب دے هغه چې د خپل ربَ وفادار شي کله
کامیاب دے هغه چې انسان په نیغه لار شي کله
کامیاب دے هغه چې په خیر او شر پوهیږي هغه
حق سره هر ځائے په دُنیا کښې یو ځائے کیږي هغه
وائي احمد انسان چې ښهٔ صحیح دیندار شي کله
کامیاب دے هغه چې انسان په نیغه لار شي کله

## ( 53 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

دَ سپرلي میاشت وه ، په سپرلي کښې مې جانان راغلے
دَ هدایت دَ پاره نور ﷺ دَ ټول جهان راغلے
دَ هدایت دَ پاره مونږ له پیغمبر ﷺ راغلے
دَ هدایت دَ پاره نور دَ هر یو در راغلے
زیرے هر چا له په دُنیا کښې دَ رحمان راغلے
دَ هدایت دَ پاره نور ﷺ دَ ټول جهان راغلے
زیرے دُنیا کښې هر بشر له دَ ربَ هغه دے
زیرے عجم له دُنیا کښې په عرب هغه دے
داسې حسین صورت دُنیا ته یو سلطان راغلے
دَ هدایت دَ پاره نور دَ ټول جهان راغلے
دَ سلطانانو په سلطان ﷺ سره یادیږي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



يـاد پـه عـالـی او عـاليشـان سره يـاديږي هغـه
داسـي عـالـی صفـت دُنيـا تـه عـاليشـان راغلـے
دَ هـدايـت دَ پـاره نـور دَ ټـول جهـان راغلـے
عـالـی هرچانه په مخلوق کښي محمد نبی ﷺ دے
عـالـی هرچانه په مخلوق کښي يو احمد نبی ﷺ دے
احـمـده ! حُسـن مـديـنـي تـه دَ آسمـان راغلـے
دَ هـدايـت دَ پـاره نـور دَ ټـول جهـان راغلـے

## ( 54 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نـوم پـه قـرآن کښي دَ نبی ﷺ پـه احترام راغلـے
دغـي پـاك نـوم سـره لازم درود سلام راغلـے
ورلـه مولـیٰ پـه دي قـرآن کښي ډير عـزت ورکړے
ورلـه مولـیٰ پـه دي قـرآن کښي لوئي عظمت ورکړے
نـوم دا دَ مينـي پـه هـرځائـے کښي ګام پـه ګام راغلـے
دغـي پـاك نـوم سـره لازم درود سلام راغلـے
کـلـه پـه يـو کلـه پـه بل نـوم محمد ﷺ يادوی
کـلـه طٰـهٰ سـره يٰسين سـره احـمـد يـادوی
داسـي ئـي ذکـر دَ مـولـیٰ پـه دي کلام راغلـے
دغـي پـاك نـوم سـره لازم درود سلام راغلـے
ورتـه پـه قـدر بـانـدي خپـلـه ربّ مـولیٰ کتلی
ورتـه پـه قـدر بـانـدي دلتـه انبيـاء کتـلـی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـــيِ دُنيـــا تـــه امــامــانو لـــه امـام راغـلـے
دغـــيِ پـــاك نـــوم ســره لازم درود سـلام راغـلـے
ځـكـه احـمـده ! تـالـه نـوم دغـه مور پلار ايخـے دے
تـالـه دا نـوم ئـيِ د عـرت پـه هـريـو لار ايښـے دے
دَ هــريـو نـوم د پـاره لـوئـيِ اوچـت مقـام راغـلـے
دغـــيِ پـــاك نـــوم ســره لازم درود سـلام راغـلـے

## ( 55 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راتـــه يـاديــږي ورځــے شپـے دَ يـار كـلـى كـنـبـيِ
مــاتــه يــاديـــږي تـذكــرے دَ يــار كـلـى كـنـبـيِ
هـغــه مـنـظـر د مـديـنـيِ بــه هـير مـيِ نـۀ شـي
هـغـــه سـحـــر د مـديـنـيِ بـــه هـيــر مـيِ نــۀ شـي
راتـــه يـــاد يـــږي دا مـــزے دَ يـــار كـــلـــى كـنـبـيِ
راتـــه يـاديــږي ورځــے شپـے دَ يـار كـلـى كـنـبـيِ
هـغـــه سـحـــر او مـــازيـگـــر ښـائـستـه مـابـنـام
هــلـتـــــه ســحــــر او مـــازيـــگـــر درود سـلام
دَ رحـــمـتـــونـــو خـــزانـــے د يـــار كـــلـــى كـنـبـيِ
راتـــه يـاديــږي ورځــے شپـے دَ يـار كـلـى كـنـبـيِ
هـغـــه مـحـفـل دَ مـديـنـيِ بـــه هـيـر مـيِ نشـي
ښـــكـــلـــے هـــر گـل دَ مـديـنـيِ بـــه هـيـر نشـي
هـغـــه حسـيـنـے نـظـارے دَ يـار كـلـى كـنـبـيِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



راتــه يــاديــږي ورځــے شپــے دَ يــار كــلــى كـنبــي

هــغـــــــه انـــوار او بـــركـــــات دَ يــــــار دَ در

هـــغـــــه ګـــفتـــار او كـــلــمـــات دَ يـــار دَ در

ښـائـستـــه دي لا رے هـم كـوڅـے دَ يار كلى كنبي

راتــه يــاديــږي ورځــے شپــے دَ يــار كــلــى كـنبــي

هــلتـــه نــظــر كـنبــي د بشــر حيــا پــرتـــه وه

احــمــده ! هــلتـــه ســراســر رڼــا پــرتـــه وه

تــول بــركــات دي دَ روضـــے دَ يــار كــلــى كـنبــي

راتــه يــاديــږي ورځــے شپــے دَ يــار كــلــى كـنبــي

## ( 56 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

بــختــور خــلــق دي پـــه ستــرګــو چــي حـرم ويـنـى

در دَ حـضـرت رسـول اللّٰـه ﷺ چــي مـحـتـرم ويـنـى

دا پـــه نـصـيــب بــانـدي دُنـيـا كـنبـي مـلاويـږي دلـتــه

دا خـوش نـصـيـبـه تـه هـرخـوا كـنبـي ملاويـږي دلـتـه

در دَ رهبــر چــي پـــه دُنيـــا ځـوك دَ عـجـم ويـنـى

بــختــور خــلــق دي پـــه ستــرګــو چــي حـرم ويـنـى

در د رهبــر دَ تـول عــجـم او دَ عــرب ښــكــلـے دے

در دَ افســـر دَ تـول عـجـم او دَ عـــرب ښـكـلـے دے

ډير خـوش نـصيبـه دے چـي دغه در ځوك سم ويني

بــختــور خــلــق دي پـــه ستــرګــو چــي حـرم ويـنـى

(c) ketabton.com: The Digital Library



در دَ نبي ﷺ لکه دَ ستوري په جهان ځليږي
در دَ نبي ﷺ لکه دَ نمر پاس په اسمان ځليږي
مبارك خلق دی چې ځوك دغه عالم ويني
بختور خلق دی په سترګو چې حرم ويني
ورته عزت ورته عظمت زمونږه ربّ ورکړے
عالی نسبت تل هر ساعت زمونږه ربّ ورکړے
ډير بختور دی چې ښائسته د هر آدم ويني
بختور خلق دی په سترګو چې حرم ويني
احمد په دې وجه مسکن دَ محمد ﷺ يادوی
احمد په دې وجه چمن دَ محمد ﷺ يادوی
دا دې جنت چې دا تکړه دلته دا دم ويني
بختور خلق دی په سترګو چې حرم ويني

## ( 57 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهنما تول زمونږ نبی ﷺ د هريو تن يادوی
ګل په دُنيا کښې هر بشر ئې دَ چمن يادوی
ورته رڼا ورته ښُکلا په دې جهان کښې وائی
ورته يٰسين ورته طٰهٰ دَ ربّ قرآن کښې وائی
د هر ابليس ئې په دُنيا باندې دښمن يادوی
ګل په دُنيا کښې هر بشر ئې دَ چمن يادوی
مينه دُنيا کښې يادوی ئې دَ هريو مکان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول په دنُیا کښې ئې په مینه محبت پیژنی
ټول په دنُیا کښې ئې په نور دَ هدایت پیژنی
خلق د شر په ځائے ، زمونږ نبی ﷺ امن یادوی
ګل په دنُیا کښې هر بشر ئې دَ چمن یادوی
پردی او خپل ئې په دنُیا کښې په امین پیژنی
مؤمنان ټول ئې په حسین او بهترین پیژنی
عاشقان خلق ئې دنُیا کښې تل وطن یادوی
ګل په دنُیا کښې هر بشر ئې دَ چمن یادوی
ورته محبوب زمونږ دَ ربَ په دې دنُیا وائی
ورته مطلوب احمده ! دلته په هرخوا وائی
هغه نبی ﷺ دے چې کلمه کښې ئې ټول نن یادوی
ګل په دنُیا کښې هر بشر ئې دَ چمن یادوی

## ( 58 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر مسلمان ئې په دنُیا سحر ماښام یادوی
دا ټول جهان ئې دَ نبیانو په امام ﷺ یادوی
ذکر ئې شته دے په اذان کښې مؤذن چې کوی
ذکر ئې شته هغه اعلان کښې مؤذن چې کوی
نیکان ئې هر ځائے په ادب او احترام یادوی
هر مسلمان ئې په دنُیا سحر ماښام یادوی
کلمه چې وایو پکښې ذکر دَ نبی ﷺ راغلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکر قرآن کښې ځائے په ځائے دَ مدنی ﷺ راغلے
هم په طٰهٰ ﷺ ئي په یٰسین ئي دا کلام یادوي
دا ټول جهان ئي دَ نبیانو په امام ﷺ یادوي
مونځ چې کورو مونږه درود پکښې آخر کښې وایو
دا شاګردانو ته دُنیا کښې په هرخوا مونږ ښایو
کلمه ئي نمر کلمه قمر ئي ټول تمام یادوي
دا ټول جهان ئي دَ نبیانو په امام ﷺ یادوي
ورته خاتم دَ انبیاء په ټول جهان کښې وائی
ورته خاتم دَ انبیاء په لامکان کښې وائی
داسې ئي دلته زمونږ دین دغه اسلام یادوي
دا ټول جهان ئي دَ نبیانو په امام ﷺ یادوي
احمده! یاد په هرصفت ددې جهان هغه دے
احمده! یاد په محبت ددې جهان هغه دے
هر څوك ئي دلته په لقب خیر الانام ﷺ یادوي
دا ټول جهان ئي دَ نبیانو په امام ﷺ یادوي

## ( 59 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نیکان دُنیا کښې هر سخن دَ محمد ﷺ یادوي
ښکلا دُنیا کښې دوطن دَ محمد ﷺ یادوي
دا تذکره ده هر بشر ئي ښهٔ په مینه کوي
دا تذکره ده هر افسر ئي ښهٔ په مینه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـکـلا دنيـا کښـي د چـمـن دَ مـحـمـد ﷺ يـادوي
ښـکـلا دُنيـا کښــي د وطــن دَ مــحـمـد ﷺ يـادوي

پــه هــر ســخــن کښي دَنبـی ﷺ وفـا جُدا پرتـه ده
پـه هر سخن کښي د نبی ﷺ حُسن ښکلا پرتـه ده
ورسـره تـول ښـکـلي مـدفـن دَ مـحـمـد ﷺ يـادوي
ښـکـلا دُنيـا کښــي د وطــن دَ مــحـمـد ﷺ يـادوي

پـــه هــر ســخــن کښــي ده رڼـا دَ هـريـو کـور د پـاره
پـــه هــر ســخــن کښــي ده رڼـا دَ هـريـو ګـور د پـاره
دغـــه رڼـــا در دَ مســـکـــن دَ مــحــمــد ﷺ يــادوي
ښـکـلا دُنيـا کښــي د وطــن دَ مــحـمـد ﷺ يـادوي

کـــلـــه چــي ذکـــر د اصــحـــابـو رض او د آل کيــږي
ذکـــر بيــا کـلــه چــي دَ آل دَ نــور جــمــال کيــږي
ورســره هــر ځــائـے کښــي حَســنؓ دَ محمد ﷺ يادوي
ښـکـلا دُنيـا کښــي د وطــن دَ مــحـمـد ﷺ يـادوي

احــمــد ئــي دلتــــه څــکـــه ذکــر تـذکــره کــړے ده
تــذکــره دلتـــه ئــي پــه جـار او پــه مـزه کـړے ده
کــلــے او ښـار دلتـه کښي نن دَ مـحـمـد ﷺ يادوي
ښـکـلا دُنيـا کښــي د وطــن دَ مــحـمـد ﷺ يـادوي

## (60) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نــوم دَ نبــی ﷺ ښــهٔ پــه عــزت او احتــرام راغلـے

(c) ketabton.com: The Digital Library



راشه دَ نوم ﷺ سره ئې هرځائے کښې سلام راغلے
دغه توښه دَ هر بشر د اٰخرت دلته ده
دغه توښه په دې دُنیا کښې د جنت دلته ده
د انبیاء او مرسلانو هم امام ﷺ راغلے
راشه دَ نوم ﷺ سره ئې هرځائے کښې سلام راغلے
ورله ژوندون کښې ربّ مولیٰ مرنې لره خیر ایخے دے
رښا سیرت کښې ئې هر خوا مونږ لره خیر ایخے دے
راشه دَ نوم ئې په دُنیا عالی مقام راغلے
راشه دَ نوم ﷺ سره ئې هرځائے کښې سلام راغلے
د مغفرت د هر انسان یو ذریعه دلته ده
د هر عزت د مسلمان یو ذریعه دلته ده
نور په دنیا کښې د تورتم د هر ماښام راغلے
راشه دَ نوم ﷺ سره ئې هرځائے کښې سلام راغلے
ځکه احمد ئې په ادب سره تل نوم اغستے
په احترام ورله هرځائے کښې ئې خپل نوم اغستے
ښۀ په ادب سره ئې نوم په هر کلام راغلے
راشه دَ نوم ﷺ سره ئې هرځائے کښې سلام راغلے

## ( 61 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستوری دُنیا کښې صحابۀ ټول د جهان دی
ځکه دوی ملګری دَ نبی اٰخرزمان ﷺ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر يو رڼا کښې مکمل دے

صديق اکبرؓ په کښې اول دے

عمرؓ ښائسته لکه ډګل دے

دغه دُنيا کښې ټول ملګري دَ عثمانؓ دي

څکه دوی ملګري دَ نبي آخرزمان ﷺ دي

مقام اوچت هم دَ عليؓ دے

ډير عاليشانه صحابيؓ دے

زوم دَ مکي ﷺ امدني ﷺ دے

نمسي حسنؓ، حسينؓ دَ پاك نبي سلطانؓ دي

څکه دوی ملګري دَ نبي آخرزمان ﷺ دي

ډير لوئي مقام لري بلال

ډير صفتي ډير دکمال

دَ ايمان نور لري جمال

دا صحابهؓ ټول په نبي ﷺ پسي روان دي

څکه دوی ملګري دَ نبي آخرزمان ﷺ دي

صفت ئي کړے دے قرآن

دا حقيقت دے ټول بيان

وائي احمد دا په جهان

خوش په دُنيا کښې دَ مولیٰ غني سبحان دي

څکه دوی ملګري دَ نبي آخرزمان ﷺ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 62 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے نسیمه! تا ته مخامخ چې دغه کلے دے
دغه مصطفیٰ ﷺ سره قسم دے ښکلے ښکلے دے
دلته کښې یاران دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ وسی
دلته عاشقان دَ محمد رسول اللّٰه ﷺ وسی
دردے لکه نمر پشان دنیا کښې ځلیدلے دے
دغه مصطفیٰ ﷺ سره قسم دے ښکلے ښکلے دے
دلته کښې یاران د رحمتونو د مولیٰ شته دے
دلته قدردان دَ رحمتونو دَ مولیٰ شته دے
ما ئې مسلمان ښۀ قدردان دلته لیدلے دے
دغه مصطفیٰ ﷺ سره قسم دے ښکلے ښکلے دے
نور دَ هدایت ترینه خورشوې په هر لور باندې
نور د سعادت ترینه خورشوې کور په کور باندې
ذکر د دې در د هرولې په خلهٔ راغلے دے
دغه مصطفیٰ ﷺ سره قسم دے ښکلے ښکلے دے
هر څوك دغه درته ښۀ په مینه تل سفر کوی
هر څوك ورته دلته کښې په قدر تل نظر کوی
اے احمده! نوم ئې دَ اسمانه پورې تلے دے
دغه مصطفیٰ ﷺ سره قسم دے ښکلے ښکلے دے

★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 63 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکلي مدینه ده عالیشان د نبی ﷺ کلے دے
شین ګنبد سره په ټول جهان کښي ځلیدلے دے
رښ دَ عاشقانو مدینه منوره کښي دے
رښ د مؤمنانو ددنیا دغه حصه کښي دے
نوم ئي دَ عرب نه د عجم په طرف تلے دے
ښکلي مدینه ده عالیشان د نبی ﷺ کلے دے
زۀ د دغي درزۀ د لیدلو دلته تګي یم
زۀ ئي د سحر زۀ د لیدلو دلته تګي یم
حُسن ئي دُنیا کښي دُنیا دارو هم منلے دے
ښکلي مدینه ده عالیشان د نبی ﷺ کلے دے
ټوله معطر ده دَ نبی ښکلی مسکن سره
ټوله معطر ده د رسول اللّٰه ﷺ بدن سره
ذکر اشارے سره قرآن کښي ئي راغلے دے
ښکلي مدینه ده عالیشان د نبی ﷺ کلے دے
زۀ ئي دلته ذکر د دُنیا په هر محفل کوُم
زۀ ښکلی انداز سره ئي ذکر دلته تل کوُم
څکه احمد نوم ئي خپل کتاب کښي نن لیکلے دے
ښکلي مدینه ده عالیشان د نبی ﷺ کلے دے

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 64 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد رسول الله ﷺ رهبر دَ دين
مُرسلانو کښې اعلیٰ افسر دَ دين
نبوت په دوی سره دے تمام شوے
داسې داسې دے عالی بشر د دين
امامت ئې په معراج کښې نصيب شوے
مبارك ئې دے هر يو سفر دَ دين
ټول عرب کښې په صادق امين ياديږی
دَ هر چا دَ پاره دے سحر د دين
القابات ئې مزمل او مدثر دی
په دُنيا کښې دے يو نور قمر د دين
هر يو يار ئې د جهان ستورې ياديږی
پيدائښت ئې دَ جهان اختر د دين
هر قدم ئې نور رحمت او برکت دے
وائی ټول ورته احمده ! نمر د دين

## ( 65 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نوم محمد ﷺ زمونږ نبی ﷺ له پاك سبحان ايښے دے
ورله دا نوم زمونږه ربّ ډير عاليشان ايښے دے
داسې دنيا کښې په يو ځائے کښې د بل چا نوم نۀ وو
داسے ښائسته ښکلے حسين په دې دُنيا نوم نۀ وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



پکښې عزت او نور رحمت زمونږ رحمان ايښے دے
نوم محمد ﷺ زمونږ نبی ﷺ له پاك سبحان ايښے دے
قسم دے ښکلے دے دا نوم دَ هر بشر دَ پاره
دغه رنګ دغه ښکلا دَ هريو درد دَ پاره
پکښې تل حسن کائنات کښې مهربان ايښے دے
نوم محمد ﷺ زمونږ نبی ﷺ له پاك سبحان ايښے دے
پکښې انوار او برکات راجمع کړي ربّ دي
پکښې اسرار او عنايات راجمع کړي ربّ دي
مولیٰ په دغې کښې تول حسن دَ جهان ايښے دے
نوم محمد ﷺ زمونږ نبی ﷺ له پاك سبحان ايښے دے
نشته نکته په دغه نوم باندې صفا صفا دے
ښکلے ښائسته دا کائنات کښې تل په هر ادا دے
احمده ! نوم ورله خالق دَ هر آسمان ايښے دے
نوم محمد ﷺ زمونږ نبی ﷺ له پاك سبحان ايښے دے

## (66) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

محمد ﷺ زمونږ نبی ﷺ له ربّ مولیٰ ايښے دے
نوم ئې زمونږ نبی ﷺ له تولو کښې اعلیٰ ايښے دے
دَ هريو کور دَ پاره نور دَ برکت سبب دے
خوش دغه نوم دَ عجميانو او دَ تول عرب دے
مولیٰ دا نوم زمونږ نبی ﷺ له په دُنيا ايښے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوم ئې زمونږ نبي ﷺ له تولو کښي اعلیٰ ايښې دے
داسې دُنيا کښې بل يو نوم دَ يو بشر نۀ وينم
زۀ پـه دُنيا کښې داسې نوم دَ يو افسر نۀ وينم
ښکلي دا نوم ئې حضرت رسول الله ﷺ ايښې دے
نوم ئې زمونږ نبي ﷺ له تولو کښي اعلیٰ ايښې دے
دلته دُنيا کښې مرتبه ئې ده هر چا ته پته
شته مرتبه ئې په دُنيا کښې اولياء ته پته
حسن په دغه نوم کښې ربَ دَ اولياء ايښې دے
نوم ئې زمونږ نبي ﷺ له تولو کښي اعلیٰ ايښې دے
تول مؤمنان ترينه خبر دي معززه ډير دے
دا انسانان ترينه خبر دي معززه ډير دے
دا مقدس نوم ربَ دَ سيَدالوریٰ ﷺ ايښې دے
نوم ئې زمونږ نبي ﷺ له تولو کښي اعلیٰ ايښې دے
زۀ احمد دلته په هرځائے کښې دا بيان کومه
په هر محفل کښې زۀ دَ خلقو دا اعلان کومه
نوم دَ يٰسين سره هم ربَ ورله طٰهٰ ﷺ ايښې دے
نوم ئې زمونږ نبي ﷺ له تولو کښي اعلیٰ ايښې دے

## (67) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

عبادت لوئې په جهان دَ نبي ﷺ نعت دے
خوشبودار ګل دَ ريحان دَ نبي ﷺ نعت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر ادا د پاك نبی ﷺ ده عالیشانه

زما دین زما ایمان د نبی ﷺ نعت دے

تول سیرت د محمد ﷺ دغه قرآن دے

هر ایت دغه قرآن د نبی ﷺ نعت دے

جواهر دی تول اقوال د محمد ﷺ

تل یاقوت دغه مرجان د نبی ﷺ نعت دے

هر یو یار دے قدردانه د رسول ﷺ

ښه واضحه حق بیان د نبی ﷺ نعت دے

هر یو یار د نبی ښکلے ښائسته دے

هر یو ستوري د اسمان نبی ﷺ نعت دے

ما احمد دغه لیکلی ښه الفاظ دی

دا واضحه تول بیان د نبی ﷺ نعت دے

## ( 68 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښه خلق خبري د سنت کوی

حق سره به مینه محبت کوی

نه به کوی ذکر د بدعت دلته

نه به کړي دُنیا کښي شرارت دلته

کار به د نبی ﷺ د شریعت کوی

هر قدم به اخلی احتیاط سره

دا قلم به اخلی احتیاط سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار به د صدیق ؓ د صداقت کوی

حق سره به مینه محبت کوی

ښه په سوچ سره به ئې خبرې وی

تل به د بدعتاتو نه دې لرې وی

حق به فیصله په عدالت کوی

حق سره به مینه محبت کوی

ظلم به په چا باندې برداشت نهٔ کړی

ظلم به یو خوا باندې برداشت نهٔ کړی

هر ځائے به په مال کښې سخاوت کوی

حق سره به مینه محبت کوی

نور به د قرآن په تلاوت اخلی

نور به د جهان په تلاوت اخلی

اے احمده! څوك چې تلاوت کوی

حق سره به مینه محبت کوی

## ( 69 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

چا لیدلے چې حضور ﷺ وو

نورانی وو نور وو نور وو

مجسّم تهول نورانی وو

لاثانی وو لاثانی وو

د هر چا د زړهٔ تهکور وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



نورانی وو نوروو

ورته وائی محمد ﷺ

ورته وائی تهول احمد ﷺ

دَ هرچا دَ سترګو توروو

نورانی وو نوروو

مزمل سره یٰسین وو

هم صادقه هم امین وو

نور دُنیا کښي دَ هر کوروو

نورانی وو نوروو

زۀ احمد ئي امتی یم

قدردان دَ هرولی یم

نور دَ بره هم دَ ګوروو

نورانی وو نوروو

## ( 70 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے ښکلي دی ښائسته لاري کوڅي دی

مزي دی مزي دی مزي دی ... دیار کلی کښي

د خوش نصیبو په نصیب دی

پکښي یادونه دَ حبیب دی

قسم دے ښکلي پکښي تهولي نظاري دی

مزي دی مزي دی مزي دی ... دیار کلی کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلتـــــــه آرام دَ هـــــــر بشـــــــر شتــــــــه

دلتــــــــه رنِـــــا دَ هــــــر نــــظــــر شتـــــــه

د ثـــوابـــونـــو دلتــــــه تِـــولـــي تــذكـــري دي

مـــزي دی مـزي دی مـزي دی ... ديـار كـلـی كښـي

راشـــــــه ســــحـــــــرورلــــــــه مـــــاښـــام

راشـــــــــه ديــــــدن لـــــــــه دَ امــــــام ﷺ

دلتـــه كښـي راشـــه د حـكـمـت د نـور چيـنـي دي

مـــزي دی مـزي دی مـزي دی ... ديـار كـلـی كښـي

دا نـــعـــــمتـــونـــــه د مـــولـــىٰ دي

دا پــــــه دنُيـــــا كښـــي چـــي پــــــه چــــا دي

دا د تـقـديـر دلتــــه كښـي تِـولـي فيـصلـي دي

مـــزي دی مـزي دی مـزي دی ... ديـار كـلـی كښـي

دا پــــــه تـــقـــديـــر كښـــي چـــي دَ چـــا وي

احـــمـــده ! ښـــكـــلـــي بــــــه هـــر خـــوا وي

دا بـــركـــات پــكښـي مـوجـود تِـول دَ روضـي دي

مـــزي دی مـزي دی مـزي دی ... ديـار كـلـی كښـي

## ( 71 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

ستا چي دلتـه پـه دنُيا دَ مـصـطـفىٰ ﷺ سره نـهٔ لگی

زمـــا تـــا ســـره نـــهٔ لـگـی ، ستـــا زمـــا سـره نـــهٔ لـگـی

د بـدعـت نـه مـي نـفـرت دے ستـا ورسره محبت دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ دروغو نه نفرت کړم، ستا رښتیا سره نۀ لګی
تۀ د خیر نه لرې لرې، زۀ دَ خیر سره ملګرې
زۀ مولیٰ باندې مئین یم، ستا مولیٰ سره نۀ لګی
تۀ دَ شر په طرف لاړې، زۀ دَ شر نه لرې تختم
زۀ وفا دلته خوښومه، ستا وفا سره نۀ لګی
تۀ د دین نه لرې تیختې، زۀ په دین باندې مئین یم
ځکه دلته راته وائې زما تا سره نۀ لګی
ستا مشرکه خلق خوښ دی زۀ ترې لرې لرې تختم
زۀ دانا سرې خوښومه، ستا دانا سره نۀ لګی
زۀ مئین یم په قرآن، تۀ مئین ئې په شیطان
احمد وائی تا ته ځکه ستا هرچا سره نۀ لګی

## ( 72 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نعت کښې څۀ وی؟ پکښې ذکر دَ نبی ﷺ وی
مجموعه دَ صفتونو دَ مکی ﷺ وی
پکښې ذکر دَ حضرت خیر الانام ﷺ وی
پکښې ذکر دَ نبیانو د امام ﷺ وی
داسې ذکر هر یو نعت کښې ابدی وی
مجموعه دَ صفتونو دَ مکی ﷺ وی
پکښې ذکر دَ نسبت دَ محمد ﷺ وی
تذکره دَ محبت دَ محمد ﷺ وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا تسکین د کائنات دَ هر ولي وي
مجموعه دَ صفتونو دَ مکي ﷺ وي
پکښې ذکر دَ نبي ﷺ د ښکلي در وي
پکښې ذکر دَ نبي ﷺ د هر سحر وي
دا سې ذکر د مکي او مدني ﷺ وي
مجموعه دَ صفتونو دَ مکي ﷺ وي
پکښې ذکر د رحمت او برکت وي
پکښې ذکر دَ رسول ﷺ دَ شفاعت وي
په دې ذکر سره هر مؤمن قوي وي
مجموعه دَ صفتونو دَ مکي ﷺ وي
اے احمده! دا بیان وي په هر نعت کښې
ذکر ښکلے عالیشان وي په هر نعت کښې
دا توښه هریو بشر له اُخروي وي
مجموعه دَ صفتونو دَ مکي ﷺ وي

## ( 73 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

نوم وظیفه کړئ په دنیا سحر ماښام د نبي ﷺ
واخله پاك نوم دلته هر ځائے په احترام د نبي ﷺ
ربّ په کلمه کښې دے رواوستے د خپل نوم سره تل
وائي کلمه دلته دا خلق خاص او عام د نبي ﷺ
مونځ چې کوو په دغه مونځ کښې د نبي ﷺ ذکر شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



پس له توحید نه په هرځائے کښې دے مقام د نبی ﷺ

د اقامت په وخت د ربّ سره نبی ﷺ یادوو

داسې تعلیم مونږ ته راکړے دے اسلام د نبی ﷺ

ورسره خلق د جهان شول بره ستوری رڼا

په حقیقت کښې دے بادشاه هریو غلام د نبی ﷺ

هریو خبر ئې د ګبین یوه حصه وګڼه

داسې دنیا کښې په هرځائے کښې دے کلام د نبی ﷺ

امن وسکون د پاك نبی ﷺ سیرت سره تړلے

داسې دنیا ته ملاؤ شوے دے پیغام د نبی ﷺ

محبوب د ربّ دے ځکه هرڅوك ورسره مینه کړی

په لاره تلے په دنیا دے هر امام د نبی ﷺ

کور کلی هرځائے کښې ښُکلا د محمد ﷺ پر ته ده

اغستے هرځائے کښې ښُکلا ده هر نظام دنبی ﷺ

احمد ئې ځکه په صفت باندې نن نۀ مړیږی

ټوله دُنیا ده مدح خوانه ګام په ګام د نبی ﷺ

## ( 74 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

معجزه د پیغمبر وی، کرامت د اولیاء وی

د بدعت مثال تیاره ده ، سنت هرځائے کښې رڼا وی

په بدعت کښې عزت نشته ، په بدعت کښې رحمت نشته

د بدعت بنیاد کچه دے ، دغه کور کۀ په هرخوا وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه بدعـت کښي بـدبـوئـي ده ، بدبوئي ده بدبوئي ده

د ازغـو دغـه لـوئي پـنډ دے چي د چا دلته په شا وي

هر بـدعـت نـه لـرے اوسـه ، هر لعنت نه لرے اوسه

لرے هر ځائے کښي بدعت نه په دنیا کښي هر دانا وي

زهـر چـا چـي دي خـوړلـي د بـدعـت پـه دي جهان

پـه مـحشـر کښي بـه ذلیـله ، هر طرف ته به رُسوا وي

بـدعتیـان لـرمـانان دي پـه دنیـا کښي شیطانان دي

دوي مـلـګـري هـر طـرف تـه د دین نهٔ دي د دنیـا وي

یـاري ښـهٔ نـه ده احمـده ! د بـدعـت سره دُنیـا کښي

ستا نـه وروستـو پـه مـحشر به دا ملګرے د دُنیا وي

## ( 75 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ستـــا کـــهٔ زمـــا سیَـدالـورئ ﷺ سـره نـهٔ لګـي

لـــرې رانـــه لاړشـــه زمـــا تـــاسـره نـــهٔ لـګـي

ستـا کـهٔ د صـدیـقؓ عـمـرؓ عثمانؓ سره نـهٔ لګي

داسـي ده چـي ستـا د مـصطـفیٰ ﷺ نـهٔ لګـي

ستـا پـه زړهٔ کښي بُـغـض د اصحابوؓ د نبي ﷺ دے

ځـکـه پـه دنیـا کښـي ستا هرچا سره نـه لګي

لـــرے لـــرے تیـخـتـــي د نبـــي ﷺ لـــه خبـره

ځـکـه ستـا دنیـا کښـي حـق وینـا سره نـهٔ لګي

حـق نـه لـرے لـرے پـه دنیـا کښي تـهٔ وسیـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه ستا دنیا کښې اولیاء سره نۀ لګی
لاره خوښه کړې تا دنیا کښې د ابلیس ده
ځکه احمد وائی ستا زما سره نۀ لګی

## ( 76 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

په تا سره رسوله ! ﷺ ښائسته دا ټول عالم دے
قربان درنه عرب دے ، قربان درنه عجم دے
ځما د زړۀ قراره، اے سیّدالابراره ﷺ
قربان درنه قربان شم ، حسینه حسنداره ﷺ
ښائسته په تا سو سره دُنیا کښې هر یو چم دے
د دوجهان سلطانه ، مشفقه مهربانه ﷺ
قربان شمه لتانه ، عالی اے عالیشانه ﷺ
عالی د هر مقام نه قسم دے ستا حرم دے
لقب دے مصطفیٰ ﷺ دے ، یٰسین سره طٰه ﷺ دے
اعلاؤ نه اعلیٰ دے ، صفت دے نور رنا دے
عالی له هر قدم نه دُنیا کښې ستا قدم دے
رنا دے ټول سیرت دے ، ښائسته دے هر صفت دے
عالی دے شریعت دے ، عالی دے هر سنت دے
احمد لیکلے دلته بیان دا په قلم دے

## ( 77 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

هر څوك وریسې چې ځی ، زۀ هغه رهبر منم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يــاد دے مــحــمــد ﷺ ســره ، نــور هغــه بشــر مــنم

هغــه پيغمبــر ﷺ زمــونــږ ، نــورد هــريو درزمونــږ

نــورد هــر بشــر زمــونــږ ، نــورد پــاس قــمــر زمــونــږ

زۀ د افســـرانــو ئــي دلتــــه کبنــي افســـر مــنــم

يــاد دے مــحــمــد ﷺ ســره ، نــور هغــه بشــر مــنم

هغــه د مولیٰ حبيب ﷺ ، هغــه د هر چا حبيب ﷺ

هغه دے هم ستا حبيب ﷺ ، هغه دے زما حبيب ﷺ

زۀ هــغـــه مــحبــوب لــره هــر چــا نــه بهتــر مــنم

يــاد دے مــحــمــد ﷺ ســره ، نــور هغــه بشــر مــنم

هــغـــه داسـمـــان ميلـمـــۀ ، بيــا د لامــکــان ميلـمــۀ

بــره د رحــمٰــن ميــلــمــه ، هغــه عــاليشان ميــلـمــۀ

کــور کــوځـــي د پـــاره ئــي نــور زيـــا د نمــر مــنم

يــاد دے مــحــمــد ﷺ ســره ، نــور هغــه بشــر مــنم

ښــکلي ښــائستــۀ ګــل هغــه ، حُسن د محفل هغــه

خــونــد کــوي ليــدل هغــه ، وائــي احمد تــل هغــه

شـــاه د هـــريـــو در مــــنــم ، نــور ئــي د نــظــر مــنــم

يــاد دے مــحــمــد ﷺ ســره ، نــور هغــه بشــر مــنم

## ( 78 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زۀ بــختــور ووم چــي پـــه ستــرګــو مــا حــرم وليــدۀ

مــا ښــکــلي در د مــحــمــد ﷺ ډيــر مــحتــرم وليــدۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَبّه! دا ستا فضل وکرم سره ممکنه شوله
ربّه! دا ستا مینه رحم سره ممکنه شوله
در مدینه کښې ما قسم دے مکرّم ولیدهٔ
زهٔ بختور ووم چې په سترګو ما حرم ولیدهٔ

دا په قسمت باندې هرچا ته ملاویږې دلته
دا په قسمت باندې هر خواته ملاویږې دلته
دا په تقدیر کښې وه چې نوم مې د تورتم ولیدهٔ
زهٔ بختور ووم چې په سترګو ما حرم ولیدهٔ

هر څوك ارمان کړي د لیدلو د دې در دلته کښې
هر څوك ارمان کړي د لیدلو د دلبر دلته کښې
ما په قسمت سره علاج د هریو غم ولیدهٔ
زهٔ بختور ووم چې په سترګو ما حرم ولیدهٔ

احمد په دې وجه خوشحاله په دنیا کښې نن دے
خوشحاله ځکه هر طرف ته په هرخوا کښې نن دے
امید محشر له د نجات ئې دلته سم ولیدهٔ
زهٔ بختور ووم چې په سترګو ما حرم ولیدهٔ

## ( 79 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

د ګل په ورځ وخت د سحروهٔ هاشمي راغے
راغے نبي ﷺ راغے ، تولې دنیا ته
راغے ملګرے د غریب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب ښـــــودونـــــکـــــې لــــوئــــي اديــــب
د هـــــــرزنـــــــــځـــــــور دَ زړهٔ طبيـــــــب
يـــــــاد پـــــــه لـــــقـــب ســــــره حبيـــــب
دوست دَ صـديـق عـمرؓ عثمانؓ او د علیؓ راغلــې
راغــــې نبــــی ﷺ راغــــې ، ټــولــې دنيـــا تـــه
رڼـــــــــائـــــــــي راوړه دســــــــنـــــــت
راوړهٔ ئــــــي نـــــور د شــــــريــــــعــــت
راوړه ئـــــي ميــــــنــــــــه مــــحبـــــت
عـــمـــل هــــر ځـــائــې کښـــي د عـــزت
د مــديــنــي خــلــق ګـويـا شـو قـريشـی راغــې
راغــــې نبــــی ﷺ راغــــې ، ټــولــې دنيـــا تـــه
راغـــــې طــــــه ﷺ ، راغـــــې يٰسيـــــن ﷺ
راغـــــې دنيــــــا تــــــه بهتــــريـــــن
دهــــــــر حسيــــــن نـــــــه ډيــــــر حسيــــن
راغـــــې صــــــادقـــــــه او اميــــــن ﷺ
وئيــل عـجـم کښـي عـجـميـانـو عـربـی ﷺ راغــې
راغــــې نبــــی ﷺ راغــــې ، ټــولــې دنيـــا تـــه
راغـــــې ســــــکــــــون د هـــــريـــــو کـــــور
وائـــــــی احــــــمــــــد دزړهٔ ټــــــکــــــور
ســــکــــون دنيــــا تـــــه پــــــه هــــرلــــور

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هـــــــريشـــــــــر دستـــــــــرګـــــو تـــور
عــزت سـره خـلـقـو وئيـل چي مـدنـي راغـلـې
راغـلې نبـي ﷺ راغـلې ، تـولـي دنيـا تـه

## ( 80 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښـائستـه ده مـديـنـه درنـاګـانـو کـلـې دے
دنيـا کښـي دنبـي ﷺ دا ديـارانـو کـلـې دے
صديق ؓ، عـمـر ؓ، عثـمـان ؓ، د مـديـنـي دی ساکنان
ساکن پـه مـديـنـي کښـي دے بـلال ؓ سـره سلمان ؓ
دغـي عـزتـمـنـدو عـاشـقـانـو کـلـې دے
دنيـا کښـي دنبـي ﷺ دا ديـارانـو کـلـې دے
ازواج د مـحـمـد ﷺ پـکښـي وسيـږي د دنيـا
پـرتـه ده هـرچـمـن کښـي ددې درنـا ښُـکـلا
قسـم دے د دنيـا درهبـرانـو کـلـې دے
دنيـا کښـي دنبـي ﷺ دا ديـارانـو کـلـې دے
دا درپـه دي دنيـا کښـي د حسيـن ؓ او د حسـن ؓ
قسـم دے داسـي نشتـه پـه دنيـا کښـي بـل چـمـن
دغـي قـدرمـنـدو امـامـانـو کـلـې دے
دنيـا کښـي دنبـي ﷺ دا ديـارانـو کـلـې دے
خپـلـوان د پـاك نبـي ﷺ پـه دغـه کـور کښـي پاتـې کيـږي
احـمـدعـلـي نـن څـکـه دغـه درپسـي کـريـږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیا کښې د رسول ﷺ دا د خپلوانو کلے دے

دنیا کښې دنبی ﷺ دا د یارانو کلے دے

## ( 81 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے دهر کلی نه ده ښکلي مدینه

یو وار چي په دنیا کښې چالیدلي مدینه

قسم دے خوشبو دار ئې ئې دی لارې او کوځې

دا زړهٔ مې غواړي دغه در هروختې مالیدي

عالی مي له هرښار نه اوریدلي مدینه

قسم دے دهر کلی نه ده ښکلي مدینه

دا زړونه د دنیا ورپسې ځکه تل کړیږي

دا زړونه د هرچا ورپسې ځکه تل کړیږي

مولیٰ ده عزتمنده تل ساتلي مدینه

قسم دے دهر کلی نه ده ښکلي مدینه

د مینې محبت پکښې قسم دے تذکرې دی

د پاك نبی حضرت ﷺ پکښې قسم دے تذکرې دی

هرچا ځکه عزت سره بللي مدینه

قسم دے دهر کلی نه ده ښکلي مدینه

احمد ئې ځکه ذکر په اشعارو سره کړے

احمده! ځکه تا نه ئې دا زړهٔ دلته دے وړے

هریو صفت سره دلته راغلي مدینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم دے دھر کلی نه ده بشکلي مدينه

## ( 82 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې په سنت پسې خندا کوی
دغه تن ابلیس سره وفا کوی
څوك د بدعت نه لری کیږی نه
واوره مصطفیٰ ﷺ سره جفا کوی
څوك چې د نبی ﷺ په طریقه نه وی
کار د خساري په دي دنیا کوی
څوك چې مینه نهٔ ساتی نبی ﷺ سره
کار د شیطانانو د رضا کوی
څوك چې په قرآن باندې مئین نه وی
څنګه به د مینې بیا دعویٰ کوی
مینه لری زړهٔ کښې د بدعت سره
څکه د بدعت کارونه بیا کوی
اے احمده! ستا وینا صفا صفا
کم دی په دنیا چې دا وینا کوی

## ( 83 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

بدعتیان چې دلته څومره په جهان دی
خساره کښې د محشر دغه کسان دی
د سنت نه چې څوك لرے لرے کیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library



لـــرې هـــر ځـــائــے د نبـــی اٰخـــرزمـــان ﷺ دی
د اصــــحـــابــو ؓ ســره ځــوك ســاتــی چـې بُـغـض
حـــقيـــقـــت كښــــې مـــخـــالف د دې قـــراٰن دی
اوليـــاء نـــه پـــه دنيـــا كښــې چـې مـنـكـر دی
دوی مـــلـــګـــری پـــه دنيــا كښــې د شيـــطـــان دی
دا ديـــنـــدار نـــۀ دے چـــې كـــار د بـــدعـــت وكـــړی
بــــدعتيـــــان ټـــول غـــــلـــــطـــــه لارروان دی
د نبـــی ﷺ مـــنـــكـــر ، مـــنـــكـــر د دغـــه ديـن دے
مـــنـــكـــران دغـــــه ټـــول خـــلـــق د رحـــمـــان دی
د بـــدعـــت ســره يـــو ځـــائـــے چـې پـــه دنيـــا دی
اے احـــمـــده ! د نبـــی ﷺ ټـــول دښـــمـــنـــان دی

## ( 84 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

د دنيــــا بـــــره قـــمــــر درنـــــه لـــوګـــے شــــه
دا روښـــانــــه بــــره نـــمـــر درنــــه لـــوګـــے شــــه
تــــۀ مـــحـبـــوب ئـــې د خـــالـــق پـــروردېـــګـــار
ځـــكـــه وايـــم بـــحـــر وبـــر درنـــه لـــوګـــے شـــه
ستـــارضـــا خپـــلـــه رضـــا ګـــنـــلـــے ربّ
ځـــكـــه وايـــم هـــر بشـــر درنـــه لـــوګـــے شـــه
ستـــا د حُســـن خپـــلـــه ربّ كـــړے صـــفـــت
پـــه دې وجـــه هـــر ســحـــر درنـــه لـــوګـــے شـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا دیو نظر ثاني په جهان نشته

د دنیا هر یو نظر درنه لوګے شه

زۀ منم مه ستا غاښونه دي لعلونه

په دنیا کښې هر ګوهر درنه لوګے شه

بې لتانه مې محبوب په جهان نشته

احمد وائي هر دلبر درنه لوګے شه

## ( 85 ) نعت مصطفیٰ ﷺ

خلقه! په وېښه په عجم کښې یمه

په تصوَر کښې په حرم کښې یمه

په تصوَر کښې هغه دروي زما

په تصوَر کښې پیغمبر ﷺ وي زما

دغه ښائسته ښکلے عالَم وینمه

په تصوَر کښې په حرم کښې یمه

راته محفل وي مخامخ د نبي ﷺ

راته هر ګل وي مخامخ د نبي ﷺ

داسې د پاك نبي ﷺ په چم کښې یمه

په تصوَر کښې په حرم کښې یمه

مسکن د پاك نبي ﷺ زۀ دلته وینم

چمن د پاك نبي ﷺ زۀ دلته وینم

داسې د دغه در په غم کښې یمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـــه تـصـوَر کښـي پــه حـرم کښــي يـمــه
راتــــه ښـکـــاريـــږي هــغــــه لارې کــوڅـــي
رڼــــا ځـــليـــــږي هـــغـــــه لارې کـــوڅـــي
لــري تــي يـم ځـکــــه تـورتـم کښـي يـمــه
پـــه تـصـوَر کښـي پــه حـرم کښــي يـمــه
مــولـــىٰ پـــه ويښـــه ورتـــه بــوځـــه تــهٔ مــا
الـلّـــه! پـــه ويښـــه ورتـــه بــوځـــه تـــهٔ مــا
زهٔ د خيــالـونـو پـــه مـوسـم کښــي يـمــه
پـــه تـصـوَر کښـي پــه حـرم کښــي يـمــه

## ( 86 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حــرم د مـديـنـي چـي چـا ليـدلـے وي يـو وار
يـاديـږي پـه دنيـا کښـي بـه هغــهٔ تـه بـار بـار
کشـش پـکښـي ډيـر ډيـر دے هـر انسـان د پاره دلتـه
کشـش پـکښـي ډيـر ډيـر دے مسلمان د پاره دلتـه
قسم دے پـه دنيـا کښـي خـوند کوي ئـي هر گفتار
حــرم د مـديـنـي چـي چـا ليـدلـے وي يـو وار
قسـمـت سـره تـرلـے پـه دنيــا دغــه نعـمـت
قسـمـت سـره تـرلـے دے هــرخـوا دغــه عـزت
دا ځـائـے د پـاک رسـول ﷺ دے پـه دنيـا کښـي دهريار
حــرم د مـديـنـي چـي چـا ليـدلـے وي يـو وار

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ګل دے قدرمنده د دنيا د غه مقام
محفل دے قدرمنده د هرخوا ماه تمام
پراته په مدينه کښې انوارات دي په هر لار
حرم د مدينې چې چا ليدلے وي يو وار
احمد ئې ذکر کړے دے په مينه محبت
تقسيم د دغې در نه دلته کښې دے سعادت
هر څوك ترينه خبر دے په دنيا كوي اقرار
حرم د مدينې چې چا ليدلے وي يو وار

## ( 87 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

شپه د معراج وه الله غوښتے مصطفیٰ ﷺ دے
ميلمهٔ آسمان نه بره د پاك الله دے
راغے جبرئيل د پاس آسمانه
وائی محبوبه قدردانه
د مولیٰ تا له پيغام راوړے ما دے
ميلمهٔ آسمان نه بره د پاك الله دے
بللے رب ئې پاس آسمان ته
بللے رب ئې لامكان ته
تا له بيان راوړے مارنا صفا دے
ميلمهٔ آسمان نه بره د پاك الله دے
غواړي تا بره په دربار

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـــواړي تــــا نـــن پـــروردیـــګـــار
ستــا بــره تـلـو سـره هـر خیـز رنـا رنـا دے
میـلـمــۀ اسـمـان نــه بـره د پـاك اللّـه دے
هــر خیــز دے تــاسـره خــوشـحـالـــه
وائــــی ربّ راشـــــه راشـــه خــوالـــه
حــکــم راوړے مـااسـمـان نــه د مـولـیٰ دے
میـلـمــۀ اسـمـان نــه بـره د پـاك اللّـه دے
وائـــی احــمـــد دغـــــه پـــه جــار
میـــلــــمــــۀ دے سیّـــد الابـــرار ﷺ
هـغــه نبـی ﷺ چې رهـنـمـا دعـلـمـاء دے
میـلـمــۀ اسـمـان نــه بـره د پـاك اللّـه دے

## ( 88 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

اے نسیـمـــه! د جـــانـــان کـلـــی تــه ځــه
دنبـــی اخــــر زمــــان ﷺ کــلـــی تـــه ځــه
دا ســفــر د خــوش نــصـیبــو پـــه نـصـیـب وی
دغـــه در د خــوش نــصـیبــو پـــه نـصـیـب وی
دنبیــانــو د ســلــطـــان ﷺ کــلــی تــه ځــه
دنبـــی اخــــر زمــــان ﷺ کــلـــی تـــه ځــه
دا ســـفــــر بــــه دے یـــادګـــاره د جهـــان وی
عـــالیشـــان بــــه ستــا د پـــاره د جهـــان وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایسار نشي عالیشان کلی ته ځه
دنبی آخرزمان ﷺ کلی ته ځه

دا سفر د هر مؤمن بشر دے خوښ
دغه درد هر مؤمن بشر دے خوښ

د میلمه دلامکان کلی ته ځه
دنبی آخرزمان ﷺ کلی ته ځه

مؤمنان په دي سفر پسي کړيږي
عاشقان په دغي در پسي کړيږي

زر کړه زړکړه دحسانؓ کلی ته ځه
دنبی آخرزمان ﷺ کلی ته ځه

دغه کلے د صدیقؓ او دعمرؓ دے
دغه کلے د حضرت علی حیدرؓ دے

ورانیږه دعثمانؓ کلی ته ځه
دنبی آخرزمان ﷺ کلی ته ځه

دا آرزو او تمنا د هر بشر ده
اے احمده! دا دعا د هر افسر ده

کړه سفر د مهربان کلی ته ځه
دنبی آخرزمان ﷺ کلی ته ځه

## ( 89 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مسافره! د طٰهٰ ﷺ کلی ته ځه

(c) ketabton.com: The Digital Library



روانيـــــږه درنـــــا کـــلـــــی تــــــه ځـــــه

هـــر مـــکـــــان پـــــه دغـــي درســـره رڼــا دے

پـــاس جهـــان پـــــه دغـــي درســـره رڼــا دے

د نبـــی خيـــر الـــورىٰ ﷺ کـلـــی تـــه ځـــه

روانيـــــږه درنـــــا کـــلـــــی تــــــه ځـــــه

پـــاس قـــمـــرئـــي هـم پـــه نـور ســره رڼــا دے

بـــره نــمـــرئـــي هــم پـــه نـــور ســره رڼــا دے

د نبـــی بـــدر الـــدجـــىٰ ﷺ کـلـــی تـــه ځـــه

روانيـــــږه درنـــــا کـــلـــــی تــــــه ځـــــه

بـــــره ستـــوري ئـــي رڼـــا ســـره رڼـــا دي

ټـول اصـــحـــابؓ ئـــي دلتـــه ستـوري د دنيـا دي

د دنيـــا شـــمـــس الـــضـحـــىٰ ﷺ کلـی تـه ځـه

روانيـــــږه درنـــــا کـــلـــــی تــــــه ځـــــه

د هـــــر زړهٔ دپــــــاره نـــــور د هـــدايـــــت دے

اے احـــمـــده ! ذات ئـــي نـــور د شـــريـــعـــت دے

د يٰسيـــن او مـــصـــطـــفــىٰ ﷺ کـلـی تـــه ځـــه

روانيـــــږه درنـــــا کـــلـــــی تــــــه ځـــــه

## ( 90 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

د هـريـدعـت نـه زما زړهٔ کښي رب نفرت ايښے دے

مـالـه پـه زړهٔ کښي د نبي ﷺ رب محبت ايښے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه بدعت او بدعتیانو نه زړۀ لړے یمه
د هریو شر او شیطانانو نه زړۀ لړے یمه
زړۀ کښې ئې نور رالـه د دین او شریعت ایښے دے
د هر بدعت نه زما زړۀ کښې ربَ نفرت ایښے دے
ځکه مئین یم په نیکانو صالحانو باندې
ځکه مئین یم په دینداره عالمانو باندې
زړه کښې ئې نور راله قسم دے د عزت ایښے دے
د هر بدعت نه زما زړۀ کښې ربَ نفرت ایښے دے
ځکه زما سره یو ځائے خلق دینداره وُسی
ځکه زما سره یو ځائے تول پرهیزګاره وُسی
قدر په زړۀ کښې ئې زما د هر سنت ایښے دے
د هر بدعت نه زما زړۀ کښې ربَ نفرت ایښے دے
ځکه قرآن سره په زړۀ کښې دلته مینه ساتم
د مسلمان سره په زړۀ کښې دلته مینه ساتم
ماله قسمت کښې ربَ مولیٰ دغه نعمت ایښے دے
د هر بدعت نه زما زړۀ کښې ربَ نفرت ایښے دے
ځکه دا حق بیان په ژبه باندې ما راوستے
ځکه دا حق اعلان په ژبه باندې ما راوستے
وائی احمد ماله قسمت کښې ربَ رحمت ایښے دے
د هر بدعت نه زما زړۀ کښې ربَ نفرت ایښے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 91 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښکـارمـه دلتـه خـو دا زړهٔ مـې پـه سفـر تلـے دے
در لـــه دنيـــا کښـــي د نبيـــانـــو دا فسر ﷺ تلـے دے
دا پـه ظـاهـر بـانـدې چـې تـاتـه مخامخ ښکارمـه
دا چـې ظـاهـر بـانـدې دنيـا تـه مـخـامخ ښکارمـه
وجـود دنـنـــه مـې ديـدار لـــه د سـحـر تلـے دے
در لـــه دنيـــا کښـــي د نبيـــانـــو دا فسر ﷺ تلـے دے
ورتـــه مـحـبـوب د مـحبوبـانـو پـه دنيا ښـکـاريـږي
ورتـــه مـطـلـوب د مـطلـوبـانـو پـه دنيا ښـکـاريـږي
بـاغ لـه چـمـن لـه د مـحبـوب د ربّ اکبـر تلـے دے
در لـــه دنيـــا کښـــي د نبيـــانـــو دا فسر ﷺ تلـے دے
پـه تـصـوّر کښـې هغـه سيدالورىٰ ﷺ تـه ګوري
پـه تـصوّر کښــې مـحـمـد رسول اللّٰـه ﷺ تـه ګوري
مـحبـوب لـه هـلتـه مـديـنـې تـه بـرابـر تلـے دے
در لـــه دنيـــا کښـــي د نبيـــانـــو دا فسر ﷺ تلـے دے
عـجـب مـنـظـر پـه تـصوّر کښــې تـل مـدام ووينمـه
د مـــديـــنـــې مـــنـــورې سـحـــر مـــاښـــام وينـمــه
سـحـر وختـې زړهٔ مـې ديـدار لـه پـه سفـر تلـے دے
در لـــه دنيـــا کښـــي د نبيـــانـــو دا فسر ﷺ تلـے دے
دغــه نـعـمـت دے ورسـره دلتـه خـوشـحـالـه يمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



درب رحمت دے، ورسره دلته خوشحاله يمه

لري احمده! دغي درله ستا نظر تلے دے

درله دنيا کښي د نبيانو دافسر ﷺ تلے دے

## ( 92 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

زړۀ په طرف مي د نبيانو دافسر ﷺ تلے دے

بدن مي دلته دے خو روح مي په سفر تلے دے

هغه دربار هغه محفل ته د نبی ﷺ ورغلے

هغه ګلزار هغه منزل ته د نبی ﷺ ورغلے

دلته نه هلته مديني ته نن سحر تلے دے

بدن مي دلته دے خو روح مي په سفر تلے دے

هلته کوڅو کښي په مزه مزه سيلونه کوی

په باغيچو کښي په مزه مزه سيلونه کوی

ښۀ په مزه مزه قسم دے برابر تلے دے

بدن مي دلته دے خو روح مي په سفر تلے دے

هلته ديدار د مصطفیٰ ﷺ د محفلونو کوی

هلته ديدار د مصطفیٰ ﷺ د محلونو کوی

واوره دا روح مي هلته کښي په مقدر تلے دے

بدن مي دلته دے خو روح مي په سفر تلے دے

داسي احمدعلی وسيږی په خيالونو کښي نن

داسي احمدعلی وسيږی محفلونو کښي نن

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسي د نيا کښي مي هر ځائے کښي تصوَر تلے دے
بدن مي دلته دے خو روح مي په سفر تلے دے

## ( 93 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

قسم دے زړۀ مي مدينې ته د افسر ﷺ تلے دے
وجود مي دلته دے هلته مي تصوَر تلے دے
په تصوَر کښي هغه درسره نزدي اُوسيږم
په تصوَر کښي پيغمبر ﷺ سره نزدي اوسيږم
داسي زما په هر طرف باندي خبر تلے دے
وجود مي دلته دے هلته مي تصوَر تلے دے
هغه چمن کښي د نبی ﷺ سره په خوا کښي يمه
هغه مسکن کښي عربی ﷺ سره دنيا کښي يمه
داسي د زړۀ نه مي آواز په لر او بر تلے دے
وجود مي دلته دے هلته مي تصوَر تلے دے
هر يو قدم په احترام په ښۀ ادب اخلمه
نوم د رسول ﷺ ښائستۀ تمام په ښۀ ادب اخلمه
داسي آواز مي هر طرف ته په سفر تلے دے
وجود مي دلته دے هلته مي تصوَر تلے دے
دغه نعمت دے ورسره دلته خوشحاله يمه
د ربّ رحمت دے ورسره دلته خوشحاله يمه
احمده! زړۀ نه ستا هر چاله دا اثر تلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجود مي دلته دے هلته مي تصوّر تلے دے

## ( 94 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تيتـي ستـرګـي د نبـي ﷺ کـلـې تـه څـه
پـه ادب د مـدنـی ﷺ کـلـي تـه څـه
لازمـی پـه کښـي ادب او احتـرام دے
د نيـکـانـو اولـيـاء دغـه کـلام دے
پـه ادب د هـاشـمـی ﷺ کـلـې تـه څـه
تيتـي ستـرګـي د نبـي ﷺ کـلـې تـه څـه
وايـه لاره کښـي درود سـحـر مـاښـام
وايـه لاره کښـي درود سـره سـلام
روانيـږه د مـکـی کـلـي تـه څـه
تيتـي ستـرګـي د نبـي ﷺ کـلـې تـه څـه
عـاشـقـان د دغـي دردي طـلـبـګـار
مـؤمـنـان د دغـي دردي طـلـبـګـار
بيـش قيـمـتـه قيـمـتـی کـلـې تـه څـه
تيتـي ستـرګـي د نبـي ﷺ کـلـې تـه څـه
دا ارمـان لـری هـريـو بشـر پـه زړهٔ
دا ارمـان لـری هـريـو افسـر پـه زړهٔ
زر کـړه زر د عـربـی ﷺ کـلـې تـه څـه
مـا احـمـد پـه دے اميـد کـړلـو ژونـد تيـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــــه درزانـــه یـو ســاعـت بـــه نشـي هیــر
د حــضــور ﷺ د خــوږ نـمـسی کـلـی تــه ځـه
تیتـــي ستـــرګـــي د نبــی ﷺ کـلــی تــه ځـه

## ( 95 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ښــائستـــه حسیـن ښـکـلـے جـانـان زمـا دے
رهبـــــر نبـــــی آخــــرزمــــان ﷺ زمـــا دے
رهبـــر هـــغـــــه د عــــالــمــــانــو تـهـولــو
رهبـــر هـــغـــــه د امـــامـــانــو تـهـولــو
نــــور پــــه هـــــرخــوا دي جهــان زمـــا دے
رهبـــــر نبـــــی آخــــرزمــــان ﷺ زمـــا دے
رهبـــر هـــر ځـــائـــے د هـــر وزیـــر هـغـــه دے
رهبـــر هـــر ځـــائـــے د هـــر مشیـــر هـغـــه دے
داســـي رهبـــر د هـــــر مــــکــــان زمـــا دے
رهبـــــر نبـــــی آخــــرزمــــان ﷺ زمـــا دے
رهبـــر هـــر ځـــائـــے د هـــر سـلـطـــان د پـــاره
رهبـــر هـــر ځـــائـــے دغـــریـــب خـــان د پـــاره
نبـــی ډیـــر ډیـــر زیـــات عـــالیشـــان زمـــا دے
رهبـــــر نبـــــی آخــــرزمــــان ﷺ زمـــا دے
رهبــــــر رښـــــا د هـــــر مـــقـــــام د پـــــاره
وائــــی احـــمـــد ســحــــر مـــاښـــام د پـــاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایــــمـــــان د تــــولـــو دے ایــمـــــان زمـــا دے

رهبـــــر نبــــی آخـــــرزمـــــان ﷺ زمـــــا دے

نـــــعــــــتِ مـــصـــــطـــفــــیٰ ﷺ

## ( 96 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راجمع کوومه ښـهٔ لفظونه ترینه نعت جوړومه

ورسره لوئي اوچت خیالونه ترینه نعت جوړومه

نـعـت د نبـی ﷺ چي عبـادت ورتـه عـالـم وئیلـے

عـالـی لفظونـه لټوومـه تـرینـه نـعـت جـوړومـه

د ربَ کتـاب دغــه بیـان مـونـږ تـه ښـودلـے دلتـه

زهٔ راولـم ښــهٔ مثــالـونــه تــرینــه نعـت جـوړومــه

پـاس لــه آسـمـانـه اے انسانـه پاك نبی زمـونـږ

داسـيٌ لـرمـه زهٔ سـوچـونـه تـرینـه نعت جوړوومـه

هـغــه بیشـمیـره صـفتـونــه د دنیـا د خـلـقـو

راجـمـع کـوومـه دا ګـلـونـه تـرینـه نـعـت جـوړومـه

هـریـو ادائـي د جهـان خـلـق پــه لـعـل یـادوی

زهٔ جمـع کـوومـه دا لـعـلـونـه تـرینـه نعـت جـوړومـه

هسي بـه تیـر نـهٔ شی دنیـا کښـي د احمدعلی ژوند

قیـمـتـی کـوومـه خـپـل وختـونـه ترینه نعت جوړوومه

## ( 97 )نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهـــــنــــــمـــــــا د نیك او بــــــد دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے

ورتـــــــــه نـــــورد جهـــــــــان وائـــــــی

ورتـــــــه نـــــورعــــــالیشـــــــان وائـــــی

دغـــــــــریــــــــب ســــــــړی مـــــــدد دے

مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے

د ســــــــراج پـــــــــه لـــــقـــــب یـــــاد دے

د هـــــــر خیـــــــراو بنـــــــۀ بـــنیـــــاد دے

بنـــــــۀ صـــــــادقــــــــه مــعتــمــــد دے

مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے

پـــــــه نـــذیــــر هـــغـــــــه یـــــادیــــږی

پـــــــه بشیـــــــر هـــغـــــــه یـــــادیــــږی

پـــــاك لــــــه هـــرنـــقـــصـــه لــــه حسد دے

مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے

ورتـــــــــه خیـــــــرد جهـــــــــان وائـــــــی

ورتـــــــه نـــمــــــرد آســــمـــــان وائـــــی

دوســــــت دپـــــاك الـــلــــه صـــمـــد دے

مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے مـــــحـــــمـــــد ﷺ دے

دوســــــــــت زمـــــــــا دے د جهـــــــــــان

مـــــــــاراوړے پـــــــــري ایـــــمـــــــان

یــــــاد احـــمـــــده ! پـــــه احـــمـــد ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ﷺ دے محمد ﷺ دے

## ( 98 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

سپرلے راځي تل د ګلونو سره
د پاك نبي ﷺ ښكلي يادونو سره
رايادوي راته نبي ﷺ د جهان
سپرلے راځي د ښه وختونو سره
كامل سكون راته سپرلي ښودلے
نښته د نورو موسمونو سره
پكښې اثار د محبت پراته دي
راځي راځي د ښه كارونو سره
په ډير خه پوهه په سپرلي سره شوم
راځي سپرلے د جوابونو سره
پكښې سوالونه جوابونه پټ وي
راځي د ښه عادتونو سره
هرځائے د پاك نبي ﷺ صفت وي پكښې
راځي احمده ! د نعتونو سره

## ( 99 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك د نبي ﷺ چې پاك وطن غواړي
هغه ښائسته ښكلے چمن غواړي
څوك چې رحمت د دوجهان غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د پاك نبي ﷺ لمن غواړي
څوك چي رڼا د هدايت غواړي
هغه د پاك نبي ﷺ سُخن غواړي
څوك چي طالب وي د صفاتو تولو
هغه امام د هريو تن غواړي
ورله په كار دے په قرآن عمل
څوك په دنيا كښي چي امن غواړي
د پاك نبي ﷺ مينه سنت كښي شته دے
مينه د پاك نبي ﷺ چي نن غواړي
مينه كښي سختي قرباني پرتے دي
څوك چي دا سخته د بدن غواړي
احمده ! حق سره تړلے به وي
كار په دنيا چي د حسنؓ غواړي

## ( 100 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چي عمل په شريعت غواړي
هغه مولیٰ نه هدايت غواړي
هغه محبوب لري سنت د نبي ﷺ
څوك چي امان د هر بدعت غواړي
رڼا رڼا ده هر مقام د پاره
څوك چي قرآن سره سنت غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور پکاریږي په محشر به زمونږ
څوك چي نجات په آخرت غواړي

په هر سنت کښي د نبي ﷺ رضا ده
څوك د نبي ﷺ چي محبت غواړي

په هر سنت کښي نیك بختي پرته ده
څوك چي دنیا کښي سعادت غواړي

په هر سنت کښي د آخر ګټه ده
څوك چي دنیا کښي دا نعمت غواړي

دا دے عزت د هر مقام د پاره
دا دي رحمت چي څوك رحمت غواړي

احمده ! دغه د مولیٰ کرم دے
څوك چي دا سیورے هر ساعت غواړي

## ( 101 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تلوته د نبي ﷺ در مي زړهٔ کیږي
څکه دلته کښي علاج مي نهٔ کیږي

هلته به د زړهٔ چمن اباد کړمه
هلته کښي علاج د هر چا بشهٔ کیږي

تنګ یم زړهٔ مي غواړي په دیدن پسے
څکه په خپل کور کښي مي سا ړهٔ کیږي

لاړي او کوڅي دیار لیدل غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلته هر طرف ته ښۀ کاتۀ کيږي
خوند کوي منظر دغه سحر ماښام
خوند سره مدام هلته کښې تلۀ کيږي
وريه شي احمده ! په دنيا کښې تۀ
شي به ښۀ خبر چې هلته څۀ کيږي

## ( 102 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې مديني طرف ته يو واره نن تلل غواړي
هغه حقيقت کښې د نبی ﷺ د رليدل غواړي
در د پاك نبی ﷺ ټول معطره په دنيا کښې دے
در د پاك نبی ﷺ ټول منوَره په دنيا کښې دے
دغه در قسم دے په دنيا کښې نن کتل غواړي
څوك چې مديني طرف ته يو واره نن تلل غواړي
دغه تمنا ده په دنيا د عاشقانو نن
دغه تمنا ده په دنيا د عالمانو نن
هلته پاك نبی ﷺ سره نزدې تل وسيدل غواړي
څوك چې مديني طرف ته يو واره نن تلل غواړي
دغه تمنا ده په دنيا د اولياء ټولو
دغه تمنا ده په دنيا کښې د هرچا ټولو
ښکلې قدمونه دغه ښکلے پاك مزل غواړي
څوك چې مديني طرف ته يو واره نن تلل غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــــه يــو دعــــا ده هــر ســاعــت درب نـــه غــوارمــه
زه احـــمـــد عـــلـی کـلـــه کـلـــه وريـســي ژاړمـــه
څکـــه چي ديدن د پاك نبی ﷺ د هــر مـحل غواړي
څـوك چي مديني طرف ته يو وارے نن تلل غواړي

## ( 103 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تــــــه د بـــــدعـــــت ســـــره وفـــــا مـــــه کـــوه
مـــاتـــــه بيـــا وايـــــه چـــي تـــــه دا مـــــه کـــوه
تـــــا د بـــدعـــت ســـره دوستـــی ســـاتـــلـــے
تـــــا شـــــرارت ســـــره دوستـــی ســـاتـــلـــے
مـــلــګـــرتيـــا شـــر ســـره اشـــنـــا مـــــه کـــوه
مـــاتـــــه بيـــا وايـــــه چـــي تـــــه دا مـــــه کـــوه
تـــــا اشـــنـــايـــان دي بـــدعتيـــان نيـــولـــی
تـــا اشـــنـــايـــان دي مشـــرکـــان نيـــولـــی
کـــــار تـــــه د ظـــلـــم او جـــفـــا مـــــه کـــوه
مـــاتـــــه بيـــا وايـــــه چـــي تـــــه دا مـــــه کـــوه
تـــــا د ابـــليـــــس ســـره وفـــا ســـاتـــلـــے
تـــا چـــارســـويـــس ســـره وفـــا ســـاتـــلـــے
تـــــه پـــه ســـنـــت پـــســـي خـــنـــدا مـــــه کـــوه
مـــاتـــــه بيـــا وايـــــه چـــي تـــــه دا مـــــه کـــوه
تـــــا تـــــه احـــمـــد څـــکـــــه پـــه جـــار وئـيـلـــی

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــــا تـــــه احـــمـــد پـــــه هـــر دربـــار وئيـــلـــى
اول پــــــه خپـــلـــــــه كـــــار خـــطـــا مـــــۀ كــوه
مـــاتــــــه بيـــا وايــــه چـــي تـــــۀ دا مـــــۀ كــوه

## ( 104 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ميـــنــــــــه پــــــه زړۀ كښـــي د ســـنـــت اوګـــوره
ورتــــــــه ســــوچ وكـــــړۀ، حـــقـيـــقــــت اوګـــوره
تــــــۀ دعــــويــــدار ئــــي دنبـــى ﷺ دميــنـــــي
ښــــــۀ خبـــــردار ئـــــي د نبـــى ﷺ د ميـــنـــــي
زړۀ كښـــــي دا ميــــنـــــــه مــحـبـــت اوګـــوره
ورتــــــــه ســــوچ وكـــــړۀ، حـــقـيـــقــــت اوګـــوره
تـــــا پــــــه نبـــى ﷺ بـــــانــدي ايــمـــــان راوړے
داســــــي ايــــمـــــــان تـــــا پــــــه قـــــرأن راوړے
زړۀ كښـــــي دے نـــــور د هـــــدايـــــت اوګـــــوره
ورتــــــــه ســــوچ وكـــــړۀ، حـــقـيـــقــــت اوګـــوره
تـــــا د نبـــى ﷺ هـــــريـــــو مــــقـــــام مــنــلـــے
تـــــــــا د درود ســـــــره ســــــلام مــــــنـــــلـــــے
زړۀ كښـــــي مـــقـــــــام د رســـــالــــت اوګـــــوره
ورتــــــــه ســــوچ وكـــــړۀ، حـــقـيـــقــــت اوګـــوره
ستـــــا هــــــر ادا د مـــحـــمــــد ﷺ خــــوښـــــه ده
وائـــــے بيـــــا بيـــــا د مـــحـــمــــد ﷺ خــــوښـــــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپله دعوىٰ کښې صداقت اوګوره
ورته سوچ وکړۀ ، حقیقت اوګوره
تا هر بیان د مصطفیٰ ﷺ منلے
دغه بیان هر یو دانا منلے
وائي احمد خپل شریعت اوګوره
ورته سوچ وکړۀ ، حقیقت اوګوره

## ( 105 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

تۀ بدعتی ئې ځکه تۀ ئې دبدعت محافظ
زۀ یم سُنّي ځکه هر ځائے یم د سنت محافظ
تۀ د ابلیس سره ملګرې ئې ابلیس پسې ځے
زۀ یم هر ځائے کښې د اللّٰه د شریعت محافظ
تۀ د نفرت خبرې هر ځائے کښې هر چا ته کوے
زۀ په دنیا کښې یم د مینې محبت محافظ
تۀ په دروغو ئې عاشقۀ په دغې ښۀ پوهیږے
زۀ یم هر ځائے کښې هر ساعت د صداقت محافظ
تۀ د قرآن نه لرې لرې په جهان کښې اوسې
زۀ یم هر ځائے کښې د قرآن د تلاوت محافظ
تا ته ګناه د جهان دلته کښې نیکی ښکاریږي
زۀ د نیکو د دې جهان یم د نعمت محافظ
تا سره قدر د ایمان د لوئې دولت نشته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



زۀ پــه دنیــا یـم د ایـمــان د لـوئي دولت مـحـافـظ

تا خپل ژوندون په شرك كښې دلته تباه كړے دے تول

زۀ قــدردان د خپــل ژونـدون د هـر ســاعت مـحـافـظ

تــه د دوستــی نــه نــاخبــر ئـي نـاخبـرو كښې ئـي

وائــی احــمـد تــۀ ئــي دجهـل جهـالـت مـحـافـظ

زۀ يـمــه دلتــه كښــې د علـم د حـكـمت مـحـافـظ

## ( 106 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

ځــوك چــې مـصـطـفــیٰ ﷺ ســره كـوی میـنــه

هــغـــه نــور رنـــا ســـره كـــوی میــنـــه

ځــوك چـــې د نبـــی ﷺ پـــه لاره تــلــل كــوی

هــغـــه د الـــلّـــه ســـره كـــوی میـــنـــه

ځــوك چـــې د اســلام كـــارونـــه دلتـــه كــړی

هــغـــه حــق ویـــنـــا ســـره كـــوی میــنـــه

ځـــوك چـــې د قـــرآن ســـره كـــوی میـــنـــه

هـــغـــه اولیـــاء ســـره كـــوی میـــنـــه

ځــوك چـــې د اصـــحـــابوؓ ســـره میـنـــه كــړی

هــغــه مــجتبــیٰ ﷺ ســـره كــوی میـنــه

ځــوك چــې بــې وفــا نـــه وی جـفــا نـــۀ كـری

هـــغـــه د وفـــا ســـره كـــوی میـــنـــه

ځـــوك چـــې دفـــلاح كـــارونـــه نـــۀ كـــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د دنیا سره کوی مینه
څوك چې د سنت سره وفا نۀ کړي
هغه ناروا سره کوی مینه
څوك چې بدعت سره رشته لري
هغه د بلا سره کوی مینه
هغه به احمده! تل خوشحاله وی
څوك چې د مولىٰ سره کوی مینه

## ( 107 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

کار د شیطان د شیطانت بۀ نۀ دے
کار په دنیا کښې د بدعت بۀ نۀ دے
کار د رضا د خپل مولىٰ کوه تل
د خپل مولىٰ نه بغاوت بۀ نۀ دے
کار د رسول ﷺ د دې جهان کوه تل
د پاك رسول ﷺ مخالفت بۀ نۀ دے
کار د اصحابوؓ په جهان کښې بۀ دے
د دوی د لارې نه غفلت بۀ نۀ دے
نیکان په لاره د رسول الله ﷺ وی
د دوی د لارې نه نفرت بۀ نۀ دے
لار د نبی ﷺ د هر امام دلته ده
بې له دې ډلې نه صحبت بۀ نۀ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



احمده ! دا هوښيار سړي ته وايه

نادان سړي ته نصيحت ښه نه دے

## ( 108 ) د قران کريم فضيلت

### (قران کريم ته د حضورﷺ اخلاق وائي)

غوره کتاب په کتابونو کښي قران ياديږي

د حق باطل په مينځ کښي فرق په جهان ياديږي

په هريو حرف باندي بدله ده هر انسان د پاره

ښائسته اخر لره توښه ده مسلمان د پاره

ځکه ملګري په محشر د مسلمان ياديږي

غوره کتاب په کتابونو کښي قران ياديږي

يو په نومونو کښي شفا په دي دنيا کښي لري

د هر مرض دلته دوا په دي دنيا کښي لري

علاج دنيا کښي د دنيا د هر انسان ياديږي

غوره کتاب په کتابونو کښي قران ياديږي

مونږه په دي سره يهود او عيسايان پيژنو

مونږه په دي سره بدعت او مشرکان پيژنو

ځکه يو نوم ئي په نومونو کښي فرقان ياديږي

غوره کتاب په کتابونو کښي قران ياديږي

پکښي د مونځ او دروژے ذکر راغلے د ربَ

په هر صفحه کښي ماصفت ښائسته ليدلے د ربَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څکه لقب سره هرځائے کښي په برهان يادېږي
غوره کتاب په کتابونو کښي قرآن يادېږي
د حج احکام پکښي راوستي دي مولیٰ زمونږه
احکام تمام پکښي راوستي دي مولیٰ زمونږه
واضحه هريو حرف لري څکه بيان يادېږي
غوره کتاب په کتابونو کښي قرآن يادېږي
احمدئي څکه تلاوت سره مزے اغستي
احمدئي څکه برکت سره مزے اغستي
سکون د هريشر دنيا کښي اطمينان يادېږي
غوره کتاب په کتابونو کښي قرآن يادېږي

## ( 109 ) د قرآن کريم اهميت

څوك چي د ژوند د پاره لاره د قرآن ونيسي
هغه به لاره په دنيا کښي د رحمٰن ونيسي
بدلون راځي په دي قرآن سره زمونږ په ژوند کښي
بدلون راځي په حق بيان سره زمونږ په ژوند کښي
ډير خوش نصيب به وي چي لاره د جانان ونيسي
څوك چي د ژوند د پاره لاره د قرآن ونيسي
د دي ژوندون د تيرولو طريقه ده پکښي
د دي ژوندون د سمولو طريقه ده پکښي
پوهه سري دے چي رهبر څوك عاليشان ونيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك چې د ژوند د پاره لاره د قرآن ونيسي

دغه دنيا كښې يو ډيوه ده هر بشر د پاره

رڼا دنيا كښې دا ډيوه د هر يو در د پاره

هوښيار سړي دے چې لمن د مهربان ونيسي

څوك چې د ژوند د پاره لاره د قرآن ونيسي

دا نصيحت، دغه عزت د هر بشر د پاره

وائي احمد دغه رحمت د هر يو در د پاره

ډير معزز دے چې څوك دغه حق بيان ونيسي

څوك چې د ژوند د پاره لاره د قرآن ونيسي

## ( 110 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك چې رهبر ځان له نبی آخرزمان ﷺ ونيسي

هغه كامياب دے چې رهبر ځان له قرآن ونيسي

داسې رهبر په ټول جهان كښې ملاوېږي نه بل

داسې بشر په ټول جهان كښې ملاوېږي نه بل

دير عاليشان دے چې لمن د عاليشان ونيسي

هغه كامياب دے چې رهبر ځان له قرآن ونيسي

نه انسانانو كښې رهبر داسې موندلے شي بل

نۀ امامانو كښې رهبر داسې موندلے شي بل

هغه هوښيار دے چې لمن د قدردان ونيسي

هغه كامياب دے چې رهبر ځان له قرآن ونيسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــهٔ پــه وليــانو صــالــحــانو كښې رهبر داسې شته

نــهٔ پــه نبيــانــو رسولانو كښې بشر داسې شته

هغــه عــاقــل دے چې دنيــا كښې حق بيان ونيسى

هغــه كــاميــاب دے چې رهبر ځان لــه قرأن ونيسى

رڼــا ښــكــلا ئــې طــريــقــه كښې د جهــان پرتــه ده

رڼــا ئــې دلتــه د سيــرت پــه هــر حــصــه پــرتــه ده

لار د جــنــت ده چــې څوك لار د نور عــرفــان ونيسى

هغــه كــاميــاب دے چې رهبر ځان لــه قرأن ونيسى

وائــې احــمــد د هــر نسبت نــه ئې عــالــې نسبت دے

قــول او عــمــل ئې هريشر لــه پــه دنيــا حجت دے

لار د نــجــات ده چــې مــلــګــرې مهــريــان ونيســى

هغــه كــاميــاب دے چې رهبر ځان لــه قرأن ونيسى

## ( 111 ) نعتِ مصطفىٰ ﷺ

راشــــه لــــمــــن د مــــصــــطــــفــــىٰ ﷺ ونيســــه

واخــــلــــه ســــنــــت ډيــــوه رڼــــا ونيســــه

دا ضــــــروړت د هــــــر بشــــــر دے وروره

دا ضــــــروړت د هــــــريــــــو در دے وروره

تــــوښــــه مــــحشــــر لــــه د دنيــــا ونيســــه

راشــــه لــــمــــن د مــــصــــطــــفــــىٰ ﷺ ونيســــه

دا پــــكــــاريــــږي درنــــه هيــــر چــــې نشــــى

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژوندون بغير له دي نه تير چي نشي

خير په دنيا کښي د عقبیٰ ونیسه

راشه لمن د مصطفیٰ ﷺ ونیسه

نور پکښي پروت دے په نظر نهٔ راځی

دا په نظر د هر بشر نهٔ راځی

حقه وینا د مجتبیٰ ﷺ ونیسه

راشه لمن د مصطفیٰ ﷺ ونیسه

تا ته احمد دا نصیحت کوی نن

تا سره ځکه محبت کوی نن

لار د شیطان نه تل جُدا ونیسه

راشه لمن د مصطفیٰ ﷺ ونیسه

## ( 112 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مدینه ده مدینه ، ورته څوك چي ځی راځی

د انوارو ده چینه ، ورته څوك چي ځی راځی

پکښي هر طرف رنا ، پکښي حسن او ښُکلا

د ګتمي ده نګینه ، ورته څوك چي ځی راځی

در د سیَد البشر ﷺ ، نوراني تول منوَر

پکښي شته دے سکینه ، ورته څوك چي ځی راځی

هر محفل ئي خوشبودار ، خوشبوداره ئي هر لار

ده دامن سفینه ، ورته څوك چي ځی راځی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هريو ځيزئي عزت مند، هريو ځيزئي قدر مند

په لقب ده حسينه، ورته ځوك چي ځی راځی

زۀ احمدئي كرم صفت، ډير عالی لری نسبت

داده دا زما مينه، ورته ځوك چي ځی راځی

## ( 113 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

غوارم ليدل ستا د حرم مدنی ﷺ

ځكه شوم تنګ نن په عجم مدنی ﷺ

زړۀ مي زخمي په دغي در پسي دے

غواړی د دغي در ملهم مدنی ﷺ

يو يو لمحه رابانديٍ ګرانه شوله

جوړ شو ژوندون په ما تورتم مدنی ﷺ

سختی په ما بانديٍ بيحده شوله

زيات شو زما د فراق غم مدنی ﷺ

سحر ماښام دغه سوچونه كوومه

نۀ شول زما سوچونه كم مدنی ﷺ

اظهار د ميني به زۀ چا ته وكړم

احمد او چت كړلو قلم مدنی ﷺ

## ( 114 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

رهبر زما رهبر د مديني منوري دے

دلبر زما دلبر د مديني منوي دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلبـــر زمـــا دلبـــر د دلبـــرانـــو نـــه اعـلیٰ هـغـــه
ممتـاز پـه هـر صـفـت سره قسم دے پـه دنيا هغه
افســـر زمـــا افســـر د مــديـنــي مـنــوري دے
دلبـــر زمـــا دلبـــر د مــديـنــي مـنــوي دے
افســر د هــر بشــر هـغــه دنيــا كښـي د دنيــا د در
افســر د هـريـو در هـغــه دنيـا كښي نـورانـی بشـر
اختـــر زمـــا اختـــر دمــديـنــي مـنــوري دے
دلبـــر زمـــا دلبـــر د مــديـنــي مـنــوي دے
شفيع د انسـانـانو دے قسم دے پـه محشر هغه
سـاقی د انسـانـانو دے محشر كښي د كوثر هغه
قـمـــر زمـــا قـمـــر د مــديـنــي مـنـوري دے
دلبـــر زمـــا دلبـــر د مــديـنــي مـنــوي دے
عـزت دے هـريـو درلـره رحـمـت دے هريشـر لـره
راغــلـــے هــدايــت لــره قسـم دے هـريــو درلــره
اظهـــر زمـــا اظهـــر د مــديـنــي مـنــوري دے
دلبـــر زمـــا دلبـــر د مــديـنــي مـنــوي دے
طـــٰه ســـره يٰسيـــن هـغـــه احـمـده ! د دنيـــا د در
صـــادقـــه او اميـــن هـغـــه احـمـده ! د دنيـــا د در
د نـمـــر ســـره ســـحـــر د مـديـنـي مـنـوري دے
دلبـــر زمـــا دلبـــر د مــديـنــي مـنــوي دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 115 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مصطفیٰ ﷺ مجتبیٰ ﷺ، رهنما، رهنما
مصطفیٰ ﷺ مجتبیٰ ﷺ زما نور او رڼا

په هر چا دے مئین. اولین آخرین
هم صادق او امین، داوینا ده صفا
مصطفیٰ ﷺ مجتبیٰ ﷺ، رهنما، رهنما

نور د هر یو نظر، نور د هر یو سحر
نور د هر یو بشر، هر ادا ئي جدا
مصطفیٰ ﷺ مجتبیٰ ﷺ، رهنما، رهنما

تل د زړونو تکور، نور ئي هر خواته خور
رهنما د هر کور، رهنما زما ستا
مصطفیٰ ﷺ مجتبیٰ ﷺ، رهنما، رهنما

زۀ د دوی تابعدار، زۀ دا وایم په جار
د احمد دے گفتار، هم یٰسین وطٰهٰ ﷺ
مصطفیٰ ﷺ مجتبیٰ ﷺ، رهنما، رهنما

## ( 116 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

(د بدعت مذمت په حقیقت کښې د سنت اهمیت ظاهروي. از احمدعلی)

د بدعت لاره مسلمانانه! تا د پاره نۀ ده
د ازغو ونۀ ده، دا ونۀ میوادره نۀ ده
د بدعت لاره کښې ازغی په دې جهان پراتۀ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بدعــت لاره کښــې ازغــی پــه هر مکان پراته دي
لاره کـــږه ده پـــه دنیـــا کښـــې عــزت داره نــه ده
دا زغـــو ونـــــه ده، دا ونـــــه میـــوادره نــــه ده
دا د نـــادان ســړی ده نــخــه چـې روان پــه دي دے
لار د ابلیـــس ده پـه دنیا کښـې هـر شیطان په دي دے
لاره ده کـــنـــدے د دنیـــــا لاره هـــواره نــــه ده
دا زغـــو ونـــــه ده، دا ونـــــه میـــوادره نــــه ده
هـــریـــو هـوښیـار ســړي د دي نـــه لـرې لـرې اوســـی
هـــریـــو دیـنـدار ســړي د دي نـــه لـرې لـرې اوســـی
د شیـــطــــانــــانــو لاره لاره نیــغـــــه لاره نـــه ده
دا زغـــو ونـــــه ده، دا ونـــــه میـــوادره نــــه ده
دا د احـــمـــد دے نـــصیــحـــت د هـــر بشـــر د پـــاره
دا پــــه دنیـــا د ے نــصــحیــت د هــر افســر د پـاره
لاره گـــنـــده ده دغـــــه لاره خـــوشبـــوداره نــــه ده
دا زغـــو ونـــــه ده، دا ونـــــه میـــوادره نــــه ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 117 ﴾

راشـــــه وکـــــړه د نبـــــی ﷺ ســـــره یـــــاري
ستـــا نـــصیـــب بــــه د جهـــان شـــی ســـرداري
ســـرداري بــــه د جهـــان شـــی ستـــا نــصیـــب
ســـرداري بــــه عـــالیشـــان شـــی ستـــا نــصیـــب

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـــــس دُنیـــــا کښـــې ده پــکـــــار لړه خـــواري
ستــــا نــصیـــب بـــــه د جهـــان شـــی ســـرداري
ستــــا نــصیـــب بـــــه د دنیـــا شـــی هــرعـــزت
ستــــا نــصیـــب بـــــه د دنیـــا شـــی هـــر دولـــت
د مــــــحشـــــــــر د پــــــــاره دا ده تیـــــــاري
ستــــا نــصیـــب بـــــه د جهـــان شـــی ســـرداري
ستــــا نــصیـــب بـــــه امـــامـــت شـــی د جهـــان
ستــا نــصیــب بــــه هـــرنعـمـت شـی د جهـــان
ختـــمـــــه زړۀ نـــــه د نــفـــاق کـــړۀ بیـــمــــاري
ستــــا نــصیـــب بـــــه د جهـــان شـــی ســـرداري
ستــــا نــصیـــب بـــــه شـــی دستـــار د مــحبــت
ستــــا نــصیـــب بـــــه شـــی اقـــرار د مــحبـــت
ستـــــا بــــــه ختــمـــــــه شـــی د زړۀ بیـــقـــراري
ستــــا نــصیـــب بـــــه د جهـــان شـــی ســـرداري
ستــــا نــصیـــب بـــــه شـــی رضـــا د ربَ اکبـــر
د احــــمـــــد د حـــق بیـــان نــــــه شـــــۀ خبــــر
عـــاجـــزي پیـــدا کـــړۀ ځـــان کښـــې خـــاکســـاري
ستــــا نــصیـــب بـــــه د جهـــان شـــی ســـرداري

## ( 118 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

مـخا مـخ خـوب کـښـې راتـه کـلـے د جانان ﷺ ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي جنت راته ښائسته ښهٔ عالیشان ښکاري

دلته رحمت د برکتونو سلسلې پرتې دي
دلته ښُکلا دحُسن ټولې نظارې پرتې دي
ګل د ګلونو د ګلاب اود ریحان ښکاري
ښکلي جنت راته ښائسته ښهٔ عالیشان ښکاري

سترګي مې پټې دي خو بیا هم مخا مخ ښکاریږي
لکه د نمر د په شان رڼا په دې جهان ځلیږي
داسې یو نمر داسې قمر په دې جهان ښکاري
ښکلي جنت راته ښائسته ښهٔ عالیشان ښکاري

ورسره مینه محبت د هر بشر په زړهٔ دے
ورسره مینه محبت د هر افسر په زړهٔ دے
مبتلا مینه کښې ئې دلته هر انسان ښکاري
ښکلي جنت راته ښائسته ښهٔ عالیشان ښکاري

یو د خوشبو ماحول په کښې دے ربّ مولیٰ جوړ کړے
یو دخوشبو ماحول هلته کښې ربّ هرخوا جوړ کړے
هریو بیان ئې خوشبوداره د مکان ښکاري
ښکلي جنت راته ښائسته ښهٔ عالیشان ښکاري

ځکه احمد ئې په اشعارو تذکره کړے ده
هرځائے کښې دلته ئې اغیارو تذکره کړے ده
ستوري دنیا کښې دنبي ﷺ په کښې یاران ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلي جنت راته ښائسته ښۀ عاليشان ښکاري

## ( 119 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

د مدينې لاور کوڅو کښې تل انوار ښکاري
دغه انوار د مرسلانو د تاجدار ﷺ ښکاري
په هر قدم دغه رڼا به ملاويږي تاته
په ټول عجم دغه رڼا به ملاويږي تاته
په ټول عالَم کښې د نبی ﷺ دغه اثار ښکاري
دغه انوار د مرسلانو د تاجدار ﷺ ښکاري
دغه رڼا ده عالمانو صالحانو سره
رڼا د پاك نبي ﷺ ده دلته امامانو سره
په دغې نور سره ښائسته ښکلے هر ښار ښکاري
دغه انوار د مرسلانو د تاجدار ﷺ ښکاري
رڼا په دې رڼا دے زړۀ د مسلمان دلته کښې
رڼا په دې رڼا دے دغه ټول جهان دلته کښې
هريو مکان په دې رڼا ښۀ مزيدار ښکاري
دغه انوار د مرسلانو د تاجدار ﷺ ښکاري
تاته احمده! څکه در د مدينې ياديږي
تاته احمده! پيغمبر ﷺ د مدينې ياديږي
ستا په خبرو کښې احمده! دا اثار ښکاري
دغه انوار د مرسلانو د تاجدار ﷺ ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ( 120 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حاجي صاحبه! چي ورځې خیر البشر ﷺ ته
یوسه سلام ځان سره ، زما دلبر ﷺ ته
ایسار چي نشي انتظار ونکړې
له دي خبري نه انکار ونکړې
وایه سلام د افسرانو مي افسر ﷺ ته
یوسه سلام ځان سره ، زما دلبر ﷺ ته
وایه په مینه محبت سره دا
شه په ادب او په عزت سره دا
یوسه سلام مي د دنیا عالي رهبر ﷺ ته
یوسه سلام ځان سره ، زما دلبر ﷺ ته
په هر مقام درنه ادب هیر نهٔ شي
سحر ماښام درنه ادب هیر نهٔ شي
په توجه سره مي غوږ کیږده خبر ته
یوسه سلام ځان سره ، زما دلبر ﷺ ته
دا په محشر به پکاریږي هم ستا
دا په هر در به پکاریږي هم ستا
سلام مي یوسه د نبیانو پاس قمر ﷺ ته
یوسه سلام ځان سره ، زما دلبر ﷺ ته
دا نیك عمل د امانو تولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا نيك عـــمـــل دے د نيـــكـــانـــو تـــولـــو
ســلام مـــي يــوســه قــدرمـنـده دغـــه درتـــه
يــوســـه ســلام ځــان ســره ، زمــا دلبــر ﷺ تـــه
دغـــــه تـــوښـــه دآخـــرت زمـــونـــږه
رنـــا احـــمـــده ! هـــرســـاعـــت زمـــونـــږه
وايـــه ســلام هــغـــهٔ آخيـرى پيــغـمبـر ﷺ تـــه
يــوســـه ســلام ځــان ســره ، زمــا دلبــر ﷺ تـــه

## ( 121 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

د ســلامــونــو ډالــيِ يــوســه پيــغــمبــر ﷺ تـــه
ځــے چـي حـاجــى صــاحبـه ! مـديـنـي درتـه
يـــوســـه ســلام خيـــر الابـــرار نبـــى ﷺ لـــه
يـــوســـه ســلام هــغـــه تـــاجـدار نبـــى ﷺ لـــه
انتـــظـــار مـــهٔ كـــوه ســحـــرا و مـــازيـــگـــرتـــه
ځــے چـي حـاجــى صــاحبـه ! مـديـنـي درتـه
هـــغـــه امـــام د مـــامـــانـــو نبـــى ﷺ
مـــاوِ تـــمـــام هـــم د پيـــريـــانـــو نبـــى ﷺ
راغـلـے هـغـه پـه دنيـا كـبنـي هـر بشـرتـه
ځــے چـي حـاجــى صــاحبـه ! مـديـنـي درتـه
ورشـــــه او ورشـــــه قـــدردانـــــه
مـــخـــكـبنـــي روان شـــه لـــه هـــرچـــانـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــادي كـــوه د مـــديـنـــي دغـــي ســفـــر تـــه
ځــے چــي حــاجــی صــاحبــه ! مـديـنـي در تـــه
دا د قســـــمـــــت تـــــل فيــــصــــلــــے دی
ورســـــــره څـــوك چـــي نـــن نـــزدے دی
وائــــی احـــمـــد لاړ شــــه د دو جهـــان افســـر تـــه
ځــے چــي حــاجــی صــاحبــه ! مـديـنـي در تـــه

## ( 122 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

راځـــے چـــي لاړ شـــو د جـــانـــان كـــلـــی تـــه
د پـــاك نبـــی آخـــر زمـــان ﷺ كـــلـــی تـــه
دا امـــــنـــــي بـــــی بـــــی دلبـــــر لـــــره ځـــو
د مـــؤمـــنـــانـــو د زړۀ ســـر لـــره ځـــو
د كـــائـــنـــات د در ســـحـــر لـــره ځـــو
لاړ شـــو راځـــے چـــي د سـلـطـان ﷺ كـلـی تـــه
د پـــاك نبـــی آخـــر زمـــان ﷺ كـــلـــی تـــه
هـــلـتـــه ولاړ بـــه د جـــنـــګـــلـــي ســـره يـــو
يـــو ځـــائـــے د نـــور بـــه مـــديـــنـــي ســـره يـــو
ديـــره بـــه مـــونـــږه د روضـــي ســـره يـــو
ورځـــی نبـــی ﷺ لـــه عـــاشـــقـــان كـــلـــی تـــه
د پـــاك نبـــی آخـــر زمـــان ﷺ كـــلـــی تـــه
هـــلـتـــه درود هـــلـتـــه ســـلام پـــه نبـــی ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوند کوي دا سحر ماښام په نبي ﷺ

مزه کوي درود تمام په نبي ﷺ

لاړ شو راځې چې عاليشان کلي ته

د پاك نبي اخرزمان ﷺ کلي ته

ورځې او شپې پکښې خوندونه کوي

قسم دې ذکر خوند پکښې ذکرونه کوي

خوند پکښې هر ځائې بيانونه کوي

لاړ شو راځې چې د درمان کلي ته

د پاك نبي اخرزمان ﷺ کلي ته

راځې په جمع مديني ته چې ځو

راځې ښائسته دغي کوځي ته چې ځو

وائي احمد پاکې روضې ته چې ځو

لاړ به شو مونږ دقدردان کلي ته

د پاك نبي اخرزمان ﷺ کلي ته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 123 ﴾

رڼا د دين د هر سحر رڼا ده

داسې زمونږه پيغمبر ﷺ رڼا ده

پکښې شو مې پتې رڼا ګانې تولې

ورسره لاړې ژړا ګانې تولې

داسې دُنيا کښې د هر در رڼا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي زمونږه پيغمبر ﷺ رڼا ده

ورسره نُور په ټول جهان کښې راغې

ورسره نور په آسمان کښې راغې

يا ده دُنيا کښې د قمر رڼا ده

داسي زمونږه پيغمبر ﷺ رڼا ده

زړونه رڼا شول د جهان ورسره

زړونه رڼا شول د انسان ورسره

بره د ستورو او د نمر رڼا ده

داسي زمونږه پيغمبر ﷺ رڼا ده

رڼا رڼا شو ټول عالَم ورسره

رڼا عرب شول و عجم ورسره

زمونږ نبی ﷺ د بحر و بر رڼا ده

داسي زمونږه پيغمبر ﷺ رڼا ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 124 ﴾

عالی نوم د محمد خير الانام ﷺ دے

په سيرت صورت سره پوره تمام دے

د عيسو نو نه دے پاك د هريو در

رهنما هغهٔ نبی ﷺ د خاص او عام دے

د نفرت نه لرے لرے په دُنيا کښې

د رسول ﷺ په ژبه دلته هر کلام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



محبت د پاك نبي ﷺ په هر قدم دے
مهربانه دا نبي ﷺ په مقام دے
ديتيم غريب ملګرے د دنيا دے
ياد هر ځائے کښې په ادب او احترام دے
د مظلوم سړي ملګرے د دنيا دے
رڼا کړے د دنيا هغۀ مابنام دے
دا صفت د محمد رسول اللّٰه ﷺ دے
ياد په دغې صفتونو تل مدام دے
دا احمد وينا کښې مينه محبت دے
دا اثر د خوږ نبي ﷺ په دې غلام دے

## ( 125 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

حاجيان زمونږ د کلي ، مديني نه دي راغلي
قسم دے ښکلي ښکلي ، مديني نه دي راغلي
وختونه ئې تير کړي ، دحُسن باغيچه کښې
وختونه ئې تير کړي ، رسول ﷺ سره روضه کښې
په سترګو ماليدلي ، مديني نه دي راغلي
قسم دے ښکلي ښکلي ، مديني نه دي راغلي
ليدلي ئې ګلونه ، د پاك نبي ﷺ د ردي
ليدلي ئې لعلونه ، دپاك نبي ﷺ د ردي
صفا مروه ته تلي، مديني نه دي راغلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم دے ښکلی ښکلی ، مدیني نه دي راغلي
زمـــزم بـــانـدې مـــاړۀ دي ، واړۀ دي کـــۀ زاړۀ دي
ښـائسـتـــۀ پـــه دغـــې در دي ، زاړۀ دي کـــۀ واړۀ دي
سـختـو سـره ورغـلـي ، مـدينـي نـه دي راغلـي
قسم دے ښکلی ښکلی ، مدیني نه دي راغلي
آثـار پـه دوی پـراتـۀ دي ، انـوار پـه دوی پـراتـۀ دي
احـمـده ! رحـمـتـونـه د دار پـه دوی پـراتـۀ دي
چـې چـا ورتـه کتـلـي ، مـدينـي نـه دي راغلـي
قسم دے ښکلی ښکلی ، مدیني نه دي راغلي

## ( 126 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

د جهـــالـت تـورو تيـرو لـه هـدايـت هغـه دے
نـور د عـزت هغـه دے ډيـر زيـات اوچـت هغـه دے
تيـرے ئـې ختـمـې کـړے پـه نـور سـره د دې جهـان
تيـرے ئـې ختـمـې کـړے پـه نور سـره د هـر مکان
د هـر بشـر د پـاره سيـورے د رحـمـت هغـه دے
نـور د عـزت هغـه دے ډيـر زيـات اوچـت هغـه دے
تيـرے ئـې ختـمـې د بـدعـت کـړے بدعتيان خفه دي
مشـركـان ژاړي د دنيـا تـول شيـطـانـان خفـه دي
د هـر بشـر د پـاره نـور د سـعـادت هـغـه دے
نـور د عـزت هغـه دے ډيـر زيـات اوچـت هغـه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



خفه ابلیس دے په زړا زړائي ځان وژلے
خفه خیسس دے په زړا زړائي ځان وژلے
زمونږ ملګرے په محشر د اٰخرت هغه دے
نور د عزت هغه دے ډیر زیات اوچت هغه دے
هغه نبی ﷺ دے مهربانه له چانه بنۀ ډیر
هغه نبی ﷺ دے قدردانه له چانه بنۀ ډیر
محبوب دنیا کښي د اللّٰه ربُّ العزت هغه دے
نور د عزت هغه دے ډیر زیات اوچت هغه دے
ذکر احمد ئي د سیرت په خپل کتاب کښي کړے
ذکر احمد ئي د عظمت په خپل کتاب کښي کړے
عالي له چانه دنیا کښي په نسبت هغه دے
نور د عزت هغه دے ډیر زیات اوچت هغه دے

## ( 127 ) نعتِ مصطفیٰ ﷺ

څوك د کعبي نه طوافونه کوی
څوك مدینه کښي سلامونه کوی
څوك د حرم سره نژدي ولاړ
څوك د زمزم سره نژدي ولاړ
هو بنیاران خلق د اکارونه کوی
څوك مدینه کښي سلامونه کوی
څوك د روضي سره نژدي ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځوك د جنګلي سره نزدې ولاړ
درود سلام وائي ذكرونه كوي
ځوك مدينه كښې سلامونه كوي
ځوك په مكه كښې قدمونه اخلي
ځوك مدينه كښې قدمونه اخلي
ډير په كښې ځائے په ځائے نفلونه كوي
ځوك مدينه كښې سلامونه كوي
ځوك د صديقؓ عمرؓ په څنګ ولاړ دي
ځوك د اسلام په ښكلي رنګ ولاړ دي
خلق په جمع تول مونځونه كوي
ځوك مدينه كښې سلامونه كوي
ځوك په مكه كښې پاتے كيږي اوسي
ځوك مدينه كښې پاتے كيږي اوسي
په اطمينان په كښې خوبونه كوي
ځوك مدينه كښې سلامونه كوي
ځوك د صفا مروه په غر باندې دي
باب السلام سره ځوك در باندې دي
غواړي د ربّ نه دوی سوالونه كوي
ځوك مدينه كښې سلامونه كوي
دغه منظر احمده! ډير دے ښكلے

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــــه مـنـظــر دلتـــه چــي چــا ليــدلــے
خــــونـــد دغـــي درســـره كـــورونـــــه كــوي
څــوك مـــديـــنـــــه كـبنـــي ســــلامـــونـــه كـوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 128 ﴾

خيـــر الابـــراره نبـــي ﷺ، سيـــد الابـــراره نبـــي ﷺ
مــالـمـن ستــا نيــولــے زمــا غـمـخـواره نبــي ﷺ
زمــا د غــم د مــلــگـــرے، دلتــه هــر دم ملــگــرے
نــن پــه عـجـم مـلـگـرے، د ټول عـالَـم ملـگـرے
ستــا هـــر ادا مـــي خــوښــه، زمــا دلـداره نبــي ﷺ
مــالـمـن ستــا نيــولــے زمــا غـمـخـواره نبــي ﷺ
مــاتـــه وفــا ښــودلــے، تــا نــور رښــا ښــودلــے
حـقــه ويـنــا ښــودلــے، ويــنـــا رښتيــا ښــودلــے
دستـــرگــو تــوره نبــي ﷺ، د زړۀ قـــراره نبــي ﷺ
مــالـمـن ستــا نيــولــے زمــا غـمـخـواره نبــي ﷺ
اميــن د ټـولــو خـلـقــو، حسيــن د ټـولــو خـلـقــو
نيــازبيــن د ټـولـو خـلـقــو، يسيـن د ټولـو خلقـو
ستــا دا نــومــونـــه ټول دي پـــه هـــره لاره نبــي ﷺ
مــالـمـن ستــا نيــولــے زمــا غـمـخـواره نبــي ﷺ
تـــالـــــه قـــرآن راغـلــے، د حـق بيـــان راغـلــے
نُــور د جهـــان راغـلـــے، نــور د آسـمـــان راغـلـــے

(c) ketabton.com: The Digital Library



وحـي راغـلـے تـالـه هرچـا د پـاره نبـي ﷺ
مـالـمـن ستـا نيـولـے زمـا غـمـخـواره نبـي ﷺ
كـافـي ستـا نـور دے مـالـه، د حق دستور دے مـالـه
ښـائستـهٔ منشـور دے مـالـه، د زړهٔ سرور دے مـالـه
اسـلام كـافـي دے مـالـه اے تـاجداره نبـي ﷺ
مـالـمـن ستـا نيـولـے زمـا غـمـخـواره نبـي ﷺ

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 129 ﴾

يـاران راتـه ستـا كـلـے مـديـنـه رايـادوي
بيـا بيـا راتـه ستـا كـور كـلـے كـوڅـه رايـادوي
يـارانـو مـې ليـدلـے دے ستـا كـور كـلـے وطـن
يـارانـو مـې ليـدلـے خـوشبـوداره ستـا چـمن
خـوشبـو راتـه هـرځـائـے پـه حصـه رايـادوي
بيـا بيـا راتـه ستـا كـور كـلـے كـوڅـه رايـادوي
مـنـظـر د بيـت الـلـه او بيـا منـظـر دے روضـے
منظـر دے عجيبـه دے پـاك رسـوله ! ﷺ د جنګلـے
خـونـدونـه ستـا د در راتـه مـزه رايـادوي
بيـا بيـا راتـه ستـا كـور كـلـے كـوڅـه رايـادوي
صـفـا مروىٰ كښـې منډے عـجيبـه ښـائستـه منظر
مـنـظـر بـه مې هيـر نشـي مـديـنـه كښـې د سـحـر
مـنـظـر راتـه پـه حـج كښـې د كعبـه رايـادوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيـا بيـا راتـه ستـا كـور كـلـې كـوڅـه رايـادوي

احـرام سـره منـىٰ كښـې تـول وختـونـه د جهـان

درود سـلام سـره بيـا تـكبيـرونـه دجهـان

مـنـظـر د عـرفـات هـغـه جـلـوۀ رايـادوي

بيـا بيـا راتـه ستـا كـور كـلـې كـوڅـه رايـادوي

مـنـظـر د شيـن ګـنبـد ريـادوي راتـه دوستـان

احـمـد علـي حسيـن دے د نبـي ﷺ د دربيـان

مـلـګـري راتـه دغـه ورځ اوشپـه رايـادوي

بيـا بيـا راتـه ستـا كـور كـلـې كـوڅـه رايـادوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 130 ﴾

غـم كښـې پـه هـر در هـغـۀ را يـاد شـولـو

مـاتـه د زړۀ سـر هـغـۀ را يـاد شـولـو

تـا رانـه تپـوس د خپـل مـحبـوب اوكـړۀ

مـاتـه خپـل دلبـر هـغـه را يـاد شـولـو

چـا رانـه تپـوس د هـدايـت اوكـړۀ

مـاتـه نـور او نـمـر هـغـه را يـاد شـولـو

اُوكـړه تـذكـره چـې د مـعـراج خـلـقـو

مـاتـه پيـغـمبـر ﷺ هـغـه رايـاد شـولـو

ذكـر د هـجـرت چـې مـونـږ شـورو كـړلـو

مـاتـه حـق رهبـر هـغـه رايـاد شـولـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــــارانــــــه تپــــوس د نــــوررنـــــا کـــــړے
مـــاتـــــه بيـــا ســـحـــر هـــغـــــه رايــــاد شــولــو
مـــــانــــــه داخـــلاقـــو تـــــا تپـــوس کـــړے
دوســـــت د ربّ اکبـــــر هــــغـــــــه رايـــــاد شــــولــــو
تـــــا رانــــــه تپـــوس د خپـــل ســـکــون اوکـــړه
مـــاتـــــه خپـــل افســـــر هـــغـــــه رايـــــاد شــولــو
ذکـــــر د مـــحشـــــر د شـــفيـــع راغـــے چـــي
مـــاتـــــه يـــو بشـــر هـــغـــــه رايـــــاد شــولــو
هيـــر بـــــه رانــــــه نشـــی نـــن احـــمـــد عـــلــــی!
هـــر ځــــائــے بـــرابـــر هـــغـــــه را يـــاد شــولــو

﴿ 131 ﴾ نعتِ مصطفیٰ ﷺ

پـــه زړهٔ زخمـی دُنيـا کښي هـرانسان دلتـه جوړيـږی
د ميـنـــي مـحبـت پـــه لار روان دلتـــه جـوړيـــږی
نـــاروغــــه لاعـــلاجـــــه د عـــلاج د پـــاره راشـــے
دُنيـا کښـــي هـــر رنـځـور د دي جهـان دلتــه جـوړيـږی
زخـــمـــونـــه پـــټ دننـــه، چـي نـهٔ ښـکـاري پـه بـدن
زخـمـــونـــه د مـؤمـــن د مسـلــمـان دلتــه جـوړيـږی
فـــريــــاد چـــي کــوی دلتـــه خـاموشـــے لـــه نـهٔ راځـي
دُنيــــا کښــــي د دنيـــا دا بيـمــاران دلتـــه جـوړيـــږی
د بـــل نـــه نـــاخبـــره، بـــــس د ځـان سره ئـي کـاروی

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــه زړۀ زخــمــی دنـــنـــه عــاشـقــان دلـتــه جـوړيــږی
احـــمـــد د زړۀ عــلاج هـــم د دې درنـــــه کــوی نــن
بــابـا ســره دُنـيـا کـښـې هـريـو ځـوان دلـتــه جـوړيــږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 132 ﴾

وريــږی رحــمـتــونــه ، دغــه ځـائـے د رحـمـتـونـو دے
دا در د مــصــطــفـــیٰ ﷺ دے ، دا در د بــرکـتـونـو دے
بـــاران د رحـــمـتـــونـــو دلـتـــه کـښـې وی شـــا مــدام
وريـــږی رحـــمـتـــونـــه دلـتـــه کـښـې سـحـر مـابـښـام
خــوشـبـو ده راوريـــږی ، دغــه ځـائـے تـش د ګـلـونـو دے
دا در د مــصــطــفـــیٰ ﷺ دے ، دا در د بــرکـتـونـو دے
مــنــظـر ډيــر عـــجـيـبــه دے مـديـنـه کـښـې د جـهــان
انـــوار دی راوريـــــږی هـــر طـــرف تـــه د أســـمـــان
دا ځـائـے پـه ټول جهـان کـښـې رنګ په رنګ د نعمتونو دے
دا در د مــصــطــفـــیٰ ﷺ دے ، دا در د بــرکـتـونـو دے
دا در دے د صـــديـــقؓ او د عـــمـــرؓ عـثـمـــانؓ عــلـــیؓ
دا در دے پـــــه دنـيـــا کـښـــې د نـيـــکـــانـــو اوولـــی
دنـيـا کـښـې دغــه در د دې جـهـان د ښـۀ وخـتـونـو دے
دا در د مــصــطــفـــیٰ ﷺ دے ، دا در د بــرکـتـونـو دے
دا در دے د حـسيـــــنؓ او د حـســـنؓ وائـــی احـــمـــد
دنـيـــا کـښـې داسـې نشـتــه بــل چـمـن وائـی احـمـد

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا در د دي جهـــان د مـلـغـلـرو او لـعـلـونـو دے
دا در د مـصـطـفـیٰ ﷺ دے، دا در د بـرکتونـو دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 133 ﴾

ولیـدهٔ تـــا ښـکـلـے روضـــه، راتــــه ووایــــه
څــنګ وه مــدیـــنـــــه، راتــــــه ووایـــــه

د رحـــمتـــونــو بــــارانــونـــــه بـــــه وو
هـلـتـــه ښـائـستـــهٔ ښـکـلـی ګـلـونــه بــه وو
رایـــاده کــړه هــغـــــهٔ نـقشـــــه، راتــــه ووایـــه
څــنګ وه مــدیـــنـــــه، راتــــــه ووایـــــه

تـــابــــــه سـلام تــــه انتــظـــارکــــړے وی
تـــا بـــــه د میــنـــې خپــل اظهـــار کــړے وی
راتــــه کــړه تیـــره دا قیـــصـــــه، راتــــه ووایـــه
څــنګ وه مــدیـــنـــــه، راتــــــه ووایـــــه

تـــــا بـــــرکــــات د مــــحــمـــد ﷺ ولیـــدل
تـــا مــقـــامـــات د مـــحــمــد ﷺ ولیـــدل
هــغـــــه خــونـدونــــه او مــــزه، راتــــه ووایـــه
څــنګ وه مــدیـــنـــــه، راتــــــه ووایـــــه

روضـــــه دنـــنـــــه بــــــه لیـــدلـــے وی تــــا
یــــادونـــــه زړهٔ کښـــې بــــه ســـاتـلـے وی تــــا
څـنـګـه روضـې کښـې وه جـنګـلـه، راتــه ووایـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خــــنگ وه مـــديـــنـــــه، راتـــــه ووايــــــه

در د صـــــديـــقؓ او د عـــــمـــــرؓ وو دغـــــــه

در د عثــــمــــانؓ او د حيــــدرؓ وو دغــــــه

راتـــــه ئـــي وكـــړۀ تـــذكـــره ،راتـــه ووايـــه

خــــنگ وه مـــديـــنـــــه، راتـــــه ووايــــــه

ربَ كــــۀ پـــــه مـــا فــضــل احســـان وكـــړئ

پـــــه احــــمـــد فـــضـــل د مـــردان وكـــړئ

ورتـــه بـــه اوښـــائـــی كـــوځـــه، راتـــه ووايـــه

خــــنگ وه مـــديـــنـــــه، راتـــــه ووايــــــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 134 ﴾

مـــاتـــه مـــديـــنـــه ښـــكـــلـــے رايـــاده شـــوه

گــــل دا گـــلـــدستـــه ښـــكـــلـــے رايـــاده شـــوه

چـــرتـــه چـــي جبـــرئيـــل اميـــن راغـــلـــے دے

دغــــــه در جبــــــرئيـــل اميـــن ليـــدلـــے دے

مـــاتـــه دا كـــوځـــه ښـــكـــلـــے رايـــاده شـــوه

مـــاتـــه مـــديـــنـــه ښـــكـــلـــے رايـــاده شـــوه

بيـــا راتـــه رايـــاد ئـــي هـــر چـــمـــن شـــولـــو

بيـــا راتـــه رايـــاد ئـــي هـــر سُـــخـــن شـــولـــو

پـــاكـــه دا حـــصـــه ښـــكـــلـــے رايـــاده شـــوه

مـــاتـــه مـــديـــنـــه ښـــكـــلـــے رايـــاده شـــوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زړۀ لـــــه مـــي قــــرار او اطـــمـيــنـــــان راغـــي
زړۀ لـــــه مـــي قــــرار د تــول جهـــان راغــي
مـــاتـــــه بيـــا جـــنــګـلـــــه ښــکـلـــې رايـــاده شـــوه
مـــاتـــــه مــديــنـــــه ښــکـلـــې رايـــاده شـــوه
زړۀ زخـــــم زمــــــا ورســـــــره روغ بــــــه شــــي
زړۀ احـــمــــده ! ستـــــا ورســــره روغ بـــــه شــي
تـــا تـــــه هــــر جـــمــلـــــه ښــکـلـــې رايـــاده شـــوه
مـــاتـــــه مــديــنـــــه ښــکـلـــې رايـــاده شـــوه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 135 ﴾

مـــاتـــــه مـــي مــلــګـــري مــديــنـــــه رايـــادوي
راســــره چـــي کيــنـــې شـــنـــه روضـــه رايـــادوي
کلـــه کلـــه لاړ شـــمـــه پـــه سـوچ پـــه خيـــالـونو کښـي
کلـــه کلـــه لاړ شـــمـــه خيال کومـه پـه سوچونو کښي
مـــاتـــــه د رســـول الـــلـــه ﷺ کــوځـــه رايـــادوي
مـــاتـــــه مـــي مــلــګـــري مــديــنـــــه رايـــادوي
کـــلـــه کـــلـــه مـــنـډې وهـــی دلـتـــه مي سـو چـونـــه
لاړ مـي شـی پـــه بـــره بـــره دلـتـــه کښـي خيـــالـونـــه
ځـــان تـــه شـــم حيـــران چـــي شـــنـــه روضـــه رايـــادوي
مـــاتـــــه مـــي مــلــګـــري مــديــنـــــه رايـــادوي
کـــلـــــــه يـــــادوي راتـــــــه مـــــنـــظـــــر د عبـــــادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـلـه يـادوي راتـه مـنـظـر دا حـقـيـقـت
ښـۀ پـه ويښـه مـاتـه يـو جـذبـه، رايـادوي
مـاتـه مـې مـلـګـرې مـديـنـه رايـادوي

کـلـه زۀ ولاړ يـمـه روضـې تـه مـخـامـخ
کـلـه زۀ ولاړ يـمـه جـنـګـلـې تـه مـخـامـخ
مـاتـه تـصـوّر کښـې دا قـيـصـه رايـادوي
مـاتـه مـې مـلـګـرې مـديـنـه رايـادوي

کـلـه ئـې د لاس نـه يـم نيـولـے پـه جـهـان
دغـه وخـت احـمـدعـلـی خپـل ځان تـه شي حيـران
مـاتـه دغـه در دا بـاغـيـچـه رايـادوي
مـاتـه مـې مـلـګـرې مـديـنـه رايـادوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 136 ﴾

چـا چـې وه ليـدلـے مـديـنـه ، راتـه ووائـې
ښـنـګـه وو مـنـظـر هغـه کـوڅـه ، راتـه ووائـې

هـلـتـه ګـلـونـه، چـمـنـونـه بـه وو
هـلـتـه ښـائسـتـۀ ښـکـلـی بـاغـونـه بـه وو
هـلـتـه د عـلـم وه چيـنـه ، راتـه ووائـې
ښـنـګـه وو مـنـظـر هغـه کـوڅـه ، راتـه ووائـې

در دا اصـحـابـوؓ د نبـی ﷺ دغـه دے
در د دنيـا د هـرولـی دغـه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګويا ده هريوه ذرَه ، راته ووائي
ښکلي ښکلي منظر هغه کوڅه ، راته ووائي
درد رسول ﷺ د عاشقانو تولو
درد دنيا د امانو تولو
ده خوشبوداره ګلدسته ، راته ووائي
ښکلي ښکلي منظر هغه کوڅه ، راته ووائي
هلته کښي ال د مصطفیٰ ﷺ وسيږي
پخپله هم رسول الله ﷺ وسيږي
خومره به خوند کوي مزه ، راته ووائي
ښکلي ښکلي منظر هغه کوڅه ، راته ووائي
هلته درود هلته سلام عجيبه
خوند کوي خوند دغه تمام عجيبه
خوشحاله هريوه حصه ، راته ووائي
ښکلي ښکلي منظر هغه کوڅه ، راته ووائي
درب نه سوال ئي ديدن کوومه
وائي احمد دا دُعا نن کوومه
راته يادېږي هره شپه ، راته ووائي
ښکلي ښکلي منظر هغه کوڅه ، راته ووائي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 137 ﴾

د ميني مدرسه ده عاشقانو له ده جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنیـــا کښـــي دا د زړونـــو بیـمـــارانـــو لــــه ده جـــوړه

مـنـم چــي صـفـتـونـه د دې ښـار دی ډیـر راغـلـی

قسـم دے مـدیـنـــه خــو عــالـمـانـو لــه ده جـوړه

د میـنـــي مـدرســـه ده عـــاشـقـــانـو لــه ده جـوړه

مـزے خـونـدونـه ډیـر دی د دې در چـي څـوك خبر دی

دنیـــا کښـــي مـدیـنـــه ښـــۀ مشـــرانـو لــه ده جـوړه

د میـنـــي مـدرســـه ده عـــاشـقـــانـو لــه ده جـوړه

د زړۀ نـه هـريـو زنګ پـه مدینـه کښي لرے کیـږي

قسـم دے مـدیـنـــه خــو صـــادقـــانـو لــه ده جـوړه

د میـنـــي مـدرســـه ده عـــاشـقـــانـو لــه ده جـوړه

لـوئـي شـان د مـدیـنـي دے هـر بشـر تـه ده معلومـه

درود ســـلام د پـــاره بـــس نیـــکـــانـــو لــــه ده جـــوړه

د میـنـــي مـدرســـه ده عـــاشـقـــانـو لــه ده جـوړه

نـصیـب بـه دے بیـدار شـي اے احـمدعلی کۀ ورشـے

حســـانؓ پشـــان دُنیـــا کښـــي شـاعـرانـو لــه ده جـوړه

د میـنـــي مـدرســـه ده عـــاشـقـــانـو لــه ده جـوړه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 138 ﴾

مـــنـــظـــر د مـدیـنـــي دے پــه لیـدو کښـي مـزه ده

دیـدن د شـنـے روضـي دے پـه کتـو کښـي ئـي مزه ده

مـــنـــظـــر ډیـر عـجیبـــه دے د دیـدن د دې چـمـن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثـر د مـديـنـي دے پـه كـو څـو كښي ئي مزه ده

ديـلن د شنـے روضـي دے پـه كتـو كښي ئي مزه ده

سپـرلـے پــه هر طرف دے خزان نشتـه پـه جهان

صفـت د مديـنـي دے پـه جملو كښي ئي مزه ده

ديـلن د شنـے روضـي دے پـه كتـو كښي ئي مزه ده

هــوښيـــار خـلــق خبـردي نــادانــان دي نــاخبـره

پـه تلـو سره هرخوا تـه پـه خولـو كښي ئي مزه ده

ديـلن د شنـے روضـي دے پـه كتـو كښي ئي مزه ده

مــولـىٰ رالــه راكــړے پـــه دنيــا دلتـــه جـنـت

عـظيـم دغــه مـقـام دے پـه ورتلو كښي ئي مزه ده

ديـلن د شنـے روضـي دے پـه كتـو كښي ئي مزه ده

دا ستـــر ګــے بـــه مــړے نشـى احـمـده ! پـــه ديـلن

مـنـظـر ډيـر عجيبـه دے شو ګيـرو كښي ئي مزه ده

ديـلن د شنـے روضـي دے پـه كتـو كښي ئي مزه ده

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 139 ﴾

پـه ستــرګـو مـي دُنيـا كښي نن رحمت ليدلے دے

په خـوب كښي مي محبوب د ټول اُمَت ليدلے دے

ليـدل د پاك نبـى ﷺ پـه خـوب كښي دلتـه دي برحق

ليـدل د مدنـى ﷺ پـه خوب كښي دلتـه دي بـرحق

مـنـظـر مـي د جهـــان دغــه اوچـت ليدلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه سترګو مـي دُنيـا کښې نن رحمت ليدلې دے

دلبـــر چـــي د اصـحـابـوؓ دے دلبـــر د مـدينـــي

دلبـــر دلـــراو بـــر د هـــر ســحـــر د مـديـنـــي

مـحبـوب مـي دالـلّـه ربُّ الـعـزت ليدلـې دے

پـه سترګو مـي دُنيـا کښې نن رحمت ليدلې دے

سـخـې ، ښـه مهربانـه ، لـه هر چانـه ډير اوچت

قسـم دے د سـرتـاج دے عـاليشـانـه ډيـر اوچـت

وُجـود مـي پـه دنيـا د شـرافـت ليـدلـې دے

پـه سترګو مـي دُنيـا کښې نن رحمت ليدلې دے

صـادق د ټـول عـرب هـغـه صـادق د ټول عـجم

راغـلـې پـه اخـر دے د ټـولـو مـقـدم

احـمـدعـلـي تـا مـيـنـه مـحبـت ليـدلـې دے

پـه سترګو مـي دُنيـا کښې نن رحمت ليدلې دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 140 ﴾

مـحـمـد خيـــر الابـــرار ﷺ دے يـــار زمـــا

رهـنـمـا د نيـغـــي لار دے يـــار زمـــا

رهـنـمـا د ټـولـو خـلـقـو پـه جهـان

رهـنـمـاد هـر يـو دار دے يـــار زمـــا

د هـر چـا د غـم مـلـګـرے پـه عـجـم

د عـرب خـلـقـو غـمـخـوار دے يـــار زمـــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه اســــمــــان کښــي هــم د ټــولــو هــغــــه خــوښ
د هــــرچــــا دلتــــــه دلـــدار دے يــــار زمـــا

بهتـــــريــــن صبـــر کـــونـــکــــے او شــــاکـــر
بهتــــريـــن پـــه هــريـــو کـــار دے يــــار زمـــا

پــــه اســــمــــان کښــي دے ميـلـمـــهٔ د پــاك اللّـــه
داســــي ښـــکـــلـــے حُســـنـــدار دے يــــار زمـــا

مشــــــري ورلـــــــه ورکـــــړے ربّ زمـــونــــــړ
د هــــر چـــا هـــرخـــوا ســـردار دے يــــار زمـــا

د نبيــــــانـــو پـــــه اخــــــر کښـــــي خـــو اول
ښـــائستـــــهٔ کـــړے هـــر ګـلـزار دے يــــار زمـــا

د کـــوثـــــر ســـــاقــــي، شـــفـيـــع د خپـــل اُمـــت
بـــــل مــــحبــــوب د ربّ غـــفـــــار دے يــــار زمـــا

هـــــر صـــــفـــــت لـــــري د ټــولـــو نــــــه جــــدا
بهتــــريـــــن پــــه هـــر ګــفتـــار دے يــــار زمـــا

اختتــــــام د جهـــــالــــــت پــــــه دي جهـــــان
پـــــه خــــزان پســــے بهـــــار دے يــــار زمـــا

زهٔ احـــمـــد وريــــانــدي نــــاز کـــوومــــه دلتــــه
د هــــرچـــا هـــرځـــائے پــکـــار دے يــــار زمـــا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 141 ﴾

دلبـــر زمـــونـــړ د ټـولـــو مـحـمـد رسول اللّـــه ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



افسر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

افسر په افسرانو کښې دلبر د دلبرانو

سلطان د سلطانانو دے امام د امامانو

سحر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

افسر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

آخر کښې دے راغلے خو رُتبه کښې مقدم

محبوب دے په دنیا کښې د عرب او د عجم

نظر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

افسر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

خاتم د مُرسلانو دے زما ده عقیده

خاتم د مُرسلانو د هرچا ده عقیده

قمر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

افسر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

ساقی او په شفیع سره یاد شوے دربه در

هرچا ته ده معلومه او هرڅوك دی بېنۀ خبر

رهبر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

افسر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

اختر زمونږ د ټولو خوشحالی د دي جهان

احمد علی راوړے په هغۀ باندي ایمان

پاس نمر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## افسر زمونږ د ټولو محمد رسول الله ﷺ

### نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 142 ﴾

حق محمد خیر البشر ﷺ منمه
هغه افسر د هر افسر منمه
هغه طٰهٰ، هغه یٰسین د ربّ
هغه صادق، هغه امین د ربّ
هغه رهبر د هر رهبر منمه
حق محمد خیر البشر ﷺ منمه
ورته مکی او مدنی وایو مونږ
ورته دُنیا کښې عربی وایو مونږ
هغه رڼا د هر نظر منمه
حق محمد خیر البشر ﷺ منمه
ورته محبوب د پاك الله وائی ټول
ورته محبوب د دې دنیا وائی ټول
هغه دلبر د هر دلبر منمه
حق محمد خیر البشر ﷺ منمه
هغه مئین د دې جهان په خلقو
هغه مئین د پاس آسمان په خلقو
هغه رڼا د هر سحر منمه
حق محمد خیر البشر ﷺ منمه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه امام په هر مقام دلته دے
دا د احمد علی کلام دلته دے
هغه بهتر په لر او بر منمه
حق محمد خیر البشر ﷺ منمه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 143 ﴾

یا نبی ﷺ نامه دے مبارکه ده
هره تذکره دے مبارکه ده
هر قدم هر ځائے چې په هر خوا کښې دے
هر یوه لمحه دے مبارکه ده
هر ځۀ د جهان تاله درکړی رب
ځکه مدینه دے مبارکه ده
د هجرت چې کله تذکره کووم
دغه هر جمله دے مبارکه ده
نور دے د سیرت په ټول جهان کښې دے
هر یوه قیصه دے مبارکه ده
کله د معراج چې ذکر او کړمه
شپه کښې هر حصه دے مبارکه ده
هر ځائے کښې رڼا په دې جهان ده ستا
هر ځائے هره شپه دے مبارکه ده
نۀ رسی یو شارنۀ یو کوڅه ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښار سره کوڅه دې مبارکه ده
جمع پکښې ډیر برکتونه دي
ټول مدنې روضه دې مبارکه ده
نن احمد لیکلي ستا نعتونه دي
اُسوه حسنه دې مبارکه ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 144 ﴾

اللّٰه زمونږ محبوب له سلامونه رالیږلي
لعلونه د قرآن ئي آیاتونه رالیږلي
آغاز او ابتدا وه په نبي ﷺ باندې د وحي
اللّٰه ورته د بره نه حکمونه رالیږلي
نازل شو جبرائیل دغي دنیا ته له آسمانه
شائسته نبي ﷺ د پاره ئي وختونه رالیږلي
په اِقْرَاْءُ سره اُوشوه ابتدا د دي قرآن
قرآن کښي له آسمانه ئي خبرونه رالیږلي
سلام په هغه وائي فرښتې د دي جهان
سلام او درود وائي هر بشر په هغه ذات
مونږ له په وسیله ئي نعمتونه رالیږلي
احمد د هغه ذکر ډیر په مینه سره کړې
مونږ په وسیله ئي دا مونځونه رالیږلي

★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 145 ﴾

وائـــي الـــلّـــه د خپـــل نبـــي ﷺ اُومـــنـــه
د هـــريـــو ستـــوری صـــحـــابـــیؓ اومـــنـــه
دغـــه دُنيـــا کښـــې سـعـــادت گـنـــه خپـل
دغـــه دُنيـــا کښـــې د ســـر چهـــت گـنـــه خپـل
پـــه نيـــغـــه ځـــۀ، د هـــرولـــي اُومـــنـــه
وائـــي الـــلّـــه د خپـــل نبـــي ﷺ اُومـــنـــه
وروستـــو نبـــي ﷺ پســـې روان وسيـــږه
وروستـــو تـــريـــنـــه پـــه دې جهـــان وسيـــږه
دغـــه ددغـــې درنيـــکـــي اُومـــنـــه
وائـــي الـــلّـــه د خپـــل نبـــي ﷺ اُومـــنـــه
پـــه اقتـــدا کښـــې د نبـــي ﷺ شتـــه دے خـونـد
پـــه هـــردا کښـــې د نبـــي ﷺ شتـــه دے خـونـد
هـــريـــو ويـــنـــا د مـــدنـــي ﷺ اُومـــنـــه
وائـــي الـــلّـــه د خپـــل نبـــي ﷺ اُومـــنـــه
دا نـــصيـــحـــت دے نيـــکـــانـــو خـــلـــقـــو
دا ده ويـــنـــا د امـــامـــانـــو خـــلـــقـــو
غـوره مـخـلـوق کښـې هـاشـمـي ﷺ اُومـنـه
وائـــي الـــلّـــه د خپـــل نبـــي ﷺ اُومـــنـــه
وروستـــو تـــرې نشتـــه بـل نبـي ﷺ دلتـــه کښـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وروستــو تــرې نښتــه تــل نبــی ﷺ دلتــه کښــې

داســــې نبـــــی ﷺ خپــل ابــدی اُومــنــــه

وائـــی الـــلّـــــه د خپــل نبـــی ﷺ اُومــنــــه

یـــاده ویــنـــا دغـــه کــړه ، هیــره نـــهٔ کــړے

د چــا حــصـــه دلتــه کښــې ګیــره نــهٔ کــړے

دا فیـــصــلــــه د قـــریشـــی ﷺ اُومــنــــه

وائـــی الـــلّـــــه د خپــل نبـــی ﷺ اُومــنــــه

احــمــد پــــه جـــار ورســـره میــنـــه کــوی

پــــه هــــره لار ورســــره میـــنــــه کــوی

امـــام د هــــریـــو مــقتــدی اُومــنــــه

وائـــی الـــلّـــــه د خپــل نبـــی ﷺ اُومــنــــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 146 ﴾

دوســـــت دے دوســـــت د پـــاك الـــلّـــــه

مـــحـــمـــد رســـول الـــلّـــــه ﷺ

پـــــه اعــــلاؤ کښـــــې اعـــلـــــیٰ

مـــحـــمـــد رســـول الـــلّـــــه ﷺ

د مـــولــــیٰ هـــغــــه نیــــازیـــن

پـــــه مـــخــلـــوق کښـــې بهتـــریـــن

د هـــــرچـــــا نــــه ډیــــر حسیــــن

تــــول رنــــا رنــــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد رسول الله ﷺ

ګل دے د هر چمن

نور دے نور د هر وطن

اطمینان د هر یو تن

په سیرت صورت صفا

محمد رسول الله ﷺ

په آسمان هغه میلمه

د رحمٰن هغه میلمه

عالیشان هغه میلمه

په وجود سره رښتیا

محمد رسول الله ﷺ

د هر چا دے هغه خوښ

دلته ستا دے هغه خوښ

هم زما دے هغه خوښ

د احمد حق وینا

محمد رسول الله ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿147﴾

راشه کوځے ته د نبی ﷺ د خکلیدو ځائے دے

ګوره هر خوا ته د رحمت راوریدو ځائے دے

ستر ګو کښي مینه محبت د دغي خلقو شته دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



حجرې ته راشه د نبي ﷺ، د اُوسيدو ځائے دے

پاس رحمتونه برکتونه به پخپله ووينے

د برکتونو په دنيا کښي د ليدو ځائے دے

خلق قطار په قطار دلته عبادت ته ولاړ

ښکلے منظر دے، د توبے د قبليدو ځائے دے

دلته درود دلته سلام ډير عجيبه منظر دے

وائي احمد دغه دنيا کښي د مزو ځائے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 148 ﴾

د رسول اللّٰه ﷺ کوڅے ته مي زړۀ کيږي

روانيږم، مدينے ته مي زړۀ کيږي

رحمتونه راوريږي پري مدام

هغه در هغي روضے ته مي زړۀ کيږي

ټول جهان ورسره ښکلے ښائسته شوے

د حکمت هغي چينے ته مي زړۀ کيږي

عاشقان ئې د دين دي ټول په طمع

هغۀ ګل او ګلدستے ته مي زړۀ کيږي

اطمينان په کښي د زړونو ټولو پروت دے

دغي ذکر تذکرے ته مي زړۀ کيږي

هغه خوند مزه چي ټول ئي دي په طمع

دغي خوند دغي مزے ته مي زړۀ کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د احمد علی په زړهٔ کښې چې اوسیږی
د عظمت هغې حصې ته مې زړهٔ کیږی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 149 ﴾

ارمان دے ربّ پوره کړه، مدینه دے ولیده
ښائسته ښکلے د پاك رسول ﷺ روضه دے ولیده
مخلوق ئې دے په طمع د دیدن دلته کښې تول
مالك دښهٔ قسمت ئې باغیچه دے ولیده
منظر د مدینې په هر قدم ولیدهٔ تا
بیا هلته مدینه کښې هر کوڅه دے ولیده
باران د رحمتونو ترقیامته به وریږی
ښائسته د عائشے بی بی حجره دے ولیده
انوار د مدینې تا ته ښکاره شو په نظر
روضه کښې د نبی ﷺ ښکلے جنګله دے ولیده
مخلوق د مدینے ولیده تا په لر او بر
احمد وائی ښائسته دا نظاره دے ولیده

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 150 ﴾

د رسول اللّٰه ﷺ دربار ته مې سلام دے
قدرمنده هغه ښار ته مې سلام دے
د ادب په کښې هر ځائے پروت دے سبق
دغه درس دغه ګفتار ته مې سلام دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هر قدم ډېر د عزت په هر مقام دے
د دې در هر يو سردار ته مې سلام دے
د اصحابوؓ مينه د لته کښې پرته ده
د دې ډلے هر غمخوار ته مې سلام دے
د احمد علي د زړۀ نه بهر نۀ دے
هر ساعت هغه دلدار ته مې سلام دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 151 ﴾

منظر د مديني منورې نۀ هېروم
دلبر د مديني منورې نۀ هېروم
نادان دغه منظر د مديني به هېروي
شيطان دغه منظر د مديني به هېروي
سحر د مديني منورې نۀ هېروم
منظر د مديني منورې نۀ هېروم
دانا هر مسلمان ته دا منظر به تل وي ياد
عاشق د دې جهان ته دا منظر به تل وي ياد
نظر د مديني منورې نۀ هېروم
منظر د مديني منورې نۀ هېروم
قسمت کښې چې د چا وو دغه در ئې دے ليدلے
قسم دے په دنيا کښې د هر در نه دے ډېر ښکلے
قمر د مديني منورې نۀ هېروم

(c) ketabton.com: The Digital Library



منظر د مدینې منورې نه هیروم

احمد ته به وي یاده تذکره د مدینې

قسم دے تذکره کښې خوند مزه د مدینې

رهبر د مدینې منورې نه هیروم

منظر د مدینې منورې نه هیروم

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 152 ﴾

زۀ ورے او چمن د مدینې ورے

ګل زۀ د ګلشن د مدینې ورے

زۀ ورے دا ښائسته ښکلے منظر ورے

زۀ ورے په نظر مې دا سحر ورے

ځائے ښکلے وطن د مدینې ورے

زۀ ورے او چمن د مدینې ورے

زۀ ورے او کوڅې د مدینې ورے

بیا په کښې نزدې زۀ د روضې ورے

زما تل مسکن د مدینې ورے

زۀ ورے او چمن د مدینې ورے

نۀ ورے بل ځۀ دلته تمنا مې

ژوند دغه ښائسته ۀ ورے د دنیا مې

دوست مې هر یو تن د مدینې ورے

زۀ ورے او چمن د مدینې ورے

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي د احمد علی نن سوال دے
یاد ورته ددغي در جمال دے
بوتي یا زۀ نن د مدیني وے
زۀ وے او چمن د مدیني وے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 153 ﴾

زۀ خالی لاسونه په دنیا دلته کښې راغلم
زۀ په لوئي کرم د خپل مولیٰ دلته کښې راغلم
ما ولیدۀ در د مدیني خیر الابرار ﷺ
ما ولیدۀ در د امامانو د سردار
خپل کلی نه دلته په دُعا دلته کښې راغلم
زۀ په لوئي کرم د خپل مولیٰ دلته کښې راغلم
ما ته مخامخ شول چمونه د نبی ﷺ
ما ته مخامخ شول تول گلونه د نبی ﷺ
کورته دنیکانو اولیاء دلته کښې راغلم
زۀ په لوئي کرم د خپل مولیٰ دلته کښې راغلم
خیال او تصوّر کښې مي لیدلے مدینه ده
خیال او تصور کښې ما لیدلے دا کوڅه ده
زۀ په تصوّر کښې بیا بیا دلته کښې راغلم
زۀ په لوئي کرم د خپل مولیٰ دلته کښې راغلم
دلته ارمانونه مي پوره شو د جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــــه تـصـوَر دغــــه خيــالــونــه ډيـر اوچـت دي
اے احـمـده ! دلتــــه تهول كورونـه ډيـر اوچـت دي
درتـــــه د امـــام الانبيـــاء ﷺ دلتــــه كښـي راغـلـم
زۀ پـه لـوئـي كـرم د خپـل مولـىٰ دلتـه كښي راغلم

نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 154 ﴾

اوس وُلـــے بـه تـرې خُـمـه ، مـديـنـي سره بـلـد شـوم
جدا بـه تـريـنـه نـه شم ، دې كـوخـې سره بلد شوم
اشـنـا شـوم دغـي در سره ، زۀ مـخـكـښي اشـنـا نـۀ ووم
د تـلـو راتـــه مـــۀ وايـــه د روضـــې سـره بـلـد شـوم
اول اول خـــو دلتــــه د دې ښـــار نـــه خبــر نـــۀ ووم
مـا مـــۀ تـريـنـــه شـړې يـاره زۀ دې سره بـلـد شـوم
مـانـاسـتـه كـړے نـۀ وه ، دغـې در دغـې چمن كښـي
اوس دلتـــه مـديـنـه كـښـي د جـنـګـلـې سره بلد شوم
اوس بـل ځــائــے راتـــه ګـران دغـه ژونـد دې جهـان
دنيـــا كښـــې د دې در زۀ خـونـد مزې سره بـلـد شـوم
احـمـد تـــه بـــه څـــۀ دلتـــه سـكـون نـن ملاويـږي
د دغـــې در د ذكـــر تـــذكـــرې ســـره بـــلـــد شـوم

نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 155 ﴾

دلبــــر د دلبــــرانــو محـمـد خيــر الابــرار ﷺ د ے
رهبـــر د هـــرې لار د ے زمــونــږه پـــه دنيــا كښـــې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمونږ رهبر دے د هر در
غوره له ټولو نه بهتر
زمونږ د سترګو دے نظر
هغه حسين د زړۀ سکون د زړۀ قرار دے
رهبر د هرې لار دے زمونږ په دنيا کښې

تاجدار هغه د مدينې دے
غمخوار هغه د مدينې دے
سردار هغه د مدينې دے
د هر يو درد پاره دلته کښې بهار دے
رهبر د هرې لار دے زمونږ په دنيا کښې

په ټول وجود سره رحمت دے
وجود ئې مينه محبت دے
مقام ئې ډير عالی اوچت دے
ذکر ئې هر ځائے په هر لاره مزيدار دے
رهبر د هرې لار دے زمونږ په دنيا کښې

هغه سلطان د سلطانانو
هغه امام د امامانو
هغه محبوب د عاشقانو
دغه احمده! د نبی شکلے ګفتار دے
رهبر د هرې لار دے زمونږ په دنيا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 156 ﴾

زمونږ نبی ﷺ ښکلے دے ښکلے دے
ښکلے دکلونه ئي کلے دے
ذکر ئي ښکلے مزیدار دے
هغه د هر بشر غمخوار دے
هر چائي دا مقام منلے دے
غوره ئي دلته هر کلام دے
نور د جهان ئي تول اسلام دے
زیرے د پاك الله راغلے دے
زمونږ نبی ﷺ ښکلے دے ښکلے دے
شپه د معراج وه هر آسمان کښي
رنا خوره وه لامکان کښي
راز له رحمٰن له بره تلے دے
زمونږ نبی ﷺ ښکلے دے ښکلے دے
زما جانان زما ایمان دے
دا د احمد علی بیان دے
زړهٔ کښي هر ساعت ساتلے دے
زمونږ نبی ﷺ ښکلے دے ښکلے دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 157 ﴾

هر چا ته معلومه ده لوئے شان د نبی ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور دے نورانی هریو مکان د نبی ﷺ دے
دلته په اول هغه دے دلته په آخر
ښکته مرتبے نه هر انسان د نبی ﷺ دے
شا تو له ګینه نه دے خوږ په هر مقام
ښکلے په دنیا کښې هر بیان د نبی ﷺ دے
هغه دے دلبر زمونږه هغه دے رهبر
هر یو بشر دلته قدردان د نبی ﷺ دے
ګل دے هر بشر ترینه دنیا کښې خوشبودار
ډیر زیات معززه خاندان د نبی ﷺ دے
ربَ ته ئې ژړلی مونږ د پاره په هر در
دغه په امت باندې احسان د نبی ﷺ دے
ښهٔ ښکلی صفات را جمع کړی دی قرآن
جوړ د ښهٔ اخلاقو نه قرآن د نبی ﷺ دے
اُوګوره احمده! د رسول اللّٰه ﷺ سیرت
ټول سیرت دُنیا ته ښهٔ عیان د نبی ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 158 ﴾

رهبر د ټول جهان عالی انسان د مدینې دے
جانان د مدینې مې دے جانان د مدینې دے
امام زما او ستا هغه امام د مرسلانو
امام د عالمانو دے امام د صالحانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



سلطان د سلطانانو بس سلطان د مديني دے

جانان د مديني مي دے جانان د مديني دے

په مينه محبت سره کړه ياد هغه انسان

په مينه محبت سره کړه ياد هغه سلطان

شاکر د مديني ډير قدردان د مديني دے

جانان د مديني مي دے جانان د مديني دے

دوستانو ته ئي ذکر کوه دلته کښي مدام

دنيا کښي شور کړه شور کړه د رسول الله ﷺ پيغام

په ګل سره تول ښکلے ګلستان د مديني دے

جانان د مديني مي دے جانان د مديني دے

سيرت کښي ئي خو نشته دے سيرت ئي دے تمام

احمد علی سيرت نه ئي خبر دی خاص او عام

غمخوار د مديني ښه مهربان د مديني دے

جانان د مديني مي دے جانان د مديني دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 159 ﴾

بوځه اِلهی ما د رسول اللّٰه ﷺ چمن ته

بوځه الٰهی ما دغي در دغي وطن ته

دغه يو خواهش مي دے بس دغه يو دُعا مي ده

ربّه! د دنيا د در بس دغه تمنا مي ده

بوځے الٰهی مي د رسول اللّٰه ﷺ ګلشن ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بــوځــــه اِلٰهــی مــا د رسـول اللّـــه ﷺ چمن تــه

کــلــــه بـــه دیــدار د مــدیــنــي مــنــورې اُوکـــړم

کلـه بـه دیدار د پـاك رسـول ﷺ زهٔ د کوځـې اوکـړم

ربّـه ! بوځـے بـوځـے مـا د پاك رسول ﷺ مسکن ته

بــوځــــه اِلٰهــی مــا د رسـول اللّـــه ﷺ چمن تــه

ربّــه ! چــې روان شـم نـور زهٔ دلتـــه کښـي ایسـار نشم

بــل طـرف تـــه لاړ نشـمــــه زهٔ پــــه بـلــه لار نشم

زهٔ پــــه طــمــع دلتــــه یـم ددغــي در دیـدن تـــه

بــوځــــه اِلٰهــی مــا د رسـول اللّـــه ﷺ چمن تــه

ګـل دے او ګـلونـه تـول خـوشحالـه مدینـه کښـي دي

دلتــه مـلـغلـرے او لعـلـونـه هرکوځـه کښـي دي

کــلــه زهٔ حسیــن ؓ تــه ګـورم کـلـه زهٔ حسن ؓ تـه

بــوځــــه اِلٰهــی مــا د رسـول اللّـــه ﷺ چمن تــه

کــلــه اودریـدل دلتـه کښـي کـلـه رُورُو تـلـل پـه لار

یـو طـرف تـه بـل طـرف تـه بیـا مـنظـر کتـل پـه لار

اے احـمـده ! خـونـد کـوی د پـاك نبـی ﷺ مدفن تـه

بــوځــــه اِلٰهــی مــا د رسـول اللّـــه ﷺ چمن تــه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 160 ﴾

درود ســـره ذکـــر ســحـــر مـــاښــام مـــزه کــوی

سـلام ورســـره هــرځـــائـے کښـي مدام مـزه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستائيل د محمد ﷺ دی عبادت په هر مقام
ستائيل د پاك نبي ﷺ په هر مقام مزه كوي
محبوب د پاك الله، هغه محبوب د ملائك
عزت سره ئي نوم ښكلے تمام مزه كوي
د زړونو اطمينان هغه، رهبر د ټول جهان
قسم دے د دنيا دغه امام مزه كوي
آسمان ته بره لاړو په سفر د لامكان
سفر دغه دنيا كښې ګام په ګام مزه كوي
بيان كښې ئي خواږه دی مونږه ټول يُو تري خبر
احمد علي! دنيا كښې ئي كلام مزه كوي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 161 ﴾

بل ځائے ته ولے ځمه د جانان كلے مې ښته
شيطان نه په دنيا كښې د امان كلے مې ښته
له مخه له خاطره دا جهان ئي دے آباد
تيرو ته ولے ځمه ښهٔ روښان كلے مې ښته
رڼا رڼا رڼا ده هر طرف ته دغه در
هيڅ غم راسره نشته عاليشان كلے مې ښته
ياد كړے عالمانو صالحانو هر ساعت
هر څوك په چغه وائي د سلطان كلے مې ښته
دا سترګے په ديدن به ئي احمده مړے نشي

(c) ketabton.com: The Digital Library


سکون له هر ساعت د اطمینان کلے مي شته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 162 ﴾

سلطان ئي زما ته، جانان ئي زما ته
رهبر د کائنات د هر مکان ئي زما ته

بینا کۀ نابینا دے تول دي ستا په لار روان
روان دے ستا په لار باندي دانا د هر مکان
د زړۀ تکور سره تل اطمینان ئي زما ته
رهبر د کائنات د هر مکان ئي زما ته

ستا مینه محبت دے د ایمان یوه حصه
دا نور د شریعت دے د ایمان یوه حصه
د مینے محبت هریو بیان ئي زما ته
رهبر د کائنات د هر مکان ئي زما ته

رحمت د مخلوقاتو هر طرف ته په جهان
عزت د مخلوقاتو هر طرف ته په جهان
یو ګل ښکلے ښائسته د ګلستان ئي زما ته
رهبر د کائنات د هر مکان ئي زما ته

امید د شفاعت سا تمه ستا نه په محشر
بیا غواړمه لتا نه به اوبۀ زۀ د کوثر
ملګري د محشر لوئے میدان ئي زما ته
رهبر د کائنات د هر مکان ئي زما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 163 ﴾

افســـر د افســـرانــو ئــي ســردار ئــي زمـــا تـــهٔ
دلبـــر د دلبـــرانــو ئــي دلــدار ئــي زمـــا تـــهٔ

محشر کښې کله سخته چې شي ډیره په انسان
د نفسي نفسي چغي چې شي هلته په میدان
غوښتونکے د اللّٰه پروردیگار ئې زما تهٔ
دلبـــر د دلبـــرانــو ئــي دلــدار ئــي زمـــا تـــهٔ

دا زمکه به وي گرمه اُودریدل به په دې گران وي
هریو به ناقراره د محشر په لوئے میدان وي
ملگرے هر ساعت په دغې دار ئې زما تهٔ
دلبـــر د دلبـــرانــو ئــي دلــدار ئــي زمـــا تـــهٔ

اللّٰه به ورله ورکړي د اللّٰه نه چې څهٔ غواړي
هریو انسان په غم به وي هریو انسان به ژاړي
شفیع د خپل امت د گناه گار ئې زما تهٔ
دلبـــر د دلبـــرانــو ئــي دلــدار ئــي زمـــا تـــهٔ

دا ژوند مې د دنیا په دې امید باندې تیریږي
احمدعلي ژوندون درنه د گل لکه رژیږي
غمژنه دلته نهٔ دے څکه یار ئې زما تهٔ
دلبـــر د دلبـــرانــو ئــي دلــدار ئــي زمـــا تـــهٔ

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 164 ﴾

مولیٰ که ؤ اوغښتل تا، زۀ به مدینې ته ځمه
زۀ به دیدن له د رسول الله ﷺ کوڅې ته ځمه
د چا له مخه چې پیدا دا آسمانونه ټول دي
زۀ به دیدن له د رسول ﷺ ښکلې روضې ته ځمه
د چا چې زلفې د وَالّیل سره هرخوا یادیږي
زۀ به یو ورځ دغې دربار او باغیچې ته ځمه
نمر او قمر ئې په جهان کښې د رڼا پتیږي
هغې دلدار له به یو ورځ دغې حصې ته ځمه
ورته مخلوق په قطارونو په ادب ولاړ دے
زړۀ مې ډیر غواړي د حکمت دغې چینې ته ځمه
د هر یو ګوټ نه د دنیا ورته راځي عاشقان
احمده! زۀ هم د حکمت دې مدرسې ته ځمه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 165 ﴾

خوندونه او مزے د مدینې مزه کوي
یارانو تذکرے د مدینې مزه کوي
چمن په چمنونو کښې اعلیٰ دے ډیر اوچت
وطن په وطنونو کښې اعلیٰ دے ډیر اوچت
دا لارے او کوڅے د مدینې مزه کوي
خوندونه او مزے د مدینې مزه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائسته ښکلي ګلونه رنګ په رنګ په هره لار

مزه کړي چې زړه ګورم ورته دلته کښې بار بار

ګلونه باغيچے د مدينې مزه کوی

خوندونه او مزے د مدينې مزه کوی

وختونه قيمتي د مدينې منورې دی

وختونه قيمتي د دغې در لارې کوڅې دی

يارانو ورځے شپے د مدينې مزه کوی

خوندونه او مزے د مدينې مزه کوی

منظر ډير عجيبه دے د روضے د محمد ﷺ

منظر ډير عجيبه دے د کوڅے د محمد ﷺ

روضے سره جنګلے د مدينې مزه کوی

خوندونه او مزے د مدينې مزه کوی

د علم يوه چينه ده د دنيا د پاره دا

يا ګل يا ګلدسته ده د دنيا د پاره دا

روانے دا چينے د مدينې مزه کوی

خوندونه او مزے د مدينې مزه کوی

احمد علی ئې ذکر د چمن کوی په جار

احمد علی ئې ذکر دلته نن کوی په جار

ياران د مدرسے د مدينې مزه کوی

خوندونه او مزے د مدينې مزه کوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 166 ﴾

روان مکي ته شومه ، بیا مدیني ته شومه
بیا د رسول الله ﷺ زهٔ ، روان کوځي ته شومه
په لاره ما ولیدل ، ډیر نعمتونه د ربَ
په لاره ما ولیدل ، ډیر رحمتونه د ربَ
روان د دلته نه زهٔ ، دغي چیني ته شومه
روان مکي ته شومه ، بیا مدیني ته شومه
ما مناري ولیدلے ، لارے کوځے ولیدلے
ما ښهٔ مزے ولیدے ، ما چي جنګلے ولیدلے
ښه په مزه د نبی ﷺ ، روان حجري ته شومه
روان مکي ته شومه ، بیا مدیني ته شومه
کله مکه کښي چي ووم ، بس طوافونه به وو
زهٔ مدینه کښي چي ووم ، نو سلامونه به وو
خوشحاله هلته کښي زهٔ ، دي تذکري ته شومه
روان مکي ته شومه ، بیا مدیني ته شومه
زهٔ په مکه کښي چي ووم ، خواته کعبي سره ووم
زهٔ مدینه کښي چي ووم ، ښائستهٔ روضي سره ووم
دنیا مي پریښودله ، دي مدرسي ته شومه
روان مکي ته شومه ، بیا مدیني ته شومه
دا تصور دے زما ، دغه خیالونه مي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ربَ نــه دُعــا كـومــه ، دغــه سوالونــه مـې دي
وائـی احـمـدعلی نـن ، خـواتـه جنـګلے تـه شومـه
روان مـکـې تــه شـومـه ، بیا مـدینـې تـه شـومـه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 167 ﴾

راغــے جــانــان راغــے ، دوســت د سبــحــان راغــے
د عبـدالـلّـــه پــه کـور کښـې نور دَ جهـان راغــے
نـــــورد ســــحـــــــر ښــــکــــــاره شـــو
نـــــوردقـــــمــــــــر ښــــکــــــاره شـــو
نـــور د پـــــاس نــــمـــــر ښــکـــــاره شـــو
هـریـو شیـطـان خفـه شو ، پـه دوی خفګان راغــے
راغــے جــانــان راغــے ، دوســت د سبــحــان راغــے
وران شـــــو مـــــکـــــــــان د کـــــفــــــــر
وران شــــو جهــــــــــان د کــــــفــــــــر
لاړو دوران د کـــــــــــــــــفـــــــــــــــــــر
ښـکـلـے دُنیـا تـولـه شوه ، ښـکلے دروان راغــے
راغــے جــانــان راغــے ، دوســت د سبــحــان راغــے
د مـــــــــــرحبــــــــــا چـــــــغــــــــے وے
دا پـــــــــه هــــــر خـــــوا چـــــغـــــے وے
دا پــــــــه دنیــــــــا چــــــغـــــــے وے
انســانــه خـوالــه راشــه ، دوسـت د انسـان راغــے

(c) ketabton.com: The Digital Library



راغــے جــانــان راغــے ، دوســت د سبــحــان راغــے

بـــــدعـــــــت ژړا کـــــولُـــــه

ظـــلـــمـــــت ژړا کــــولُــــه

ذلــــــــت ژړا کـــــولُـــــه

کـور د شیـطـان ورانـیـږي ، نبی سلطان ﷺ راغـے

راغــے جــانــان راغــے ، دوســت د سبــحــان راغــے

حـــقـــــه ویـــنـــا راغـــلـــے

ویـــنـــا صـــفـــا راغـــلـــے

احـــمـــده ! دا راغـــلـــے

د وسـت ښـهٔ مـلـګـرے دلـتـه د مسلـمـان راغـے

راغــے جــانــان راغــے ، دوســت د سبــحــان راغــے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 168 ﴾

هیـر رانـه څـهٔ نـهٔ دی هغـه هرڅـهٔ مي لیکلی دی

ما چي مدینـه کښي په دي سترګو څهٔ لیدلی دی

هـلـتـه وو ښـکـلـے یـو دربـار

هـغـه یـادومـه بـار بـار

هلتـه کښـي اصـحـابؓ پـه هره لاره ګرځیدلـی دی

هیـر رانـه څـهٔ نـهٔ دی هغـه هرڅـهٔ مي لیکلی دی

در د نبـی ﷺ ډیـر بهتـریـن وو

د هـریـو در نـه ډیـر حسیـن وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما په دې سترګو هغې درته ډېر کتلې دي
هيرانه څه نه دي هغه هر څه مې ليکلي دي
هلته جمات هم د قبا دے
خوښ د حضرت رسول الله ﷺ دے
عاشقان هلته مديني ته بار بار تلي دي
هيرانه څه نه دي هغه هر څه مې ليکلي دي
هلته درود او سلامونه
احمده ! ښکلے چمنونه
ګلونه هلته کښې قسم دے ښکلي ښکلي دي
هيرانه څه نه دي هغه هر څه مې ليکلي دي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 169 ﴾

پس لتانه بل نبي ﷺ په جهان نشته
بې لتانه مې رسوله ! ﷺ جانان نشته
ستا په لاره طريقه کښې نجات پروت دے
د نجات د پاره بل څه سامان نشته
د الله نه پس مقام دلته کښې ستا دے
داسې بل چا له دنيا کښې لوئي شان نشته
د الله نه پس کلمه کښې ستا بيان دے
بې لتانه په يو ځائے کښې ايمان نشته
ښکلي ښکلي د جهان کورونه ډير دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د کور په شان ښائسته ګلستان نشته
رنګ په رنګ د مخلوقاتو ډیر صفات دي
خو مخلوق کښې ستا په شان بل انسان نشته
په احمدعلی ډیر ګران ئې هر ساعت
بل رهبر زمونږ په زمکه آسمان نشته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 170 ﴾

زړۀ کۀ مسلمانه! ستا سکون غواړي
راشه د نبی ﷺ په شان ژوندون غواړي
لاړ شه د نبی ﷺ په طریقه پوره
څوك چې رڼاګاني د پرون غواړي
هغه د نبی ﷺ په لار روان به وي
څوك چې د اسلام مینه جنون غواړي
څوك چې د اسلام سره کوي مینه
هغه به نفرت د هر ملعون غواړي
هغه به د ژبې حفاظت کوي
څوك چې د ښتیا وینا مضمون غواړي
هر طرف ته نُور د شریعت تمام
داسې نن احمد علی ښتون غواړي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 171 ﴾

نشته ستا په شان بشر، نۀ په دي جهان کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشتــه نشتــه ستـا پــه شان بره پـه اسمـان کښـي

يــاد پــه مــزمـل ســره اے نبــی ســروره ﷺ ئــي

يــاد پــه مــدثــر ســره ښـکـلـے پيـغـمبره ﷺ ئي

نشتـه مساوي دے څـوك ستـا پـه ښـکلي شان کښي

نشتــه نشتــه ستـا پــه شان بره پـه اسمـان کښـي

اے نبــی ﷺ يــاد شـوے ئـي ښـکـلـے پـه طٰهٰ سـره

اے نبــی ﷺ يــاد شــوے ئـي سيـدالـورىٰ ﷺ سـره

ګـل پـه شان حسيـن نبـی ﷺ ګـل ئي ګلستان کښي

نشتــه نشتــه ستـا پــه شان بره پـه اسمـان کښـي

يــاد پــه مُـرسـلانـو کښـي دوسـت دربّ اکبر نبی ﷺ

يــاد تـولـو شــاهــانـو کښــي دلتــه ئي افسـرنبی ﷺ

زلــفــے دَوالـيــل دی ستـــا ښـکـلـے پــه قـرآن کښـي

نشتــه نشتــه ستـا پــه شان بره پـه اسمـان کښـي

ذکــر دے دمـغ نبـــی ﷺ والــضـحـىٰ راغـلـے دے

سـا لـقــب بدرالـدجىٰ مـصـطـفىٰ ﷺ راغـلـے دے

نــور د تــول جهــان ئــي تــهٔ پــه هـريــو مـکـان کښـي

نشتــه نشتــه ستـا پــه شان بره پـه اسمـان کښـي

ستــا لـقــب صـادق امـيـن ، اے نبـی خيـرالـورىٰ ﷺ

تــاتــه وائــی تـول حسيـن ، اے نبـی خيـر الـورىٰ ﷺ

هريو نوم دے ښکلے دے هرځائے کښي بيان کښي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشتــه نشتــه ستـا پــه شان بره پـه اسمـان کښې
تـا بانـدې مـئـين يو مونږ اے مـحمد مصطفیٰ ﷺ
تـا سـره حسيـن يُو مونـږ اے مـحـمـد مصطفیٰ ﷺ
ذکــر ستـــا احــمـدعـلـی کــړے پــه مـردان کښــې
نشتــه نشتــه ستـا پــه شان بره پـه اسمـان کښې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 172 ﴾

نبــی ســلــطـــانــه ! خــوږه جــانـــانــه ﷺ
پــه الــلّـــه کــرانــه ﷺ پــه الــلّـــه کــرانــه ﷺ
طـــٰـهٰ يٰسيــنــــه ، اے بهتـــريـــنــه ! ﷺ
صـــادق امـيـنـــه ! شــکــلــے حسيـنــه ! ﷺ
بـــره ئـــې تــلـــے لــــه هـــر اسـمـــانـــه
پــه الــلّـــه کــرانــه ﷺ پــه الــلّـــه کــرانــه ﷺ
رحـــمـــت رحـــمـــت ئـــې خيـــر الابـــراره ! ﷺ
عـــظـــمـــت عـــظـــمـــت ئـــې اے تـــاجـداره ! ﷺ
قـــربـــان لتـــانـــه ! قـــربـــان لتـــانـــه
پــه الــلّـــه کــرانــه ﷺ پــه الــلّـــه کــرانــه ﷺ
ستـــا د اصـــحـــابـــوؓ جُـــدا مـــقـــام دے
هـــريـــو د ديـــن ستـــورے تـــمـــام دے
نبــی ســلــطـــانــه ! نبــی ســلــطـــانــه ! ﷺ
پــه الــلّـــه کــرانــه ﷺ پــه الــلّـــه کــرانــه ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عالي دنیا کښې ستا خاندان دے
هر یو له دوی نه ګل د جهان دے
ما اوریدلي دا د دنیا نه
په الله ګرانه ﷺ په الله ګرانه ﷺ
ښکلے روضه دے جنت جنت دے
وائي احمد، دا حقیقت دے
عالي انسانه ! اے عالیشانه !
په الله ګرانه ﷺ په الله ګرانه ﷺ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 173 ﴾

نور دنیا کښې د عالَم ئې
اے نبي ﷺ! ډیر محترم ئې
ډیر ښائسته ښکلے صورت ئې
ډیر ښائسته ښکلے سیرت ئې
رڼا هر ځائے د تورتم ئې
ستا اخلاق رڼا قرآن دے
ګواه هر یو مسلمان دے
لاثاني په هر قدم ئې
نښته ستا په شان افضل
غوره ستا دے هر محل
په هر کور د رب کرم ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تول جهان کښي تهٔ ئي ښکلې

پاس آسمان کښي تهٔ ئي ښکلې

داسي یاد په هریو چم ئي

د هر چا د زړهٔ سکون ئي

تهٔ زما د زړهٔ سکون ئي

د احمد د علاج د غم ئي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 174 ﴾

څوك چي تا باندي مئین دی

امامان زمونږ د دین دی

د اسلام نه چي خبر دی

ښهٔ پیغام نه چي خبر دی

صحیح خلق په یقین دی

امامان زمونږ د دین دی

لاره نیغه، ژوند ئي ښکلې

هر چا دا خبر منلې

داسي خلق بهترین دی

امامان زمونږ د دین دی

دوی ګلونه د جهان دی

یا العلونه د جهان دی

خوش زمونږ د ربّ متین دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



امــــــامــــــان زمــــونـــــــږ د ديــــن دی
ستــــــوري تيـــــول دي د جهـــــــــــان
د احـــــمــــــد دے دا ايـــــمــــــان
خـــلــــق دغـــــــه تيـــول حسيــــن دي
امــــــامــــــان زمــــونـــــــږ د ديــــن دی

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 175 ﴾

عشــق د خپـلِ ښـکـلـی جـانـان ســره پـکـار دے
عشــق دخـوږ نبـی سـلـطـان ﷺسـره پـکـار دے
چــې ئــې ژونـد د مــحبــت رنــا کتــاب دے
عشــق د داســې عـــالشيـــان ســره پـكـــار دے
تيـول اغيـــارئـــې چـــې د صـدق ګـواهـــی کـــړی
عشـــق د داســې نـــورعـــرفـــان ســره پـکـــار دے
مهـــريـــانـــه چـــې پـــه خپـلـــو او پــردو دے
عشـــق د داســې مهـــريـــان ســــره پـــكـــار دے
د مــولـــیٰ هــغــه صـــابــر شـــاکــر انســان
عشـــق د داســـې قـــدردان ســـره پـــکـــار دے
مســلــمـــان تـــريـنــه د مينــې درس اخستـــے
عشـق د پـــاك نبـــی ﷺقـــرآن ســره پـکـــار دے
مـــا احـــمـــد د مينـې خـونـد دلتــه مـونـدلـے
عشـــق د داســـې هـــريـــان ســـره پـــكـــار دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 176 ﴾

زۀ يو جزء د ايمان ليکم
نوم چې زۀ د جانان ﷺ ليکم
رڼا کانې د اسمان دي
لکه نمر د اسمان ليکم
محبت ورته تول وائي
نوم چې زۀ مهربان ليکم
د رحمت جدا تعبير دے
سورے زۀ انسان ليکم
دوا هر ځائے هر بشر له
نوم ئې زۀ اطمينان ليکم
ادا کانې ښکلې ښکلې
کله زۀ قرآن ليکم
تول کلونه يا العلونه
نوم چې دوست د سبحان ليکم
هر صفت جدا جدا دے
زۀ احمد د مردان ليکم

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 177 ﴾

ورته تفسير تول د قرآن وائي
ورته نبی اخر زمان ﷺ وائي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتـــــــه ربښتیــــــا ورتــــــه وفـــا وائـــــی

ورتــــــــه د دیـــــن دُنیــــــا رنهـــــا وائـــــی

ورتـــــــه د زړونــــو اطـــمیـــنـــــان وائـــــی

ورتـــــــه نبـــــی آخــــرزمـــــان ﷺ وائـــــی

ورتــــــــه یٰسیـــــن بـــدرالـــدجـــیٰ ﷺوائـــــی

ورتـــــــه افـــضـــل ورتـــــــه اعـــلـــیٰ وائـــــی

ورتــــه جـــانـــان ، ورتـــه سلـطـان ﷺوائـــی

ورتـــــــه نبـــــی آخــــرزمـــــان ﷺ وائـــــی

ورتـــــــه نیـــــاز بیـــن ورتــــــه حسیـــن وائـــــی

ورتـــــــه د پـــــاك الـــلّـــــه نیـــــازیـــن وائـــــی

ورتـــــــه د پـــــاك الـــلّـــــه احســـــان وائـــــی

ورتـــــــه نبـــــی آخــــرزمـــــان ﷺ وائـــــی

ورتـــــــه اُستـــــاد دهــــــر بشــــر وائـــــی

ورتـــــــه اُستـــــاد د هـــــریــــو دروائـــــی

ورتـــــــه احـــمـــــده ! حـــق بیـــــان وائـــــی

ورتـــــــه نبـــــی آخــــرزمـــــان ﷺ وائـــــی

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿178﴾

نـــــورانـــــی صـــــفــــــت بشـــــر دے

حـــق زمـــونـــــږه پیـــغـــمبـــر ﷺدے

پــــــه نبیـــــانـــو کښـــې اعـــلـــیٰ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ولیانو نه بالا دے

سیورے مونږ له د سر دے

حق زمونږ پیغمبر ﷺ دے

ټول وجود هغه رحمت دے

دوست د پاك رب العزت دے

بره نمر یا پاس قمر دے

حق زمونږ پیغمبر ﷺ دے

درس د مینے ئې راکړے

هر یو درئې رڼا کړے

نمر دنیا کښې د سحر دے

حق زمونږ پیغمبر ﷺ دے

د جهان رڼا صورت دے

د جهان رڼا سیرت دے

د افسر په سر افسر دے

حق زمونږ پیغمبر ﷺ دے

زه احمد ئې مدح خوان یم

ورپسے دلته روان یم

د زړهٔ سر، نور د نظر دے

حق زمونږ پیغمبر ﷺ دے

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 179 ﴾

چـــا چـــي كــړے د نبــي ﷺ ســره يـــاري ده
د مـــحشــــــر د پـــــاره دغـــــــه تيـــــاري ده
د عـظـمـت پـه لوئـے مقام بانـدي بـه ناست وي
چـــا چـــي كــړے د رســول ﷺ تــابـعـداري ده
چـاچـي مينـه د جـانـان زړۀ كښـي سـاتلے
دغـــــه مـيـــنـــــه پـټـــــه ســـرداري ده
چـــا چـــي امـــر د رســول الـلّـــه ﷺ مـنلے
ختـــمـــــه شــوے ئــي هـــر يـــوه بيـــمـــاري ده
ورلــه اجـر لـوئـے مـقـام شتـه پـه مـحشر كښي
پـــه دنيـــا كښـــي چـــا چـــي نن كـړے خـواري ده
شـاعـر نـۀ دے چـي خـوك نعت ليـكلے نشي
نــعــت ليــكـل احــمــده ! اصــل شــاعــري ده

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 180 ﴾

ښـائسـتـۀ پـه ټول جهـان كښـي دے آقـا د مدينـي
رهـبـــر زمـــا او ستـــا دے رهـنـمـــا د مـديـنـــي
رهـبـــر زمـــا او ستـــا دے د دنيـــا پـــه هـــره لار
رهـبـــر د دي دنيـــا دے مـحـمـد خيــر الابــرار ﷺ
خــوره ده پـــه دنيـــا كښـــي حـق ويـنـا د مـديـنـي
رهـبـــر زمـــا او ستـــا دے رهـنـمـــا د مـديـنـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښـــۀ نــه مــونــږ خبـرشـو د نبـي ﷺ پــه وسيلــه
پـــه ديــن تـول مـنـوّر شـو د نبــي ﷺ پــه وسيلــه
اثـــر زمـــونـــږ پــه كـور كـښـي ن دے دا د مـديـنـي
رهبـــر زمـــا او ستـــا دے رهـنـمـــا د مـديـنـــي
اعـلان ئـي د تـوحـيـد پـه ښـكـلي شان سره دے كړے
بيـان ئـي د تـوحيـد پـه ښكلي شان سـره دے كـړے
مـمتـاز پـه هـر صـفـت دے مـصطفـیٰ ﷺ د مدينې
رهبـــر زمـــا او ستـــا دے رهـنـمـــا د مـديـنـــي
وريـــږي رحـمـتـونـــه پـــه هـغـوی سـحـر مـاښـام
احـــمـــد عـــلـــي پـــه دي سـره تـمـام كـړلـو كـلام
خـــوږه د هـــر ويـنـــا نـــه ده ويـنـــا د مـديـنـــي
رهبـــر زمـــا او ستـــا دے رهـنـمـــا د مـديـنـــي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 181 ﴾

هـــر در دلتـــه دنيـــا كښـــي دے اعـلـیٰ د مـديـنـي
مـنـظـر د هـــر مـنـظــر نـــه دے بـــالا د مـديـنـي
چـمـن تـه ئـي كـتـل پـه دي جـهان كـوي خـونـدونـه
مـدفـن تـه ئـي كـتـل پـه هـر مـكـان كـوي خـونـدونـه
خـــوږه لـــكـــه شـــاتـــو ده ويــنـــا د مـــديـنـــي
مـنـظـــر د هـــر مـنـظـــر نـــه دے بـــالا د مـديـنـي
هـــر څـوك دلتـه خـوشـحـالـه دی هـرچا بـانـديږ اختـر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښائسته دي لامثاله دي ښائسته دے هريو در

قسم دے معطره ده فضا د مدينې

منظر د هر منظر نه دے بالا د مدينې

عالي د مدينې منوري دے هر بشر

منظر ډير عجيبه دے مدينه کښې د سحر

عالي دے هريو ذکر په هرخوا د مدينې

منظر د هر منظر نه دے بالا د مدينې

نسبت ورسره دے د محمد خير الابرار ﷺ

په دې وجه اوچت دے په دنيا کښې دغه ښار

د شرك او د بدعت نه ښار صفا د مدينې

منظر د هر منظر نه دے بالا د مدينې

ليکلے تا احمدعلي منظر د مدينې

ليکلے تا احمدعلي اثر د مدينې

اثر د هريو ښار نه دے جُدا د مدينې

منظر د هر منظر نه دے بالا د مدينې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 182 ﴾

د صبا باده! سفر د مدينې کړه

په کوڅو لارو نظر د مدينې کړه

چې ئې لارې معطره د جهان دي

قدر منده ئې دنيا کښې ساکنان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـــهٔ نـــظـــر پــــه هــر بشــر د مـدیـنـي کــړهٔ
پــــه کـــوځـــو لارو نـــظـــر د مـدیـنـــي کـــړهٔ
دلتــــــه درس د مـــحـبـــت بــــــه مـلاویـــږي
تـــــاتــــــه درس د اُخـــوت بـــــه مـلاویـــږي
خُــکــل پـــه میـنـــه هـریـو درد مـدیـنـي کـړهٔ
پـــه کـــوځـــو لارو نـــظـــر د مـدیـنــي کـــړهٔ
د حــکـــمـــت چیـنــــې دي دلتـــه نـــه بهیـــږي
د رحـــمـــت چیـنـــې دي دلتــــه نــــه بهیـــږي
رانـــزدې زړهٔ تـــــه ســحـــر د مـدیـنــي کـــړهٔ
پـــه کـــوځـــو لارو نـــظـــر د مـدیـنــي کـــړهٔ
د احـــمـــدعــلـــی ســـلام د ځــــان ســره کـــړهٔ
د احـــمـــدعــلـــی کـــلام د ځــــان ســره کـــړهٔ
ځــــان اګــــاه پــــه هـــر اثـــر د مـدیـنــي کـــړهٔ
پـــه کـــوځـــو لارو نـــظـــر د مـدیـنــي کـــړهٔ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 183 ﴾

پــــه ســنـــت د مـــحـــمــد ﷺ پـوره عـمـل کــړهٔ
ژونـد ښـائستــهٔ ورسره دلتـه کښـي تـول خپـل کـړهٔ
طـــــریـــقـــــه د مـــحـــمـــد ﷺ رښـــا رښـــا ده
دا رښـــا د بـــل جهـــان د پـــاره مَـــل کـــړه
د نـــادان ســـړي نــــه لـــرې لـــرې ګـــرځـــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـــردانـــا ســـره يـــوځـــائـــے پـــه لاره تـــلـــل كـــړۀ
چــــــي د ديـــــن او د دنيـــــــا خبـــــره راشــــــى
د دنيــــــا كـــــارونــــــه پــــريــــېږده ديــن اول كــــړۀ
د فـــــلاح د پـــــاره تــــــاتــــــه نــصيــحـــت دے
مســئــلـــه د پــاك نبــى ﷺ پــه سيــرت حل كــړۀ
حــق ويــنـــا كــول د پــاك نبــى ﷺ سيــرت دے
ويــنـــا دغـــه شـــان احــمــده ! حــقـــه تــل كــړۀ

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 184 ﴾

آخــــر كبنــــي راغــلـــے ، آخــــر كبنـــي پيــدا دے
خـــو بيـــا هــم د ټــولــو نـــه غــوره اعــلـــىٰ دے
نبيــــــان مـــــرســــلان ورپســــــے ورپســـــے دي
وليـــــان ، عــــــالــــمـــــان ورپســــے ورپـــے دي
غـــلام ئـــي دنيـــا كښـــي هـــرشــاه او ګــدا دے
خـــو بيـــا هــم د ټــولــو نـــه غــوره اعــلـــىٰ دے
سيـــرت ئـــي رڼـــا ده ، سيـــرت ئـــي ښُـــكـــلا ده
سيـــــــرت ئـــــي وفـــــــا ده ، د زړونــــو دوا ده
هـــرڅـــوك تــــريـــنـــه دلتـــه فـــدا دے فـــدا دے
خـــو بيـــا هــم د ټــولــو نـــه غــوره اعــلـــىٰ دے
رڼــــا ئـــي د مـــخ دا جهـــــان ټــول رڼــــا كـــړۀ
رڼــــا ئـــي د مـــخ هـــر آســـمـــان ټــول رڼــــا كـــړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بشر دے سحر دے رڼا دے رڼا دے
خوبیا هم دتولو نه غوره اعلیٰ دے
نۀ داغ په سیرت ئي، نۀ داغ په صورت ئي
نۀ داغ په عزت ئي، نۀ داغ په عظمت ئي
هر چا نه احمده! جدا دے جدا دے
خوبیا هم دتولو نه غوره اعلیٰ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 185 ﴾

حسین په صورت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
زمونږ د زړۀ سر دے زمونږ رهنما دے
زمونږ د زړۀ سر دے، زمونږه افسر دے
دلبر دے دلبر دے زمونږه دلبر دے
محبوب د دنیا دے، محبوب د مولیٰ دے
حسین په صورت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
نبی ﷺ دے نبی دے رسول ﷺ دے رسول ﷺ دے
روان په دنیا کښې په حق په اُصول دے
سیرت ئي صفا دے صورت ئي صفا دے
حسین په صورت محمد مصطفیٰ ﷺ دے
لقب ئي امین دے لقب ئي حسین دے
حسین دے حسین دے، حسین ئي تول دین دے
جُدا دے جُدا دے مقام ئي جدا دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسين په صورت محمد مصطفىٰ ﷺ دے
امام دے زمونږه، زمونږه ايمان دے
اخلاق ئي دنيا كښي موجود داقرآن دے
احمده! بيان ښۀ صفا دلته ستا دے
حسين په صورت محمد مصطفىٰ ﷺ دے

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 186 ﴾

مزے چي چا د مديني وليدے
د نور حكمت هغۀ چينے وليدے
دا د قسمت او د تقدير خبره
ورشۀ يو وار دلته زما دلبره!
چا چي دا دراو نظارے وليدے
د نور حكمت هغۀ چينے وليدے
مزے او خوند د مديني مزه كه
دغه بيان او تذكرے مزه كه
چا چي د پاك نبى ﷺ كوځے وليدے
د نور حكمت هغۀ چينے وليدے
دغه منظر د دي جهان ښكلے دے
دلته هر در ښۀ عاليشان ښكلے دے
چا چي نور دا محلے وليدے
د نور حكمت هغۀ چينے وليدے

(c) ketabton.com: The Digital Library



څــکــــه احــمــد ورپســـې نــن کــړيـــږي
عــــاشـــق ســــرې ورپســــې نـــن ژړيـــږي
چـــا چـــې قيـــام هــلتــــه جـلســې وليــدې
د نـــور حــکــمــت هــغـــۀ چيــنــې وليــدې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 187 ﴾

د رســـول ﷺ د ديـــدن تـــــه مـــې زړۀ کيــــږي
مـديـنـــې ښـکـلـې چـمـن تـــه مـې زړۀ کيـــږي
هــغـــه در ښــکـــلـی دربـــار تــــه ورتـــلـل غــواړم
د رسـول اللّـــه ﷺ مســکـن تـــه مـې زړۀ کيــږي
نـــاستـــه بيـــا د عـــائشـےؓ بـی بـی حـجـره کښې
دغـــه ښـکـلــی پـــاك وطـن تـــه مـې زړۀ کيـــږي
مـــانــــه روح د مــديــنـــې پــــه لار جـــدا شـــی
داســـې مـــرګ او زنـــکـدن تـــه مـــې زړۀ کيـــږي
چـــې خـــوشبـــو د مـديـنـــې لـــری لـمـن کښې
مـعـطـــر داســـې کـفـن تــــه مـــې زړۀ کيـــږي
د احـــمـــدعـلــــی نـعـتـــونــــه وئيـل خـــوښ دی
چـــې د پــــاك نبــــی ﷺ پــــه ذکـــر مـعـطـــروی
اے احـــمـــده ! خـــوږ ســـخـــن تـــــه مـــې زړۀ کيـــږي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 188 ﴾

ښــکــلــې ښــائستـــــۀ ښـــار د مــديـنـــې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ښکلے بازار د مدينې دے
هلته کښې سحر دے د دنيا سحر
هلته کښې قمر دے د دنيا قمر
نور په هره لار د مدينې دے
ډېر ښکلے بازار د مدينې دے
هلته کښې اصحابؓ د محمد ﷺ اووسي
دغه ټول احبابؓ د محمد ﷺ اووسي
هر ځائے کښې بهار د مدينې دے
ډېر ښکلے بازار د مدينې دے
هلته درودونه سلامونه دي
نور سره ښائسته ټول محفلونه دي
داسې ښه ګفتار د مدينې دے
ډېر ښکلے بازار د مدينې دے
هلته کښې ګلونه، چمونه دي
هلته د رسول الله ﷺ باغونه دي
هر بشر هوښيار د مدينې دے
ډېر ښکلے بازار د مدينې دے
هلته کښې ټکره شته د جنت ښکلے
وايه دا احمده! حقيقت ښکلے
زمونږه غمخوار د مدينې دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر ښکلے بازار د مدينې دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 189 ﴾

زړۀ رانه ديار ﷺ کلی کښې پاتے شو
زړۀ مې د غمخوار ﷺ کلی کښې پاتے شو
ما خو نۀ غوښتل خو ترې جُدا شومه
ځکه نن زۀ خلقو ته ګويا شومه
زړۀ مې د تاجدار ﷺ کلی کښې پاتے شو
زړۀ رانه ديار ﷺ کلی کښې پاتے شو
دغه په نصيب کښې به ليکلے وه
ربَ دا فيصله به راليږلے وه
زړۀ مې د سردار ﷺ کلے کښې پاتے شو
زړۀ رانه ديار ﷺ کلی کښې پاتے شو
نن مې نۀ خندا نه خويونه شته
نۀ راسره دلته نور خيالونه شته
مانه خپل دلدار کلے کښې پاتے شو
زړۀ رانه ديار ﷺ کلی کښې پاتے شو
کور کوڅه کښې زۀ ئې ګرځيدلے يم
زۀ ورته نزدے شۀ اوسيدلے يم
در دغه دريار کلے کښې پاتے شو
زړۀ رانه ديار ﷺ کلی کښې پاتے شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هیـــځ راســـره نشتــــــه اُوس تــنهـــا شــومــــه
زۀ چـــې د خپـــل يـــار نــــــه نــن جُـدا شــومـــه
زړۀ زمـــا قـــرار کــلـــی کښــي پــاتــې شــو
زړۀ رانــــه ديــار ﷺ کـلــی کښــي پـاتــې شــو
بـــــس يـــو تــمــنــــا شــوه د احــمــد عــلـــی
ختـــمـــــــه داويـــنــــا شـــوه د احــمــد عــلـــی
هـــرچـــا نــــه بهـــار کـلـــی کښــي پـاتــې شــو
زړۀ رانــــه ديــار ﷺ کـلــی کښــي پـاتــې شــو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 190 ﴾

زمـــونـــړ نبـــی ﷺ ښـکـلـې دې ښـکـلـې دې
لـــکــــــه سپـــرلــــې دلتــــــه راغــلـــې دې
صــفـــت ئـــې کـــړې دې مـــولـــیٰ زمـــونـــړه
د هـــــريـــــو در دې مــــقـتـــدا زمـــونـــــړه
خپـــلــــو پـــردو تـــولـــو مـــنــلـــې دې
زمـــونـــړ نبـــی ﷺ ښـکـلـې دې ښـکـلـې دې
زمــــونـــــړ ايـــــمـــــان د دې دنيـــــا د در
حـــق اطـــمـيـــنـــــان دې د هــــرچـــــا د در
تـــولـــو صــــــادق اميـــن بـــلــلـــې دې
زمـــونـــړ نبـــی ﷺ ښـکـلـې دې ښـکـلـې دې
لاړو دنيـــــا نــــــه پــــاس أســمـــان تـــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاس د آسمان نه لامکان ته

راز له مولیٰ له بره تللے دے

زمونږ نبی ﷺ ښکلے دے ښکلے دے

زما ایمان په هر مقام دلته دے

دا د احمد علی پیغام دلته دے

ګواه په دغي هر یو کلے دے

زمونږ نبی ﷺ ښکلے دے ښکلے دے

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿191﴾

ښار مدینه دے دا د چا کلے دے ؟

دا د حضرت رسول اللّٰه ﷺ کلے دے

دلته شاهی ده فقیرے جامه کښي

دا د نیکانو اولیاء کلے دے

چمن د مینے په دنیا دلته دے

دا د امام الانبیاء ﷺ کلے دے

دلته واړۀ او مشران خوشحاله

د خوشحالو د مرحبا کلے دے

نشته ویرونه فریادونه پکښي

د هر حسد نه پاك صفا کلے دے

داسي احمد علی په جار وئیلی

مدینه کلو کښي اعلیٰ کلے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 192 ﴾

راځے چې لاړ شو د آقا ﷺ کلی ته
د محمد رسول اللّٰه ﷺ کلی ته
هغه منظر به د دنیا وویـنو
هغه منظر به د رڼا وویـنو
راځے چې ځو د مصطفیٰ ﷺ کلی ته
د محمد رسول اللّٰه ﷺ کلی ته
قسم ښکلے دے اعلیٰ کلے دے
خوښ د هر ځوان او د بابا کلے دے
په جمع ځو مونږ د طٰهٰ ﷺ کلی ته
د محمد رسول اللّٰه ﷺ کلی ته
هلته رحمت په هر مقام وریږی
هلته رحمت سحر ماښام وریږی
راځے چې ځو ټول د وفا کلی ته
د محمد رسول اللّٰه ﷺ کلی ته
دا د صدیقؓ دا د عمرؓ کلے دے
دا د عثمانؓ او د حیدرؓ کلے دے
راځے چې ځو د اولیاء کلی ته
د محمد رسول اللّٰه ﷺ کلی ته
دغه ارمان دے د احمدعلی نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه بیان دے د احمد علي نن

په جمع شو د مجتبیٰ ﷺ کلي ته

د محمد رسول اللّٰه ﷺ کلي ته

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 193 ﴾

نشته نشته محمد ﷺ په شان افضل څوک

داسي نشته مرتبه کښي بل اوّل څوک

د دعوت وینا خوږه ئي ده شرینه

نشته داسي چي نن اوکړی رابلل څوک

انبیاء او اولیاء ټول د جهان

مرتبي ته ئي نۀ رسی په کښي تل څوک

چي قدم ئي په دنیا کښي ایښے نۀ وو

انسانانو کښي وو ایه پوهیدل څوک

د رحمت او د عظمت ئي ګواهان یُو

کم دی کم دی چي نزدي کړی پردی خپل څوک

زۀ احمد ئي د سنت په نور روان یم

پیش به نۀ کړی د سنت دلته بدل څوک

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 194 ﴾

چا چي کړے د نبی ﷺ سره یاری

هغۀ کړے د محشر ده تیاری

یو رسول ﷺ زمونږ د ټولو رهنما

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر چا دلارے مَل، دلارښا

ختموي د زړونو تل بیقراري

چا چي کړے د نبي ﷺ سره یاري

هر عمل کښي تيارے د اخرت

هر عمل په طریقه کړه د سنت

عبث نۀ ده د دنیا دغه خواري

چا چي کړے د نبي ﷺ سره یاري

زړۀ صفا په دغي یاد سره تمام

زړۀ صفا هم په درود او په سلام

ختموي دغه د زړونو بیماري

چا چي کړے د نبي ﷺ سره یاري

دا عزت د هر بشر د پاره نن

دا رحمت د هر یو سر د پاره نن

تل هر چا له د دنیا ده سرداري

چا چي کړے د نبي ﷺ سره یاري

د احمد علی بیان دے دا په جار

څوك چي لاړ شی د نبي ﷺ په شکلی لار

نور دے نور دے د رسول ﷺ تابعداري

چا چي کړے د نبي ﷺ سره یاري

★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿195﴾

ماته صحیح او حقه لاره خپل نبي ﷺ ښودلې
راته دا لاره د نبي ﷺ هر صحابيؓ ښودلې

پکښې رضا چې د مولیٰ غني سبحان پته ده
پکښې ښُکلا چې د دنیا د هر انسان پته ده
لاره دا نیغه مونږ ته دلته هاشمي ﷺ ښودلې
راته دا لاره د نبي ﷺ هر صحابيؓ ښودلې

لاره ده نیغه په دنیا کښې هر بشر د پاره
لاره ده نیغه د دنیا هریو افسر د پاره
د نیکې لاره مونږ ته دلته مدني ﷺ ښودلې
راته دا لاره د نبي ﷺ هر صحابيؓ ښودلې

پراته پراته دي په دې لاره نعمتونه د ربّ
پراته پراته دي په دې لاره جنتونه د ربّ
د خوشحالوئي مونږ ته لاره ابدي ښودلې
راته دا لاره د نبي ﷺ هر صحابيؓ ښودلې

دا لاره خوښه دا احمدعلي په هر مقام
دا لاره خوښه د هریو ولي په هر مقام
مونږ ته دا نیغه لاره دلته قریشي ﷺ ښودلې
راته دا لاره د نبي ﷺ هر صحابيؓ ښودلې

★★★★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 196 ﴾

خلق دی ټول د مدینې خوشحاله
دلته وختونه ورځې شپې خوشحاله
دلته خوبونه په آرام سره دی
ټول قدمونه احترام سره دی
خلق دی ټول د دې کوڅې خوشحاله
خلق دی ټول د مدینې خوشحاله
دلته کړی قدر د وختونو خلق
د ربّ مولیٰ د نعتمونو خلق
نزدې دی خلق د روضې خوشحاله
خلق دی ټول د مدینې خوشحاله
دلته صدیقؓ دلته عمرؓ اُوسیږی
دلته عثمانؓ، علی حیدرؓ اُوسیږی
روضې سره خواته جنګلې خوشحاله
خلق دی ټول د مدینې خوشحاله
دا د قسمت او د تقدیر فیصله
دا د دنیا د ربّ خبیر فیصله
دلته د هریو درزې خوشحاله
خلق دی ټول د مدینې خوشحاله
دا د احمد وینا د خوند نه ډکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینا احمده ! ستا د قند نه ډکه
د دې شعرونو دا جملې خوشحاله
خلق دی ټول د مدینې خوشحاله

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 197 ﴾

پکارېږي نور سنت به ستا په کور کښې
رڼا ګانې دغه ستا دي ستا په کور کښې
دا خر د پاره دغه ښۀ توښه ده
دا خر دپاره دغه ښۀ حصه ده
اطمینان دے او سکون دے په هر شور کښې
رڼا ګانې دغه ستا دي ستا په کور کښې
د محشر په لوئے میدان کښې نور رڼا ده
هر بشر لره درب لویه عطا ده
یو ډیوه د هدایت ده په هر لور کښې
رڼا ګانې دغه ستا دي ستا په کور کښې
د مولیٰ رحم وکرم دا په هر چا دے
دغه نور د کائنات د هر صبا دے
بچ کوی به تا چې اچوی په اُور کښې
رڼا ګانې دغه ستا دي ستا په کور کښې
د عزت دغه څادر واخله په سر کړۀ
دا حمدعلی وینا نه ځان خبر کړۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا سپين والے راولی په هريو تور کښي
رنا ګانے دغه ستا دي ستا په کور کښي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿198﴾

ښکلي دي ډير ښکلے د جانان ﷺ کوڅے
نور نه دي دا ډکے په جهان کوڅے
بل دي مشالونه په دې لارو کښې
هر خوا دي ګلونه په دې لارو کښې
ډك د هر صفته عاليشان کوڅے
ښکلي دي ډير ښکلے د جانان ﷺ کوڅے
تل په دغې لارو کوي تلل مزه
تل د دغې لارو کړي ليدل مزه
دا دې د نبي آخرزمان ﷺ کوڅے
ښکلي دي ډير ښکلے د جانان ﷺ کوڅے
ډيرے حُسندارے په دنيا کښې دي
ښکلے مزيدارے په دنيا کښې دي
دا دي د نبيانو د سلطان ﷺ کوڅے
ښکلي دي ډير ښکلے د جانان ﷺ کوڅے
هر چا ئې ښائسته ښکلا منلے ده
ما ئې حق وينا دلته ليکلے ده
نهٔ رسي ورته ښهٔ عاليشان کوڅے

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښکلې دي ډېر ښکلې د جانان ﷺ کوڅې
ځکه دا ده لاره د خیر الورئ ﷺ
ځکه دا ده لاره د بدر الدجئ ﷺ
خاندي لکه ګل د ګلستان کوڅې
ښکلې دي ډېر ښکلې د جانان ﷺ کوڅې
غوره دي کوڅې د پاك نبي ﷺ د در
ذکر ئي احمد علي کړه مختصر
دا دي د محبوب غني سبحان کوڅې
ښکلې دي ډېر ښکلې د جانان ﷺ کوڅې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 199 ﴾

کله صادق کله امین ئي د جهان لیکمه
کله چي نوم زهٔ د نبي اخرزمان ﷺ لیکمه
ورته یٰسین ورته حسین په ټول جهان کښي وائي
ښهٔ بهترین ورته نیازبین په ټول جهان کښي وائي
زهٔ مزمل ئي د دنیا په هر مکان لیکمه
کله چي نوم زهٔ د نبي اخرزمان ﷺ لیکمه
ورته امام د امامانو ټول جهان وئیلے
ماهِ تمام د صالحانو ټول جهان وئیلے
کله ئي ګل زهٔ په دنیا د ګلستان لیکمه
کله چي نوم زهٔ د نبي اخرزمان ﷺ لیکمه

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورته قمر ورته هم نمر هر یو بشر وئیلے
ورته سحر په لر او بر هر یو بشر وئیلے
جزء په دنیا کښې زۀ ئي دلته د ایمان لیکمه
کله چې نوم زۀ د نبی آخر زمان ﷺ لیکمه
ورته خاتم الانبیاء ﷺ ټول په جهان کښې وائی
ورته محبوب د پاك اللّٰه په هر آسمان کښې وائی
د زړۀ ټکور ئې دلته زۀ د مسلمان لیکمه
کله چې نوم زۀ د نبی آخر زمان ﷺ لیکمه
ورته زۀ سیورے د رحمت د ټول جهان وایمه
ورته زۀ سیورے د رحمت ښۀ عالیشان وایمه
زۀ ئې احمد دلته دلبر د هر انسان لیکمه
کله چې نوم زۀ د نبی آخر زمان ﷺ لیکمه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 200 ﴾

نوم د آقا ﷺ په ډیر ادب او احترام لیکمه
ورسره زۀ په ښکلی خط درود سلام لیکمه
دا دے اظهار د مصطفیٰ ﷺ سره د مینې دلته
دا دے اظهار خیر الوریٰ ﷺ سره د مینې دلته
نوم د نبی ﷺ چې دلته زۀ سحر ماښام لیکمه
ورسره زۀ په ښکلی خط درود سلام لیکمه
د زړۀ قرار د زړۀ سکون او اطمینان د پاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغـــه عــلاج د دې دنيـــا د مســلــمـــان د پـــاره
زۀ ئې پـه خـونـد سـره هر ځائـے کښې تل مدام ليکمه
ورسـره زۀ پـــه ښـکـلـی خـط درود سلام ليـکـمـه

د سـتـرګـو تـور د زړۀ تـکـور ورتــه هر چا وئيلـے
ورتـــه حسـيـن صـورت دنيـا کښــې اوليـاء وئيلـے
زۀ ئـې رهبـر د کـائـنـات د خـاص او عـام ليـکـمـه
ورسـره زۀ پـــه ښـکـلـی خـط درود سلام ليـکـمـه

زمـــا رښـــا زمـــا ژونـدون د دې دنيـــا هـغـــه دے
زمـا وينـا ښـکـلـے مـضـمـون د دې دنيا هغـه دے
وائـی احـمـد زۀ پـه دنيـا ښـائـسـتـۀ کلام ليـکـمـه
ورسـره زۀ پـــه ښـکـلـی خـط درود سلام ليـکـمـه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 201 ﴾

نـــمـــــر دے يـــا د نـــمــــريـــو تـــکـــــړه ده
داســـې پـــه دنيـــا کښــــې مـــديــنـــــه ده
زۀ ئـــې د ديـــدن دلتــــــه ارمــــــان لـــــرم
زۀ دغــــــه ارمـــــان پـــــه دې جهــــان لـــــرم
يــــــاده د جـــــنـــــــت يـــوه تـــکـــــــړه ده
داســـې پـــه دنيـــا کښــــې مـــديــنـــــه ده

څـــوك چــې پــــه دنيـــا ورتـــه ســفـــرکـــوی
څـــوك چــې پـــه دنيـــا ورتـــه نـظـــر کـــوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــــــه دګــــلــــونــو ګــــلــــدستـــــــه ده
داســــي پـــــه دنيــــا كښــــي مــــديــنـــــه ده
هــــلتـــــــه د رســــول الــــلّـــــه ﷺ يـــــاران دي
هــلتـــــه د نبــــی ﷺ تــول عـــاشــقــان دي
ځـــــکـــــه مـــعـــطــــره بــــاغيــــچـــه ده
داســــي پـــــه دنيــــا كښــــي مــــديــنـــــه ده
نـــور د شـــريــعـــت تـــريــنـــــه خـــوريــــږي
نـــور د هـــدايـــت تـــريــنـــــه خـــوريــــږي
هــــلتـــــــه د رســــول الــــلّـــــه ﷺ روضــــــه ده
داســــي پـــــه دنيــــا كښــــي مــــديــنـــــه ده
هــــلتـــــه پـــــه روضـــــه زمــــا نــظـــروے
راتــــــه مــــخـــــامـــخ د نبـــــی ﷺ د روے
خـــوښـــه مـــي د دغـــي در كـــوځـــــه ده
داســــي پـــــه دنيــــا كښــــي مــــديــنـــــه ده
ډيــــره عــــزت مــــنـــده پـــــه جهــــان دغـــــه
ډيــــره قــــدر مــــنـــده پـــــه جهــــان دغـــــه
ښــــكـــــلــــے د دې در دا تـــــذكــــــره ده
داســــي پـــــه دنيــــا كښــــي مــــديــنـــــه ده
رښــــه! ورلـــــه بـــوځـــے اُستـــــاذان زمــــا
رښــــه! ورلـــــه بـــوځـــے تــول يــــاران زمــــا

(c) ketabton.com: The Digital Library


زړۀ کښې ستا احمده ! اراده ده
داسې په دنيا کښې مدينه ده

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 202 ﴾

ژوند به ښائسته شي چې د سيّدالورىٰ ﷺ کلے وي
د مصطفىٰ ﷺ کلے وي د نُور رڼا کلے وي
زمکه آسمان د مدينې وي
د مدينې لارې کوڅې وي
قسم دے ډيره به مزه وي چې هم دا کلے وي
ګلونه ښکلي مزيدار وي
دوي معطره په هر لار وي
در د نبي ﷺ وي ورسره د مرتضىٰ ؓ کلے وي
باران په هر ځائے په هر لار وي
رحمت د سيّد الابرار ﷺ وي
هم د صديق ؓ او د عمرؓ ورسره بيا کلے وي
در د عثمان ابن عفانؓ وي
در د سلمانؓ او دَ حسّانؓ وي
احمده ! ډير به کوي خوند چې دلته دا کلے وي

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 203 ﴾

چې د سر سيورے زما دے مصطفىٰ ﷺ دے
رهنما زما او ستا دے مصطفىٰ ﷺ دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هر چا په دي جهان باندي دلبر دے
محبوب دا رنګ د مولیٰ دے مصطفیٰ ﷺ دے

امامت د انبیاء ئې امتیاز دے
مُرسلانو کښې بالا دے مصطفیٰ ﷺ دے

ورته وائی په دُنیا کښې مُعلِم
په لقب خیر الوریٰ ﷺ دے مصطفیٰ ﷺ دے

په سیرت سره کامله د جهان دے
مقتدا د مقتدا دے مصطفیٰ ﷺ دے

د توحید سبق ئې ټولو ته ښودلے
د هر چا د زړۀ دوا دے مصطفیٰ ﷺ دے

د احمد علی د زړۀ نه آواز ووتے
په دانا ؤ کښې دانا دے مصطفیٰ ﷺ دے

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 204 ﴾

نور رڼا د محمد ﷺ خوره شوه
قیمتی د دې جهان ذره ذرَه شوه

طرفونه د جهان رڼا رڼا شول
د دنیا ټولے نه جوړه یو ډیوه شوه

په دنیا کښې حُسن راغے کور په کور
دنیا جوړه یوه ښکلے ګلدسته شوه

هر طرف ته خوشبو لاړه په جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



معطره ترینه جوړه باغیچه شوه
د جهان ښارونه کلی په هر لور
منوره د جهان هره کوڅه شوه
دا برکت د محمد رسول الله ﷺ وو
مدینه خو مدینه منوره شوه
ورځ خو ورځ وه د تورتم په ځائے رڼا شوه
د حکمت او نور جاري یوه چینه شوه
د باطل ژوندون شو ګران په دې جهان
په شیطان باندې دا ورځ دلته کښې شپه شوه
دا کمال دے د سیرت د محمد ﷺ
قیمتی د دې ژوندون هره لمحه شوه
ښه اعلیٰ شو د جهان بنی اٰدم
په مخلوق کښې رابیداره یو جذبه شوه
اے احمده! د درونده والی علامت دے
شاعري ورسره ستا تهوله درنه شوه
اے احمده! ستا اعلیٰ هره جمله شوه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿205﴾

خوښ مې ژوندون دے د ﻁه ﷺ د کلی
ژوندون اعلیٰ دے دا اعلیٰ د کلی
دغه ژوندون د دې جهان کوی خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــــه ژونــدون پـــه هـــر مـكـــان كـوي خـونـد
دا ده ويـــنــــا د مـــصـــطــفـــیٰ ﷺ د كـــلـــي
ژونـــدون اعـــلــــیٰ دے دا اعـــلــــیٰ د كـــلـــي
هـــره لــمــحـــه پــكښـــي اعـلــیٰ ده ښـكـلـے
د ژونـد قيـصـــه پـكښـي اعـلـیٰ ده ښـكـلــے
ده تـــذكـــره د مــــجتبـــیٰ ﷺ د كـــلـــي
ژونـــدون اعـــلــــیٰ دے دا اعـــلــــیٰ د كـــلـــي
در د هـــر درنــــه دے اعـــلــــیٰ د نبـــي ﷺ
در پـــه هـــر يـــو صـــفـــت جـدا د نبـــي ﷺ
اثــــر د سيّــــد الـــــوریٰ ﷺ د كـــلـــي
ژونـــدون اعـــلــــیٰ دے دا اعـــلــــیٰ د كـــلـــي
پـكښـي مـاښـام پـكښـي سـحـر ښـكلـے دے
پـكښـي احـمـده ! هـــر بشـــر ښـكـلـے دے
دا تـــذكــــره ده د دانــــــا د كـــلـــي
ژونـــدون اعـــلــــیٰ دے دا اعـــلــــیٰ د كـــلـــي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 206 ﴾

څـوك چـي د پـاك الـلّـــه رحـمـت غـواړي
هـغـه مـولـیٰ نـه دے سـنـت غـواړي
رحـــمـــت د د وجهـــان د پـــاره نبـــي ﷺ
رحـــمـــت د هـــر انســـان د پـــاره نبـــي ﷺ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څــــوك چـــي رحــمـــت او ســـر اُوچـــت غــواړي
هـــغـــــه مـــولـــئ نـــــه دے سـنـــت غـــواړي
عـــــزت مـــحـشـــــر كښـــي د هـــريـــو بشـــر
رڼــــا مـــحشـــر كښـــي د هـــريـــو نـــظـــر
څــوك چـــي دا نـــور او حـــقيـــقـــت غـــواړي
هـــغـــــه مـــولـــئ نـــــه دے سـنـــت غـــواړي
تـــــاج د عــــزت د شــــرافـــــت د تـپـــولـــو
دا نيـــغــــــــه لاره ، هــــدايــــت د ټــولـــو
څــوك چـــي دا تـــــاج او هــدايـــت غـــواړي
هـــغـــــه مـــولـــئ نـــــه دے سـنـــت غـــواړي
ورســــــره ميـــنـــــــــه مـــحبـــت ډيـــــر دے
دا نـــــصيـــحـــــت د آخــــــرت ډيــــــر دے
احــــمــــده ! څـــوك چـــي آخــــرت غـــواړي
هـــغـــــه مـــولـــئ نـــــه دے سـنـــت غـــواړي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 207 ﴾

د نيـــــانـــــو دے افســــــر ، افســــــر زمــــــا
دلبــــرانـــــو لـــــــه دلبــــر ، دلبــــر زمــــــا
افســــرانـــو كښـــي اوچـــت دے لــــه هـــرچـــانــــه
سـلـطـــانـــانـــو كښـــي اوچـــت دے عـــالَشيـــانـــه
رهبــــرانـــــو لـــــــه رهبــــر ، رهبــــر زمــــــا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنبيـــــانـــو دے افســـــر، افســــرزمـــــا

ورتـــــه نـــــهٔ رســـی رُتبــــه کښـــي يــو بشــر

داســـــي وائـــــی عـــــالــــمـــــان د هــــريــــو در

هـــنـــرمـــنـــد پــــه لـــراوبـــر، ســـحـــرزمـــا

دنبيـــــانـــو دے افســـــر، افســــرزمـــــا

هـــــريـــــو قـــول هـــــره ادا ئـــــي قيـــمتـــــی

هـــــر بشـــــرئـــــي د جهـــــان دے مـــقتـــدی

عـــــام کـــــړه دغـــــه پـــــه هــــردر، خبــــرزمـــــا

دنبيـــــانـــو دے افســـــر، افســــرزمـــــا

سيــورے دلتـــــه پــــه دنيـــــا کښـــي د رحـــمـــت

نــــوررنـــــا ئـــــي د جهـــــان دلتـــــه ســـنـــت

دغـــــه پـــريښـــے بـــــه اثـــر، قـــمـــرزمـــا

دنبيـــــانـــو دے افســـــر، افســــرزمـــــا

زهٔ ئـــــي دلتــــــه پــــه جهــــان يــم پيـــروکـــار

زهٔ احـــمـــد ئـــــي د جهـــــان يــم پـــــه حـــق لار

حـــق رنـــــا ده دٰاســـمــــــان د نــــمـــرزمـــــا

دنبيـــــانـــو دے افســـــر، افســــرزمـــــا

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 208 ﴾

در د نبيــــــانـــو د افســـــرﷺ شــکـــلـــے دے

در د نبــــی خيــــر البشـــرﷺ شــکـــلـــے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې ښکلا په یو چمن کښې نشته

داسې ښکلا په یو وطن کښې نشته

د رښتیا اعلیٰ د پیغمبر ﷺ ښکلې دې

د د نبیانو د افسر ﷺ ښکلې دې

ګل د ګلاب یا د ریحان په شان

نمر د جهان دې په دنیا عیان

یا د غه د رلکه قمر ښکلې دې

د د نبیانو د افسر ﷺ ښکلې دې

په کښې رحمت په هر یو دروریږي

نور او برکت په هر یو دروریږي

لکه سحر زما دلبر ښکلې دې

د د نبیانو د افسر ﷺ ښکلې دې

سلام درود یو سلسله هلته ده

د نور حکمت لویه چینه هلته ده

احمده! نور د هر نظر ښکلې دې

د د نبیانو د افسر ﷺ ښکلې دې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 209 ﴾

لاړ شه یو وار د مصطفیٰ ﷺ کلی ته

د محمد رسول اللّٰه ﷺ کلی ته

هغه عالَم هغه منظر وو ینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نور د جهان د هر نظر وړونه
لاړ شه د مينې د وفا کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته

لاړ شه خوشبو هغه د ريار وړونه
لاړ شه، حَسين هغه ګلزار وړونه
لاړ شه د امن او حيا کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته

نشته خراب هلته بيکاره خلق
نشته د روح هلته بيماره خلق
لاړ شه د سَدالورئ ﷺ کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته

تاله کافي هغه رڼا د دين
تاله کافي هغه بښکلا د دين
لاړ شه د هغي مقتدا کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته

دغه مسکن د خير نه ډك دے تاله
دغه چمن د خير نه ډك دے تاله
لاړ شه د دوجهان پيشوا کلي ته
د محمد رسول الله ﷺ کلي ته

دا د احمد هم تمنا په زړۀ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغــــــه دُعـــــا ئـــي د دنيـــــا پـــــه زړۀ ده
لا ړ شــــه روان شــــه بنــــۀ اعـلـــىٰ كـلـى تــه
د مـــحـــمـــد رســول الــلّــــه ﷺ كـلـــى تـــه

## نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 210 ﴾

رهـــنـــمـــا دے تــرجـــمـــان د حـــق ويـــنـــا دے
داســـي نـــوم د مـــحـــمـــد رسـول الــلّـــه ﷺ دے
نـــۀ پـــه نـوم بـانـدي نـكـتـــه نـــۀ پـــه سـيـرت ئـي
نـــه مـونـدلـے شـي نـكـتـــه ئـي پـــه صـورت ئـي
دا رنګ دلتـــه كـبـنـي اُسـتــاد زمـــا اوستـــا دے
داســـي نـــوم د مـــحـــمـــد رسـول الــلّـــه ﷺ دے
مهـــربـــانـــه پـــه امـــت هـــغـــه دنـيـــا كـبـنـي
مهـــربـــانـــه پـــه امـت دے پـــه هـرخـوا كـبـنـي
داســـي نـــوم زمـــونـــږ د پــاك نبـــي ﷺ جـدا دے
داســـي نـــوم د مـــحـــمـــد رسـول الــلّـــه ﷺ دے
ورتــــــــه وائـــــي اولـيــــن د ټـــول جهـــــــان
ورتـــــه وائـــي آخـــريـــن خـــو عـــاليشـــان
ســلــطـــانـــانـو كـبـنـي سـلـطـان د دي دنيــا دے
داســـي نـــوم د مـــحـــمـــد رسـول الــلّـــه ﷺ دے
د قــــرآن بنـــكـــلـــي اوصـــاف ورســـره ټـــول دي
حـــق رازونـــــه دا نـــصـــاف ورســـــره ټـــول دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امين او په صادق صفت صفا دے
داسي نوم د محمد رسول الله ﷺ دے
زۀ احمد يم په نسبت د محمد ﷺ
خوش دا نوم دے د پروردېګار صمد
ياد دا نوم چي په دنيا باندي زما دے
داسي نوم د محمد رسول الله ﷺ دے

نعتِ مصطفىٰ ﷺ ﴿ 211 ﴾

ليکل شکلى نعتونه د طٰهٰ ﷺ مزه کوى
وئيل دغه نعتونه په هرخوا مزه کوى
په مينه محبت سره ستائيل د محمد ﷺ
قسم دے په عزت سره ستائيل د محمد ﷺ
دا ذکر دغه مينه هر صبا مزه کوى
وئيل دغه نعتونه په هرخوا مزه کوى
ورېږى رحمتونه ورسره په هر بشر
ورېږى رحمتونه ورسره په هريو در
د شاتو نه خوږه دغه وينا مزه کوى
وئيل دغه نعتونه په هرخوا مزه کوى
درود او د سلام سره ئي دلته تذکره
ادب او احترام سره ئي دلته تذکره
په خوند سره قسم دے وايم دا مزه کوى

(c) ketabton.com: The Digital Library


وئیل دغه نعتونه په هرخوا مزه کوی
میلمه د لامکان هغه میلمه د پاس أسمان
احمد علی ئي کړے دلته ذکر په جهان
بار بار دغه وینا د مصطفیٰ ﷺ مزه کوی
وئیل دغه نعتونه په هرخوا مزه کوی

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 212 ﴾

لاړ په کړه نشے نیغه لار د مصطفیٰ ﷺ منه
حقه لاره دا ده ، ځکه حقه لاره دا منه
راشه د قرأن رڼا په دغي لار موندلے شي
راشه د جهان رڼا په دغي لار موندلے شي
بي د دغي لارے نه هرڅوك چي دی خطا منه
حقه لاره دا ده ، ځکه حقه لاره دا منه
نور په دغي لار باندي مولیٰ د ایمان ایخے دے
نور په دغي لار باندي مولیٰ د جهان ایخے دے
لاره حقه لاره په دنیا د انبیاء منه
حقه لاره دا ده ، ځکه حقه لاره دا منه
دا د نُور نه ډکه ده او دا سُرور نه ډکه ده
حقه د دنیا په لارو کښي دغه بیشکه ده
لاره دا محفوظه د دنیا د هر بلا منه
حقه لاره دا ده ، ځکه حقه لاره دا منه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه نن احمدعلي د دې لارې صفت کوي

هر ځائے کښې نيکان ورسره مينه محبت کوي

لاره دنيکے د هدايت او د وفا منه

حقه لاره دا ده، ځکه حقه لاره دا منه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 213 ﴾

ذکر د الله کوه، اَلله منه

بيا تري وروستو مصطفیٰ ﷺ منه

ذکر د رسول کړه د الله نه پس

نور انبياء ياد کړه مصطفیٰ ﷺ نه پس

بيا تري وروستو اولياء منه

ذکر د الله کوه، اَلله منه

ذکر د اصحابؓ د مصطفیٰ ﷺ کوه

ذکر د اصحابوؓ لاجواب کوه

وروستو تر ينه وروستو هر دانا منه

ذکر د الله کوه، اَلله منه

شته دے د اصحابوؓ شاګران خلق

شته دے په دنيا کښې عاليشان خلق

وروستو د اصحابؓ نه ئي اعلیٰ منه

ذکر د الله کوه، اَلله منه

ستوري د اَسمان دی په جهان کښې تول

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما احمد راووستی په بیان کښې تول
هریو مقتدا دي دنیا منه
ذکر د الله کوه، اَلله منه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 214 ﴾

وایه دنیا ده پیدا کړې رب د چاله مخه
رب پیدا کړې تول جهان د مصطفیٰ ﷺ له مخه
نمر او سپوږمي سره ښائسته او ښکلي ستوري تول
رب پیدا کړي تول څیزونه د طٰهٰ ﷺ له مخه
دا نیغه لاره مونږ مونډلې په دنیا کښې څنګ ده؟
مونږ ده مونډلې دغه لار دیو پیشوا له مخه
دا د حیا او د غیرت چي دلته چغې نن دي
دا د حیا څادر دې پروت د مجتبیٰ ﷺ له مخه
دا په دُنیا کښې چي رڼا د هدایت پرته ده
دا هدایت دې د نبي ﷺ د حق وینا له مخه
دا چي دُنیا کښې هر طرف ته مینه مینه ښکاري
دغه احمده! د نبي ﷺ ده یو ادا له مخه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 215 ﴾

بلې په په دنیا کښې چي د دین ډیوې دي
دغه برکتونه او انوار د مدینې دي
دغه برکتونه او انوار د مصطفیٰ ﷺ دي تول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه رحمتونه په هر لار د مصطفیٰ ﷺ دي ټول
هر طرف ته نن چي خوشبوداره باغيچه دي
دغه برکتونه او انوار د مدينې دي

دغه په نظر باندې راځي ټولو کسانو ته
دغه په نظر باندې راځي به صالحانو ته
څوك چي دا نور نۀ ويني نو ستر ګې ئې ړندې دي
دغه برکتونه او انوار د مدينې دي

پټ خو د چا نۀ دي دا انوار او کمالات ښکاره
پټ خو د چا نۀ دي دا اسرار او برکات ښکاره
چا ته چي نۀ ښکاري نو په ستر ګو ئې پردې دي
دغه برکتونه او انوار د مدينې دي

ذکر ئې اوچت دې د دنيا په هر مقام دلته
ذکر ئې اوچت دې اې احمد علی ! مدام دلته
دلته ښۀ اوچتې د انوارو منارې دي
دغه برکتونه او انوار د مدينې دي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 216 ﴾

چا چي د رسول اللّٰه ﷺ ليدلی کور کوڅې دي
هغه نن ليدلی په دنيا کښې خوند مزې دي
دا خو د قسمت خبره، دا خو د تقدير دې ليك
دا دې په دنيا کښې د اللّٰه مالك خير دې ليك

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذکـــرئـــي کــوه دا مــزيــدارے تــذکــرے دي
چــا چــي درسول اللّـه ﷺليـدلـی کور کوڅے دي
دلتــه درحــمــت پــه هر مـقـام بـانـدي بـاران دربَ
دلتـــه مـنـوره ښــۀ ښـائستــۀ دے دا جهـان دربَ
دلتــه کښـي دعـلـم د حـکـمت جـاري چینـے دي
چــا چــي درسول اللّـه ﷺليـدلـی کور کوڅے دي
دغـــه د مـولـیٰ کـرم دے د غــه دے احسـان دربَ
دغــه درحـمـت سحاب دے دغـه دے احسان دَربَ
هـروخـت رحـمتـونـه پـه دنيا کښي پـه روضے دي
چــا چــي درسول اللّـه ﷺليـدلـی کور کوڅے دي
دغـــي درتـــه تـلـل غـواړي دربَ نــه دا دُعـالــري
دغـــه نـن احـمـدعـلـی پـــه زړۀ يـو تـمـنـا لـري
يــادے ورتـــه نـن چـي بـاغيـچـے د مـديـنـے دي
چــا چــي درسول اللّـه ﷺليـدلـی کور کوڅے دي

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 217 ﴾

ميـنـــه پـــه زړۀ د مـصـطـفـیٰ ﷺسـاتـمـه
زړۀ دغـــه ميـنـــه پـــه هـرخـوا سـاتـمـه
مـــا دغـــه ميـنـــه ديـره کـړے زړۀ کښـــي
ميـنـــه صـفـــا پـــه دي دُنـيـــا سـاتـمـه
کـــورمـــي خـــالـــی د نـــورو ميـنـــو نـــه دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وئيل مې دلته دا ساتمه
ما سره ځائے په زړۀ کښي ډير ځکه ډير دے
زړۀ کښي حق مينه او وفا ساتمه
د نورو مينو نه تويه زما ده،
حق سره مينه په رښتيا ساتمه
مينه د بل چا به ديره زۀ نۀ کړم
وُلے به مينه د بل چا ساتمه
ما سره زړۀ کښي خپل نبی وسيږي
بيا زۀ دلته د چا پروا ساتمه
دا د احمدعلی د زړۀ آواز دے
دغه په زړۀ کښي يو وينا ساتمه

## هجرت ﴿218﴾

ده په انصارو خوشحالئ چي مصطفیٰ ﷺ راځی
زمونږه کلی ته حضرت رسول الله ﷺ راځی
لارو کوڅو کښي قطارونه دا نصارو جوړ شو
ميلمه زمونږ کورته د دوجهان آقا راځی
طنبل وهلو جينکو د خوشحالـه دلاسه
چغی وهلے ډُوی په جمع رهنما راځی
د مديني لارو کوڅو کښي ګلدستے پرتے وے
زيرے په يو بل دوی کولو مجتبیٰ ﷺ راځی

(c) ketabton.com: The Digital Library


ډیر عجیبه ښکلي منظر په هر طرف دلته وو

د خوشحالۍ انتها نه وه چي طٰهٰ ﷺ راځي

کله ښکاره چي شوه رڼا د مدیني په غرونو

ورته د هر طرف نه مرحبا صدا راځي

دا د احمدعلی اشعار د میني ډك ځکه دي

ذکر په دي کښي د محبوب د پاك اللّٰه ﷺ راځي

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 219 ﴾

سلام مي یوسه مدیني ته ربّ د پاره هوا

ځي چي اې بادِ صبا، ته په طرف د مدیني

هلته ساکن زما دلبر دې

هلته ساکن مي زړهٔ سر دې

هیره مي نکړې په دُنیا کښي د دنیا دا وینا

ځي چي اې بادِ صبا، ته په طرف د مدیني

هغه محبوب زما یادیږي

وریسې زړهٔ زما کړیږي

حالت د زړهٔ مي ورته ایخې راشه دلته کښي دا

ځي چي اې بادِ صبا، ته په طرف د مدیني

هغه محبوب د محبوبانو

هغه سلطان د سلطانانو

حالت د زړهٔ مي ورته ایخې دلته کښي دې صفا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـے چـې اے بـادِ صبـا ، تـهٔ پـه طرف د مـديـنـې
ښــار پــه ښــارونــو کښــې اعـلــیٰ دے
ځــکــه دا ښــار د مــصــطــفــیٰ ﷺ دے
هـلـتــه پـرتــه ده د نبــی ﷺ د سيـرت هـريـو ادا
ځـے چـې اے بـادِ صبـا ، تـهٔ پـه طرف د مـديـنـې
ځــکــه احــمــده ! پــه تــا ګــران دے
ښــار د نبــی ﷺ ډيــر عــاليشــان دے
پــه مـرتبــه کښـې د ښـارونـو ټـولـو نـه دے جُدا
ځـے چـې اے بـادِ صبـا ، تـهٔ پـه طرف د مـديـنـې

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 220 ﴾

حسيـن د ټـولـو خلقـو نـه تـاجدار ﷺ دے زمـا ګـل
رهبــر د ټـول جهــان د هــريـو لار دے زمــا ګـل
رونــق د ټـول جهــان دے او رونــق د مــديـنــے
رونـق پــه مـديـنــه کښـې هـر لارے او کـوڅـے
قـراٰن کښـې ربَ ستـائيلـے بـار بـار دے زمـا ګـل
رهبــر د ټـول جهــان د هــريـو لار دے زمــا ګـل
اٰخــر کښــې پيـدا شـوے خـو افـضـل د ټولـو دے
ښــائســت د انبيــاء د هــر مــحـل د ټـولـو دے
يــقيــن ســره زهٔ وايـم چــې ســردار دے زمـا ګـل
رهبــر د ټـول جهــان د هـريـو لار دے زمــا ګـل

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوشبو د هر چمن په کائنات کښې محمد ﷺ

خوشبو د هر وطن په معاملات کښې محمد ﷺ

صادق دے هم امين هغه غمخوار دے زما ګل

رهبر د ټول جهان د هر يو لار دے زما ګل

د عرش نه بره بره لوئے مقام لري هغه

د شاتو نه شرين صفت کلام لري هغه

دنيا کښې د دنيا د دربهار دے زما ګل

رهبر د ټول جهان د هر يو لار دے زما ګل

باعث د رحمتونو دے درود دغه سلام

احمد دا وظيفه کړه د دنيا دغه تمام

دلبر د لبرانو دا دلدار دے زما ګل

رهبر د ټول جهان د هر يو لار دے زما ګل

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 221 ﴾

نسيمه خوږ وطن ته د جانان ﷺ ځه راځه

ديدن له د نبيانو د سلطان ﷺ ځه راځه

ورځه دغي وطن ته د نبی خير الانام ﷺ

ورځه دغي وطن ته په ادب او احترام

محفل ته د محبوب غنی سبحان ځه راځه

نسيمه خوږ وطن ته د جانان ﷺ ځه راځه

ورځه دغي چمن ته د خوشبو د پاره نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځــه دغــي مسـکـن تــه د خــوشبـو د پـاره نـن
کــوڅــې تــه د نبـی اخــرزمــان ﷺ ځــه راځــه
نسیـمــه خــوږ وطــن تــه د جـانـان ﷺ ځـه راځـه

ورځــه ښـکـلـی دربــارتـه د اصـحـابو ؓ د نبی ﷺ
ورځــه ښــکـلــی ګـلـزار د عثـمـان ؓ او د عـلـیؓ
ســفــر د دغــي ښــار کــړه پــه ښــان ځـــه راځــه
نسیـمــه خــوږ وطــن تــه د جـانـان ﷺ ځـه راځـه

ورځــه ورتــه ســحــرا او مــازیــګــر ښــۀ پــه ادب
ذکـــر احــمــده ! وکـــړه د دلبـــر پـــه ښـــۀ ادب
انـــوار لـــه مــدیــنــي تــه د جهــان ځــه راځــه
نسیـمــه خــوږ وطــن تــه د جـانـان ﷺ ځـه راځـه

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 222 ﴾

میــنــه میــنــه مـحبـت دې زمــا زړۀ کښــي
نـفــرت پــروت د هــر بدعـت دې زمـا زړۀ کښـي
مــا دهــوکــه پــه مجـازي میـنــه بــه نــۀ کــړې
تـصـویــر پــروت د حـقیـقـت دې زما زړۀ کښـي

دیــره شــوی پــه کښــي ښــکـلـی دی یــادونــه
آبــاد کــورد هــر ســنــت دې زمــا زړۀ کښــي
د نبــی ﷺ د دیــن ســره میــنــه میــنــه ده
نـــاروا نـــه بــغـــاوت دې زمـــا زړۀ کښـــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوښياران خلق په ښه بدو پوهيږي
دغه ښه ښکلې صفت دے زما زړۀ کښې
څکه نشته ورسره تيارے تور تم
نور پوره د شريعت دے زما زړۀ کښې
ناروا ته ناروا وائي احمده!
داسې ښکلې ښۀ عادت دے زما زړۀ کښې

نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿223﴾

مونږ په دنيا کښې په حضرت رسول الله ﷺ مئين يُو
مونږ د رسول ﷺ په هر سنت په هر ادا مئين يُو
هريو ادا د مصطفیٰ ﷺ عالي مقام لري ډير
دا په هر در د دې دنيا ښۀ احترام لري ډير
مونږ په لعلونو حقيقت کښې د دنيا مئين يُو
مونږ ته محبوب دي صحابهؓ د محمد عربي ﷺ
په ښۀ اُسلوب دي صحابهؓ د محمد عربي ﷺ
مونږ په دې ډله حق پرسته په رښتيا مئين يُو
مونږ د رسول ﷺ په هر سنت په هر ادا مئين يُو
مونږ ته دے ګران تول خاندان د مصطفیٰ ﷺ د در
مونږ ته دے ګران هريو انسان د مصطفیٰ ﷺ د در
په هر بشر د دغې در مونږه جُدا مئين يُو
مونږ د رسول ﷺ په هر سنت په هر ادا مئين يُو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار د نبی ﷺ راته محبوب دے ښۀ رښتیا وایو مونږ
تــاتــه حــالــت د زړونــو دلتــه د دُنیـا وایـو مـونـږ
تپـوس کـولـے شـے لـه چا چي مـونږ په چا مئین یو
مـونـږ د رسـول ﷺ پـه هـر سـنت پـه هر ادا مئین یو
خـوش دے دا در دغـه نبـي ﷺ د ټول جهـان د خلقو
در دغـه خـوش دے دا حـمـد او د مـردان د خـلـقـو
مـونــږ پـه خـوشبـو د هـریـو ګـل د ابـتـدا مـئـین یـو
مـونـږ د رسول ﷺ پـه هـر سـنـت پـه هر ادا مئین یو

## نعتِ مصطفیٰ ﷺ ﴿ 224 ﴾

راشـــه د رســول الـلّـــه بیشـمیـره مـعـجـزے دي
دغــــه مــلــغــرے پـــه دنیـــا د مـدیـنــي دي
هــریــو مــعــجـزه د دي جهـان جُـدا مـقـام لـري
پـــټ ښـکــاره دُنیـا د پـاره دلتـــه یو پیـغـام لـري
دغــــه لړے نـــۀ دي چـــي زۀ ووایـم دوه درے دي
دغــــه مــلــغــرے پـــه دنیـــا د مـدیـنــي دي
غټـه مـعـجـزه پـه کـښـي قـرآن د ربّ کتـاب زمونـږ
مـونـږ سـره پـه زړونو کـښي د هریو سوال جواب زمونږ
مشك نـه خـوشبـو دارے د رسول اللّـه ﷺ خولے دي
دغــــه مــلــغــرے پـــه دنیـــا د مـدیـنــي دي
کــانـي ګـویــا شـوے د مـکـي د ټولو غـرونو دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ونـــې ګــويـــا شــوې د مــکــې د چــمــنــونــو دي
بـــره د قـــمـــر نـــه جــوړې کـــړې ئـــې ټـــکـــړې دي
دغــــه مـــلـــغــــرې پـــــه دنيـــــا د مـــديـــنـــې دي
نـــهٔ يـــم دروغــــژنــــه ګـــواهـــان مـــې کــتـــابـــونـــه دي
مـــــاســــره ګـــــواه پـــــه دې خبـــره حــديــثــونـــــه دي
حـــق د دې جهـــــان دغـــــه قيــصـــې او واقـــعـــې دي
دغــــه مـــلـــغــــرې پـــــه دنيـــــا د مـــديـــنـــې دي
حـــقـــه مـــعـــجـــزه د مـــصـــطـــفــیٰ ﷺ بـره ســيـــلـــونـــه دي
ربَ ســـــره بيـــــا بـــــره د مـــولـــیٰ حـــق ديـــدنـــونـــه دي
دغــــه دي ګـــلـــونـــــه، د ګـــلـــونـــو ګـــلـــدســـتـــې دي
دغــــه مـــلـــغــــرې پـــــه دنيـــــا د مـــديـــنـــې دي
مـــا مــنـــلـــې تـــولـــې مـــا ايـــمـــان پـــه دې راوړې دې
هر ځـــائـــې کـــښـــې ايمان هر مسلمان په دې راوړې دې
نـــــور دې دا د زړهٔ او رڼـــــا ګــــــانـــــې دا د شپـــې دي
دغــــه مـــلـــغــــرې پـــــه دنيـــــا د مـــديـــنـــې دي
صـــرف مـــنـــکـــران تـــريـــنـــه بدبختـــه پـــه دُنيـــا کـــښـــې دي
مـــنـــکـــر کـــافـــران تـــريـــنـــه بدبختـــه پـــه دُنيـــا کـــښـــې دي
مـــــا احـــمـــد ليـــکـــلـــې حـــق د پـــــاره دا جـــمـــلـــې دي
دغــــه مـــلـــغــــرې پـــــه دنيـــــا د مـــديـــنـــې دي

تمت بحمد الله تعالى وبتوفيقه وصلى الله تعالى على خير خلقه محمد وآله واصحابه اجمعين
ومن تبعهم باحسان الى يوم الدين . آمين . يکم اکتوبر 2018

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دریمه برخه

بسم الله الرحمٰن الرحیم

## وعظ او نصیحت

انسان هغه دے چې په خپله خپل ګریوان ته ګوري
بل ته دے هله ګوته نیسي چې خپل ځان ته ګوري
د بل عیبونه لټول خو په دنیا اسان دي
پکار دي دا چې د دغې کار نقصان ته ګوري
دیو خبره رسول بل ته ځه ګران خو نه دي
هوښیاران خلق د دنیا هر یو بیان ته ګوري
دنیا ده ډکه د عبرت نه د عبرت د پاره
کار چې کوي نو خپل دے ګټه او تاوان ته ګوري
په یو یو څیز کښې د جهان دلته سبق پټ دے
کله دے زمکے ته او کله پاس آسمان ته ګوري
د نفرتو نه هوښیار خلق په ډډه ګرځي
نادان سړے هوښیار ته نه ګوري نادان ته ګوري
لیکل احمده ! د غزل او نظم ګران خو نه دي
چې په ردیف باندې پوهیږي او اوزان ته ګوري

## محرام الحرام

میاشت د حرمت د احترام محرم
د چا تصویر ، د چا کلام محرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـکښـي تـاریخ ، پـکښـي یـادونـه دي ډیـر
پیـژني خـلـق خـاص او عـام مـحـرم
دا د حسیـنؓ پـه ښـکـلـي ذکـر سـره
لـري عـظـمـت پـه هـر مـقـام مـحـرم
درس د عـظـمـت او دَ قـربـانـي پـکښـي دے
پیـژني خـلـق ګـام پـه ګـام مـحـرم
د هـر ظـالـم د مـخ نیـوے د پـاره
درس دے سـاتـلـے ښـهٔ تـمـام مـحـرم
تـعـلیـم د صبـر تـري هـرڅـا زده کـړے
داسـي راغـلـے پـه اسـلام مـحـرم
کـافـي دا وعـظ او نـصیـحـت دے مـونـږ لـه
نـور او رنـا د هـر مـابـنـام مـحـرم
روا مـاتـم نـهٔ دے احـمـده ! پـکښـي
پـه نـاروا نـهٔ کـړے بـد نـام مـحـرم

## حضرت حسین رضی اللّٰه عنه

ښـائسـتـهٔ د دیـن دُنیـا رنـا حُسیـنؓ
نـمسـے د سیـد الـورئ ﷺ حسیـنؓ
وفـا د دیـن سـره لازم پـه مـونـږ ده
مثـال دے پـریښـے د وفـا حسیـنؓ
ظـالـم د ظـلـم نـه پـه زور مـنـع کـړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبق شودلے شۀ اعلیٰ حسینؓ
د حق د پاره خپل وجود قربان کړے
پریښے مثال دے په دنیا حسینؓ
حق د باطل سره یوځائے چې نۀ شی
داسې مثال جوړ کړه پیدا حسینؓ
تا ته معلومه، تا ته هیره نۀ ده
حق د باطل نه کړۀ جُدا حسینؓ
دین قربانی ده، قربانی سره دے
دلته آغاز دے ابتدا حسینؓ
اغیار ئې هم د لوئې مقام قائل دی
داسې سیرت لری صفا حسینؓ
مائې احمد هریوبیان ښُکل کړے
زما حسینؓ د دین پیشوا حسینؓ

## کربلا

د حق اعلان کربلا
یو امتحان کربلا
پیغام د حق راواخله
د حق داستان کربلا
وفا د حق سره کړه
وائی هر آن کربلا

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حـــق نـــــه زار قـــريـــــان شــــــه
وائـــــــى ميـــــدان كـــــــريـــــلا
صبـــــــر، تـــــعـــــليـــــم دجِــــلـــــم
درس عـــــــاليشـــــــان كـــــــريـــــلا
تيــــتې چـــې ظــــالـــم تـــــه نـــــۀ شـــے
واضـــــح بُـــــرهـــــــان كـــــريـــــلا
زمـــــــا دلبــــــــر دے حسيـــــنٌ
د حــــــق نشــــــان كـــــــريـــــلا
وائــــم احـــــمـــــد تېـــولـــو تـــــه
رښـــــــا بيـــــان كـــــــريـــــلا

## د كربلا يادونه

زړۀ كښـــې ســاتــلـى مونــږه دى د كــربـلا يــادونــه
د مــظـلـومـانـو دلتـــه كښـــې دى د وفـا يـادونــه
نــۀ هيـــروى دغـــه ظـلـمـونـه يو دانـا د جهـان
راتـــازه كيـــږى مـحــرم سـره بيــا بيــا يــادونـــه
هـغـــه مـنـظـر د كـربـلا ، هغــه ميدان عـجيبــه
شتــه كــربـلا كښــې هـر طـرف تـه پـه هـرخوا يادونه
مـونــږ تــه معـلومـه ده خبـر د حقيقت نـه يُو مونـږ
تـــۀ راتــه وايـــه كــربـلا كښــې دى د چـا يـادونــه
يـوڅـو كسـان وو مـلـګـرتيـائـي چـې دحق كړے وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حق ملګرو مونږ ته پرېښې ښۀ صفا يادونه
ما بانديې ته د بې وفا تهمت لګولے نۀ شے
مونږ سره شته په کربلا کښې د وفا يادونه
راته د صبر سبق دلته کښې ښودلے چا دے؟
پرېښې حسينؓ مونږ ته په جمع په خندا يادونه
ژړے شوے اوچے، شونډے اوچے کربلا ليدلی
داسې احمده! کربلا کښې دی ګويا يادونه

فاني دنيا

فانی دنيا ده په دې مۀ نازېږه
غټه بلا ده په دې مۀ نازېږه
تا سره نن صبا د بل سره وی
دهوکه صفا ده په دې مۀ نازېږه
د جهان خلق خاورے خاورے شو ټول
وايه د چا ده؟ په دې مۀ نازېږه
چا په دنيا کښې دنيا جمع نۀ کړه
کډه په شا ده په دې مۀ نازېږه
نن ستا په کور کښې صبا بل سره ده
حقه وينا ده په دې مۀ نازېږه
تا ته احمده! چې په غاړه کښې شوه
يو اژدها ده په دې مۀ نازېږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نصحيت نه ډکه وينا

يوه ورځ راتلونکې ده دا ټول جهان فنا به شي
بوجه به د جهان ختم شي مړه دغه بلا به شي
څوك چې نيکي نه کوي نيکې پسې خندا کوي
دغه د خندا انسان اخر کښې په ژړا به شي
څوك چې دنيا داره دي د دين نه لرې لرې دي
هغه د محشر په ورځ د حق سره اشنا به شي
ځان چې محتاج نهٔ ګڼي دنيا کښې په غرور کښې دي
دغه ورځ په دواړو لاسو ربّ ته په دُعا به شي
څوك چې حيا نهٔ کوي حيا ته ئې شا کړې ده
هغه د محشر په ورځ په دغې کار رُسوا به شي
څوك چې رښتيا نهٔ وائي، دروغ دلته عادت ئې دے
يوه ورځ راتلونکې ده د دغې نه جُدا به شي
زهٔ احمد پوهېږمه چې حق او غلط څهٔ څهٔ دي
زهٔ دلته کښې نهٔ وايم دا کار دلته کښې بيا به شي

## وعظ او نصحيت

انسانهٔ! دوست تهٔ د شيطان ولې ئې
قاتل په خپله د خپل ځان ولې ئې
په سترګو ړوند نهٔ ئې تهٔ هر څهٔ وينې
هوښيار سړے ئې نو نادان ولې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا خو سپرلے د دې جهان پکار وو
بیا په خزان پسې روان ولې ئي

ستا خو مقصد وو په دنیا کښې ګټه
بیا تهٔ طالب د هر نقصان ولې ئي

ستا خو خوشبو سره وه مینه ډیره
بیا د ګندونو په ډیران ولې ئي

تا د الله سره وعده کړې ده
راته ووایه نافرمان ولې ئي

زهٔ دې احمد د نیکے کار ته بلم
بیا تري منکره په جهان ولې ئي

د وخت قدر

واپس کیدے نهٔ شي دنیا کښې د جهان وختونه
نهٔ اخستے شي په قیمت دغه انسان وختونه

هر یو لمحه هر یو ساعت دے قیمتي د جهان
ضائع کوی نه په دنیا کښې هوښیاران وختونه

څوك مصیبت کښې وی او چاته خوشحالے ورکوی
په چا آسان وی د جهان په چا وی ګران وختونه

انتظار نه کوی دنیا کښې د دنیا وختونه
د دې دنیا دی په مزه مزه روان وختونه

دلته د هرچا سره ښنګ په ښنګ ملګری ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رایادوی هرچاته دلته کښې خپل ځان وختونه
ځکه احمدعلی دوخت قدر په خپل کوی
واپس به نۀ شی تا ته بیا په ډیر ارمان وختونه

وعظ اونصحیت

څوك چې په حقه لاره تلل غواړی
هغه رضا د ربّ لیدل غواړی
هغه اخلاق دے د جهان خپل کړی
څوك چې پردو سره هم خپل غواړی
هغه له مینه محبت پکار دے
څوك د نفرت نه چې وتل غواړی
هغه اخلاص سره هر کار دے کوی
څوك چې دیو بدل کښې سل غواړی
ورله قرآن کښې تلاوت پکار دے
څوك چې د حشر خیال ساتل غواړی
په قربانی پسے احمده! کیږی
څوك چې دنیا کښې حق وئیل غواړی

وعظ او نصحیت

اسلام نه په دنیا کښې بغاوت نه دے پکار
یو ځائے کښې دابلیس هم حمایت نه دے پکار
قدر د انسانانو د انسان سره دے تل وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو کار د شیطانانو یو ساعت نه دے پکار
شیطان سره دُنیا کښي روا نه دے محبت
دا کار د محبت په یو صورت نه دے پکار
علاج لره کافی دے د مولیٰ عالی کتاب
بل ځائے کښي بیا علاج په یو قیمت نه دے پکار
باغي چې د حکمونو د مولیٰ نه په یو دروی
نظر ورته په مینه محبت نه دے پکار
فاني ده مونږ فاني یُو، دا دنیا مونږه یو ورځ
انکار د دي دنیا د حقیقت نه دے پکار
انکار تری نه احمده! یو بشر کولے نشي
دنیا کښي دنیادارو له غفلت نه دے پکار

وعظ او نصحیت

صورت دُنیا کښي د جهان بدل شو
مینه شوه ختمه، هر انسان بدل شو
نور طریقه د نبي ﷺ لاړه لاړه
شکل صورت د مسلمان بدل شو
د حق وینا نه هر بشر په شا شو
وعدے شوے ماتے هر بیان بدل شو
کورونه وران شول د جهان دلته کښي
رشتے شوے ختمے هر مکان بدل شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـومـے مـزے چـي د سپـرلـی دلتـه وے
سپـرلـے دُنيـا کښـې پـه خـزان بـدل شـو
دروغ غیبـت ، چـغـلـی شـوه عـام دلتـه کښـي
ځـکـه احـمـد عـلـی ! دروان بـدل شـو

وعظ او نصحيت

فـانـی دُنيـا رانـه پـه تـلـو تيـره شـوه
لـکـه د شـمـعـے سـوزيـدو تيـره شـوه
مـانـه تپـوس د ځـوانـے ونـکـړے تـه
لـکـه د ګـل پـه رژيـدو تيـره شـوه
زۀ د مـحشـر پـه انتـظـار کښـي وومـه
رانـه پـه شـان د خـو لـمـحـو تيـره شـوه
دلتـه عـاقـل دلتـه نـادان وسيـږي
فـانـی دُنيـا پـه تـش کتـو تيـره شـوه
دلتـه وزيـر تـحـت د بـادشـاه دلتـه دے
پـه دغـي خـلـقـو پـه نـخـرو تيـره شـوه
بيـنـا ئـي وويـنـی پـه نـظـر کښـي ئـي ده
د هـر بيـنـا دا پـه ليـدو تيـره شـوه
وائـی احـمـد ايسـاريـدو تـه نـه ده
سـره د سـختـو او مـزو تيـره شـوه

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وحدت سبق

پـــه مــونـــږه تـولـو کښــي جـذبــه يـوه ده
ځـــکـــه زمــونـــږه کــلـيــمـــه يـــوه ده

ديــن د وحــدت مــونـــږ تـــه سبـق راکــوی
دا د مُـــلـيـــانـــو فـيـــصـــلـــه يـــوه ده

پـــه هـــر ميـدان کښـــي د وحــدت چـغـــه ده
داســـي د هـــر مـــؤمـــن نـــعـــره يـــوه ده

انبيـــاء ډيـــر دي پـــه خـــوشبـــوجـــدا دی
ګـــلـــونـــه ډيـــر دي ګـــلـــدستـــه يـــوه ده

دا هـــر امـــام دے د اســـلام تـــرجـــمـــان
انـــجـــام ســـره ئـــي طـــريـــقـــه يـــوه ده

زمـــونـــږ قـــرآن زمـــونـــږ بيـــان يـــو دے
ځـــکـــه ئـــي خـــونـــد ځـــكـــه مـــزه يـــوه ده

مـــونـــږ د قـــرآن پـــه يـــو يـــو تـــکـــی يـــو يُـــو
زمـــونـــږ مـــکـــه کښـــي هـــم کـــعبـــه يـــوه ده

زمـــونـــږ اُمـــت، زمـــونـــږ قـــوّت يـــو دے
مـــديـــنـــه مـــونـــږ لـــه مـــدرســـه يـــوه ده

مـــونـــږ لـــه کـــافـــی ده کـــليـــمـــه احـــمـــده !
مـــونـــږ لـــه کـــافـــی دغـــه جـــمـــلـــه يـــوه ده

★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وعظ او نصحيت

وائـــي كـــه مـــاتـــه تـول جهـــان ليـــونـــے
دانـــا تـــه وائـــي هـــر نـــادان ليـــونـــے

څـــوك د بـــاطـــن نـــه پـــه جهـــان خبـــر دي
جـــوړ راتـــه ســـم كـــړلـــو د ځـــان ليـــونـــے

پـــه روغ رنـــځـــور كښـي فـــرق نـــهٔ شـي كـــولـــے
ســـم د جهـــان دے پـــه دا شـــان ليـــونـــے

خپـــلـــه د خپـــل حـــالـــت خبـــر نـــهٔ لـــري
بـــل تـــه نـــظـــر كـــړي دا شيـــطـــان ليـــونـــے

حـــق د بـــاطـــل نـــه چـي جُـدا څـوك نـــهٔ كـــړي
ورتـــه تـــول وائـــي هـــوښيـــاران ليـــونـــے

روغ او رنـــځـــور پـــه عـــلامـــو جُـــدا دي
پيـــژنـــي دلتـــه مســـلـــمـــان ليـــونـــے

زمـــا ژونـــدون د مـــصـــيبـــت نـــه ډك دے
پـــه مـــا تيـــريـــږي دا دوران ليـــونـــے

ګيـــلـــه احـــمـــده ! څـــوك د بـــل نـــه كـــوي
ورتـــه چـــي وائـــي نـــن يـــاران ليـــونـــے

## دمولیٰ نعمتونه

زهٔ پـه سـتـرګـو ښـهٔ بينـا يـم ، اسمانونـه راتـه ښكاري
د مـولـیٰ شـكـر ګـزاريـم ، نعمتـونـه راتـه ښكاري

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټ خو نـۀ دي دغـه غرونـه، دغـه ښکلي چمنونـه
د مـولـئ رحـم وکـرم دے ټـول څيـزونـه راتـه ښکـاري
هر نعمت د مولئ غټ دے، پوهه دلته هوښياران دي
د مـولـئ احسـان پـه مونږ دے چې ګلونه راته ښکاري
شپـه او ورځ جـدا جُـدا دي داوختـونـه د مـولـئ دي
د مـولـئ احسـان احسـان دے چې رازونه راته ښکاري
دا قيـصـے د دي دُنيـا دي، دا هـرڅـۀ د پاك الـلّـه دي
ښـۀ پـوهيـږمـه دنيـا کښي، برکتونه راته ښکاري
هريـو څيـز پـه دي ګواه دے چې اللّه دے يو اللّه دے
د مـولـئ پـه دي جهـان چـې قـدرتونـه راتـه ښکـاري
دا هـرڅـۀ تـاتـه څـۀ وائـي اے احمده! د جهـان
وائـي تـاتـه پـه جهـان چې رحمتونه راتـه ښکـاري

وعظ او نصحيت

خـــوښـــه زمــــا ده ښــــۀ آســــان شــــاعــــري
داســـې کـــوي ټـــول هـــوښيـــاران شـــاعـــري
شـــکـــلـــے مـــضـــمـــون، وزن دريف ســـره وي
پـــــه ټـــول پـــوره وي د جهــــان شــــاعــــري
پـــکښـــې مـــزے پـــکښـــې خـــوندونـــه ډيـــر
لـــکـــه چـــې روح شـــي د انســـان شـــاعـــري
چـــې د آخـــر او د مـــحشـــر فـــکـــر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي كوي ټول صالحان شاعري
ښكلې تصوير، ښكلې منظر ورسره
عالي مضمون، ده عالیشان شاعري
پاكه صفا ده شاعري پكار
خوښه مې ده د ډيران شاعري
په لږو ټكو كښې چې ډېر څۀ وائي
دا د احمد ده د مردان شاعري

## وعظ او نصحيت

څوك چې دبل نه څۀ په زُور اخلي
ځان سره دلته نه بوج نور اخلي
بل ته كنځل د بل غيبت ښۀ نه دے
ظالم سړے دغه پېغور اخلي
دروغ گناه ده په اسلام كښې منع
نادان دا بوج ځان له د گور اخلي
كينه حسد ښۀ ناروا ښكاره دي
حاسد نادان دے چې دا اُور اخلي
ورته دانا ورته هوښيار نۀ وائي
بد دعا څوك چې نن د مُور اخلي
ورته ظالم په شريعت كښې وائي
حق په جائيداد كښې چې د خور اخلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورلـــه پـــکــــار دے ښــــهٔ عــمــل احــمــده!
څـوك چـې جـنـت کښـي ځـان لـه كور اخلـي

وعظ او نصيحت

پـــه تـول بـــه هـلـــه بــرابــر دلتـــه ئـي
پـــه تــول پــوره چـــې د دلبـــر دلتــــه ئـي
چـې د اســلام پـــه رنګ کښـي رنګ دلتــه ئـي
هــلـــه ښــکـلا بـــه د هـــر در دلتـــه ئــي
ستـــا پــــه وجــود چـــې امتــحــــان راشــي
هـلـــه بــــه زريـــا بــــه ګــوهــر دلتــه ئـي
شپـــه د جهــان چـې تــهٔ پــه ځـان تيـره کـړے
بيـــا پــه لـقــب بــه تــهٔ ســحــر دلتــه ئـي
پـــه زړهٔ چـــې يـــره د ظـــالــم نــــه وی ستـــا
بيـــا د جهـــان بــــه بهـــادر دلتــــه ئـــي
د ځـــان دښـــمـــنــــه تــکـبـــر مـــــهٔ کـــوه
کـــهٔ تـــهٔ هــرڅـومـره لـوئـے افسـر دلتــه ئـي
وائـــى احـــمــد پـــه خپـل ځـادر کښـي اُوســـه
ولُـــے بهـــــر د خپــل ځــــادر دلتــــه ئـــي

وعظ او نصيحت

انســـانــــه! ځــکـــه درپــــه در دلتــــه ئـي
تــــهٔ نـــافـــرمـــان د ربَ اکبـــر دلتــــه ئــي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تــا تــه د دين كــارونــه كــار نــه ښكــاريــږي
د مــونــځ چــې وخــت شــې پــه بستــر دلتــه ئــي

د بــدعتيــانــو مــلــګــرتيــا كــوے تــهٔ
ځــكــه نــاكــام پــه لــر او بــر دلتــه ئــي

د دروغــژنــو ســره مــرستــه كــوے
ځــكــه ذليــل مــابنــام ســحــر دلتــه ئــي

تــا تــه ګــنــاه دغــه غيبــت نــه ښكــاري
ځــكــه د هــر چــانــه بــد تــر دلتــه ئــي

تــا نــه احــمــدعــلــي تپــوس كــوي يــو
ولــے دښــمــن د پيــغــمبــر دلتــه ئــي

## وعظ او نصيحت

انســانــه ! ســوچ كــوه مــولــئ غــواړي د څــهٔ قــربانــي
درنــه د ســر قــربانــي غــواړي هــم د زړهٔ قــربانــي

صــرف پــه اُوښــكــو تــويــولــو بــانــدې كــار نــهٔ كيــږي
پــه هــر مــقــام درنــه مــولــئ غــواړي د ښــهٔ قــربانــي

دغــه ژونــدون پــكښــې دا شپــے ورځــے قــدم پــه قــدم
غــواړي مــولــئ درنــه اولاد دلتــه خــواږهٔ قــربانــي

دغــه دولــت دغــه نــعــمــت د دې جهان دلتــه كښــې
غــواړي لتــانــه آســمــانــونــه بــره ووهٔ قــربانــي

تــانــه اسلام غــوښتــے وجــود دلتــه احمدعلي د ے

(c) ketabton.com: The Digital Library


پس لـه وجود نـه بـه شي پاتـې نور د څۀ قربانـي

## وعظ او نصيحت

انسـان انسـان چـې شـي نـو هـلـه قيمتـي جـوړ شـي
انسان کۀ چرتـه کښې حيـوان شـي لعنتي جوړ شي
چـې د سـنتـو نــه خبـر نــۀ وي بـدعـت خـوښوي
هغـه انسـان نـه پـه دنيـا کښـې بدعتـي جوړ شـي
څـوك چې سُـنتـي خـوښوي هغه په سُـنتـې يادېږي
څـوك چې مـحـنـت کـوي هغـه نه محنتي جوړ شي
نهـرونـه هـرځـائـې پـه شـورو کښې دريابونـه ښکاري
چې مـخـکښـې ځـي او تـقـسيـمـېږي نو لختي جوړي
پـه چـا کـلـونـه پـه چـا مـيـاشتـې د دنـيـا تيرې شوې
څـوك د مرض نـه پـه کـوشـش سره وختي جوړ شي
هريـو مـريـض دې د عـلاج کـوشـش جاري سـاتـي نن
بـعـض لاعـلاجـه مـريـضـان وي قـدرتـي جـوړ شـي
کـوشـش پـکـار دې د هـمـت سره احمده ! اُوسـه
شتـه پـه دنـيـا پـه لږ عـمـل چې جنتـي جـوړ شـي

## د پښتون د پښتو سره بې وفائي

زۀ يـم پښتـون خـو پـه پښتـو نـۀ رسـم
زۀ پـه سـاده جـمـلـو نـۀ رسـم
ځـان تـه اديـب د انـګـريـزې وايـمـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو د پښتو په ځو فقرونه رسم
ځان ته سکالر ځان ته ډير پوهه وايم
خو د ګلونو په خوشبو نه رسم
ځان زۀ يو فرد د پختونخوا ګڼمه
خو د پښتون سري په تلونه رسم
ما ډير خدمت په بل ادب کښي کړے
خو په لعلونو د کوځونه رسم
راشه، پښتون، پښتو ادب وګوره
وايه بيا ورو ستو په مزونه رسم

د پښتو او د پښتون په باره کښي

غم مي په سترګو په سلګو کښي اوسي
غم د پښتو په پښتنو کښي اوسي
نۀ د پښتو ، نۀ د پښتون قدر شته
ځکه پښتون دے په ازغو کښي اوسي
نۀ د بادشاه نۀ د وزير خوښه ده
ځکه په لارو او کوځو کښي اوسي
نۀ ئي ليکل نۀ ئي وئيلے شي څوك
لاړه پښتو زمونږ قيصو کښي اوسي
تا ته پښتو ښکلے ادب درکړے
بيا درنه ولے په ازغو کښي اوسي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د انګرېز د انګرېز مے غلامان
تاسره ولے په بنګلو کښې اوُسی
حق د اسلام او د غیرت نخه ده
داسې پښتو زمونږ سینو کښې
ګیله احمده ! د پښتو صحیح ده
تاسره هر ځائے په سختو کښې اوُسی

وعظ او نصیحت

هیڅ نۀ غواړم ژوند کښې هدایت نه سیوا نور
نه غواړم په زړۀ کښې محبت نه سیوا نور
نۀ غواړم نفرت ، نۀ د نفرت دلار طالب یم
نۀ غواړم مولٰی نه سعادت نه سیوا نور
نۀ غواړم دُنیا کښې د اسلام نه بل مذهب
نۀ غواړمه دغې حقیقت نه سیوا نور
ماله کافی ده دقرأن ښکلے وینا
نۀ مې ده پکار د تلاوت نه سیوا نور
هر یوه ادا د نبی ﷺ خوښه ده زما
کار نۀ وے دُنیا کښې عبادت نه سیوا نور
کار د پاك اللّٰه د رضا کولے دلته ما
نۀ مې دی پکار دې نعمت نه سیوا نور
داده د احمد علي د زړۀ یو تمنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



نــهٔ مــي دی پـکــار دغــي نسبــت نــه سيـوا نـور

## وعظ او نصيحت

ښــهٔ انســـانـــان پـــه عــاجــزے کښــي اُوســـي
د بـــل جهــــان پـــــه تيــــارے کښـــي اوســـي
چـــي د مـــحشـــر فـــکـــر پـــه زړهٔ ســـاتـــي څـــوك
هـــغـــه بـــه دلتــــه کــاميــابــے کښــي اُوســـي
د هـــغـــه کـــلـــه کـــار ســـمـــے خـــوړلـــے
چـــي شيـطـانــت کـړی شيـطـانـے کښـي اُوسـي
هـــغـــهٔ پـــه شـــوق ســـره عـــمـــل کـــړے دے
کـــار د نيـکـــے چـــي کـــړی ســيــالـــے کښـي اُوسي
هـــغـــهٔ نيـــکـــے پـــه ټـــول جهـــان مـــونـدلـــي
چـــي پـــه تـــلاش څـــوك د نيـــکـــے کښـــي اُوســـي
څـــوك چـــي گـــنـــاه کـــوی گـــنـــاه خـــوښـــوی
هـــغـــه د گـــنـــد بـــد بـــو نـــالـــے کښـــي اُوســـي
ورتـــــه نـــــزدے پـــــه جهـــان ورنـشـــے تــــهٔ
احــمـــده ! څـــوك چـــي گـــنــدگـــے کښـــي اُوســـي

## وعظ او نصيحت

فـــكـــر چـــي چـــا د آخـــرت کـــړے دے
هـــغـــهٔ هـــر کـــار د ښـــهٔ عـــزت کـــړے دے
پـــه هـــر قـــدم بـــانـدې ئـــي غـــور کـــړے کـــړے

(c) ketabton.com: The Digital Library



کـلـــه یــو کـــارتـــه چـيـئـي نيـت کـړے دے

کــــــاردنیـــکـــــے پــــــه هـــربشـــرلازم دے

مــونـــږتـــه دا امـــرشــــريـعـــت کـــړے دے

نـــــورداســـــلام دے ضـــــــرورت د تــولــــو

داسـے هـــرچـــا نـــن نـصيـحـــت کــړے دے

نـــــورداســـــلام دے نـــــوردزړهٔ دستـــــرګـــو

چـــا چـــي نـظـــرپـــــه حـقـيـقـت کــړے دے

نـــوړداســـلام کښــــي د مـــحشـــــررڼـــــا ده

راشــــــه احـــمـــدئـــي وضــــاحـــت کـــړے دے

د دين رڼا

د ديـــــن رڼـــــا د چـــــانــــــه پټــــــه نــــــهٔ ده

ښــــکــــاره رڼـــــا الـتـــــانــــــه پټـــــه نـــــهٔ ده

نـــــادان دی سـتـــــرګــــے پټــــے کـــړے ورتــــه

دا د دا نـــــا بيـــنـــــا نــــــــه پټــــــه نــــــهٔ ده

لـــکــــــه د نــمــــرپـــــــه شـــان رڼـــــا واضــحــــــه

د ديـــــن رڼـــــا ده ستـــــانــــــه پټــــــه نــــــهٔ ده

بـــــس د رنــــدو ستـــــرګـــو قــصـــوردلتــــــه دے

د ديـــــن رڼـــــا اشـــنـــــا نـــــه پټــــــه نــــــهٔ ده

ړانــــده د نــــمــــــرهـــــم انــکـــــاريــــان دی دلتـــــه

دغــــــه رڼـــــا دنيـــــا نـــــه پټـــــه نــــــهٔ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



انکار تري نهٔ کيږي احمده ! دلته

خبره حق هيچا نه پټه نهٔ ده

## وعظ او نصيحت

تاله خوبونه کهٔ د شپې نهٔ راځي

ماله اشنا ډيرے قيصے نهٔ راځي

د حق ملګرے په هر درزهٔ يمه

ماله غلطے فيصلے نهٔ راځي

ما مسئله ياره صحيح ښودلے

ماله غلطے مسئلے نهٔ راځي

د دين کارونه وي د کانړي کرښے

ماله په دغي تبصرے نهٔ راځي

ځکه په غم په درد پوهيږے نهٔ ته

ستا په وجود باندي خولے نهٔ راځي

سترګے چي پټے شي او ساه بنده شي

بيا به دا ژوند دغه مزے نهٔ راځي

ځکه احمد په خلهٔ پټے ايښے ده

علاج د هر ځهٔ شته د دمے نهٔ راځي

## وعظ او نصيحت

دلته د چا چي ښهٔ عادت جوړ شو

ځادر په سر ئي د رحمت جوړ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چـــا چـــي پــــه بــل پســـے خبـــرے وكــــړے
د ميــنــــے ځـــائـــے وو خـــو نــفـــرت جـــوړ شــو
څـــوك چـــي دنيـــا نـــــه بـــے ايــمـــانـــــه لاړل
ورتـــــه آخــــر كـبنـــي مــصيبـــت جـــوړ شـــو
هـــغــــــه رڼـــا ، نــــــهٔ رڼــــا ګــــانـــے غــــواړي
يـــار پـــــه دنيــــا چـــي دظــلــمـــت جـــوړ شـــو
هـــغــــــه دښـــمـــن دے د ســنـــت د نبـــي ﷺ
څـــوك چـــي مــلــګـــرے د بــدعــت جـــوړ شـــو
اُور پـــــه دنيــــا كـبنـــي د دنيــــا خـــوښـــوي
يـــار د شيـــطـــان چـــي كـــوم ســاعـــت جـــوړ شـــو
ورلــــه كــــافـــــي دغـــــه بيـــــان احــمــده !
كــــــهٔ قـــدردان د نـــصيـــحـــت جـــوړ شـــو

## وعظ او نصيحت

پـــــه ســـر ځـــادر چـــي څـــوك د خـــور غـــواړي
هـــغـــــه عـــزت پـــــه هـــريـــو لـــور غـــواړي
څـــوك چـــي بـــے شـــرمـــه شي حيـــا نـــه كـــوي
هـــغـــــــه د ځــــان د پـــــــاره اُور غـــــواړي
كـــار د نيـــكـــے هـــر ځـــائـــے نيـــكـــان خـــوښـــوي
شـــريـــر مـــخـــلـــوق شـــر كـــوي شـــور غـــواړي
څـــوك چـــي د خپـــلـــو پـــردو قـــدر نـــهٔ كـــړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذلت دُنیا کښې کور په کور غواړي
په ښهٔ اخلاقو سره ډیر څهٔ کیږي
نادان سړے هر څیز په زور غواړي
د دې دنیا عمل ښائسته دے کړی نن
ژوندون ښائسته چې څوك د ګور غواړي
تا ته احمد چې حق بیان ښودلے
وَلے اشنا در نه بیا نور غواړي

وعظ او نصیحت

راسره وکړه د وفا خبرے
ښهٔ نهٔ دي تا له د جفا خبرے
نهٔ ئې وی سر نهٔ ئې لکے معلومه
خوند نهٔ کوی داسې اشنا خبرے
نشته دروغو کښې څهٔ خوند او مزه
خوند کوی خوند چې وی رښتیا خبرے
خوښے مې نهٔ دي دلته ګډے وډے
خوند او مزه کړی ښهٔ صفا خبرے
نهٔ یو محفل کښې غیبتونه ښهٔ دي
اشنا ونکړے ناروا خبرے
چغلی د خُلے ده ګندګی دلته کښې
دا په دُنیا دي د بلا خبرے

(c) ketabton.com: The Digital Library



بـل تـه کـنـځـل دی پـه اسلام کښې منع
ونـکـړې یـو ځـائـې کښې د غلا خبرې
درنـه هیـر نـه شـی نـصیـحـت د احمد
کـوه دُنیـا کښې مـولـئ خبرې

وعظ او نصیحت

پـه مـا راغـلـې امتـحـان تیـر شـو
ربّـه! ستا شـکـر پـه ښـهٔ شان تیـر شو
زهٔ ووم پـه مـنـډه، رانـه ژونـد پـه منډه
داسـې زمـونـږه دوران تیـر شـو
فـانـی ژونـدون دے هـر بشـر د پاره
دا پـه دانـا او نـادان تیـر شـو
ورځـو او شپـو رانـه وهـلـې منډې
ژونـد پـه غـریـب او پـه خـان تیـر شو
ژونـدون طـوفـان د دي جهـان وو دلتـه
راغـې طـوفـان او طـوفـان تیـر شـو
نـهٔ د مـظـلـوم نـهٔ د ظـالـم سـره شـو
پـه هـر بشـر دا بیـان تیـر شـو
د مـولـئ شـکـر د احـمـد پـه ژبـه
داسـې ئـې ژونـد د جهـان تیـر شـو

★★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وعظ او نصيحت

داغداره نه کړې په دُنيا کښې د دنيا پاڼه
د ژوند ساته دلته کښې هرځائے کښې صفا پاڼه

د هر خطا نه په دنيا باندې توبه راغلے
په توبه پاکه کړه دُنيا کښې د خطا پاڼه

تاله پکار دی چې په مينځ دلته جُدا هغه کړے
لاس له چې راشي دلته ستا د ناروا پاڼه

د بل عيبونه پريږده پريږده بس د ځان فکر کړه
مه لټوه د بل عيبونه د بل چا پاڼه

بل ته آسان نشه په دنيا کښې اشاره کول دی
کمال خودا دے چې صفا وی دلته ستا پاڼه

اول د خپل وروستو د بل دلته کښې فکر کوه
تاسره لاسو کښې ده دلته د عقبیٰ پاڼه

ځکه احمد درته د حق وينا په جار کړے ده
ستا په محشر کښې پکارېږی به هم دا پاڼه

## قبر

د عبرت ځائے دغه کور دے
دا د هريو انسان کور دے

دغه ځائے د تپوسونو
بيا دے ستا د جوابونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـــوك خـــوشـــحـــالـــه ځـــوك نســـكـــور دے
دا د هـــــــــريــــــــو انســــــــــان كـــــــور دے
يـــــــا تـــــــكـــــــړه بـــــــه د جـــــنــــــت وی
يـــــــا بـــــــه اُور پـــــــه حـــقـــيـــقـــت وی
يـــــــا جـــــنــــــت دے يـــــــا دا اُور دے
دا د هـــــــــريــــــــو انســــــــــان كـــــــور دے
د چـــــــا ځـــــــائـــــــے د ژړاګـــــــانـــــــو
د چـــــــا ځـــــــائـــــــے د خـــنـــدا ګـــــــانـــــــو
چـــــــا تـــــــه سپيـــن دے چـــــــا تـــــــه تـــور دے
دا د هـــــــــريــــــــو انســــــــــان كـــــــور دے
ځـــــــائـــــــے د ځـــــــوان او د بـــــــابـــــــا دے
د نـــــــــــــــادان او د دانـــــــــــــــا دے
ځـــــوك آرام كـــــړی چـــــا تـــــه شـــور دے
دا د هـــــــــريــــــــو انســــــــــان كـــــــور دے
وار پـــــــــــــــه وار ورتـــــــــــــــه روان يُـــــــو
ځـــومـــره مـــونـــږ چـــي پـــه جهـــان يُـــو
ځـــــــائـــــــے احـــمـــده ! ستـــــــا د وروردے
دا د هـــــــــريــــــــو انســــــــــان كـــــــور دے

## وعظ او نصيحت

يـــاد پـــه دنيـــا بـــاندي آزاد يُـــو، غـلامـــان مـونـــږه يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې دُنیا کښې بدنصیبه انسانان مونږه یُو
مونږ په ظاهره د قرآن سره نزدې یُو
خو چې مونږ سوچ کوونو لرې د قرآن مونږه یو
مونږ د وحدت چغې وهلې په دنیا کښې نن دی
جو چې بیا سوچ کووم تکړې د دې جهان مونږه یو
مونږ میلمه دوست خلق یُو ، مونږ به میلمستیا کوله
خو نن صبا په بله لاره تهول روان مونږه یو
یو د قرآن او دسنت نعره وهلې مونږ وه
اُوس د ذرو په شان تکړې د هر میدان مونږه یو
لاړو وحدت ، هر یو انسان جدا جدا روان شو
ځکه احمده ! په هرځائې کښې په خفګان مونږه یو

وعظ او نصیحت

وخت نۀ ایساریری دادوران په منډه منډه دې
هر څوك دی په منډه تهول جهان په منډه منډه دې
ځکه د دنیا د انسانانو سره وخت نشته
هر څوك دی په منډه هرانسان په منډه منډه دې
هر یوه لمحه داسې تیریږی د دنیا د در
هرځائې نیك انسان پسې شیطان په منډه منډه دې
نۀ چاته څوانی ایساره ، دغه دې دستور دلته
نر او زنانه ، بډها او ځوان په منډه منډه دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نشته د دانا سره وخت نشته د نادان سره
زۀ وینم دانا سره نادان په منډه منډه دے

نن وي د یخنۍ موسم سبا ته وي ګرمي په مونږ
راغے سپرلے راغے بیا خزان په منډه منډه دے

تا ته نن احمدعلی د وخت قدر و قیمت ښائي
هر څوك په ترتیب سره روان په منډه منډه دے

په اسلام کښې وحدانیت او اتفاق

حقیقت کښې په دنیا مسلمان یو دے
ځکه دین د ټولو یو دے قرآن یو دے

اتفاق د کامیابۍ یو علامت دے
مسلمان د پاره دغه نشان یو دے

یو کلمه د هر مؤمن او مسلمان ده
مونږ مو یو دے په دُنیا کښې اذان یو دے

امامان دي ټول په حقه لار روان
د دوي ټولو خلاصه یو ده بیان یو دے

کعبه یو ده اے احمده! په جهان
بیا مالك زمونږ د ټولو رحمٰن یو دے

د قدر شپه (لیلة القدر)

د قدر شپه په نورو شپو کښې د دنیا پټه ده
راشه ئې وګوره چې کوم ځائے کښې نن دا پټه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



پـه کښې رحـمـت او بـرکـت چې پـه دنیـا وریـږي
زمونـږ نـه دغـه شپـه دُنیا کښې پـه هو خوا پټـه ده

پــه کښــې قــرآن دے نـــازل شــوے د مولـــیٰ د در
پـه حـقیـقـت کښې مونـږ نـه نن دغـه رڼا پټـه ده

پـه کښـې جبـرئیــل دیـو لښـکـر سـره دُنیا تـه راځـي
دا حـقیـقـت دے چـې دا شپـه نن د هرچـا پټـه ده

دا د مـولــیٰ رحـم وکـرم دے او احسـان پـه مونـږه
د خیـر نـه ډکـه دغـه شپـه د ښـهٔ پـه رښتیا پټـه ده

پـه کښـې اذکــار عبـادتـونـه پـه دُنیـا کښې کیـږي
وائــي احــمـد چـې هـم زمـانـه ده هم ستـا پټـه ده

## وعظ او نصحیت

چـا چـې د خپـل خـالق مـالك سره وفـا کـړے ده
هـغــهٔ د هــر شیــطــان ابلیــس سره جـفـا کـړے ده

ډیـره ده ښـهٔ چـې چـا ګـنـاه د دي جهـان پریښـوده
ډیـره ده ښـهٔ چـې دلتـه کښې ګناه انسـان پریښوده

حـقــه خبـره پـــه دنیـــا چـې دلتــه چـا کـړے ده
د هــر مـظلـوم سـره ئـي مـرستـه پـه جهان کړے ده

مـرستـه ئـي دلتـه د مـظلوم پـه هـر مکان کړے ده
تـویـــه ئــي دلتـــه د ګـنـــاه د هــر خطـا کـړے ده

هغـه مـحشـر لـه پـه دنیا کښې تیارے کړے دے

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه محشر کښې په هرخو اکښې تيارے کړے دے
ورسره ځکه نن جفا دغې دُنيا کړے ده
دربَ زۀ يم احمد ورنه مې سوال کړے دے
سوال مې د ښۀ ترينه په حال او استقبال کړے دے
ما ترېنه هرځائے د محشر د خير دُعا کړے ده

زندګی

لاړه لاړه ده روانه مسلمانه ! زندګی
وهی منډے وهی منډے له هر چانه زندګی
شورو شوے شورو شوے ختميدو ته ده نژدے
کله ګرانه د جهان ده يا اسانه زندګی
يا غمونه پکښې ښکاري يا ژوندون د خوشحالو دے
لاړه ستانه واوره مانه هم زمانه زندګی
نن راغلے بيا صبا دے په صبا پسے صبا دے
داسې لاړه د هر چانه اے انسانه ! زندګی
نن خزان دے بيا سپرلے دے په سپرلی پسے ارمان دے
خالی نۀ ده اے انسانه ! له ارمانه زندګی
فکرمند شه، قدرمند شه ورته سوچ اُوکړه احمده !
غواړه ښکلے پس له مرګه د مولیٰ نه زندګی

وعظ او نصيحت

وايو آزاد خو غلامان يُو مونږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټول په غلطه لاړ روان يُو مونږه
نه په قرآن نه په سنت پوهيږو
خو بيا هم وايو عالمان يُو مونږه
مونږ د دښمن سره وفا کړې ده
ملګري هر خوا د شيطان يُو مونږه
مونږه سنت د محمد ﷺ پريښې دے
ځکه ذليله په جهان يو مونږه
مونږ د رښتيا په ځائے دروغ وئيلي
داسي په نوم مسلمانان يو مونږه
مونږ د حيا کارونه ټول پريښي دي
دُنيا ګټو دکانداران يُو مونږه
زمونږ په زړهٔ کښي مينه کوم ځائے کښي ده ؟
ټول په دروغه عاشقان يو مونږه
مونږ اتفاق او اتحاد پريښے دے
داسي د ځان ټول دښمنان يُو مونږه
وائي احمده ! مونږه کانه ړانده يو
دلته په يو دوه کښي حيران يُو مونږه

## وعظ او نصيحت

اے د ابليس په لاره تلهٔ نکو کله دا هم کوے
کله نه کله خو د دين سره وفا هم کوے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـا تــه د خپـل ژوندون څـۀ پتـه انتهـا معـلومـه
د خـنـداګـانـو نـه پـس دلتـه کـښـې ژړا هـم کـوے
تـــانـــه روان دى تـــاليـــدلـــى د قبـــرونـــو خـلـق
د دوى پـــه يـــاد کـــلـــه کـــلـــه نـن ژړا هـــم کـوه
تـــاســـره تـلـى دى پـــه لاره ستـا دوستـان ملګـرى
د دوى د پـــاره کـــلـــه کـــلـــه خـو دُعـــا هـم کـوے
تـــا يـــو ځـــائـــے کـــړى د دُنيـــا د اخـــرت کـارونـــه
کـلـــه کـلــه نـــه دغـــه دواړه خـو جُدا هـم کـوے
تـا نــه مـحشــر تـانــه د حشــر مـصيبـت هيـر شـوے
کـلـــه نـــه کـلـه فـکــر دلتـــه د عقبـئ هـم کـوے
حــق د ميــزان تـلـــۀ ده مـونـږ دا حـقيـقـت منـو تـول
تـــا تـــه اخـــروائـــى چـــي فـکـــر لږ زمـــا هـم کـوے
هيـــره دے نشـــى د احـــمـــدعـلـــى ويـنـا صـفـــا ده
حـــقـــه ويـنـــا کـلـــه نـا کـلـه پـــه دُنيـــا هـم کـوے

## وعظ اونصيحت

راشـــه د دنيـــا پتـــى کـښـــې ځـان لـــه فـصـل وکـــړۀ
تـــاســـره لږ وخـــت دے بـل جـهـان لـــه فـصـل وکـــړۀ
خـــوب نـــه رابيـدار کـړۀ دا اُودۀ خـلـق دُنيـا کـښـې تـول
حـــق بيــــانـــوه ، وخـــت راروان لـــه فـــصـل وکـــړۀ
لار د اخـــرت ورتـــه ښـــۀ سَـمـــه کـړه دُنيـا کـښـې تـۀ

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك چې نهٔ پوهيږي، هغې ځوان له فصل وكړهٔ

راشـــه د دانـــا سـره خـو ډيـر خـلـق ملګـري دي

لاس د نـــادان واخـلــــه هـــر نـــادان لـــه فـصـل وكـړهٔ

مـرګ چې ورله راشي پس له مرګه تول خوشحاله وي

داســي د دنيـــا خپـل خـــانـدان لـــه فـصـل وكـړهٔ

وشــايــه دُنيــا تــه د نيــكـــې كــارونــه دلتــه كښې

اے احـــمــــده ! دلتـــه بـل دوران لـــه فـصـل وكـړهٔ

قبر

انســـــانــــه ! بـــل بشـــر لـــــه ګـــور جـــوړوے

دا د خپــــل ځـــــان د پــــاره كـــور جـــوړوے

وُلــــــې مـــنــــزل د آخـــــرت هيـــــروے

قبـــــر د پـــلار د خپـــلـــــې مـــور جـــوړوے

تــــاتـــــه بـــــه كــلـــــه آخـــرت يــاديــږي

زمـــكـــــــه كـــنـــــې قبـــــر د ورور جـــوړوے

تـــــا تـــري عبـــرت اخستـــې وُلـــې نـــــهٔ دے

قبـــرونـــــه هـــرخـــواپـــه هــر لـــورجـــوړوے

يـــوشـــــان قبـــرونـــــه د جهـــان دلتـــــه دي

قبـــر د سپيــــن كـــــهٔ تـــــهٔ د تـــور جـــوړوے

د هــــــرانســـــان دغـــــه ســـفـــــر دے حـــق

بيــــا وُلـــې چـــغـــې وهـــې شـــور جـــوړوے

(c) ketabton.com: The Digital Library



تـــا تـــه احـــمـــد پـــه نـصيـحـت سـتـړے شـو
څـــــان لـــــه څـــــادر ولـــــے داُور جـــوړوے

وعظ او نصيحت

عشـــــق ســـــــامـــــــان د ليــــونــــو دے
ژونـــــــــد جهـــــــــــان د ليـــــــونـــــــو دے
يـــــــو خـــــــوږ درد د هـــــــــــــر بشــــــــــر دے
اطــــــمـيـــــــنـــــــــان د ليــــــونـــــو دے
داويــــــنـــــــا ده ښـــــــــۀ صـــــــادقـــــــــه
حــــــق بيــــــــان د ليـــــــونــــــو دے
كـــــــار د مـــــــــړو دلتـــــــــه نــــــــۀ دے
ښــــــــــــۀ دوران د ليــــــــونــــــــو دے
احـــــمــــــد وائـــــــى دا بـــــــي غـــــمـــــــه
كــــــــاروان د ليـــــــونــــــــو دے

وعظ اونصيحت

څوك چي خدمت په دي جهان د مور او پلار اونكړي
هغـه بـه هيڅ كلـه دُنيا كښي هيڅ يو كار اونكړي
خـدمـت عـزت دے عبـادت دے دغـه حق وينا ده
څوك بـه ددي نـه پـه دُنيـا كښـي نن انكار اونكـړي
راتـه مـعـلـومـه ده خـدمـت دے طـريقـه د نبـى ﷺ
داسي بـه ښـكـلـے پـه دُنيا كښي څوك اظهار اُونكړي

(c) ketabton.com: The Digital Library


راتــــه راکــړے دے تــعـلـیـم دغـــه قـــرآن د ربَ
داسـي دنیـا کښـي یـو کتـاب بـه نـهٔ ګفتـار اُونکـړي
مـا تـرې احـمـدعـلـی پـه هـرقـدم ډیـر خـهٔ زده کـړي
داسـي بـه مـونـږ تـه نـصـیـحـت دلـتـه یو یار اُونکړي

وعظ او نصیحت

ستــــا مـلـګـــری د جهـــان بـــه مُـدا م نـــهٔ وی
تـــاســـره دا خـــانـــدان بـــه مُـدام نـــهٔ وی
بـے لـــه خـدایـــه پـــه هـــر خیـــز بـانـدي فـنـا ده
دغـــه زمـــکـــه او آسـمـــان بـــه مُـدا م نـــهٔ وی
خـــوشـــحـــالـــی د دي دُنـیـــا هـمـیـشـــه نـــهٔ دی
دا غـــمـــونـــه او خـفـګـــان بـــه مُـدا م نـــهٔ وی
مـــوســـمـــونـــه پـــه تـــرتـیـــب ســـره روان دي
دا سپـــرلـــے دغـــه خـــزان بـــه مُـدام نـــهٔ وی
نـــن خـــو ستـــا د غـــم مـلـګـری ډیـر کسـان دي
غـــمـــخـــواري لـــه دا کســـان بـــه مـدام نـــهٔ وی
چـــي دا خـــومـــره دي د عـــقـــل خـــاونـدان
داســـي پـــوهـــه انســـانـــان بـــه مـدام نـــهٔ وی
د حســـــاب ورځ مــــقـــرره هـــر بشـــر لـــــه
دا دنیــــا دا امتـــحـــان بـــه مـدام نـــهٔ وی
یـــوه ورځ درنـــه احـــمـــد بـــه جـدا کیـــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصيحت دغه بيان به مُدام نه وي

وعظ او نصيحت

قيد خانه ده دا جهان زمونږ د پاره
ځائے دے دا امتحان زمونږ د پاره

پرچه مونږ ته په دنيا کښې ربّ ښودلے
ښۀ ښکاره دے دا بيان زمونږ دپاره

امتحان دے د دُنيا د هر بشر
دغه وخت دغه دوران زمونږ دپاره

په نمبر نمبر د دلته نه روان يُو
د عبرت شته دے سامان زمونږ د پاره

د هوښيار سړي نه دلته ځان خبر کړۀ
يو پيغام دے د رحمٰن زمونږ د پاره

يو يو لفظ کښې احمدوائي نصيحت دے
راليږلے ربّ قرآن زمونږ د پاره

وعظ او نصيحت

رڼا به هغه دروی دا قرآن چې چرته وي
ښائسته به هغه دروی مسلمان چې چرته وي
وفا به د جهان په هغه در باندې پرته وي
حرفونه د يقين او د ايمان چې چرته وي
خوشبو به هغه ځائے کښې هر انسان ته محسوسيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دین دا حکامــاتو ګلستان چې چرته وي
د دین د معجزونه هغه دربه خالي نه وي
دنیا کښې حق رهبر کله قرآن چې چرته وي
د غم او د غمونو نه هغه ځائے به خالي وي
د روح علاج سکون او اطمینان چې چرته وي
په مینه محبت به هغوي ولے نۀ پوهیږي
احمدعلي د میني ستا بیان چې چرته وي

وعظ او نصیحت

پــه شریعت پسې خندا مۀ کوه
کـار د جـفـا دے دا جـفـا مـۀ کوه
دین د خنداو د مذاق ځیز نۀ دے
کـار نـاروا دے نـاروا مـۀ کوه
قدر د دین د شریعت لازم دے
کار په دنیا د بے وفا مۀ کوه
تـا پـه سـاده تـه کـو اشنا پوهومه
د شیطانانو ملګرتیا مۀ کوه
دین کښې عزت دین کښې رضا د ربّ ده
یو عبادت هم د ریا مۀ کوه
کافي به تاله نصیحت دغه وي
وائي احمد ګناه خطا مۀ کوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د محرم عاشوره

د حسینؓ د وخت قیصه ده ، عاشوره د محرم وه
یو تصویر ، یوه نقشه ده ، عاشوره د محرم وه
کربلا په وینو لت وه ، دا دُنیا په وینو لت وه
لار کوڅه خفه خفه ده ، عاشوره د محرم وه
نهٔ اُویه وے کربلا کښې ، وچے شونډے وو حسینؓ
د غمونو یوه شپه ده ، عاشوره د محرم وه
سخت طبعیته یو ظالم په حسینؓ کړې ظلمونه
ورله حشر کښې بدله ده، عاشوره د محرم وه
درد او غم دے په سینه کښې ، د تاریخ په هر صفحه کښې
ګواه دلته هر سینه ده ، عاشوره د محرم وه
دا د تخت خبره نهٔ وه ، دا د وخت خبره نهٔ وه
عجیبه ښهٔ تذکره ده ، عاشوره د محرم وه
تذکره دا د وفا ده ، دا دُنیا ټوله ګواه ده
ما احمد لیکلے ښهٔ ده ، عاشوره د محرم وه

## حقیقی مینه محبت

مینه کښې خوشبو ده او ښُکلا د چمنونو
مینې سره بره ځي انسان په آسمانونو
څنګ چې نفرت ښور دے له ازغو نه په جهان
مینه خوره کړے په دنیا کښې ده ګلونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنګ چې په اوبو سره هر بوټے تازه کيږي
مينه تازه کيږي د اشنا په ديدنونو

مينه چې صادقه وي يو شان په يو صورت وي
نۀ بدلوي رنګ په امتحان او طوفانونو

مينه يو مرهم دے چې د زړۀ په زخم لګي
درد په دې دوا سره لرکيږي د وختونو

نشته دے د مينې په شان دلته کښې دولت
مينه لوئے دولت دے د دُنيا د دولتونو

کور د مينې زړۀ دے په بل ځائے کښې نۀ وسيږي
مينه بره اُوسي په اوچت اوچت خيالونو

تاله به احمده ! زۀ هم مينه راپيدا کړم
بيا به اُوزګار نشے په دُنيا کښې د شعرونو

## وعظ او نصيحت

وران کارونه په کوشش سره خپل سَم کړۀ
بوج د سر نه د محشر د ميدان کَم کړۀ

د دنيا د آبادولو په کوشش ئې
د آخر د پاره هم ورسره غَم کړۀ

ښۀ نظر کړۀ ، ښۀ فکر کړۀ مسلمانه !
قيمتي ددې جهان دے هر قدم کړۀ

په کمزوری سوچ سره فيصله مۀ کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــريــو فــكــر دے مضبوط او ښــهٔ مُحـكـم كـړهٔ
د دنيـــا كـــارونـــه وروستـــو پـــه جهـــان كـــړهٔ
د اُخـــر كـــارونـــه هـــر ځـــائـــے مـــقـــدم كـــړهٔ
نـــصيـــحـــت ورتـــه د خيـــر كـــوه احـــمـــده !
خبـــردار د دغـــي خيـــر نـــه تـــول عـــالَـــم كـــړهٔ

حضرت حسينؓ

د حـق پيـغـام د حق تـصـويـر دے پـه دُنيـا حسيـنؓ
د چـا نـمـسـے د چـا دے ځـوئـے د چا بابا حسيـنؓ
ورتـه صـابـر ورتـه شـاكـر د ټول جهـان وائـي ټول
پـه ټـول وجـود سـره دُنيـا كښـي دے وفـا حسيـنؓ
هـريـو مـؤمـن او مسلـمـان اقتـدا كـړے ده
داسـي دُنيـا كښـي دے د ټولـو مـقتـدا حسيـنؓ
مـونـږ تـريـنـه پـه دنيا كښي ټول د ديـن زده كـړي
زمـا اُستـاد زمـا رنـا د ديـن دُنيـا حسيـنؓ
هـغـه صـائـم د شپـے عـابـد پـه لـوئـے مقام والاړ
دلبـر دُنيـا كښـي دے د ټولـو اوليـاء حسيـنؓ
ذكـر احـمـد ئي ډيـر پـه خـوند او پـه مزه كـوي نـن
پـه هـر صـفـت سـره د ټولـو نـه جُدا حسيـنؓ

خاموشي

ښـهٔ صـفـت دے لـوئـے دولـت دے خـامـوشـي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پــــه دُنيـــا کښـــې ښـــهٔ عـــادت دے خـــامـوشـــی
چـــې د شـــــر د شـــــرارت خبـــــرے کيـــــږي
هـغــــهٔ ځـــائـے کښـې عبـادت دے خـامـوشـــی
ورتـــــــه وائـــــی د جهـــــان د ر قـــلــعـــــه
د غيبـــت نـــــه حـفــاظــت دے خـامـوشـــی
رنګ پـــــه رنګ د ګـنــاهــونـــــه نــــه پـرده ده
عـجيـــــه عـظيـم طــاقــت دے خـامـوشـــی
چيـــه خُـلـــه کښـــې بهتـري ده حـق ويـنـــا ده
پـــه دُنيـــا کښـــې لـوئـے نعـمـت دے خـامـوشـــی
ګـفتـګـو بـــانـدې اظهـــار د ميـنـــې کيـــږي
تـــل اظهـــــار د مـحبـــت دے خـــامـوشـــی
کـــم ليـــکـــل وي د کـــرامـــا کـــاتبيـــن
د مـــحشـــر د د ر عـــزت دے خـــامـوشـــی
بيـــان کـــم وي د غـــلــطــو امـکـــان وي کـم
نـصيـحـت دے حـقيـقـت دے خـامـوشـــی
حـق چـې کـلـــه د جهـان نـهٔ ښـکـاره کيـــږي
اے احـمـده! يـــا لـعـنـت دے خـامـوشـــی

## وعظ او نصيحت

ديـــن تــــه تــا پـوره کـــړه شـا وايـــه پــه څـــهٔ؟
نـــاروا کـــړل تـــا روا وايـــه پـــه څـــهٔ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



د دروغو سره ستا مینه سیوا شوه
تا پرېښودې دې رښتیا وایه په څهٔ؟

د الفت خبرو تا سره مزه کړه
هر څهٔ تا پرېښې دي دا وایه په څهٔ؟

د بلا نه خلق دلته وهي منډې
تا په سر کړله بلا وایه په څهٔ؟

تا خو هر څهٔ د جهان به یادول
هېر کړهٔ تا بیان زما وایه په څهٔ؟

تا خو زهٔ په دې جهان کښې ووم هېر کړې
نن دې یاد کړمه زه بیا وایه په څهٔ؟

د ناصح په نصیحت دې ځان کڼه کړې
ځان ته وائې بیا دانا وایه په څهٔ؟

د هر چا سره خبرې د جفا کړې
تا نه هېره شوه وفا وایه په څهٔ؟

دومره منډې تا له بشې نهٔ دي احمده!
لار د پرېښې د عقبیٰ وایه په څهٔ؟

## وعظ او نصیحت

دُنیا کښې کهٔ انسانه یو موسم د خزان نهٔ وې
یو ځائې کښې یو طرف ته په دنیا به خفګان نهٔ وې
هر ګل به په خندا وو هریو ګل کښې به خوشبو وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـفـه بـه د جهـان دلتـه كښې دا بُلبلان نـۀ وے

مـنـظـر بـه هرطرف تـه ډير حسيـن او عـجيبـه وو

زوال بـه پـه دُنيـا كښې پـه دي ښكلي مكان نـۀ وے

سپرلے بـه د جهـان پـه هريـو كور كښې ګرځيدلے

خفـه بـه يو طرف ته په يو ځائے كښې انسان نۀ وے

اسمـان بـه پـه خنـدا وو پـاس قمر بـه وو خوشحالـه

پـه نمر بـه فنـا دلتـه كښې پـه دغي جهـان نـۀ وے

نـۀ قيـد بـه د دنيـا وو نـه قيـد يـان بـه د دنيـا وو

پـه چـا بـانـدي د چـا بـه دلتـه كښې څۀ احسان نۀ وے

دُنيـا كښـي تـمـنـا دغـه كيـدے شي نـن احمـده !

كيـدے نـۀ شي هيڅ كله چي دا وخت او دوران نۀ وے

وعظ او نصيحت

داسي وخـت راغلے چي نيكے ته څوك اوزګار نشته

هـر طـرف خـزان دے لړ اثـر هـم د بهـار نشتـه

كـار تـول د دروغـو دے رشتيا وئيـل ګـران شـوي دي

مينـه ختـمـه شـوے ده ، د مينـے څوك بيمار نشته

عـام دے شيطـانـت د شيـطـانـت پـه قـدمونو تلل

بلـه پـه دنيـا كښـي نـن د تـلـو د پـاره لار نشتـه

هـريـشـر نـادان شـو نـادانـو اتـفـاق كـړے

ځكـه زمـونږ كلي كښې څوك پوهه او هوښيار نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته د ظالم سره شوه عام لاړو کوخو کښي نن
يو ملګرے هم د مظلومانو په يو ښار نشته
عام شول رواجونه د سنت رنړا مونږ پريښے ده
عامه بې ديني شوه يو طرف ته هم ديندار نشته
تا حقه خبره اے احمده! ښه صفا کړے
ښه واضحه داسې نصيحت لره اشعار نشته

قيامت

زمکے به هم نۀ وي چمنونه به هم نۀ وي
ورځ چې د قيامت شي اسمانونه به هم نۀ وي
دغه ونې بوټي درياونه به فنا شي
دغه ښکلي ټول ګلونه به هم نۀ وي
نۀ به لوح قلم دلته وي نۀ به يو مکان وي
هم د ميدانونو سره غرونه به هم نۀ وي
ورځ ده را روانه، هر بشر ته رښتنه خبر دے
دغه ورځ چې راشي دا يادونه به هم نۀ وي
نمر سپوږمي به نۀ وي په اسمان کښي د جهان
لاندې بازارونه دا ښارونه به هم نۀ وي
ستوري به په زمکه د دنيا ټول راګزار شي
ورځے شپے به نۀ وي موسمونه به هم نۀ وي
پاتے به هيڅ نه شي دا يادونه د جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



هـر څـوك بــه بيـداروي دا خـوبـونـه بـه هـم نـهٔ وي

دغـه خپـل خپلـوان چـې تـا پـه دوی بهـروسـه کـړے

دغــــه تـول مـلـګـری دا وختـونــه بــه هـم نــهٔ وي

ورځ ده راروانـــه پـــه کـبـنـي شك نشتـــه احـمـده !

فـکـر بــه د ځان وی نـور سـوچـونـه بـه هـم نـهٔ وي

سترګے

راشــه ائيـنـــه ده د خپـل يـار اوګـوره ستــرګـو تــه

حـــال د جهــان وائـــی د دلـدار اوګـوره ستــرګـو تــه

ستـرګـے چـې ئـې نـهٔ وي هغه ډير څهٔ نه محرومه وي

درد د زړهٔ حـال وائـی د بيـمـــار اوګـوره ستـرګـو تـه

هم د خـوشـحـالـۍ نـه ډکـے هـم د خفـګـانـونـو نـه

راشـــه نـظـر اوُکـړه بـار بـار اوُګـوره ستـرګـو تـه

چـاتــه مينـــه مينــه ښـائـی چـاتـه نفرتـونـه

خپـلـو تــه اوُګـوره د اغيــار اوُګـوره ستـرګـو تـه

ستـرګـے رنګ پـه رنګ دی د دنيا د خلقو دلته کښي

راشـــــه د اوُدهٔ او د بيـــدار اوګــوره ستـــرګـو تــه

ډيـرے دی بـدلـے د انســـان او د حيـوان ستــرګـے

راشـــه د اقــرار او د انــکــار اوګــوره ستــرګـو تــه

ستــرګـو کښـي دُنيـا وی دُنيـا دار تـه چـې نظـر کـوے

ډکــے د حيـا وی دد يـنـدار اوګــوره ستـرګـو تــه

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغــه حقیقت دے ددې سترګو اے احمدعلی !
پــاك تـــه اُوګــوره او د مُــردار اُوګــوره ستــرګـو تــه

قرآن کریم

عـجیبـه ښـکلـے کتاب دے په لیدو کښې ئې مزه ده
هر صـفـحـه ئې حقیقت دے په کتو کښې ئې مزه ده
نـادانـان تـرې خبـر نـهٔ دي ، هوښیارانـو تـه ده پتـه
پـه هر لفظ کښې ئې مزه ده په جملو کښې ئې مزه ده
د مـنـکـر نـه تپـوس مـهٔ کړهٔ ، د مؤمن نه تپوس اوکړهٔ
تـلاوت ئـې کـوی خـونـد ، اوریـدو کښـې ئـې مـزه ده
دا د زړونــو صــفـــائـی ده ، دانـــائـی ده ، بـادهـاشـی ده
پـه غلاف کښې ئې مزه ده په صفحو کښې ئې مزه ده
مـلـغـلـرے دي لعـلـونـه ، آیـاتـونـه ، رحـمـتـونـه
د احـمـد بیـان پـوره شـو ، مسـئـلـو کښـې ئـې مـزه ده

اتفاق او اتحاد

هر څهٔ چې راپـو ځـائـے شی غټ جهان ترینه جوړیږی
پـه جمـع چې یـو کـار شی نو آسان ترینه جوړیـږی
دیـو څهٔ حقیقت دے ؟ چې یو یو شی نو لښکر شی
هـر ښـار د پـاره دلتــه بیـا طـوفـان تــرینـه جوړیـږی
سبـق د اتـحـاد پــه هـریـو څیـز کښې دلتــه پټ دے
دا کـانـی چې یـو ځـائـے شـی نـو مکان ترینه جوړیږی

(c) ketabton.com: The Digital Library


داورځـے شپـے تيـريږي او کـلـونـه تـرې جـوړيـږي
يــوه يــوه لــمـحـه شي غټ دوران تـريـنـه جـوړيـږي
شُـکـلا بـه دُومره نـۀ وي کـۀ هرگل ځان لـه جُدا شي
گـلـونـه چې يـو ځـائـے شـي گـلستان ترينـه جوړيږي
وړے وړے قـطـرے وي خـو سبق پـکـښې ډير لوئـے دے
قـطـرے چې رايو ځائـے شي غټ باران ترينه جوړيږي
مـنـــزل پــه قـدمـونـو بـانـدې ختـم د جهـان شـي
يـو يـو قـدم چې اخلـي نـو روان تـريـنـه جـوړيـږي
سبق دغـه هيـر نـۀ کـړے اتـفـاق کښې بـرکـت دے
شعـرونه چې يو ځائے شي لوئے ديوان ترينه جوړيږي
احـمـد تــه مـعـلـومـه، اتـفـاق کښې بـرکـت دے
لـفـظـونـه چې يـو ځـائـے شي غټ بيان ترينه جوړيږي

## د مور او پلار خدمت

خـدمـت کـوه خـدمـت کـوه خـدمـت د مـور پـلار
راضــي کــړه پــه دې کـار سـره مـولـىٰ پـروديـگـار
دا حــکــم د الـلّــه دے دغـــه حـکـم د نبـــي ﷺ
دا حــکــم او عـــمـــل دے پـــه دُنيــا کښې د ولــي
دُنيـا کښـې جـوړ شــۀ، جـوړ شـۀ د نيـکـانـو وفـادار
راضــي کــړه پــه دې کـار سـره مـولـىٰ پـروديـگـار
عـــمـــل دا د جـنــت دے دا عـــمـــل دے بهتـــريـن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اعمالو کښې عمل دے په دنیا کښې ډېر حسین
نور مهٔ کوه صبا ته په دنیا کښې انتظار
راضي کړه په دې کار سره مولیٰ پروردیګار
عمل دے عملونو کښې قسم دے ډېر اوچت
توښه ده په دنیا کښې د محشر د اٰخرت
د زړهٔ سکون دے دغه او د زړهٔ دے دا قرار
راضي کړه په دې کار سره مولیٰ پروردیګار
عمل کوه عمل دغه دُنیا کښې هر سحر
حسین دے په دې کار سره دُنیا کښې هر بشر
هیڅ کله تري احمدعلی تهٔ اونکړے انکار
راضي کړه په دې کار سره مولیٰ پروردیګار

وعظ او نصیحت

څوک چې په اشنا پسے خبرے کړي
هغه به بیا تا پسے خبرے کړي
دغه دے غیبت، دغه خطا ګناه
څوک چې په هرچا پسے خبرے کړي
هغه د جفا سره په لاره دے
څوک چې په وفا پسے خبرے کړي
ذهن ئې ګنده دے او ګنده به وي
څوک چې حق وینا پسے خبرے کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د نیکانو قدردان نهٔ دے
څوك چې اولیاء پسے خبرے کړي
هغه د بې دینو ملګرتیا کوي
څوك چې په مُلا پسے خبرے کړي
هغه سره عقل پوهه نشته دے
څوك چې په دانا پسے خبرے کړي
هغه بې وفا ددې جهان ګڼه
څوك چې په وفا پسے خبرے کړي
زهٔ به ورته وُلے نادان نهٔ وایم
څوك چې په عقبىٰ پسے خبرے کړي
څنګه به اشنا شی ستا احمدعلی!
ستا چې مقتدا پسے خبرے کړي

## وعظ او نصیحت

د زرو قدر د زرګر سره وي
کله دا قدر ناخبر سره وي
په عامو کانو کښې ښائست نشته دے
ښائست دُنیا کښې د ګوهر سره وي
د تورتم ځائے دا توره شپه دلته ده
رڼا هر ځائے کښې د سحر سره وي
د خوشبو ځائے دا ویرانونه نهٔ دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلــي خــوشبــو مشك وعــنبــر ســره وي

ړانـــدۀ پـــه قــدر د ښـــۀ څيـــز نـــه رسـی

قـــدر د ښــــۀ بيـــنـــا بشـــر ســـره وي

تـــاتـــه احـــمـد عـلـــی هـــر چـــا وئيـلـــی

خـــوشـــحـــالـــی هـــر ځـــائـــې د اختـــر ســـره وي

وعظ او نصيحت

ژوند عـجيبـه دے د انسـان پـه ښـۀ او بد پـو هيـږی

ورتـه دښمن شولو جانان پـه ښـۀ او بد پو هيـږی

تـا تـه ئي هسے غوږ نيولے ، سو چ ئي بل چرته دے

غـرق او تباه کړۀ دۀ خپل ځان پـه ښـۀ او بد پو هيږی

د شيطـانانـو سـره مـرستـه ښـۀ پـه شوق سره کړی

دغـه د دۀ دے تـول نـقـصـان پـه ښـۀ او بـد پـو هيـږی

هـريـو سـودا ئـي د نـقـصـان او د تـاوان کـړے ده

حيـران شـوم زۀ ورتـه حيـران پـه ښـۀ او بد پو هيـږی

د شـر ، شيـطان سـره مـلـګـرے هر محفل کښي اوسی

وايم چي څنګ دا بي ايمان پـه ښـۀ او بد پو هيږی ؟

بـو ج د ګـنـاه دۀ پـه سـر کـړے ورتـه بوج نـۀ ښکاری

وايـم چـي څـنـګـه دغـه ځوان پـه ښـۀ او بد پو هيږی ؟

د مـحـشـر فـکـر ورسـره نشتـه احـمـدعلـی نـن

وايـم چي څنګـه مسلمان پـه ښـۀ او بد پو هيـږی ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د بدعت مذمت

ګنـدونــه د بـدعـت چــې يـو انسـان جمع کوي
قسـم دے د مـحشـر دوزخ خـفـګـان جمع کوي
سـنــت نــه نـاخبـره دے دُنيـا کښـې دا بشـر
ګنـدونــه چـې څـوك دلتـه پـه ډيران جمع کوي
قسـم دے د مـحشـر دوزخ خـفـګـان جمع کوي
بـد بـو تـريـنـه شـوره ده پـه دنيـا کښـې پـه هر لـو
قسـم دے بـدعتــی ځـان لــه تـاوان جمع کوي
قسـم دے د مـحشـر دوزخ خـفـګـان جمع کوي
کـارونــه د بـدعــت چــې کـوي دلتـه يـو انسـان
ذلــت د ځــان د پـــاره دا نــادان جـمـع کـوي
قسـم دے د مـحشـر دوزخ خـفـګـان جمع کوي
دا شــر او شــرارت دے هــر بشــر تــه ده معلومــه
بـدعـت چـې څـوك دنيـا کښـې پـه جهـان جمع کوي
قسـم دے د مـحشـر دوزخ خـفـګـان جمع کوي
د زړهٔ دغــــه تـوروالــے دے نـــادانــــه د جهـــان
قســم دے بــدعتــی شـر د شيـطـان جـمـع کـوي
قسـم دے د مـحشـر دوزخ خـفـګـان جمع کوي
شك نشتــه دے پـــه دې اے احـمـده ! پــه جهـان
کـــارونـــه د بـدعـت ټـول دوزخيـان جـمـع کـوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قسم دے د محشر دوزخ خفگان جمع کوی

## وعظ او نصیحت

هریو مشرك مي قدرتی بدي شی
زما بدی او ستا نیکی بدي شی
ستا دنیکانو سره مینه نشته
زما هر شر، شرارتی بدي شی
تهٔ د رحمت په مطلب نهٔ پوهیږے
زما هر ځائے کښي لعنتی بدي شی
دین کښي سختی شته، خو سختی دومره نه
زما سختی او ستا نرمی بدي شی
زما دوستی خو د خلوص خوښه ده
یاران مي دلته مطلبی بدي شی
چي د غرو ځادر زما په سروی
داسي زما دلته خانی بدي شی
رانه ناراضه چي مولیٰ زما شی
د احمد داسي زندگی بدي شی

## زما خوښه او ستا خوښه

ستا ملګرتیا د بي ایمان خوښه ده
زما دوستی دمسلمان خوښه ده
ستا ده غذا غیبت دروغ وئیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمــــا ويــنــــا ديــو قـــرآن خـــوښـــــه ده
نـــاستــــه زمـــا د بـــاغـيـــچـو خـــوښــــه ده
نـاستــــه ستـــا هــر ځـائـے پـــه ډيـران خـوښـــه ده
ميـنــــه ستـــا دلتــــه د شيــطـــان خـــوښـــه ده
ميـنــــه زمــا دپـــاك سبـــحـــان خـــوښـــه ده
د دښـــمـــنـــانـــو ميـنــــه نـــه خـــوښـــومـــه
ميـنــــه زمـــا د خپـــل جـــانـــان خـــوښـــه ده
زۀ د ســــنــــت دخپـــل نبـــي ﷺ وفـــــادار
هــريــو لــمــحــه ستـــا د نـقـصـــان خــوښـــه ده
زمــــا دوستـــي د هـــر دانــــا خـــوښـــــه ده
ستــــا طـــريـــقــــه د هــــرنـــادان خـــوښـــه ده
زمــــا آخـــــراو ستــــا دنيــــا خـــوښـــــه ده
ووايـــــه څـــنـــګــــه د جـهـــان خـــوښـــه ده؟
انـــجــــام د هــــرچـــا دے جـــدا احـــمـــده !
جـــدا جُـــدا د هـــر انســــان خــــوښــــه ده

وعظ او نصيحت

تــا چـــي د بــل نــــه د قــرآن خبــره پتـــه کــړلــه
تــا د انســـان نـــه د نـقـصــان خبــره پتــه کـــړلــه
وُلــے شيــطـان ســره تـا مرستــه پـه دي کار کښي وکړه
چـــي تــا هـغـــه نـــه د ايـمـان خبــره پتـه کـــړلــه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د شیطانانو سره تلل کله روا دلته دي
تا په دنیا د حق بیان خبره پته کړله
تا د قرآن خبره ولې نن په جار اُونکړه
تا حقیقت کښې د رحمن خبره پټه کړله
تا د توحید او رسالت خبره ښکلې کړې
خو تا هرچانه د میزان خبره پټه کړله
ورځ د انصاف د هر بشر د پاره شته احمده!
ولې دې بیا په غټ میدان خبره پټه کړله

وعظ او نصیحت

مرګ دې راروان دا ټول جهان ته پته ده
تیر به شي دوران دا ټول جهان ته پته ده
قبر کښې دننه څۀ دي ؟ څۀ دي؟ څوك خبر دي ؟
ژوند دې ښۀ عیان دا ټول جهان ته پته ده
دا د ژوند سپرلي د ختمیدو د پاره جوړ دې
شته دې یو خزان دا ټول جهان ته پته ده
زۀ منمه مرګ او بیا حساب منمه حق
شته یو غټ میدان دا ټول جهان پته ده
زۀ د مشرکانو بدعتیانو مخالف یم
کلك لرم ایمان دا ټول جهان پته ده
نشته آشنائی مې د شیطان سره دُنیا کښې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حـق مـي دے جـانـان دا ټـول جهـان تـه پتـه ده
يــو لـــرم الــلّـــه ورســـره يــو زمـــا امـــام
يــو مــي دے قـــرآن دا ټـول جهـــان تـــه پتـــه ده
ستـا د حـق بيـان نـه انكـار څوك كوى احمده !
نـــهٔ وينـــى نـــادان دا ټـول جهـــان تـــه پتـــه ده

وعظ او نصيحت

حـقـــه لار د مــرګ ده ټـول جهـــان تـــه پتـــه ده
دا خـــو ددنيـــا هـــريـــو نـــادان تـــه پتـــه ده
قبـر كښـي دننـه څـهٔ دي ؟ څـهٔ دي؟ څوك خبـر دي ؟
قبـــر كښــــي دنـــنـــه هـغـــه ځـوان تـــه پتـــه ده
چـاتـه ده معلـومـه چـي د چا پـه زړهٔ كښي څـهٔ دي؟
دا خـو هـغــه وخــت هـغــه انســان تــه پتــه ده
څـوك دچـا دزړهٔ نــه پــه دُنيـا كښـي بـهٔ خبـردي
صـرف پــه دنيــا كښـي حـق سبـحـان تـه پتـه ده
هــر څيــز لـــه فـنـا ده هـر چـمـن بـه فنـا كيـږي
دغــــه د دنيـــا هـــر ګـلستـــان تـــه پتـــه ده
وخـت د فنـا شتـه دے خـو خبـر تـرينـه څوك نـهٔ دي
نـــهٔ لانـدې دے زمـكــے نـــهٔ آسمـان تـــه پتـــه ده
ورځ ده مــقـــرر د فـنــا پــټ دا حــقيــقــت دے
نـــهٔ دغــي مـــالك تــه نـــهٔ مـكـــان تــه پتــه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو عالمُ الغيب دے د هرڅيز نه خبر دے
نهٔ يو جادوګر ته، نهٔ شيطان ته پته ده
څوك د خپل انجام نه اے احمده ! نن خبر دي؟
څهٔ دي ؟ څهٔ به کيږي، يو رحمٰن ته پته ده

## وعظ او نصيحت

مهٔ کوه خندا په يو انسان پسے
مهٔ کوه خبرے مسلمان پسے
تا له نه ناروا دے ناروا عمل
مهٔ ځه مسلمانه ! په شيطان پسے
بل ته په دنيا باندې کنځل دي بد
ولے ګرځے دلته په تاوان پسے
چا سره جهګړه، د چا بدوئيل
ولے شوے روان تهٔ په نادان پسے
کار د شيطانت چې په دنيا کوے
ولے وهے منډے په خفګان پسے
نهٔ دي روا دلته کښې دروغ وئيل
راشه قدم واخله په قرآن پسے
ما احمد ليکلے حق صفا وينا
مهٔ ځه مسلمانه ! بې ايمان پسے

★★★★★★★★★★

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دُعا

ربّه! ماله هر یو بنهٔ صفت راکه
ژوند راله د مینې محبت راکه
ما د هر یو شر یر محفوظه کړه
ژوند کښې د ذلت په ځائې عزت راکه
تا نه رښا غواړمه د دین دُنیا
ماله د علم لوئې دولت راکه
زهٔ چې دینداروه د سر تاج شمه
ماله الٰهی داسې قوّت راکه
تا نه د قرآن ښکلې رښا غواړم
ربّه! راله نور د شریعت راکه
غواړمه مولیٰ درنه احمد په جار
سیوري راله هر ځائې د رحمت راکه

## د ګناه سزا

دا مصیبت، امتحان ستا د ګناه سزا ده
دغه غمونه خفګان ستا د ګناه سزا ده
دا رنګ په رنګ مصیبتونه، د دنیا د در
هر خوا دنیا کښې نقصان ستا د ګناه سزا ده
دغه جهګړې هر طرف ته ستا په کور کښې چې دی
ژوندون تول تا ته شو ګران ستا د ګناه سزا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا بیمارے چې رنګ په رنګ په ټول جهان راغلی
دا امتحان د رحمٰن ستا د ګناه سزا ده
زړه د نیکے نه په دنیا کښې چې نن موږ ښکاریږی
دا دے اثر د شیطان ستا د ګناه سزا ده
اوس د احمد بیان په تا څۀ هیڅ اثر نۀ لري
هیر شو لتانه قرآن ستا د ګناه سزا ده

مینه محبت

مولیٰ درنه زۀ غواړم چې دُنیا شی مینه مینه
نصیب زمونږ د ټولو په هر خوا شی مینه مینه
تعلیم د شریعت وی چې د هر بشر زیور
تعلیم د شریعت وی چې د هریو درزیور
ارمان مې دے چې دغه پاس فضا شی مینه مینه
نصیب زمونږ د ټولو په هر خوا شی مینه مینه
نفرت نه مې نفرت وی محبت وی هر کوڅه کښې
نفرت نه مې نفرت وی محبت وی هر حصه کښې
هر خوا ته په دنیا کښې چې پیدا شی مینه مینه
نصیب زمونږ د ټولو په هر خوا شی مینه مینه
کینه حسد رخصت شی هر طرف ته محبت شی
ختم د دې جهان نه د دنیا دا عداوت شی
دروغ نه وی یو ځائے کښې په رښتیا شی مینه مینه

(c) ketabton.com: The Digital Library



نصيب زمونږ د ټولو په هر خوا شي مينه مينه

هر کار د نفرت ختم، هر يو کار د محبت شي

روز ګار د نفرت ختم، هر يو کار د محبت شي

احمده! د دنيا هره وينا شي مينه مينه

نصيب زمونږ د ټولو په هر خوا شي مينه مينه

## وعظ او نصيحت

چا ته د ژوند دغه لمحې ګراني دي

چا ته د ژوندون لمحې اسانې دي

شته دے سخت طبيعته په دنيا کښې

د چا سترګو نه اوښکې روانې دي

چا له په دعا هيڅ ملاوېږي نه

د چا قبول شو مې دُعا ګانې دي

چا ته هره ورځ دلته اختر شولو

چا ته دغه ورځې بلاګانې دي

ډير شته چې د بل د پاره خير ګوري

دلته کښې عادت د چا غلاګانې دي

دغه رنګ په رنګ خلق احمده! دي

کله خندګانې دي او کله ژړاګانې دي

## مونځونه

دنيا کښې د الله په مونږه ښه مهرباني ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



راکـړے ئـې پـه دین کښـې مونـږ تـه ډیره اسـانـی ده
پـنـځـوسـو نـه پـنـځـه شـو دا مونځـونـه لوئې کرم دے
مـولـیٰ زمـونـږ نـه دلـتـه ختـمـه کـړے دا ګـرانـی ده
تـحـفـه دغـه مـؤمـن د پـاره دپـاره پـه جهـان ده
تـحـفـه دا دعـزت ده د تـحـفـه ښـهٔ نـورانـی ده
سـحـر یـا ماسپښیـن دے یـا کـهٔ مونځ د مازیګر دے
اخـلاص سـره کـول دغـه صـحـیح مسلـمـانـی ده
مـاښـام او مـاسـخـتـن کښـې رڼاګـانـے پـه جهـان دی
عـلاج دا دهـر څـهٔ دے مصیبت کـهٔ پیښمانـی ده
احـمـدعـلـی ! مـونـځـونـه د نـجـات یـو ذریعـه ده
ډالـی د مـسـلـمـان دپـاره دلـتـه لاثـانـی ده

زړونه

ځـنـګ چـې ګـنـاه سره دنیـا کښـې ګنده کیږي زړونه
داسـې پـه ذکـر تـلاوت سـره پـاکـیـږي زړونـه
تـول تـرې خبـر دی نـاخبـره پـکښـې کـم خلق دي
د مـحبـت پـه ځـائـے نفـرت سره ماتیږي زړونـه
انسان کـوشش دے کـوی بـل څـهٔ ئې اختیار کښې نشته
دیـو اللّـه پـه تـوفـیـق دلتـه کښې سمیږي زړونـه
ورلـه عـلاج شتـه بیـمـاران چـې د جهـان یـادیـږي
څـوك چـې اذکـار کـوی نـو دلتـه صفاکیږي زړونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ښۀ عمل سره دنیا کښې د جهان د خلقو
راشه نزدې په دغې کار سره خپلیږي زړونه
ورته عمل او طریقه چې د نبی ﷺ وائی تول
په دغې نور سره د هرچا ښائسته کیږي زړونه
په کښې سخت والے او نرمی د دې جهان پرته ده
داسې دنیا کښې هر طرف ته ملاویږي زړونه
دا ائینه ده یو بشر لره د بل د پاره
کله خوشحاله وي او کله به ژړیږي زړونه
تله ده هر ځائے په دنیا کښې هر بشر د پاره
احمده! دلته په هر کار باندې پوهیږي زړونه

## وعظ او نصیحت

چې د چا سره خالق د جهان مَل وی
قدرمنده په جهان باندې به تَل وی
دا ښکرے به ئې دلته رُسوا نۀ کړي
شیطانان به د جهان ئې خطا نۀ کړي
چې د چا د اللّٰه دین باندې عمل وی
ورته نشی رسولے څوك ضرر
تیز به تیز وی د دنیا د دۀ نظر
په هر ځائے کښې په نمبر کښې به اول وی
تابعداره به مخلوق ئې د جهان وی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـدمـت ګـاره بـه مـخـلـوق ئـې د جهـان وي
د حيـا سـره چـې دلتـه ئـې کتـل وي
چـې ئـې مينـه مـحبـت سـره رشتـه شـي
چـې ئـې پـاك ربّ الـعـزت سـره رشتـه شي
خـدمـت ګـار بـه د پـردو سـره ئـې خپـل وي
پـه رشتيـا پسـې روان چـې د جهـان وي
اے احـمـده ! تـا بـعـداره د قـرآن وي
رهـنـمـا بـه هـميشـه دلتـه د بـل وي
قـدرمـنـده پـه جهـان بـانـدې بـه تـَل وي

نصحيت

د مـرګ نـه مـخـکښـې آخـرت يـاد کـړه
هـغـه ژونـدون هـغـه سـاعـت يـاد کـړه
حـق د دنيـا نـه پـس ژونـدون دے بـل
پـس لـه فـنـا نـه پـس ژونـدون دے بـل
دغـه عـالَـم د نـصـحيـت يـاد کـړه
هـغـه ژونـدون هـغـه سـاعـت يـاد کـړه
تـالـه حسـاب شتـه د مـحشـر پـه ورځ
ثـواب ، عـذاب شتـه د مـحشـر پـه ورځ
د مـحشـر هـغـه مشـقـت يـاد کـړه
هـغـه ژونـدون هـغـه سـاعـت يـاد کـړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شته دے بدله دښئ اعمالو تولو
ځان کړه خبر د دې احوالو تولو
هغه عزت، هغه ذلت یاد کړه
هغه ژوندون هغه ساعت یاد کړه
دا د احمد علی نه هیر به نۀ شی
نشته ساعت داسې چې تیر به نۀ شي
فناد هریو عمارت یاد کړه
هغه ژوندون هغه ساعت یاد کړه

دعا

مولیٰ زمونږ نور د سنت پکار دے
مولیٰ زمونږه شریعت پکار دے
د بدعت گند نه لرے لرے مونږ کړۀ
ربّه! زمونږه سر او چت پکار دے
امن وسکون په هر مکان غواړو مونږ
دلته زمونږ انسانیت پکار دے
د انتشار د اور نۀ بچ کړه مونږه
زمونږ په هر لاره وحدت پکار دے
د هر گناه نه نفرت غواړو مونږه
مولیٰ زمونږه هر عزت پکار دے
غواړو لتانه نعمتونه دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر مولىٰ ستا د رحمت پكار دے

تا نه په جار باندې احمد غوښتلے

ورله ستا رنّه! محبت پكار دے

## وعظ او نصيحت

حق، حقيقت ورك شو

وخت د راحت ورك شو

غم او خفگان ډير شو

لاړ محبت ورك شو

رشتے توتے شوے

لاړ اُخوّت ورك شو

سهولت غواړي خلق

كار د محنت ورك شو

لاړ اتحاد تباه شو

لاړو وحدت ورك شو

اسان نه گران جوړ شو

لاړو همت ورك شو

تا نه احمد هير شو

ستا بشۀ عادت ورك شو

## وعظ او نصيحت

چې بدعت نه ئې نفرت وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوش د دهٔ نه نور سنت وي
د شیطان په لار چې نه ځي
د دهٔ خوش به هدایت وي
چې تیرو نه لرې کیږي
د دهٔ خوش به سعادت وي
چې ئې زړهٔ کښې کینه نهٔ وي
ورسره به محبت وي
چې نفرت کړي له دروغو
شهٔ انجام ئې هر ساعت وي
د نبي ﷺ منونکې نه دې
چې منکر د نبوت وي
نیغه لار باندې به لاړ شي
چې طالب د هدایت وي
اې احمده! ورله بس دې
چې عامل په نصیحت وي

## حج او عمره

د حج او د عمرې دا سعادت دې مبارك شهٔ
ښائسته ښکلي حسین دا عبادت دې مبارك شهٔ
سفر د مدینې درته نصیب شه په جهان
اثر د مدینې درته نصیب شه په جهان

(c) ketabton.com: The Digital Library



اثـر دغــه دنیـا کښـي هـر ساعـت دے مبارك شـۀ
ښـائستـۀ ښـکلي حسین دا عبادت دے مبارك شۀ
دیـدن دبیـــت الـلّـــه دے د جهـان شـــۀ مبــارك
مسـکـن د بیـت الـلّـه دے عـالیشـان شۀ مبـارك
بـرکـت سـره دهـغـي در رحـمـت دے مبـارك شـۀ
ښـائستـۀ ښـکلي حسین دا عبادت دے مبارك شۀ
ستـا هـلتــه طـوافـونــه د کـعبـي شـۀ مبـارك
ستـا هـلتــه دیـدنـونـه د روضـي شـۀ مبـارك
قسـم دے هـرسـاعـت دغـه عـزت دے مبارك شـۀ
ښـائستـۀ ښـکلي حسین دا عبادت دے مبارك شـه
صـفـا مـروه کښـي منډي هغـه ښکلي هرساعـت
هـلتـــه لارو کـوڅـو کښـي د قـرآن ستـا تـلاوت
بیـا بیـا د دغـي در دغــه قُـربـت دے مبـارك شـۀ
ښـائستـۀ ښـکلي حسین دا عبادت دے مبارك شـه
نیـکـان اوصـالـحـان بـه وو ستـا هلتـه کښي ملګري
ښـائستـۀ ښـۀ عـالـمـان بـه وو ستـا هلته کښي ملګري
هـلتـه د نیـکـو خلقـو دا صـحبـت دے مبـارك شـۀ
ښـائستـۀ ښـکلي حسین دا عبادت دے مبارك شـه
احـمـد ورتــه کـړیـږي پـه دنیـا کښي هرسـاعـت
چـي کـلـه بــه نـصیـب ئي شـی عـالـی دا عبـادت

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نیکې لاري دغه هدایت دې مبارك شهٔ

ښائسته ښکلي حسین دا عبادت دې مبارك شه

## حج او د بیت الله زیارت

په تا د پاك الله احسان دې

د خوشحالۍ مقام دې

حج ادا کړې مبارك دې د جهان دې

د خوشحالۍ مقام دې

ستا به ارمان دا په جهان وهٔ

ستا به یاد شوي خوږ جانان وهٔ

دا وخت د شکر تا د پاره د رحمٰن دې

د خوشحالۍ مقام دې

په تا د پاك الله احسان دې

د خوشحالۍ مقام دې

ستا د طواف ارمان پوره شو

ارمان پوره دې د کعبه شو

تا د حرم شریف لیدلې هر مکان دې

د خوشحالۍ مقام دې

په تا د پاك الله احسان دې

د خوشحالۍ مقام دې

زمزم چینه دې ولیدله

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکلے روضه دے ولیدله

طالب ددغي عبادت هر مسلمان دے

د خوشحالی مقام دے

په تا د پاك الله احسان دے

د خوشحالی مقام دے

حجر اسود تا ولیدلو

وائی احمد تا ولیدلو

د رحمتونو ځکه تا باندي باران دے

د خوشحالی مقام دے

په تا د پاك الله احسان دے

د خوشحالی مقام دے

## نصیحت

عیبونه په دنیا کښې د انسان مه لټوه

عیبونه د مؤمن او مسلمان مه لټوه

دنیا کښې تباهی ده لر بشر لره دا کار

خپل ځان له تباهی لره سامان مه لټوه

ګناه ده مسلمانه د بل ورور کول غیبت

حیلې ورله دنیا کښې په جهان مه لټوه

ګناه ده چې بل ورور ته په دنیا کومے کنځل

الفاظ داسې دنیا کښې د بیان مه لټوه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دیو خبره یو ته، او د بل خبره بل ته
دنیا کښې په یو درغه نقصان مه لټوه
ناصح درته احمد دے مختصر درته دا وائی
کارونه په دنیا کښې تل د زیان مه لټوه

★★★★★★★★★★★★★★★★★

تمت بحمد الله تعالیٰ وبتوفیقه ربنا تقبل منا انك انت السمیع العلیم وتب علینا انك انت التواب الرحیم . وصلی الله تعالیٰ علیٰ خیر خلقه محمد واٰله واصحابه اجمعین ومن تبعهم باحسان الیٰ یوم الدین . امین

## د مولانا احمدعلی مردانی نور

## چاپ شوی کتابونه

- ★ معدن البیان فی ترجمة القرآن (پښتو منظومه ترجمه) ★
- ★ رڼا د سحر (نعتونه) صدارتی ایوارډ یافته ★
- ★ ښکلا د چمن (نعتونه) ★
- ★ د زړهٔ سکون (نعتونه) صدارتی ایوارډ یافته ★
- ★ حقیقی جانان (نعتونه) ★
- ★ سیرت محمد رسول الله ﷺ (پښتو نثر) ★
- ★ قواعد النحو (دعلم النحو مسائل پښتو منظوم) ★
- ★ ګلدسته د تجوید (د تجوید مسائل پښتو منظوم) ★
- ★ تیسر الاصول (اُصولِ حدیث پښتو منظوم) ★
- ★ سیرت ائمه اربعهؒ (اُردو) ★
- ★ سیرت عشره مبشرهؓ (اُردو) ★
- ★ انمول موتی (اُردو) ★
- ★ حضرت امیر معاویهؓ کا مختصر تعارف (اُردو) ★
- ★ ګستاخ رسول ﷺ کا عبرتناك انجام (اُردو) ★

(c) ketabton.com: The Digital Library

صلی اللہ علیہ وسلم

# عربي جانان

د نعتونو يوه ښائسته او ښکلې ګلدسته



تصنيف

ابوالقاسم احمد علی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامية بنوري ټاؤن کراچي)

خورونکے

اسلامي ادبي ټولنه

يونيورستي روډ مردان 0312-9818511

عربي جانان صلی اللہ علیہ وسلم تصنيف ابوالقاسم احمد علی مردانی

(c) ketabton.com: The Digital Library

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِ مُحَمَّدٍ

صلی اللہ علیہ وسلم

# عربي جانان

د نعتونو يوه ښائسته او ښکلې ګلدسته



تصنیف

ابوالقاسم احمد علی مردانی

(فاضل جامعة العلوم الاسلامية بنوری ټاؤن کراچی)

خورونکے

اسلامی ادبی ټولنه

یونیورستی روډ مردان 0312-9818511

عربي جانان صلی اللہ علیہ وسلم
تصنیف
ابوالقاسم احمد علی مردانی

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**